تفسیر ابوحنیفہ

تالیف

علامہ عصر حمید الدہر ابو الفضل مولانا محمد عبد الشہید الایوبی

الفندھاری الصلاحنفیلی الحنفی النقشبندی عم فیضہ

ناشر

مکتبۃ القراۃ والتجوید

کامنی روڈ شالدرہ کوئٹہ

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں



تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

Maktaba Tul Ishaat.com

بسم الله الرحمن الرحيم

په پښتو ژبه کښې اولنی او په افغاني تاریخ کښې بې ساری په
زړ ګونو جدیدو مسائلو باندې مشتمل

تفسیر الیزبی حنفي

پنځم توک

۵

تالیف اوتصنیف

د علامة العصر ابو الفضل شیخ التفسیر والحدیث فقیه دوران مفسر الزمان

حضرت مولانا محمد عبید الله الابوبی

الکندهاري السلیمانخیلي الحنفي النقشبندي حفظه الله تعالی

مکتبة التراث والجدید

کانسي روډ شاندره کوټه

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم ..... تفسیر ایوبي پښتو پنځم ټوک

مؤلف ..... الحاج مولنا محمد عبید الله الایوبي الکندهاري السلیمانخیلي الحنفي حفظه الله تعالی بفضله الوهبي

کمپوزر ..... حبیب الحق حقاني

ټایپ ..... حقاني کمپیوټر اداره

نشر کوونکي اداره ..... مکتبة القراء ت والتجوید کانسي رود کوټه

د چاپ خای ..... لاهور پاکستان

زېری

د آخر الزمان فخر موجودات سردار کل عالم د تر ټولي غټي او ژوندی معجزي یعني قرآن مجید په زړه پوري تاریخ په کتابي شکل کي په معیاري پښتو سره لیکل سوی یعني

قصص القرآن

چي د پیش امامانو لپاره د نصیحت یوه غټه ذریعه ده. همدارنګه د مطالعي او په ژوند کي د سفر لپاره د هر ښه ملګری دی

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

جميع الحقوق محفوظة

جميع حقوق الملكية الادبية والفنية محفوظة لمكتبة القراءة والتجويد بالحسكتان و يحظر طبع أو تصوير أو ترجمة أو إعادة تنضيد الكتاب كاملاً أو جزءاً أو تسجيله على أشرطة كاسيت أو إدخاله على الكمبيوتر أو برمجته على اسطوانات ضوئية إلا بموافقة الناشر خطياً.

Copyright ©
All rights reserved
Tous droits reserves

Exclusive rights by Maktabatul-Qiraat i waltajweed Quetta - Pakistan. No part of this publication may be translated, reproduced distributed in any form or by any means, or stored in a data base or retrieval system, without the prior written permission of the publisher.

الطبعة الاولى

١٤٢٧ هجري - ٢٠٠٦ ميلادي

مكتبة القراءة و التجويد

هارڼ څانسي خوڼده - بالګستان

رڼ ټيلي فون ٠٣٠٠٣٨٨٥٥٣٥

MAKTABTUL-QIRRAT
WALTAJWEED
KANSI ROAD QUETTA
BALOCHISTAN

ISBN 2-7451-3140-0

الحمد لله وحده والصلواة والسلام على من لانبي بعده.

وبعد: هغه خالق لره دي حمد وي چې د څپل سپېڅلي کتاب قرآن مجيد فرقان حميد د حفاظت وعده يې پخپله اخستې ده. او وايي چې دا ذکر (قرآن مجيد) موږ نازل کړی دی او هم موږ ددې کتاب حفاظت او ساتنه کوو.

دا يو څرګند حقيقت دی چې له قرآن مجيد څخه پرته چې څومره صحيفې او کتابونه د مخلوق د هدايت لپاره الله تعالى پر خپلو برګزيده بندګانو حضرات انبيا، کرام عليهم الصلوة والتسليم باندې وانازل کړي وه. نو بندګانو په هغو کې خپل د خوښې مطابق رد او بدل (تحريف) وکړی.

خو قرآن مجيد يواځنې کتاب دی چې څورلس سوه کالو تېر ېدو سره سره هيڅ تغير او تبديل نه پکښې راغلی او نه به هم پکښې راسي. ځکه چې د کوم کتاب چې حفاظت د پادشاهانو پادشاه کوي او د کوم کتاب حفاظت او ساتنه چې د کائناتو مالک کوي په هغه کې هيڅ د دنيا

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

یو طاقت او قوت تحریف خو لاځه د یوه زور، یوه زبر او یوه پېښ رد او بدل هم امکان نه لري

همدا وجه ده

چې له مشرق ځخه تر مغربه، له جنوب ځخه تر شماله د دنیا په هر هر ګوټ کې د قرآن مجید ساتونکي حافظان موجود دي. کوم چې د هغوی په سینو کې قرآن مجید محفوظ دی، او د دنیا هیڅ یو حافظ هم که ځه هم د هغه تعلق د کوم ملک، کوم وطن، کوم قوم او کومې ژبې سره هم وي بیایه هم هغه قرآن مجید وایي کوم چې په غرب او شرق کې یې کوم حافظ لولي، غرض دا چې دا کتاب د دنیا په کتابو کې یو خانګړی مقام لري چې د دنیا شرق او غرب هم ورته ګوته په غاښ دي لله الحمد دا کتاب چې ستاسي په لاسونو کې دی، دا د تفسیر ایوبي پنځم جلد دی چې د قرآن مجید د څلورمې سپارې "لن تنالوا البر" تفسیر پکښې سوی دی، که د خدای ﷻ رضا او ستاسي دعاګاني شامل حال وي، نو ان شاء الله هغه نورې سپارې به هم داغسې په یوه یوه جلد کې په ډېر ښائسته انداز سره درته وړاندې کړو

او دا ویاړ یواځې او یواځې د مکتبة القرآئت والتجوید ته حاصل دی چې په محلي پښتو ژبه کې یې د قرآن مجید د علومو وخدمت ته ملا تړلې ده، که هغه د علم تجوید او قرآئت په میدان کې وي او که د قرآن مجید د معاني وو په میدان کې وي او زمونږ مکتبه زیار باسي تر څو د مفیدو کتابونو ژباړې هم وسرته ورسوي تر څو وطنوال ورڅخه فائده تر لاسه کړي، نور نو د دعاؤ په هیله

وروړ مو

قاري فضل الحق حقاني

تلمیذ حضرت ایوبي

و بانې مکتبه القرآت والتجوید

کاهي روډ کوئټه بلوچستان

تفسیر ایوبي حنفي د تصویر احمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين الرحمن الرحيم والصلوة والسلام على سيد المرسلين وعلى آله وصحبه اجمعين، وعلى اتباعه واتباع اتباعه الى يوم الدين

اما بعد: دروېش محمد عبيدالله الايوبي غفرله الباري وايي چې څرنګه چې زه د خدای ﷻ په توفيق له تفسير څخه د پاره "تلک الرسل" په اول تاريخ د ذي القعدې فارغ سوم، اوس نوبت ورسېدی وتفسير ته د پارې "لن تنالوا" ورځ د دوشنبې پنځه بجې سنه ۱۴۲۶ هـ.

نو له خدای جل سلطانه وعمت قدرته وعظمت رحمته څخه په ډېر انکسار او عجز سره دا خواست کوم چې ما عاصي بانواع المعاصي ته اول عفو د ټولو ګنهو وکړي او بيا ښه صحت او عافيت راکړي او خلوص د نيت دي راکړي چې تفسير ددې پارې هم پای ته ورسوم "انه تعالى على كل شيئ قدير" وبالاجابة جدير وما ذالک على الله جل شانه بعزيز. او خدای پاک دي د دروېش سعي په تفسير کې د قرآن کريم خالصاً لمرضاته ونفع الاخوان المسلمين لپاره وګرځوي، او د عاصي لپاره دې توښه د يوم التناد وګرځوي.

ع مائيز حاضر ميشوم تفسير قرآن در بغل

معذرت: د ورونو علماء کرامو څخه طمع د دعاء لرم نه د حسد.

دروېش وايي: چې ما په قدر د وسع او طاقت شپه او ورځ په دې تفسير کې په خرڅ اچولې ده. خو بيا هم "الانسان يساوق السهو والنسيان" دی، او علماء کرامو ته وايم چې ما په دې تفسير کې دغه لاندې تفسيرونه تر مطالعه لاندې لږ او ډېر نيولي دي.

تفسير روح المعاني، روح البيان، بيضاوي، مدارک، مظهري، قرطبي، خازن، جمل، جلالين، تفسير كبير، تفسير يعقوب چرخي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وغيرها مما حضر في مكتبة العاصي، او ګاهي حواله وکړم او ګاهي نه. په عين حال کي بعض توجيهات او توضيحات له عقل قاصر څخه هم راوړم، او بعض اوقات ومسائلو فقيه وو ته اشاره کوم لا بالنقض والابرام في المسائل خصوصاً في المسائل المختلفة بين المذاهب الاربعة رحمهم الله تعالى لان موضع تحقيقها وتفصيلها هو كتب المذهب الحنفي.

دروېش وايي: چي زه په عقائدو کي سني ماتريدي المسلک يم، او په فروع کي حنيفي المسلک يم، او په طريقت کي نقشبندي المشرب يم او د هيڅ چا سره حسد نه لرم، بل څوک که حسد کوي د هغه پروا نه لرم.

دروېش وايي: چي زما له حاله سره مناسب خداى ﷻ تو له نعمتونه ماته راکړي دي فله الحمد والشكر على ما انعم على هذا العبد العاصي من نعمه المتوافرة المتتالية آمين.

يادونه: چونکه دروېش درې ورځي وروسته تر دې نن شپې وخت ته روانېږم ان شاء الله تعالى، نو د حکومت سعودي له قانون سره موافق موږ پسله عمري څخه د تمتع قبل الحج مديني منورې ته د اتوو ورځو لپاره زيارة النبي کريم ﷺ ته لېږي، نو مناسبه داده چي دلته داڅو نظمه د نورو محبان الرسول ﷺ زه تاسي ته وړاندي کړم او د خپل زړه حال پکښي اظهار کړم.

نظم فارسي

مرحبا سيدی مکی مدنی العربی
دل وجان باد فدايت که عجب خوش لقبی
من بيدل بجمال تو عجب حيرانم
الله الله چه جمال است بدين بو العجبی
شب معراج عروج تو از فلک بگذشت
بمقامیکه ر سيدی نر سيد هيچ نبی
ما همه تشنه لبانم و تو ئی آب حيات

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لطف فرما که ز حدی گذرد تشنه لبی
آمده سوی تو قدمی پی دیدار طلبی

پوه سه: چې ددې ابیاتو د شاعر نوم قدي دی.

او سعدي شیرازي رحمه الله د معراج النبي ﷺ په باب کې څه ښه خواږه بیتونه ویلي دي.

چنان گرم در تیه قربت براند — که در سدره جبرئیل ازو باز ماند
بدو گفت سالار بیت الحرام — که ای حامل وحی بر تر خرام
بگفتا فراتر مجالم نماند — بماندم که نیروی بالم نماند
اگر یک سر موی بر تر فرم — فروغ تجلی بسوزد پرم

رحمان بابا څه ښه خواږه بیتونه په پښتو ژبه ویلي دي

که غبار دا ستا د لارې له خوا ورشي
که په دواړو سترګو روند وي مبصر شي
چې کبمیا د قناعت یې په لاس کښېوځي
که ګدا وي تر قارون به توان ګر شي
ستا د در ګدایان واړه بادشاهان دي
څوک چې ستا له دره وځي در بدر شي
تل یې مخ وي له عالمه جار وتلی
د هغو چې ستا په مخ باندې نظر شي
که د درست جهان له حاله خبردار وي
چې تا ووینې له واړو ناخبر شي
آئینه که د جمال کې ور څرګنده
دا ګدا رحمان به شاه سکندر شي

پوښتنه: علماء وایي چې اطلاق د رحمن پر غیر د خدای ﷻ نه دی روا، نو رحمان پخپله یا تا څرنګه رحمان بابا ووایه؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: په رد محتار کي په ترجمه او په شرح کي د بسم الله وايي چي الرحمن يعني که معرفه په الف ولام وي اطلاق پر غير د خدای ﷻ نه دی روا، او چي نکره وي کمافي نحن فيه بيا يې اطلاق روا دی.

دروېش وايي

تر اتيا لور عمر کي خدايه زه خمه حج ته
که ستا توفيق نه وي همراه زه به څه وکړمه هلته
بيا ودرياب ته د روضې چي ورداخل سم ربه
در د فيوض به په لاس راسي که خالي لاس به خمه
چونکه درياب د فيوضاتو عمومي دی خدايه
زما اميد دی چي له هغه دريابه په ناکام نه خمه
ولي شاهان عالي همت د دنيا
نه شړي ما غوندي عاصي له خپله دره
د ځوانۍ حج او زيارت چي راپياد کړي عاصي
د ضعف په حال کي په سرو اوښکو هغه ځای لره خي
د ضعيفانو چاره ته وکړې اې خدايه زما
نظر د رحم پر دروېش عبيدالله وکړې اې خدايه زما

دروېش وايي: چي د عشق خبري پای نه لري اوس په وتفسير ته رجوع وکړو، گرانو اورېدونکو اوس زه په خير او عافيت سره د وو زامنو حاجي عبدالقاهر او حاجي عبدالهادي د حج له سفره راستانه سوو او د کوټي وښار ته راغلو، فلله الحمد والمنة على ما انعم علينا هذه النعمة العظيمة. اوس چي شپه د يک شنبې ده. د ذي الحجې د مياشتي اخيره ده په توفيق د خدای ﷻ سره شروع په تفسير د "لن تنالوا البر آه" شروع کوم.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم

لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ

من ناله نيلاً اذا اصابه. يعني تاسي نه سی رسېدای اې مؤمنانو وحقيقت ته د "بر" او د ابرار په دله کي نه سی حسابېدای. او يا معنا داده چې تاسي نه سی پيدا کولای بر د خدای ﷻ وهو ثوابه ورحمته ورضاه وجنته. كذا في روح البيان. وكذا فسره البيضاوي وروح المعاني.

دروښ وايي: چې په قاموس کي وايي چې "بر" صله رحمي ته وايي او جنت ته وايي. او خير ته هم وايي او فراخي په احسان کي او رښتيا ويلو ته. او طاعت ته يعني دا ټولي معناوي د "بر" دي.

علامه مظهري رحمه الله وايي چې "بر" چې مضاف سي وبنده ته په معنا د عبادت او د صدق دی، او د اتساع في الاحسان او ضد يې فجور دی. او عقوق يا د مور او پلار يا د استاذانو، او "بر" چې مضاف سي وخدای ﷻ ته معنا يې رضا او رحمت او جنت دی وضده الغضب والعذاب دی، نو ځکه ابن مسعود رضي الله عنه او ابن عباس رضي الله عنه او مجاهد رحمه الله وايي چې مراد له "بر" څخه جنت دی، او مقاتل رحمه الله وايي چې مراد څندې تقوی ده. او بعض وايي طاعت دی، او حسن بصري رحمه الله يې داسي ترجمه کړې ده چې تاسي نه سی کېدای ابرار يعني كثير الخير او فراخه په احسان او طاعت کي، او بيضاوي رحمه الله يې داسي ترجمه کړې ده چې تاسي نه سی رسېدای حقيقت ته د "بر" الذي هو كمال الخير او نه سی پيدا کولای "بر" د خدای ﷻ الذي هو الرحمة والرضاء والجنة.

دروښ وايي: چې له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وويل "عليكم بالصدق" پر تاسي لازم دی رښتيا ويل "فان الصدق يهدي الى البر" ولي چې صدق سړی ومقام ته د "بر" رسوي او "بر" سړی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وجنت ته رسوي، او همېشه سړی رشتیا وایي او په رشتیا ویلو کې کوشش کوي حتی یکتب عندالله صدیقاً "وایاکم والکذب" او تاسي ځان له درواغو څخه ساتئ "فان الکذب یهدي الی الفجور" ولي چې کذب سړی رسوي ومقام ته د فجور "والفجور یهدي الی النار" او همېشه یو سړی درواغ وایي او په درواغ ویلو کې فکر وهي "حتی یکتب عندالله کذاباً" رواه احمد والترمذي.

حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ ۬

ترهغه وخته چې تاسي انفاق او صرف نه کړئ بعض له هغه اموالو وغیرها چې تاسي ورسره محبت لرئ، نو کلمه د "من" لپاره د تبعیض ده، ویدل علیه قرائة عبدالله ﷺ بعض ماتحبون.

پوه سه: چې بعض مفسران ؒ د "ماتحبون" څخه نفس اموال اخلي لان جمیع الناس یحبون المال، او اکثر مفسرین وایي چې مراد له "ماتحبون" څخه هغه ښه له مالو دی.

دروېش وایي: چې د سلف صالحینو دا عادت و چې هر شی چې به ده ته طبعاً خوښ و هغه به یې في سبیل الله ګرځاوه، کما روی البخاري ومسلم والترمذي والنسائي عن انس ﷺ چې دا آیت چې نازل سو نو ابو طلحة ﷺ چې په ټولو انصارو ﷺ کې د مدینې ده ډېر د خورما باغونه درلوده، او هغه باغ چې ده ته ډېر محبوب و د بیر حاء باغ و چې مخامخ ومسجد نبوي ﷺ ته و، او علیه الصلوة والسلام به ګاهي ګاهي ودغه باغ ته ورتلی چې په هغه باغ کې یو څاه و چې ډېري خوږې اوبه یې وې علیه الصلوة والسلام به څښلي. نو ابو طلحة ﷺ و علیه الصلوة والسلام ته راغلی او ورته وه یې ویل چې خدای پاک وایي "لن تنالوا البر آه" او احب له اموالو زما وماته بیر حاء باغ دی او دا زما لخوا وخدای ﷻ ته صدقه دی، او زه یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذخیره لپاره د ورځي د قیامت ګرځوم "فقعها یا رسول الله حیث اراک الله" نو ته دا باغ ورکړه هغه چاته چې تاته یې خدای ﷻ دروښیي. نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل "بخ بخ" کلمه د رضا او تعجب ده "ذالک مال رابح" یعنې ګټور مال دی او رائج یعنې مروج باغ دی. او ما ستا خبره واورېدله او زما دا خوښه ده چې دغه باغ پر خپلو قریبانو او د اکا پر زامنو ووېشې یعنې چې مسکینان دي، او طلحة ﷺ ورته وویل ښه دی دا باغ په روایت د مسلم او ابو داؤد حسان بن ثابت ﷺ او ابي بن کعب ﷺ ته ورکړی، او په روایت کې د محمد بن المنکدر ﷺ داسې راغلي دي چې دا آیت چې نازل سو زید بن حارثه ﷺ یو آس راوستی چې تر دغه آس ده محبوب مال نه درلودی و علیه الصلوة والسلام ته یې وویل چې دا زما له خوا صدقه دی، نو علیه الصلوة والسلام هغه آس د زید وزوی اسامه ﷺ ته ورکړی، نو زید ﷺ ورته وویل چې ما خو دا آس صدقه في سبیل الله وګرځوی تا زما زوی ته ورکړی، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې خدای ﷻ ستا څخه قبول کړی.

دروښ وایي: چې عبد بن حمید له ابن عمر ﷺ څخه روایت کړی دی چې دی وایي چې ما په دغه آیت کې یو وخت فکر وواهه چې "لن تنالوا البر حتی تنفقوا مما تحبون" نو ما فکر وواهه چې احب د اموالو به ماته څه شی وي، نو زما په اموالو کې مرجانه چې یوه رومیه مینځه وه وماته ډېره احبه وه فقلت هي حرة لوجه الله. نو دی ﷺ وایي که چېرې ما په هغه شي کې رجوع کولای چې ما لپاره د خدای ﷻ وګرځاوه نو ما به مرجانه وروسته تر ازادی په نکاح کړې وای، لکن دا نکاح زما رجوع في الصدقة په خیال راغله نو مي مرجانه ونافع ته په نکاح ورکړه.

دروښ وایي: چې بعض مفسران رح وایي چې د "ماتحبون" اقسام د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ټولو اموالو مراد دي "فان الناس يحبونها ويميل اليها القلوب" نو هغه څوک چې هيڅ شی له اموالو څخه نه نفقه کوي حتی الزکوة المفروضة نو هغه سړی صاحب البر نه دی بلکې فاجر دی. نو دا آيت دليل د فرضيت د انفاق د بعض له ټولو اموالو څخه که نقود وي يعني ذهب او فضة او که مواشي وي نحو الغنم والبقر والابل او يا عروض التجارة وي، نو دا آيت مجملة دی په مقدار کې د واجب من کل مال، او احاديث نبويه ﷺ بيان دی د مقدار د زکوة په اموال مذکوره وو کې.

ډروېش وايي: چې له دې آيت څخه دا هم معلومه سوه چې د يو سړي سره چې طيب يعني ښه مال وي، او مال خبيث يعني بېکاره مال هم وي، لکه يو سړی چې په پسو کې يو پسه مثلاً زکوة پر کېږي، نو دی يو ډنګر بېکاره په زکوة کې ورکوي او چاغ پسه نه ورکوي داسي نه ده روا، اوسط پسه په زکوة کې ورکوي او که اعلی ورکړي خو ډېره ښه ده لقوله تعالى "يا ايها الذين آمنوا انفقوا من طيبت ماكسبتم ومما اخرجنا لكم من الارض ولاتيمموا الخبيث منه تنفقون ولستم بآخذيه الا تغمضوا فيه"

ژباړه: اې هغه کسانو چې ايمان يې راوړی دی تاسي انفاق کوئ يعني په زکوة کې ورکوئ له هغو ښو مالو څخه چې موږ له مځکې تاسو ته را يستلي وي، لکه انګور، انار وغيرهما، او تاسي قصد مه کوئ وهغه بېکارو ته ددغو مالو چې تاسي له هغه څخه انفاق کوئ يعني په زکوة کې يې ورکوئ او حال دا وي چې ستاسي مثلاً پر يو چا پور باندي وي له دغو اموالو څخه او هغه تاته دغه خبيث بېکاره مال درکوي، تاسي نه څندي قبلوئ مګر سترګي پر پټي کړئ، يعني له پوروړي څخه ښه مال نه سئ اخستلای نو پر بېکاره سترګي پټي کړئ او وايې خلئ.

پوه سه: چې دا آيت دلالت نه کوي پر وجوب د زکوة په هر مال کې که

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نامي وي او که غير نامي، وقدر ته د نصاب ورسېدلی وي او که نه وي، او فاضل تر حاجت اصلي وي او که نه وي، کال پر تېر سوی وي او که نه، لکن په نورو آيتونو او احاديثو نبويه ﷺ سره ددغو مذکوره وو مسائلو جوابات معلومېږي.

دروېش وايي: چې اکثر مفسرين ؒ پر دې خبره متفق دي چې مراد له "ماتنفقون" څخه اموال دي، او مراد له انفاق څخه عام دی که فرضي انفاق وي لکه زکوة او يا مستحب وي لکه نور خيرات او بذل المال وه فقراؤ او مساکينو ته، ولله در القاضي البيضاوي حيث عم الانفاق بقوله اى المال وما يتبعه وغيره كبذل الجاه في معاونة الناس والبدن في طاعة الله، او سرښندن في سبيل الله اى الغزوات وهذا تفسير اشمل من جميع التفاسير كما لا يخفى.

دروېش وايي: چې له عمر بن عبدالعزيز ذالک الملک العادل بعد الخلفاء الراشدين څخه روايت دی چې دده ماښې يوه مينځه درلوده دېره ښائسته او د عمر بن عبدالعزيز دېره خوښه وه، او دېر ورته راغب و، او ده ماښې ته څو واره ويلي وه چې دا مينځه ماته راکړه يا په قيمت يا په هبه خو ماښې نه ورکول، وروسته چې عمر بن عبدالعزيز خليفه سو او امير المؤمنين منتخب سو، نو ماښې يې هغه مينځه دېره ښائسته کړه او عمر بن عبدالعزيز ته يې وروستله او ورته وه يې ويل "وهبتها لک" ماتاته بخښلې او دا به ستا خدمت کوي او ته به له دې څخه خپل د محبت استفاده کوې، نو عمر بن عبدالعزيز وخپل ماښې ته وويل چې دا مينځه تاته له کومې خوا په لاس درغلې ده، ماښې يې ورته وويل د خپل پلار عبدالملک بن مروان له کوره څخه، بيا عمر بن عبدالعزيز ددې پلټنه شروع کړه چې دا مينځه عبدالملک بن مروان ته له څه درکه لاس ته راغلې وه، بيا خلګو ورته ويل چې د عبدالملک بن مروان يو حاکم و چې پر هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ډېر پوروڼه باندي وه، نو عبدالملک دا مينځه د هغه له ترکې څخه واخستل، بيا عمر بن العزيز د هغه عامل ورڅه حاضر کړه هغه يې تولـه راضي کړه په ورکړه د نقودو، بيا نو عمر بن العزيز هغه مينځه چې دده ډېر محبت ورسره و او ډېر عشق يې ورسره درلودی ځان ته را وغوښتل، نو يې هغې مينځې ته وويل چې تـه زما لـه خوا حره يعنې آزاده يې، نو بعض وزيرانو ورته وويل چې يا امير المؤمنين تا هره شبهه چې په مينځه کې وه يووړه او پر عاشق هم وې، نو چې له شبهاتو څخه خلاصه سوه بيا دي نو ولي ازاده کړه عمر بن عبدالعزيز ورته وويل چې خدای پاک وايي "ونهى النفس عن الهوى فان الجنة هي المأوى" نو ما خپل ځان لـه خواهشاتو د نفس چې ددې مينځې سره يې درلودی ځان منع کړی. او بل خدای ﷻ وايي "لن تنالوا البر حتى تنفقوا مما تحبون"

دروښ وايي: چې حقيقت د تقوی او محبت د خدای ﷻ دا و چې عمر بن عبدالعزيز چې پر هوی د نفس يې قدم کښېښوی او محبت د خدای ﷻ يې مختاره کړی، اللهم اجعلنا محبين لرضاک تارکين لرضا النفس الامارة بالسوء.

لـه ربيع رحمه الله څخه روايت کړه سوی دی چې دی فلج سو، نو چې سائل په دروازه کې به د شيئاً لله نعره وکړه ربيع رحمه الله به ماينې ته وويل چې دې سائل ته گوره ورکړه، ولې چې د ربيع رحمه الله گوره خوښه وه، نو ددې آيت په تاويل سره "لن تنالوا البر حتى تنفقوا مما تحبون" به ربيع رحمه الله گوره ورکوله، نو د ربيع مرض د فلج چې څه اندازه کم سو، نو دده د چرگ غوښو ته هوا وسوه، مگر څلوېښت ورځې به يې نفس ددغه هوا څخه منعه کاوه په تاويل ددې قول د خدای ﷻ "ونهى النفس عن الهوى" اخير يې ماينې ته دا خپل هوا د غوښو د چرگ ښکاره کړه ماينې يې ورته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وویل چي سبحان الله تا ولي دا څلوېښت ورځي ځان منعه کړی و "وقد احل الله لک لحم الدجاج" نو ماینې یې سړی بازار ته واستوی او چرګ یې رانیوی په یوه درهم او دوه دانق، نو ښه مزه داره یې پوخ کړی مانښام یې چرګ سور کړی دده ومخته کښېښوی، چي د به ګوله ځندي کوله په دروازه کي سائل ږغ وکړی شیئاً لله، نو ربیع رحمۃ اللہ علیہ ماینې ته وویل چي دا د چرګ غوښې ګرده وسائل ته ورکړه عملاً بقوله تعالی "لن تنالوا البر حتی تنفقوا مماتحبون" ماینې یې ورته وویل چي تا څلوېښت ورځي د چرګ د غوښو انتظار کاوه اوس یې سائل ته ورکوې، خو دا اسان کار دی چي سائل ته به د چرګ قیمت ورکړو او د چرګ غوښي ته وخوره، ربیع ورته وویل چي ورسره د چرګ قیمت راوړه، هغې هغه مذکوره قیمت ورته حاضر کړی، نو ربیع ورته وویل چي دا د چرګ قیمت سره د چرګ سائل ته ورکړه هغې هم ورکړی.

دروښ وایي: چي ربیع رحمۃ اللہ علیہ په دغه ورکړه کي په دوو آیتو عمل وکړی، قوله تعالی "ونهی النفس عن الهوی" وقوله تعالی "لن تنالوا البر حتی تنفقوا مما تحبون" همېشه د اهل الله ورته اعمال وي، قال الشاعر

با حسان اسوده کردن دلی به از الف رکعت بهر منزلی
دل بدست آر که حج اکبر است از هزدان کعبه یک دل بهتر است

په یوه روایت کي راغلي دي چي خدای ﷻ وربیع رحمۃ اللہ علیہ ته له فالج څخه شفاء کامله ورکړه په سبب ددغه صدقې في سبیل الله ولاجل مرضات الله وترک الشهوة النفسانیة. باکریمان کارها دشوار نیست.

وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ ۝

او هغه چي تاسي یې نفقه کړئ یعنې په لار کي د خدای ﷻ، یعنې که طیب وي چي ستاسي هم خوښ وي، او که خبیث وي چي ستاسي نه وي خوښ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي جار ومجرور اعنی من شیئ محلاً منصوب دی علی التمیز له "ماتنفقوا" څخه او ددې تمیز په راوړلو کي فائده داده چي قلیل او کثیر طیب او خبیث او ټولو انواعو ته د مال منفق که فرضي وي او که نفلي که ذهب او فضه وي او یا انعام وي او یا ماخرج من الارض وي شامل سي، نو په دې آیت کي ترغیب دی په انفاق د مال طیب، او ترهیب دی له انفاق څخه د مال خبیث کما لایخفی.

پوښتنه: خدای ﷻ په ځای کي د "ماانفقتم بصیغة الماضي کما هو الظاهر" وما تنفقوا په صیغه د مضارع ووایه؟

ځواب: اشاره ودې ته ده چي خدای ﷻ تر عمل دمخه په احوالو د عمل د بندګانو خبر دی وهذا غایة من العلم کما لایخفی، او په دې اشاره ودې ته چي خدای ﷻ خبر دی په انفاق د بنده که قلیل وي او که کثیر، نو بنکاره کولو ته د انفاق في سبیله جل مجده ضرورت نسته بلکي اخفاء اولی ده.

كُلُّ الطَّعَامِ كَانَ حِلًّا لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ إِلَّا مَا حَرَّمَ إِسۡرَٰٓءِيلُ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦ

پوه سه: چي بغوي رحمه الله په شان نزول کي ددې آیت داسي وایي چي یهودیانو وه علیه الصلوة والسلام ته وویل چي ته وایه چي زه پر ملة ابراهیم یم او سره ددې چي ابراهیم د اوښ غوښي او شیدې نه خوړلې او ته یې خورې، نو پر ملت ابراهیم نه یې؟ نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي د اوښ غوښي او شیدې وه ابراهیم علیه السلام ته حلالي وې، نو یهودیانو ورته وویل چي هر شی چي موږ یې حرام بولو ننه ورځ هغه ټوله حرام وه پر نوح او ابراهیم حتی انتهی الینا ولي یهودیان نسخ د احکامو روا نه بولي، نو خدای ﷻ دا آیت نازل کړی.

ترجمه: طعام مصدر دی په معنا د مفعول ای المطعوم او مراد څټدي غذا ده، او الف ولام لپاره د عهد دی، وانما قلنا ذالک لپاره د دفع د هغه سوال چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کل الطعام خو شامل دی میتة او وینو ته او غوښو ته د سرکوزې او وغوښو ته د ټولو سباع البهائمو او سره ددې چې دا خو حلال نه وو بنې اسرائیلو ته. وحاصل الدفع چې مراد له الف ولام څخه استغراق نه دی بلکې عهد دی. والمراد ما ذکر في قوله تعالی "فبظلم من الذین هادوا حرمنا علیهم کل ذی ظفر الی آخیر الآیة" فلا یشمل تلک الکلمة ما ذکر في السوال.

تفصیل المقام: هغه وخت چې نازل شو "فبظلم من الذین هادوا حرمنا علیهم طیبات احلت لهم" وقوله تعالی "وعلی الذین هادوا حرمنا کل ذی ظفر الی قوله ذالک جزینا هم ببغیهم" انکر الیهود او ډېر په غصه شوه او خپل ځانونه یې پاک وبلل له ظلم څخه. او دوئ منکره شوه د قرآن له دغو آیتو څخه. او دوئ وه علیه الصلوة والسلام ته وویل چې دا تحریم د دغو مطعوماتو یوازې په موږ پورې خاص نه دی، بلکې دا تحریم قدیم دا مطعومات حرام وه نوح او ابراهیم ومن بعدهم وهلم جرا حتی چې تحریم موږ ته ورسېدی، او غرض ددوئ تکذیب د شهادت د خدای ﷻ یعنې په قرآن کې پر دوی باندې بالظلم والبغي والحسد او خلګ منع کول له لارې څخه د خدای ﷻ. و اکل الربوا لکه چې قرآن مبارک چې په متعدد و ځایو کې حکایت ددغو بدو کارو له دوئ څخه کړی دی.

ترجمه: ټوله مطعومات حل وه یعنې حلالاً.

پوه سه: چې حل مصدر دی دلته وصف واقع سوی دی، نو په سبب د مصدریت مذکر او مؤنث او مفرد او جمع پکښې برابر دي.

فائده: حل او حرمت ونحوهما صفت د افعالو د مکلف دي، نو دلته مراد څنګه اکل دی او دا عیانو صفت بالعرض دی، مثلاً شرب الخمر حرام بالذات وذات الخمر حرام بالعرض، وقد تقرر ذالک في کتب الفقه. مګر هغه شی چې اسرائیل یعنې یعقوب علیه السلام پر خپل ځان حرام کړی و چې غوښې او شیدې د اونټ وې، سبب یې دا و چې یعقوب علیه السلام ته درګ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نساء پېښې سوی و، نو ده دا نذر کړی و چې که زه خدای ﷻ جوړ کړم نو زه به احب د مطعوماتو نه خورم، دا په روایت د احمد او حاکم له ابن عباس ﷺ څخه په سند صحیح روایت کړی دی.

او بعض راویان وایي چې یعقوب علیه السلام ته چې د رګ نساء درد پېښ سو، نو طبیبانو ورته وویل چې د اوښ غوښې او شیدې مه خوره.

درویش وایي: چې هر څه چې و خو د قرآن مبارک الا ماحرم اسرائیل علی نفسه صحیح دی، او روح البیان داسې یو نادر روایت راوړی دی هغه دا چې یعقوب علیه السلام وویل چې که خدای ﷻ ماته دوولس زامن راکړه، او بیت المقدس ته صحیح سالم ورسېدم زه به اخیري زوی ذبح کوم، نو یوه ملکه په صورت د سړي ورته راغله او ورته وه یې ویل، چې یعقوبه ته یو قوي سړی یې راسه په غېږ نه راځي، نو یعقوب علیه السلام او ملکه په غېږ سره ورغله، نو یوه بل نه کړه سره غوځار، نو ملکې یعقوب علیه السلام په ورانه کې کښې کښې نو یعقوب علیه السلام ته د رګ نساء درد ولاړ سو. نو ملکې ورته وویل چې که ماته غوځارولای، نو غوځارولای مي سوې لکن ما چې ته د ورانه په غمزه مبتلا، کړې یعنې رګ نساء در پېښ سو، له دې سببه چې تا نذر کړی و چې زه په شرط مذکور اخیري زوی ذبح کوم، نو خدای ﷻ په دې غمزه سره له ذبح څخه د ولد خلاص کړې یعنې دا غمزه یې عوض د ذبح وګرځوله. نو یعقوب علیه السلام چې بیت المقدس ته ورسېدی او اراده د ذبح د خپل زوی یې وکړه او د هغې ملکې خبره یې هېره سوه، نو بیرته هغه ملکه ورته راغله چې ته چې ما کښې کښلې هغه تالره مخرج د ذبح ولد و، نو وی مه حلالوه. راوي وایي چې یعقوب علیه السلام دونده له درد څخه د رګ نساء په عذاب سو چې ګرده شپه به یې له درده خوب نه سوای کولای، نو یې قسم واخستی که زه د دې رګ نساء له درده څخه خدای ﷻ جوړ کړم، نو زه به نه خورم او نه څښم احب د مطعوماتو او د مشروباتو وماته یعنې غوښې او شیدې د اوښ، فشفاه الله تعالی، والله اعلم بالصواب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مِنْ قَبْلُ اَنْ تُنَزَّلَ التَّوْرٰىةُ ؕ

دمخه تر دې چې تورات نازل کړه کېدی.

پوه سه: چې دا جار او مجرور متعلق په "حرم اسرائیل" پورې دی په اتفاق د مفسرینو په "ان تنزل" پورې نه دی لکه ظاهر چې مقتضی دی. ولې چې په دې قید کې خو بیا فائده نسته ولې چې تحریم د اسرائیل یعنې یعقوب علیه السلام وروسته تر نزول التورات خو ممکن نه دی. ولې چې یعقوب علیه السلام په سوو کلونه تر تورات دمخه دی فلا فائدة في الاخبار لقوله "من قبل ان تنزل التوراة" نو صاحب د روح البیان وایي چې دا جار او مجرور متعلق دی په "کان" پورې. او مظهري رحمه الله پر ده باندې سوال کړی دی چې پر دې تقدیر قصر لازمېږي د صفت دمخه تر تمام د هغه، یعنې صفت چې "کان حلاً" دی قصر سو په "الا" سره یعنې في قوله "الا ماحرم اسرائیل آه" دمخه تر تمام د صفت، ولې چې تمام د صفت چې حلاً دی پر دې تقدیر په "من قبل ان تنزل التوراة" سره کېږي، واجاب عنه صاحب روح المعاني بقوله ولا یضر الفصل بالاستثناء اذ هو فصل جائز وذالک علی مذهب الکسائي وابی الحسن في جواز الفصل في جواز ان یعمل ما قبل الاستثناء فیما بعدها اذا کان ظرفاً او جارا ومجرورا کما ههنا او حالاً آه وایي هذا اشار صاحب روح البیان من طرف خفی بقوله ولا ضیر في توسیط الاستثناء بینها آه. او مظهري رحمه الله وایي چې په محذوفاتو کې د قرآن مجید باک نه کوي وایي چې دا جار او مجرور متعلق دی په محذوف پورې چې له ماقبله څخه فهمېږي، او دا محذوف یې ځواب د سوال مقدر ګرځولی دی حیث قال وکانه في جواب متی کان حلاً فاجیب بانه کان حلاً.

دروبش وایي: چې لا یخفی انه تکلف. حاصل د کلام دادی چې مطعومات تولې حلال وه دمخه تر نزول التورات ثم حرمت بسبب بغیهم و ظلمهم فکیف تکون حراماً علی نوح وابراهیم علیهم السلام وغیرهما لکه یهودان چې دعوی کوي چې زموږ له خوا هیڅ ظلم نه دی سوی چې د هغه په سبب دي یو مطعوم حرام سوی وي فاتلهم الله کیف انکروا التوراة والقرآن، قال الله تعالی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قُلْ فَأْتُوا بِالتَّوْرٰىةِ فَاتْلُوْهَآ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٩٣﴾

ته ورته ووایه یعنې یهودیانو ته چې راوړئ تورات او تلاوت یې وکړئ که تاسي رشتیا وایاست چې دا تحریم د مطعوماتو مذکوره وو قدیم دی زموږ د ظلم په سبب نه دی.

پوه سه: چې په دې آیت کې مقصود ملامتوالی دی د یهودیانو ددوئ په کتاب تورات سره چې په تورات کې دا راغلي دي چې تحریم د بعضو مطعوماتو پر یهودانو په سبب د ظلم ددوئ دی، نو دوئ د تورات راوړلو ته حاضر نه سوه.

فائده: په دې کې دلیل دی پر نبوت صادقه د علیه الصلوة والسلام او پر دې چې علیه السلام پر ملت د ابراهیم علیه السلام دی نه یهودان لکه دوی چې دعوه کوي چې موږ پر ملت د ابراهیم علیه السلام یو.

فَمَنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ

که څوک په قصده سره درواغ پر خدای جل جلاله باندې ووایي لکه یهودانو چې به ویل چې تحریم د بعضو مطعوماتو د نوح او د ابراهیم علیهما السلام څخه موږ ته په میراث پاته دی. او زموږ د ظلم په سبب نه دی لکه قرآن مبارک چې وایي.

مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ

وروسته تر دې چې په تورات کې دوی ملامت سوه. ولي چې تورات یې منځ ته نه راوړی.

فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٩٤﴾

نو دغه کسان دي ظالمان چې له حقه وروسته تر وضوح انکار کوي حسداً

قُلْ صَدَقَ اللّٰهُ وقف

ته ووایه ای محمده ﷺ خدای پاک رشتیا وایي في قوله ﴿ان اولی الناس بابراهیم للذین اتبعوه وهذا النبي والذین آمنوا﴾ یعنې یهود او نصاری

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درواغ وایي چي موږ پر دین د ابراهیم علیه السلام یو او ابراهیم علیه السلام یهودي و لکه یهودان چي وایي یا نصاري و لکه نصاری چي وایي.

فَاتَّبِعُوْا مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ

یعنې اې هغه کسانو چي تاسو ملت ابراهیم علیه السلام غواړئ.

پوه سه: چي د "ملت ابراهیم" څخه دلته اسلام مراد دی. یعنې دین محمد ﷺ وامته. ولي چي اسلام فقط دین د ابراهیم علیه السلام دی په سبب د کمال مشابهت د ملت ابراهیم سره او یا په دې سبب چي ملة ابراهیم علیه السلام په زمانه کي دده اسلام و.

نکته: پوښتنه: خدای ﷻ ولي داسي نه وویل "فاتبعوا ابراهیم"؟

خواب: اتباع دده علیه السلام خو له دې جهته وروسته له بعثته د نبي علیه السلام لازمه ده چي دا دین د محمد علیه السلام دی. نه له دې سببه چي اسلام دین ابراهیم علیه السلام دی. ولي چي آنحضرت ﷺ خو نبي مستقل دی. داسي خو علماء ټوله پر دې متفق دي چي ملت او دین من حیث الذات سره یو دي وهو ما شرعه الله لعباده علی لسان الانبیاء علیهم السلام تا چي خلګ ورسېږي په متابعت د هغه وه مراتبو د قرب الی الله تعالی وصلاح الدارین ته. لکن فرق اعتباري سره لري یو فرق هغه دی چي مولی خیالي اشاره ورته کړې ده او فاضل لاهوري رحمه الله یې په حاشیه کي د خیالي تفصیل کړی دی چي دین د "دان یدین" څخه مشتق دی په معنا د "اطاع یطیع" نو ددین معنا اطاعت او فرمانبرداري ده چي شعار د انبیاء وو او د صلحاوو دی. او د ملت معنا کتابت ده لکه د املاء معناء چي کتابت ده. فلا یرد ان الملة مضاعف والاملاء ناقص لانهما وان کانا کذالک لکن معنا هما واحد کما اشار الیه الخیالي بقوله ووالدین والاملال بمعنی واحد، او کتابت د علماؤ کار دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې هر يو له تقوی او له علمه وه پايه تکميل ته نه سي رسېدلای پېله هغه بله، ولي صاحب تقوی او عبادت که جاهل وي آخير الامر له اغواء څخه د شيطان ځان نه سي خلاصولای کما اشار اليه السعدي الشيرازي رحمه الله ع که بې علم نتواند خدا را شناخت

او علم چې پېله تقوی وي هغه لکه بې مېوې درخته، فذالک العلم حجة الله عليه لا له، او په دې باب کې ډېر احاديث صحيحه راغلي دي، او د علم چې هر څو فضليت په احاديثو شريفه وو کې راغلی دی له هغه څخه علم عامل مراد دی، والا فالفاسق لايستحق المدح، او بل فرق د ملت او دين عرفي دی، ولي چې عرف پر دې دی چې ملت وه نبي ته مضاف کېږي ولايضاف الی الله تعالی، فيقال ملة ابراهيم مثلاً وملة محمد ﷺ ولا يقال ملة الله، او بل فرق يې دادی چې اضافت د ملت وه احاد ته د امت نه ده روا، او د دين دا روا ده فلا يقال ملة زيد او عمرو وغير ذالک ويصح ان يقال دين زيد مثلاً الاسلام، او بل فرق يې دادی چې ملة مجموع شرائعو ته وايي يوه ته نه وايي، فيقال لمجموع شرائع الاسلام هي ملة محمد ﷺ ولا يقال للصلوة وحدها ملة محمد ﷺ فتدبر هداک الله لدقائق القرآن الكريم.

حَنِيفًا

حال من ابراهيم ومعنا الحنيف المائل من الاديان الباطلة الی الدين الحق، او دا هم احتمال لري چې د حنيف معنا دي دا وي چې مائل و له افراط څخه كما في دين اليهود او له تفريط څخه كما في دين النصاری، واعتدال ته كما هو في دين الاسلام.

وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿٦٧﴾

او نه و ابراهيم عليه السلام له مشرکانو څخه لکه اهل مکه چې سره له شرکه دعوه کوي چې مونږ پر ملت ابراهيم يو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې یهودانو ومسلمانانو ته وویل چې بیت المقدس چې زمونږ قبله ده افضله ده تر کعبې چې ستاسي قبله ده، او بیت المقدس دمخه دی تر کعبې او ځای دی د هجرت د انبیاؤ، مسلمانانو ورته وویل چې زمونږ قبله چې کعبه ده اقدمه او اشرفه ده تر بیت المقدس فانزل الله تعالی هذه الآیة.

إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ

په تحقیق سره اوله خونه چې ایښودل سوې ده لپاره د خلګو "ای قبلة" او بعض وایي چې لپاره د حج کولو د خلګو او حسن بصري رحمه الله یې داسي ترجمه کوي "ان اول مسجد ومعبد وضع للناس یعبد الله فیه والواضع هو الله تعالی" قوله للذی آه" خبر دی د "ان"

پوه سه: چې په روح المعاني کې وایي چې "بکة" لغت دی په "مکه" کې په نېږ د اکثرو مفسرینو رح او عرب باء، او میم یو د بل په ځای کې استعمالوي لکه لازم او لازب وراتب وراتم ونمیط ونبیط، او بعض مفسرین وایي چې "بکة" بالباء ازدحام ته وایي "من بکه یبکه بکاً اذا ازدحم فسمی به لازدحام الحجاج فیها" او بعض مفسران رح وایي چې د "بک" معنا "دق" او ټکول دي، ولي چې مطاف غاړې د جبابره او بادشاهو ټکوي او هم دا سبب دی چې په طواف کې بادشاهان د دنیا لکه افراد د مسلمانانو طواف کوي، او عبدالله بن زبیر رضی الله عنه وایي چې هر جبار چې مقصد د توهین ددې بیتې کړی دی هغه خدای جل جلاله ټکولی دی لکه اصحاب فیل کما ورد في القرآن "الم تر کیف فعل ربک باصحاب الفیل الی اخیر السورة" او بعض مفسران رح وایي چې لفظ د "بکې" له دې محاورې څخه د عربو ماخوذ دی "بکت الناقة اذا قل لبنها" نو وجه د تسمیې یې داده چې په مکه کې اوبه لږ دي بالنسبة الی البلاد الاخر.

دروښ وایي: چې په کون کې د بیت الله الشریف "اول بیت" علماء،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اختلاف لري، بعض علماء وايي چې ابن عمر رضي الله عنه او مجاهد او قتاده رحمه الله وايي چې دوه زره کاله دمخه تر مځکې د کرې د اوبو پر مخ باندې سپين ځګ و. دغه سپين ځګ محازات د بيت الله و نوره مځکه تر هغه ځګ لاندې خدای جل جلاله پيدا کړه.

عاصي وايي چې دا توقيت په عقل سره نه معلوميږي، نو محمول پر سماع به وي له منبع الشريعة ﷺ څخه. د حسين بن علي بن حسين بن علي رضي الله عنهم څخه روايت دی چې خدای جل جلاله تر عرش لاندې يوه خونه جوړه کړې وه چې بيت المعمور يې بلله او ملکې يې امر کړي وې چې تاسي پر دې خونه طوافونه کوئ، او بيا خدای جل جلاله هغه ملکې چې په مځکه کې اوسېدلې امر کړې چې پر محاذات د بيت المعمور يوه خونه جوړه کړئ چې تاسي به طواف پر کوئ وسموه الصراح، او دا بناء ارضي وه د آدم عليه السلام تر پيدايښت دوه زره کاله دمخه. نو آدم عليه السلام چې خدای جل جلاله پيدا کړی او مځکې ته يې را کښته کړی، نو يې امر کړی چې ته حج ته د بيت الله ارضي ولاړ سه. نو آدم عليه السلام چې حج ته راغلی ملکو ورته وويل "بر حجک" چې مقبول حج دي سو وحججنا قبلک بالفی عام. او له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې معنا د اول بيت داده، چې دا اول بيت چې آدم عليه السلام په مځکه کې جوړ کړی دی.

دروښ وايي: چې دا روايت خالي دی له تکلفاتو څخه د تقدير اتو ګذشته و، او په حديث شريف کې چې روايت يې بخاري او مسلم کړی دی ابو ذر رضي الله عنه وايي چې ما پوښتنه وکړه له عليه السلام څخه چې يا رسول الله کوم مسجد په مځکه کې اول جوړ سوی دی قال المسجد الحرام قلت ثم ای المسجد الاقصی، قلت کم کان بينهما قال اربعون سنة الی اخير الحديث.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تتمة لبحث بكة

پوښتنه: تاسو په وجه کې د تسمیه د بکة یوه وجه دا وویل د عبدالله بن زبیر رضی الله عنه په روایت چې هر جبار چې قصد د توهین د بیت الله کړی دی هغه خدای ﷻ ټکولی دی لکه اصحاب فیل، او سره ددې چې د تاریخ په پاڼو کې راغلي دي چې حجاج بن یوسف پر عبدالله بن زبیر رضی الله عنه چې بیعت د خلافت ورسره سوی و په مکه مکرمه کې په زمانه کې د یزید بن معاویه حمله وکړه، نو عبدالله بن زبیر رضی الله عنه چونکه طاقت د جنګ د حجاج نه درلودی، نو په حرم شریف کې یې پناه واخستل. حجاج بن یوسف پر جبل ابي قبیس باندې منجنیق ورته کښېښو چې په پخوانی زمانه کې د توپ کار ورځخه اخستل کېدی او مکه مکرمه او بیت الله الشریف یې ډېر وارونه په منجنیق وویشتل او د مځکې سره یې برابره کړه، نو ددې جبار مغزی ولې خدای ﷻ نه کړی ورمات؟

ځواب: د حجاج بن یوسف خو توهین د مکې مقصد نه و بلکې قتل د عبدالله بن زبیر رضی الله عنه یې مقصد و او هغه سې یې هم وکړه چې عبدالله رضی الله عنه یې د زمزم پر غاړه ذبح کړی وروسته حجاج بن یوسف دغه بناء موجوده الآن د بیت الله وکړه.

فائده: بعض علماء وایي چې مراد له اولیت څخه د بیت الله اولیت په اعتبار د شرف ده نه اولیت په اعتبار د زمانې کما ذکرنا من قبل.

دروښ وایي: چې ددې بعض ترجمه له صریح حدیث څخه چې په روایت د ابو ذر رضی الله عنه تېر سو مخالفه ده فافهم.

مُبٰرَكًا

بوه سه: چې "مبارکاً" منصوب علی الظرفیة دی له هغه ضمیر څخه چې مستتر په ظرف کې دی یعنې "ببکة" علی ما اعتبره النحات یعنې کثیر الخیر والنفع دی، ولې چې څوک حج د بیت الله یا عمره وکړي یا اعتکاف

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پکښې وکړي يا طواف پر وکړي خدای ﷻ ثواب ونه ورکوي او ګنهونه وربخښي بلکې چې مجرد ورته ګوري هم خدای ﷻ ثواب ورکوي.

پوه سه: چې بعض عبادات خاص دي په بيت الله پورې، لکه حج، عمره او نور عبادات لکه لمونځ او روژه او اعتکاف په نورو ځايو کې هم روا دی لکن په بيت الله شريفه کې يې ثواب ډېر دی ځکه ابو يوسف رحمه الله وايي که چا نذر کړه چې زه به په بيت الحرام کې لمونځ کوم د بل هيڅ مسجد په لمانځه يې غاړې نه خلاصېږي، په حديث مبارک کې راغلي دي چې روايت يې انس بن مالک رضي الله عنه کړی دی چې د سړي لمونځ په کور کې يو په يو دی، او لمونځ په مسجد القبائل کې يو لمونځ په پنځه ويشت دی يعنې په دې شرط چې مسجد ضرار نه وي او که ضرار و نو لمونځ پکښې مکروه دی. او په هغه مسجد کې چې د جمعې لمونځ پکښې کېږي يو لمونځ په پنځه سوه دی په دې شرط چې دغه مسجد پر ضد او ضرار د قديم جامع مسجد نه وي جوړ سوی، او په مسجد اقصی کې يو لمونځ په زرو لمونځو دی، او لمونځ زما په مسجد کې يعنې په مسجد نبوي کې د مدينې منورې يو لمونځ په پنځوس زره لمونځو دی. او يو لمونځ په مسجد حرام کې په يوه لک لمونځو دی.

مسئله: په نېز د امام اعظم او امام محمد رحمهما الله تعالى دا فضيلت د مسجد حرام د لمانځه محمول دی پر پنځو فرضي دون النوافل، ولي چې زيد بن ثابت رضي الله عنه وايي چې نبي کريم ﷺ وويل افضل الصلوات صلوة المرء في بيته الا المكتوبة" متفق عليه.

مسئله: اعتکاف په حکم کې د فرضي لمونځو دی، ولي چې معتکف د فرضي لمونځو د جماعت په مسجد کې انتظار کوي. کذا قال المظهري رحمه الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَهُدًى لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿٩٧﴾

او بیت الحرام هدایت د ټولو مسلمانانو لپاره دی. ولي د ټولو مسلمانانو قبله ده، او په بیت الحرام کي داسي اثار عجیبه سته چي سړي ته هدایت د ایمان کوي پر خدای ﷻ او پر رسول باندي.

پوه سه: چي هدیً عطف دی پر مبارکاً باندي.

فِيْهِ اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ

په بیت الحرام کي ډیر دلائل د شرف ددې موجود دي "منها" د حرم مبارک کوتري چي په لوړ پرواز کي وي چي پر بیت الله شریفي راسي سره دانه دانه سي او پر بیت الله باندي لوړ نه تېرېږي تعظیماً لذالک البیت مګر هغه یوه دوې کوتري پر بیت الله لوړي تېرېږي چي ناجوړي وي. نو تبرکاً لپاره د دفع د خپل مرض په هوا متبرکه کي پر بیت الله تېري سي، او بل ددې بیت د شرف له وجهي کوم درنده لېوه وغیره چي هوسی وغیره د ښکارولو لپاره پسي راخستې وي تر هغو په پسې وي چي هوسی وغیره وحدود ته د حرم داخل سي نو درنده ځندي وګرځي، او بل د اصحاف الفیل قصه ده چي په قرآن مبارک کي ذکر ده، او بل دا چي سړی هر څومره مضطرب او غمجن وي د بیت الله شریفي په مجرد لیدلو سره اضطراب او غم دفع کېږي، او بل دا چي هر مسلمان په لیدلو سره د بیت الله په زړه کي فرحت محسوسوي، کل ذالک محسوس بالتجارب لمن هداه الله ﷻ.

مَّقَامُ اِبْرٰهِيْمَ ۚ

پوه سه: چي "مقام ابراهیم" مبتداء ده خبر یې محذوف دی یعني منها مقام ابراهیم.

فائده: مقام ابراهیم هغه ډبره ده چي ابراهیم او اسماعیل علیهما السلام چي بیت الله جوړوله، نو چي دېوال لوړ سو او لاس نه ور رسېدی نو ابراهیم به پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دغه ډبره ودرېدی د خدای ﷻ په قدرت به دا ډبره د دېوال تر سره پورته کېدله، ابراهیم علیه السلام چې به خښتې او ډبرې د دېوال پر سر کښېښولې دا ډبره به بیرته مخکې ته راتله او تر بجلکو پورې اثر د قدمینو د ابراهیم علیه السلام پکښې موجود و لکن په مرور د زمنه متطاوله او د مسه کولو د خلګو دا اثار القدمین په موجوده زمانه کې یې صرف یوه علامه ستله.

پوه سه: چې تحقیق د مقام ابراهیم چې یې وکړی له دې سببه چې دښمنان د ابراهیم علیه السلام په وروستنه زمانه کې ډېر وه، نو په زړو کلونه تېر سوه څرنګه دا مقام ابراهیم پر خپل ځای پاته دی؟

دروېش وایي: چې بعض علماء وایي چې څرنګه چې ابراهیم علیه السلام اسماعیل رحمه الله او مور دده په داسې حال کې چې اسماعیل علیه السلام په حال کې د رضاع و، نو قصه یې اوږده ده پخپل ځای کې به راسي ان شاء الله، نو ابراهیم ته ساره چې د ابراهیم علیه السلام بله مایته وه چې د هغې په غوښتنه ابراهیم اسماعیل علیهما السلام او مور دده په وادي کې د بکې پرې اینبي وه، او ابراهیم علیه السلام بیا تر هغو پورې د خپلې ترکې ومعلومات ته ساره اجازه نه ورکوله، تر څو چې اسماعیل علیه السلام ځوان سو او مور هاجره یې وفات سوه، او اسماعیل علیه السلام د جرهم په قبیله کې چې هغه هم په اجازه د مور د اسماعیل رحمه الله د زمزم پر ځاه آباد وه واده کړی و، او ابراهیم علیه السلام له شام څخه په اجازه د ساړې لپاره د ملاقات د خپلې ترکې ښار ته د بکې راغلی او ساړې اجازه د کښته کېدلو له آسه څخه نه وه ورکړې، نو ابراهیم علیه السلام چې راغلی مکه لوی کلی دی او اسماعیل علیه السلام په بنکار پسې خارج الحرم ته تللی و، نو ابراهیم علیه السلام په پوښتنه د خپل زوی اسماعیل کور پیدا کړی، او د اسماعیل علیه السلام د مایني څخه یې پوښتنه وکړه چې مېره دي چېرې دی؟ هغې ورته وویل چې بنکار ته تللی دی، بیا ابراهیم علیه السلام له دې څخه د ژوندانه ګذارۍ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه وکړه هغې دپر شکایت د لوړې او د ژوندانه ګذاری ورته وکړی،
نو ابراهیم علیه السلام چې روانېدی نو د اسماعیل علیه السلام وماینې ته یې وویل
چې د دروازې چار چوب دې بدل کړه "دا یوه کنایه وه" مازدیګر چې
اسماعیل علیه السلام له بنکاره راغلی د ابراهیم خلیل الله خوشبویي یې د هوا د
بکې تر مشام سوه، نو ماینې ته یې وویل چې زمونږ کور ته ننۍ څوک نه و
راغلی؟ ماینې یې د سپکاوي په لهجه ورته وویل چې یو ژړ ږیری سړی
راغلی و اوستا پوښتنه یې وکړه او بیرته ولاړی. اسماعیل علیه السلام ورته
وویل چې نوره خو یې څه خبره نه درته وکړه؟ ماینې یې ورته وویل چې په
وخت کې د تګ یې دا خبره وکړه چې پر اسماعیل مې سلام وایه او ورته
ووایه چې د دروازې چار چوب دې بدل کړه، نو اسماعیل علیه السلام ورته وویل
چې هغه زما پلار و تا لکه چې د سپکاوي چار چلند ورسره کړی دی، نو د
دروازې چار چوب هم ته یې پر ما طلاقه یې، څو میاشتې وروسته بیا
ابراهیم خلیل الله له شام څخه د جبل کعبة پر لار مکې مکرمې ته راغلی.
لکن بیا ساړې له آسه څخه د کښته کېدلو اجازه نه وه ورکړې، نو
ابراهیم علیه السلام چې د خپل زوی اسماعیل وکورته ورغلی "نو
اسماعیل علیه السلام چې هغه مخکښې ماینه طلاقه کړه نو د جرهم په قبیله کې
یې بله ښځه په نکاح کړه" نو اسماعیل علیه السلام بیا په بنکار پسې تللی و نو
ابراهیم علیه السلام چې د خپل زوی اسماعیل علیه السلام کورته ورغلی دده له نوې
ښځې څخه یې پوښتنه وکړه هغې ورته وویل چې اسماعیل خو بنکار ته
تللی دی ته را کښته سه یو طعام به وخوړې، ابراهیم علیه السلام ورته وویل
چې د کښته کېدلو اجازه نسته "لکن ما طعامکم" هغې ورته وویل "التمر
وماء الزمزم" ابراهیم علیه السلام ورته وویل "بارک الله في طعامکم" نو دروېش
وایي چې دا هم وجه ده چې څلوېښت شبانه روزه چې سړی خورما خوري او
د زمزم اوبه پسې څښي ژوند کولای سي، ولا یمکن ذالک في غیر البلد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الحرام، نو هغې ښځې یعنې د اسماعیل علیه السلام ماینې ورته وویل چې دا ډیره مبارکه دې خیرنه ده زه به یې در پرېښځم، نو هغې دا ډبره را ګېل کړه ابرهیم علیه السلام یوه پښه پر کښېښول ښځې یوه خوا د ډیرې ورپرېوله. بیا یې وهغې بلې خواته ورګېل کړه ابراهیم علیه السلام هغه بله پښه پر کښېښول ښځې یې د ډیرې هغه بل طرف هم ورپرېولې، خو په ډبره کې اثر د قدمینو پیدا سو، نو ابراهیم علیه السلام په وخت کې د تګ ښځې ته وویل چې اسماعیل راسې زما سلام ورته ووایه، او ورته ووایه چې د دروازې چار چوب محکمه ساته، ابراهیم علیه السلام ځندې ولاړې، ماښام چې اسماعیل علیه السلام راغلی بیا خوشبویې د هوا پر ولاړه سوه، نو یې ماینې ته وویل چې نن خو به زمونږ کورته ځوک نه و راغلی؟ هغې ورته وویل چې یو مبارک سړی راغلی او ستا پوښتنه یې وکړه او ډیره یې خیرنه وه ما ورپرېوله، اسماعیل علیه السلام ورته وویل چې نور یې څه درته وویل هغې ورته وویل چې پر تا یې سلام وایه او ویل یې چې د دروازې چار چوب دې محکمه ساته، اسماعیل علیه السلام ورته وویل چې هغه زما پلار و او تا چونکه ډېر ښه ادب ورسره کړی دی، نو ځکه ماته یې ستا په باره کې وصیت وکړی چې د ماینې سره دې ښه کوه.

فائده: دوهش وایي چې ددې روایت چې اثر د پښو د ابراهیم علیه السلام د ډیرې د پرېولو په وخت کې پیدا سو، او د هغه روایت چې په وخت کې د بناء البیت الشریف چې ابراهیم علیه السلام پر دغه ډبره درېدی، او ډبره په قدرت د خدای ﷻ پورته کېدله ابراهیم علیه السلام دېوال د بیت الله الشریف پورته کاوه دا اثر د قدمینو پیدا سو منافات نسته، ولې ممکنه ده چې په وخت کې د ډیرې د پرېولو دې اثر د قدمینو في الجملة یعنې لږ پیدا سوی و او په وخت کې د بناء البیت دې دغه اثر د قدمینو ژور سوی و.

دروهش وایي: چې دا جمع د دوو روایتو له خواصو ځخه ددې تفسیر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ایوبي دہ وللہ الحمد علی ذالک.

پوه سه: چي ټوله او تفصيلي قصه د بناء البيت الشريف به په خپل ځای کي راسي ان شاء الله العزيز. فانتظر.

وَمَنْ دَخَلَهٗ كَانَ اٰمِنًا ؕ

که څوک داخل سي وحرم شريف ته هغه سړی په امان کي دی له قتل او تاراک څخه.

پوه سه: چي عربو به د جاهليت په وخت کي يو او بل وژل او يو پر بل به يې غارت کاوه، لکن حرم ته چي به داخل سو چا کار نه په درلودی.

دروښ وايي: چي دا قول د حسن بصري رح، قتاده رح او اکثره مفسرين رح هم پر دغه عقيده دي کما في قوله تعالى ﴿اولم يروا انا جعلنا حرماً آمناً ويتخطف الناس من حولهم﴾

پوه سه: چي امام اعظم ابو حنيفه رحمۃ اللہ علیہ وايي که پر چا باندي قتل قصاصاً او يا حد لازم و دباندي تر حرم، نو هغه پناه وروړه وحرم ته، نو له هغه څخه دي قصاص په حرم کي نه اخلي، او حد دي نه پر جاري کوي په حرم کي وهذا معنا قوله تعالى ﴿ومن دخله كان آمناً﴾ عند ابی حنيفة رحمۃ اللہ علیہ لکن دوډی دي نه ورکوي او څوک دي شی نه پر خرڅوي او نه دي يې ځندي رانسي. او نه دي بل سړی پرېږدي چي ډوډۍ وروړي حتی چي دی مجبور سي له را وتلو څخه د حرم شريف، چي را ووژي بيا دي يې قصاص کړي يا دي حد پر جاري کړي. كذا قال ابن عباس رضی اللہ عنہ، او امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ وايي چي هوړې په حرم کي دې قصاص کړي يا دي په حد کي.

مسئله: که چېرې يو سړی په حرم کي قتل يا د زنا، جرم وکړي چي سبب د قصاص يا د حد و، پر هغه دي هلته قصاص يا حد جاري کړي اتفاقاً، ولي ده هتک د حرم د حرمت وکړی اولاً، نو عقوبت به هلته دده د جرم عوض ورکړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "ومن دخله كان آمناً" د ابراهيم عليه السلام د دعاء اثر دی يقوله ﴿رب اجعل هذا البلد آمنا﴾ كما حكى الله تعالى عنه في موضع آخر.

فائده: په حديث مبارک کې راغلي دي ﴿من مات في احد الحرمين بعث يوم القيامة آمناً﴾ په بل حديث کې راغلي دي چې که چا صبر وکړی پر ګرمی د حرم يو ساعت د ورځې ﴿تباعدت عنه جهنم مسيرة مائتي عام﴾ په بل حديث کې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام د حجون پر غونډی ودريدی چې اوس يې جنت معلی بولي او په هغه وخت کې هيڅ هديره نه وه هلته نو يې وويل چې خدای جل جلاله به ژوندي کړي له دې حرم څخه ﴿ومن هذه البقعة يعني الحجون﴾ اويا زره کسه چې مخان به يې لکه د څورلسم سپوږمی وي ﴿يدخلون الجنة بغير حساب﴾ او خدای جل جلاله به شفاعت د هر يوه قبلوي له دوئ څخه چې مخان د هغو به هم کالقمر ليلة البدر وي. كذا في روح البيان.

وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ

والمراد فرض کړه سوی دی د خدای جل جلاله له لوری.

پوه سه: چې لفظ د "الناس" که څه هم عام دی لکن په قرينه د مقام مراد ځنډي دغه ډلي دي.

(۱) الاحرام: نو پر عَبيد او مريانو حج نه دی فرض لعدم القدرة المالي.

(۲) العقلاء: نو پر لهونيانو باندي حج نه دی فرض، لعدم الفهم لمراسم الحج.

(۳) البالغين: لعدم التكليف على الصبيان وكذا لا تكليف على المجانين.

مسئله: که کافر په وخت کې د کفر حج وکړي او يا نابالغ عاقل يعنې په افعالو د حج پوهېدی، او يا مريي حج وکړی، وروسته کافر مسلمان سو، او صبي بالغ سو او مريی ازاد سو، نو که يې قدرت پر حج پيدا کړی نو پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوی باندي حج فرض دی بالاجماع.

پوه سه: چي مظهري رحمه الله وايي چي سند ددې اجماع هغه حدیث دی چي حاکم رحمه الله يې له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت کړی دی او حاکم وايي چي دا حدیث صحیح دی پر شرط د بخاري او مسلم وان لم یخرجاه، د حدیث شریف پښتو ترجمه داده هر هغه صبي چي حج وکړي او بیا ورسېږي و وخت ته د بلوغ نو پر ده واجب دی بل حج یعني ان قدر علی الزاد والراحلة، او پر هغه اعرابي چي حج وکړي ثم هاجر یعني الی المدینة نو پر ده بل حج فرض دی، نو مراد له اعرابي څخه چي هجرت يې نه وي کړی یعني مسلمان هم نه وي، او پر هغه مریي چي حج وکړي او بیا ازاد سي نو پر ده بل حج فرض دی ان قدر.

پوښتنه: قرآن مبارک خو قطعي دی او حدیث مبارک خبر واحد او ظني دی، نو څرنګه تخصیص د عام یعني "الناس" په دې حدیث سره روا دی؟

ځواب: نعم لکن دا حدیث امت مرحومه تولو قبول کړی دی او پر مقتضی ددغه حدیث اجماع د مجتهدینو هم سته، نو دا حدیث گویا قطعي دی لفظاً ومعناً فجاز به تخصیص القرآن وتحقیق هذه المسئلة في علم اصول الفقة.

حِجُّ الْبَيْتِ

پوه سه: چي لفظ د "حج" په کسره د حا لغت دی د نجد او په فتح د حا لغت دی د حجاز، او دواړه فصیح لغتونه دي او معنا يې یوه ده.

فائده: حج په لغت کي قصد ته وایي او په شرع شریفه کي عبارت دی له افعالو مخصوصه وو څخه چي بعض د هغو په نورو آیتو کي راغلي دي کقوله تعالی ﴿ولیطوفوا بالبیت العتیق﴾ وقوله تعالی ﴿ثم افیضوا من حیث افاض الناس﴾ او نور په فعل د رسول الله ﷺ ثابت دی. والتفصیل من حیث الفرضیة والوجوب وغیر ذالک في کتب الفقة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: د امت مرحومه اجماع پر دي ده چي حج يو له ارکان خمسه وو څخه د اسلام دی او فرض عين دی په شرائط مخصوصه وو سره کما سيأتي في تفسير الآية. له ابن عمر ﷺ څخه روايت دی قال قال رسول الله ﷺ «بنی الاسلام علی خمس، شهادة ان لا اله الا الله و ان محمدا رسول الله، واقام الصلوة وايتاء الزكوة والحج وصوم رمضان» (المتفق عليه)

پوه سه: چي په باره کي د فرضيت د حج د هر حديثونه موجود دي کما لا يخفى على من طالع كتب الاحاديث الشريفة.

فائده: قوله تعالى "ولله على الناس" جمله مستقله مبتدائيه ده او "حج البيت" مبتداء ده او "لله" يې خبر دی او "على الناس" متعلق دی بما تعلق به الجار والمجرور في الخبر. قاله صاحب روح المعاني.

مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ؕ

که د چا طاقت وي وبيت الله ته د لاري.

پوه سه: چي "من استطاع آه" په ځای کي د خبر دی بدل بعض له "الناس" څخه لپاره د تخصيص د عموم د ناس، يعني د "ناس" لفظ خو شامل و مؤمنانو او کافرانو دواړو ته دی فالضمير العائد الى المبدل منه محذوف، والتقدير من استطاع منهم، وهم المؤمنون دون الكفار، ولي چي کفار مخاطب کول په کولو د شرائع د دين نه دي لان شرطها الايمان عندنا خلافاً للشافعي رحمه الله لانهم مخاطبون عند الشافعي باداء الشرائع ايضاً اى كما انهم مخاطبون بالايمان.

پوښته: ددې اختلاف نو څه فائده ده ولي کافر چي مسلمان سي لکه زمونږ په نېز چي قضاء د لمانځه او روژې وغيرهما من شرائع الاسلام چي پرده نسته لعدم التكليف الكافر بالشرائع دغه رنګه په نېز د امام شافعي رحمه الله هم پرده قضاء د شرائعو د اسلام نسته؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: هوا قضاء د شرائعو د اسلام څخه اتفاقاً پر کافر چې مسلمان سې نسته، لکن زمونږ په نېږ په ورځ کې د قیامت عذاب د ترک د شرائعو ورته نسته، ولې کافر څو مکلف په هغو سره نه و بلکې یوازې د کفر عذاب ورکول کېږي په دوزخ کې، او په نېږ د امام شافعي رحمه الله په دوزخ کې پرته تر عذاب د کفر عذاب د شرائعو د اسلام چې ده نه دي پر ځای کړي هغه هم ورکول کېږي لان الکافر مکلف بها ایضا عند الشافعي رحمه الله کما انه مکلف بالاسلام.

پوه سه: چې د "استطاعة" تفسیر روح البیان او بیضاوي وغیرهما په مختصره توګه سره داسې کړی دی ای قدر علی الذهاب الیه. واراد به قدرة سلامة الاسباب والآلات والزاد والراحلة من اسباب الوصول الی بیت الله. نو پر غیر مستطیع باندې حج نه دی فرض.

دروبش وایي: چې د قدیم فقهاؤ رحمهم الله په زمانه کې راحله یا اونښ یا به آس و، لکن په اوسنۍ زمانه کې راحله هر د سپرتیا شی دی چې سړی وبیت الله ته رسوي یعنې موټران، طیارې او آب ګوتبونه د دریاب.

پوه سه: چې په قاضي خان کې وایي چې مذهب د ابو حنیفه رحمه الله دادی چې که د سړي او د مکې تر منځ دریاب و، نو د دریاب لاره محفوظه نه ده یعنې په سبب د بېړۍ د غرق نو پر دغه سړي حج فرض نه دی انتهی.

دروبش وایي: چې دا نقل او مذهب بناء دی پر زمانه د امام اعظم رحمه الله چې کښتۍ به د تختو وې او اوبازانو به چلولې، ماشین وغیره به یې نه و، نو غالب به چپه کېدې او غرقېدې به چې تر څو به مکې ته رسېدلې. او په اوسنۍ زمانه کې چې آب ګوتبونه په دریاب کې په ذریعه د مشینانو او د عصري آلاتو رفتار کوي نو لار د دریاب محفوظه ده. ولې چې په زرهاوو آب ګوتبونه په سلامتي سره په دریاب کې سفرونه کوي او تر دریاب پرې وزي کما هو المعلوم بالتجربة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: ګاهي آب ګوټ غرق سي، نو ددې خوف سره به څرنګه لاړ د دریاب سره له خوفه نه وي؟

ځواب: دا غرق خو نادره پېښېږي ولا اعتبار للنادر، ولي که نادر ته اعتبار ورکړه سي، نو باید هغه څوک چې ذریعه د وصول یې بیت الله ته موټران وي باید حج پر فرض نه وي، ولي چې موټران ګاهي ګاهي چپه سي او سواري پکښې مړه سي، او داغه رنګه که نادر ته اعتبار وکړه سي، نو یو سړی چې قدرت لري چې په ذریعه د طیارو وبیت الله شریف ته ځان ورسوي نو پر هغه دي هم حج فرض نه وي، ولي چې ګاه ناګاه طیاره سقوط وکړي او سواري ټوله پکښې مړه سي کما سمعنا في الاطلاعیات العامة المروجة في العصر الحاضر. نو د حج فرضیت صرف او صرف پر هغو کسانو محصور پاتېږي چې د اوښانو او د آسانو او د قافلو له لارې بیت الله شریف ته رسېدای سي.

مسئله: که سړي صرف طاقت د موټرانو د لارې درلودی او په لاړ د تېرېدو د موټرانو یو بل دولت و چې په هغه کې جنګ و، نو پر هغه باندې حج نه دی فرض لوجود الخوف الغالب.

دروښ وایي: تفسیر مظهري په بیان کې د "من استطاع الیه سبیلاً" څلور صفحې تفصیل کړی دی علماء دې مطالعه کړي که د قبول ور وه قبول دې کړي او که مردود قولونه وه رد دې کړي.

پوښتنه: ته ولي په باره کې د قبول یا رد د اقوالو د مظهري رحمه الله اظهار د خپلې عقیدې نه کوې؟

ځواب: مانع زما دادی چې په اوسنۍ زمانه کې ډېر ملایان او طالبان حق په رجال سره پېژني رجال په حق سره نه پېژني.

شعر

ومن مذهبي حب الدیار لاهلها وللناس فیما یعشقون مذاهب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ ﴿٩٧﴾

او که څوک کفر کوي نو خدای ﷻ غني دی له ټولو عالمیانو څخه، نو چې له عالمیانو څخه غني دی نو ددوئ له عبادته په طریق اولی غني دی.

پوه سه: چې عمومي تفسیر ددې آیت داسي دی چې له کفر څخه حقیقت کفر نه دی مراد بلکې څنډي عدم حج دی سره د قدرت پر حج. لکن په ځای کې د "من لم یحج" چې "ومن کفر وویل لپاره د تاکید د وجوب د حج او لپاره د تشدید او زجر د هغه چا چې قدرت پر حج لري او عذر مانع نه لري او سره د هغه حج نه کوي، نو گویا خدای ﷻ "من لم یحج مع القدرة علیه فقد قارب الکفر وعمل عمل من کفر بالحج" نو پر دې تقدیر په حدیث مبارک کې چې راغلي دي "من لم یحبسه ای عن الحج حاجة ظاهرة ای عدم الزاد والراحلة" او مرض حابس لکه چې سړی ړوند وي او یا گوډ وي او یا شل، او یا سلطان جائر یا ظالم باچا لکه مسلمان چې قادر پر حج وي د کفارو په ملک کې او هغه کافران ده ته د حج اجازه نه ورکوي "ولم یحج فلیمت ان شاء یهودیاً او نصرانیاً" آه.

دروبش وایي: چې تخصیص د یهودو او نصاری وو چې یې وکړی له دې سببه چې دا دوې ډلې نه حج منې او نه فضیلت د کعبې مکرمې، نو دا حدیث هم محمول پر تشدید او تغلیظ دی پر تارک الحج مع القدرة وعدم المانع، او حقیقت یهودیت او نصرانیت نه دی مراد، او ابن عباس ﷺ، قتاده، حسن بصري او عطار رحمهم الله ددې آیت داسي تفسیر کوي "ای انکر وجوب الحج" نو پر دې تقدیر له کفر څخه حقیقت کفر مراد دی، عبد بن حمید په خپل تفسیر کې داسي وایي چې علیه الصلوة والسلام چې دا آیت ووایه نو یو سړی ولاړ سو او وه یې ویل یا رسول الله فمن ترکه فقد کفر، نو علیه الصلوة والسلام یې په خواب کې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

داسي وويل "من تركه لا يخاف عقوبته ولا يرجوا ثوابه" يعني هغه څوک چې حج نه کوي مع القدرة او له عذاب څخه د ترک الحج نه ډېرېږي او د ثواب امید يې هم نه لري.

دروښ وايي: چې داسي سړی خو حقيقتاً کافر دی، او سعيد بن المسيب رحمه الله وايي چې دا آيت په شان کې د يهوديانو نازل دی چې هغه حج د مکې نه منې او له فضيلت څخه د مکې هم منکر وه، نو پر دې تقدير مراد له کفر څخه حقيقت کفر دی، او ابن جرير رحمه الله په يوه روايت کې وايي چې اول ددې آيت چې نازل سو يعني "ولله على الناس حج البيت من استطاع اليه سبيلاً" نو عليه الصلوة والسلام د مخلتفو ملتو خلګ سره راغونډ کړه او هغو ته يې وويل چې "ان الله كتب عليكم الحج فحجوا فآمنت به ملة واحدة يعني المسلمين وكفرت به خمس ملة يعني المشركين واليهود والنصارى والصابئين والمجوس فنزل ومن كفر فان الله غني عن العالمين.

دروښ وايي: چې پر دې تقدير هم له کفر څخه حقيقت کفر مراد دی.

پوه سه: چې ابن جرير رحمه الله له عکرمه رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چې دا آيت چې نازل سو "ومن يبتغ غير الاسلام ديناً" تر اخيره د آيت نو يهوديانو وويل "فنحن مسلمون" نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل ان الله فرض علي المسلمين حج البيت" نو دوی وويل "لم يكتب علينا وابوان يحجون فنزل "ومن كفر" كذا في روح المعاني.

دروښ وايي: چې پر دې تقدير هم له کفر څخه حقيقت کفر مراد دی.

فائده: پر هر تقدير د آيت د خوارجو دليل نه دی چې مرتکب د ګناه کبيرې کافر دی کما لا يخفى.

فائده: کلمه د "من" يا شرطيه ده کما هو الظاهر او يا موصوله ده، پر دواړو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تقدیرو یې وروسته تر فاء یې له رابط څخه بین الشرط والجزاء، او یاد "من" موصوله او د خبر تر منځ یې اکتفاء وکړه په اقامت سره د اسم ظاهر مقام المضمر اذالاصل ان یقول فان الله غني عنهم. لکن قال الله تعالی فان الله غني عن العالمین فافهم هداک الله لفهم دقائق القرآن الکریم.

دروښ وایي: چې په حدیث نبوي صحیح کې راغلي دي ﴿افضل الاعمال ایمان بالله ورسوله، ثم جهاد في سبیله، ثم حج مبرور﴾ علماء وایي چې مغفرت د ذنوبو او د خول د جنت پر دې بناء دی چې حج یې مبرور وي، د مبرور معنا څوک په مقبول سره کوي.

دروښ وایي: چې د مقبولیت د حج په نهز د خدای ﷻ چونکه مخفي امر دی نو ظاهره علامه یې داده چې په سړي کې چې بعض افعال سیئه وي او وروسته تر حج هغه ټوله اعمال سیئه ترک کړي نو حج مبرور دی. او بعض علماء وایي چې حج چې مبرور ګرځي هغه وخت چې اعمال د بر ورسره ملګري وي یعني الاحسان للناس واطعام الطعام وافشاء السلام، او بل دا چې د حج په دوران کې به رفث یعني پوچي خبري او فسق او معاصي نه وي او جدال د انډیوالانو سره به هم نه وي کما ورد في القرآن العزیز في موضع آخر.

فائده: حاجي که له حجه راغلی او افعال سیئه یې تر مخه لا زیات سوي وه نو هغه حقیقةً حاجي نه دی کما قال السعدي الشیرازي رحمه الله.

از من بگوی حاجی مردم گزاری را که او پوستین خلق بازار میدارد
حاجی تو نیستی شتر است ازبرای آنکه بیچاره خار میخورد وبار میبرد

قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لِمَ تَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَٱللَّهُ شَهِيدٌ عَلَىٰ مَا تَعْمَلُونَ ﴿٩٨﴾

ووایه اې محمد ﷺ اې اهل کتابو یعني الیهود والنصاری، ولې تاسي کفر کوی په دلائلو سره د خدای ﷻ چې هم سمعي دلائل دي او هم عقلي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعنې هغه دلائل چې دال دي پر صدق د محمد ﷺ په دعوه کې د نبوت عموماً خصوصاً په دعوی کې د وجوب د حج.

دروښ وايي: چې مونږ خصوصاً في دعوی الحج ذکر کړی لیرتبط الآیة بماقبله، او تخصیص د اهل کتابو چې په ذکر سره وکړی لان کفرهم مع علمهم بالکتاب اقبح کما لایخفی ع

چو کفر از کعبه بر خیزد کجا ماند مسلمانی

او خدای ﷻ شاهد دی پر هغه شي چې تاسي یې عمل کوی چې کفر او انکار دی له نبوت څخه د علیه الصلوة والسلام او تحریف دی د تورات په نعوت کې د علیه الصلوة والسلام چې په تورات کې ذکر سوي دي، وغیر ذالک کآیة الرجم نو جمله د "والله شهید آه" جمله حالیه ده. نو حاصل د آیت دادی چې عالم ته خدای ﷻ به جزاء د کفر درکړي او پتمول د حق تاسي ته فائده نه کوي بلکې ضرر دی په اخیرت کې، په حدیث نبوي صحیح کې راغلي دي للجاهل ویل وللعالم سبعین ویلاً.

قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ تَبْغُوْنَهَا عِوَجًا

ووایه ته اې محمد ﷺ اې اهل کتابو ویلي تاسو منع کوئ له لاري څخه د خدای ﷻ یعنې دین الاسلام چې خدای ﷻ ته رسونکې لار ده هغه څوک چې اراده د ایمان لري، نو "من آمن" منصوب دی مفعول د "تصدون" دی یعنې تصدون عن الایمان بمحمد ﷺ والقرآن، هغه څوک چې اراده د ایمان لري یعنې له تاسي څخه.

فائده: خطاب او استفهام خدای ﷻ مکرر کړي لپاره د تقریع او سرزنش د دوی، او نفي د عذر د دوی او بل یې تنبیه پر دې وکړه چې دا فعل ددوی او مخکنی فعل ددوی غایت قبیح کار دی او سبب د عذاب الهي دی دوی لره.

پوه سه: چې ضمیر د "تبغونها" راجع و "سبیل" ته چې مذکر او مؤنث

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دواړه مستعملېږي په عربي ژبه کې. وقد استعمل في القرآن مذكراً ومؤنثاً في موضعين، او عوجاً مصدر دی په معنا د مفعول ای معوجةً او جمله د تبغونها حال ده له فاعل څخه د "تصدون"

پوه سه: چې یهودانو هغه کسانو ته چې اراده به یې د ایمان درلوده پر قرآن او پر علیه الصلوة والسلام حق پټاوه او واقعي نعوت د علیه الصلوة والسلام چې په تورات کې وه هغه به یې ځندي پټ کړه او د ځپلو لاسو تحریف شده نعوت به یې ورته بیانوله، او دا به یې هم ورته ویل چې دین د موسی علیه السلام ابدي دی نه نسخ کېږي، نو پر دې به یې دا تفریع کړه چې دین د اسلام یوه کړه او له حق څخه لېرې لاره ده.

دروېش وایي: چې دا کار د دوی ملایانو پر مخ ېهوی حفظاً لریاستهم علی عوامهم وتحصیل الاموال منهم. او په اسلام کې هم بعض جاه طلب او دنیا طلبه جاهلان ملایان ورته کارونه کوي کما هو معلوم بالتجربة في باکستان وافغانستان، وقد صدق رسول الله ﷺ في بیان علماء السوء من اخیر الزمان "منهم یخرج الفتنة وفیهم تعود"

وَّاَنْتُمْ شُهَدَآءُ ؕ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۹﴾

او حال دادی چې تاسي شاهدان یاست پر اعمالو خپل یعني عالمان یاست چې خلاف الحق او باطل دی او شاهدان یعني عالمان یاست پر نعوتو د نبي اخیر الزمان چې په تورات کې موجود دي او نه خدای جل جلاله غافله دی له اعمالو څخه ستاسي، نو کلمه د "ما" مصدریه ده، او یا د هغه شي چې تاسي عمل کوي من الکفر وکتمان الحق، نو کلمه د "ما" موصوله ده والعائد محذوف ای تعملونه.

پوه سه: چې بغوي رحمه الله په قول د مظهري رحمه الله وایي چې یوه ورځ شماس بن قیس یهودي چې د یهودیانو یو سپین ږیری سړی و او د هر سر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سخته کافر یهودي و او پر مسلمانانو به یې ډېر سخت طعن او عیب وایه،
او ده ولیدل چې د اوس او د خزرج د قبیلې خلګ چې د مدینې د انصارو
دوې قبیلې وې، د جاهلیت په وخت کې ددې دوو قبیلو تر منځ ډېر سخت
جنګونه سوي وه او په هر وار جنګ کې به قبیله اوس پر خزرج غالب و، نو
دغه قدیمي دښمني چې څه وخت علیه الصلوة والسلام مدینې منورې ته
هجرت وکړی او دا دوه قومه مشرف بالاسلام سوه، نو په برکت د اسلام
هغه د کلو کلو بدي او مړي یې له زړو څخه یکلخته ووتل نو لکه ورونه
داسي وګرځېدل، وقد حکی الله في القرآن کما سیأتي ان شاء الله تعالی.
نو شماس بن قیس یهودي د خپل ځانه سره وویل چې موږ او دوی چې
هر کله دوی سره په اتفاق وي په مدینه کې نه سره چلېږو، نو شماس بن
قیس وغوښتله چې څرنګه به هغه مړ اور بیرته ددوی تر منځ بل کړي. نو
یو ځوان یهودي چې د شماس سره ورسره و هغه ته یې وویل چې ته ورسه
او ددوی په منځ کې کښېنه او د بعاث د جنګ "چې په جاهلیت کې ددوی تر
منځ سوی و او ډېر سخت جنګ و او هر یوه قوم په هغه بل پسوري غزلي او
شعرونه جوړ کړي وه" یو څو شعرونه ووایه، نو هغه ځوان چې یو څو
شعرونه د هغه جنګ وویل یو وار ددې دوو قومونو تر منځ اختلاف او
تنازع پیدا سوه، او دوه خلګ یو د یوې قبیلې څخه او بل د بلې څخه پر
ګونډو سوه یو اوس بن قطبي و چې د اوس د قبیلې و او بل جبار بن صخر
و چې د خزرج د قبیلې و او تنازع یې سره شروع کړه، او یوه ویل ته وویل
چې که دې خوښه وي پخوانی جنګ به بیرته له سره څخه سره نوی کړو، او
د دواړو قبیلو خلګ سره را وغوړځېدل او سره ناري یې کړې، او هرې
قبیلې پر خپلو خلګو بږغ وکړی السلاح السلاح یعنې را واخلی اسلحه د
جنګ یعنې توري وغیره او سره وه یې ویل چې ځای د جنګ زموږ او
ستاسي ظاهرة ده چې د یو دښت نوم دی، نو ټوله افراد د اوس او خزج

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ظاهره ته سره ورغله سلاحوي ورسره وې، نو د جاهليت د وخت خبري او شعرونه يې سره شروع کړه، په دې ترڅ کې د عليه الصلوة والسلام ته چا خبر ددې موضوع ورکړې، نو عليه الصلوة والسلام سره د مهاجرينو ځانونه ظاهره ته ورسول، نو پر اوس او خزرج يې ډډ وکړې يا معشر المسلمين ابدعوى الجاهلية وانا بين اظهركم "بعد" آيا تعرې د جاهليت سره وهئ او حال دادی چې زه هنوز ستاسي په منځ کې يم، وقال اذكركم الله الاسلام زه تاسي ته درپيادوم خدای ﷻ په سبب د اسلام او خدای ﷻ قطع کړې په اسلام سره ستاسي د جاهليت کارنامې "والف بينكم" او اسلام الفت پيدا کړی ستاسي تر منځ، آيا تاسي رجوع کوئ الى ماكنتم عليه كفاراً "الله الله" دا تحذير دی يعنې له خدايه وبېرېږئ او د خدايه وبېرېږئ، نو په برکت د عليه الصلوة والسلام اوس او خزرج په دې پوه سوه چې زمونږ دا تنازع د شيطان انسي او جني له خوا څخه پېښه سوه او زمونږ د دښمن له خوا يعنې يهود يانو چې په سر کې يې شماس بن قيس دی يوه دسيسه وه، نو دواړو ډلو سلاح وغورځوله او په ژړا سوه او يو د بل په غاړه کې يې لاسونه واچول او يو بل يې مچوله، ثم انصرفوا مع رسول الله ﷺ سامعين لكلام رسول الله ﷺ مطيعين منقادين لامره ﷺ فانزل الله تعالى في اوس وجبار ومن كان معهما كماسر هذه الآية.

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

يعني الاوس والخزرج من الانصار

إِنْ تُطِيعُوا فَرِيقًا مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ

يعني شماس بن قيس اليهودي او اصحاب دده

يَرُدُّوكُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ

اى بالله ونبيه والقرآن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كٰفِرِيْنَ ﴿۱۰۰﴾

ای الی اعمال الکفار من الحرب فیما بینکم.

پوه سه: جابر بن عبدالله رضي الله عنه وایي چي ما نه ده لیدلي یوه بد ترینه ورځ په اوله کي او بنه ورځ په اخیره کي تر دغي ورځي د نزاع د اوس او خزرج، په اوله کي او په اخیر کي ورور ګلوي.

پوه سه: چي په باره کي د شماس بن قیس واصحابه هغه آیت نازل سوی دی ﴿قل یاأهل الکتاب لم تصدون عن سبیل الله ﴿۹۹﴾﴾ او د مسلمانانو سره خدای ﷻ پخپله مخاطبه وکړه بقوله ﴿یاأیها الذین آمنوا ان تطیعوا ﴿۱۰۰﴾﴾ لپاره د اجلال د مؤمنانو او تنبیه یې پر دې وکړه چي مؤمنان حقداره ددې دي چي خدای ﷻ پخپله خبري ورسره وکړي، او د اهل کتابو په باره کي یې علیه الصلوة والسلام ته وویل ته ورته ووایه دوی ته بقوله ﴿قل یاأهل الکتاب لم تصدون ﴿۹۹﴾﴾ ابعاداً لهم عن عز الحضور الآلهي والکلام معهم مشافهة.

دروښ وایي: چي دا و شان نزول د فوق التلاوة آیت علی وجه التمام والکمال ومن الله التوفیق.

وَكَيْفَ تَكْفُرُوْنَ وَاَنْتُمْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ اٰيٰتُ اللّٰهِ وَفِيْكُمْ رَسُوْلُهٗ ؕ

او څرنګه به تاسي کافران کیږئ او حال دادی چي پر تاسي تلاوت کړه کیږي له آیاتو څخه د خدای ﷻ یعني آیاتونه د قرآن عظیم الشان پر ژبه د علیه الصلوة والسلام تر وتازه او په تاسي کي رسول علیه السلام موجود دی چي تاسي ته امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوي او ستاسي یو شک او شبهه هم در حل کوي، والحاصل چي اسباب د ایمان راوړلو ټوله جمع دي او موانع د کفر هم سره غونډ دي.

پوه سه: چي جمله د "کیف تکفرون آه" عطف ده پر "یردوکم" باندي او استفهام لپاره د تعجب او انکار دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: په دې آیت کې خدای ﷻ خپل دوه نعمته پر مسلمانانو د عصر نبوي ﷺ چې کتاب الله یعنې قرآن عزیز دی چې په شان کې د هغه بعض عارفان ونسب الی الامام الاعظم رحمه الله وایي

جمیع العلم في القرآن ولکن تقاصرت عنه افهام الرجال

او بل نبي ﷺ دی. اما نبي الله فقد قضی نحبه ووصل الی الرفیق الاعلی، او هرچه کتاب الله دی هغه خدای ﷻ باقي پرېښود تر قیامت لپاره الی یوم القیامة. رحمةً منه تعالی وفضلاً والقرآن الکریم حبل الله المتین من تمسک به لایضل ولایشقی او وروسته تر علیه الصلوة والسلام نائبان دده موجود دي من خلفائه الراشدین ﷺ ثم وثم الی قیام القیامة من التابعین وتبعهم رحمهم الله والائمة المجتهدین والعلماء الراسخین والائمة للحدیث ﷺ. له زید بن ارقم ﷺ څخه روایت دی چې یوه ورځ زمونږ په منځ کې علیه الصلوة والسلام د خطاب لپاره ودرېدی. نو د خدای ﷻ حمد او ثنا، یې وویل، وروسته یې وویل اما بعد یا ایها الناس چې زه نه یم مګر بشر او قریبه ده چې ماته به راسي رسول د خدای ﷻ یعنې عزرائیل علیه السلام او ماته به دعوت راکړي یعنې د وفات. او زه به یې قبول کړم یعنې وفات به سم. او زه وتاسي ته پرېږدم دوه معزز شیان، اول کتاب الله دی یعنې القرآن العزیز فیه الهدی والنور. نو تاسي اخسته وکړئ په کتاب الله سره یعنې عمل کوئ بما في القرآن او محکم یې ونسئ، نو راوي وایي چې علیه الصلوة والسلام امت ډېر باعث کړی پر قرآن عزیز او خلګو ته یې رغبت د اخذ په کتاب الله سره ورکړی. او وه یې ویل "واهل بیتي یعنې السادات الکرام" او وه یې ویل "اذکرکم الله في اهل بیتي" او مکرر یې وویل "اذکرکم الله في اهل بیتي" او په بل روایت کې دي کتاب الله هو حبل الله لمن اتبعه کان علی الهدی ومن ترکه کان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علی الضلالة رواه مسلم، وفي رواية الترمذي اني تارک فيکم ما ان تمسکتم به لن تضلوا بعدي احدهما اعظم من الآخر کتاب الله حبل ممدود من السماء الی الارض وعترتي اهل بيتي يعني اولاد فاطمة الزهراء رضي الله عنها وهم السادات الکرام الی يوم القيامة ولن يتفرقا حتی يردا علی الحوض فانظروا کيف تخلفوني فيهما.

فائده: يو سيد اعلی نسب که په يوه ګناه کبيره مبتلا و، نو مسلمانانو له پکار ده چې هغه سيد ته دي په سبب د نسب عالي په ښه سترګه ګوري او پېغور د نسب دي نه ورکوي يعنې چې ورته ووايي چې ته خو لا سيد هم يې فلانی ګناه کوې او عمل دي بد ايسوي وفيه مراعات لشرافة النسب ومراعات اوامر الله ونواهيه فتدبر.

وَمَنْ يَّعْتَصِمْ بِاللّٰهِ فَقَدْ هُدِيَ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۱۰۱﴾ ع

پوه سه: چې "اعتصام" لاسونه ټينګول دي په يو شي سره چې له هلاکت څخه ځان خلاص کړي، نو معنا د آيت داده که څوک لاسونه ټينګ کړي په خدای ﷻ سره يعنې په دين اسلامي سره او همېشه وخدای ﷻ ته متوجه وي، نو هغه ته هدايت ورکړه سو د خدای ﷻ وسمي لاري ته چې لايضل سالکه ابداً.

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ

اې هغه کسانو چې ايمان يې راوړی دی وېرېږئ له خدايه په کاملي ېېرې سره.

دروښ وايي: چې مظهري رحمة الله عليه په نقل د بغوي رحمة الله عليه چې ماخذ د تفسير مظهري دی، وايي چې په منځ کې د اوس او د خزرج له انصارو څخه په جاهليت کې عداوت او قتال و کمامر تفصيله، فلما هاجر څه وخت چې هجرت وکړی نبي ﷺ ومدينې منورې ته او دې دوو ډلو ايمان راوړی نو هغه قديمي اختلافات او دښمني يې ختم سوه په برکت د ايمان او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اسلام، او د نبي عليه السلام وروسته يوه ورځ دوه کسه وه چې يو ثعلبه بن غنم نومېدی د اوس د قبيلې او بل اسعد بن زاره نومېدی چې د خزرج د قبيلې و يو پر بل يې فخر سره شروع کړی، اوس وويل چې زمونږ په قبيله کې خزيمة بن ثابت دی ذو الشهادتين، او حنظله غسيل الملائكة وعاصم بن ثابت حمي الدبر ومنا سعد بن معاذ اهتز عرش الرحمن لموته ورضی الله بحكمه في بني قريظة، او خزرجي وويل چې زمونږ په قبيلې کې خو څلور کسان حافظان د قرآن سته، ابي بن کعب او معاذ بن جبل او زيد بن ثابت و ابو زيد رضي الله عنهم، او په مونږ کې سعد بن عباده خطيب الانصار ورئيسهم، او خبرې يو له بل سره دېرې سوې، نو دواړه قومه سره په غضب سوه او اشعار د جاهليت يې شروع کړه، نو د اوس او خزرج د قبيلې نفر سره د سلاح راغله، نو عليه الصلوة والسلام ورغلی او دوئ يې سره ساکت کړه، وانزل الله تعالى هذه الآية ﴿يا ايها الذين آمنوا اتقوا الله ﷻ﴾

دروېش وايي: چې هيڅ مفسر بېله مظهري داسې شان نزول نه دی بيان کړی صرف تولو مفسرينو رح دا واقعه يعنې اماده باش ده اوس او خزرج وجنګ ته د شماس بن قيس يهودي په واقعه کې بيان کړې ده چې پوره تفسير يې تېر سو، او په هيڅ حديث کې دوه واره اماده باش د اوس او خزرج وجنګ ته نه دی راغلی، او بله خبره داده چې ددې واقعې او ددې آيت ﴿يا ايها الذين آمنوا اتقوا الله ﷻ﴾ څه ربط سته والله اعلم بمراد عباده يعنې المظهري رحمة الله عليه.

تنبيه: دروېش وايي د اوس او د خزرج په خپلو قبيلوي کسانو خو فخر پر ځای و يعنې په هره قبيله کې خو نومورې کسان موجود وه او په دې تفاخر کې کوم حرج نسته، لکن دا خبره د مظهري چې دا تفاخر مفضي وجنګ ته د قبيلو وګرځېدی حتی چې عليه الصلوة والسلام دوی ساکت کړه غلط او بې ځايه ده، او بل په داسې خبرو کې چې اوس او خزرج په معمولي خبرو يو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر بل سلاح د جنګ را اخستل اهانت دی ددې دوو قبیلو د مسلمانانو هغه خو د پر راسخ الایمان مسلمانان وه. البته شماس بن قیس په یوه غټه حیله سره کمامر دوی په جنګ سره واچول کمامر تفصیله.

فائده: دروېش وایي آیت فوق الذکر د مفسرینو معرکة الآراء ګرځېدلی دی والله در صاحب روح البیان. هغه په مختصره توګه ددې آیت داسې تفسیر کړی دی "ای حق تقواه ومایجب منها وهو استفراغ الوسع في القیام بالواجب والاجتناب عن المحارم" او ددې آیت ترجمه یې په دې آیت کړې ده "فاتقوا الله ما استطعتم یرید بالغوا في التقوی حتی لاتترکوا من المستطاع منها شیئاً" او قاضي ناصر الدین البیضاوي رحمه الله علیه یې هم ورته تفسیر کړی دی وهو استفراغ الوسع في القیام بالمواجب والاجتناب عن المحارم کقوله تعالی فاتقوا الله ما استطعتم، او بیضاوي رحمه الله علیه له ابن مسعود رضي الله عنه څخه داسې روایت هم کړی دی هو ان یطاع فلا یعصی ویشکر فلا یکفر ویذکر فلا ینسی.

دروېش وایي: چې داسې تقوی له قدرت څخه د بندګانو خارج نه ده بلکې ددې رجع هم مخنې تفسیر ته کېږي یعنې استفراغ الوسع آه. او قاضي داسې تفسیر کړی دی چې حق تقوی داده چې سړی طاعت د خدای جل جلاله کوي او هغه طاعت ته دي التفات نه کوي یعنې په زړه کې دي هم دا نه را ګرځوي چې ما خو دونده طاعت کړی دی بلکې شکر دي د خدای جل جلاله وایي چې ما عاجزه ته یې دونده قدرت راکړی چې فلانی طاعت الهي مي پرځای کړی او توقع د ثواب دي هم نه کوي په ورځ د قیامت لان العبد في الطاعة کالاجیر الذي اخذ اجرته قبل العمل فلا یتوقع له بعد العمل الاجرة بل ان اعطاه الموجر بمشیته ینبغي ان یعد احسانه، روح المعاني ددې آیت په تفسیر کې وایي ای حق تقواه، ورواه خبر واحد عن ابن مسعود رضي الله عنه موقوفاً ومرفوعاً چې حق تقوی داده چې سړی به د خدای جل جلاله اطاعت کوي او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ ذکر به کوي هیروي په یې نه او شکر د خدای به وایي د خدای ﷻ د نعمت کفران به نه کوي، او ډیرو کسانو د نسخ دعوه کړې ده وروی ذالک عن ابن مسعود ﷺ، او روایت کړی دی ابن ابي حاتم له سعد بن جبیر ﷺ څخه چي څه وخت چي دا آیت نازل سو یعني واتقوا الله حق تقاته" نو پر اصحاب کرامو ﷺ په عمل ډیر سخت سو نو دوی به دومره زیاته قیامه د شپې په تهجد کي کوله چي پښې به یې ویږسیدلې او له ډیرو سجدو څخه یې تندیان وچاودل، فانزل الله تخفیفاً علی المسلمین "فاتقوا الله ما استطعتم فنسخت الآیة الاولی یعني فاتقوا الله حق تقاته" او داسي روایت له انس ﷺ او قتاده ﷺ او یو روایت له ابن عباس ﷺ څخه هم سوی دی، او ابن جریر ﷺ په بعض روایاتو کي له ابن عباس ﷺ څخه داسي روایت هم کړی دی چي دا آیت منسوخ دی لکن د "حق تقاته" دا معنا ده "ان یجاهدوا في سبیل الله حق جهاده یعني لاعلاء کلمة الله لا للغنیمة ولا لاظهار شجاعته" او د چا د ملامتیا څخه دي د حق د بیانولو څخه نه شرمیږي او شاهدي دي اداء کوي پر ځان یعني که چا دعوه د پور پر وکړه اقرار به کوي، او پر پلار او مور چي څوک دعوی د پور وکړي او دی په خبر وي شاهدي به پر ادا. کوي یعني په دې عقوق د مور او پلار نه لازمیږي، او روح المعاني دا زیاته کړې ده چي هغه څوک چي آیت منسوخ په آیت سره د "فاتقوا الله ما استطعتم" بولي هغه وایي چي مراد له "حق تقاته" څخه دادی چي داسي بهره له خدای ﷻ څخه به کوي چي د خدای ﷻ د جلال او عظمت سره لائق وي وذالک غیر ممکن لقوله تعالی "وما قدروا الله حق قدره" او هغه څوک چي منسوخ یې نه بولي هغه وایي چي حق ما خوذ دی د حق الشی په معنی "ثبت ووجب" نو دوی وایي چي "فاتقوا الله ما استطعتم" بیان دی ددې قول د خدای ﷻ "فاتقوا الله حق تقاته" لکه د صاحب د روح البیان او قاضي بیضاوي چي دغه رایه ده، او د دروېش هم دغه رایه ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې داوه پښتو ژباړه د عبارت د روح المعاني مع توضيح وزيادة من هذا العاصي.

فائده: اصل د "تقاة" وقية" و واو مضمومه يې په تاء سره واړاوه لکه "تخمة" چې اصل يې "وخمة" اويا يې په الف سره واړول لانفتاحها بعد حرف صحيح ساكن كما هو القانون الصرفي.

پوه سه: چې مظهري رحمه الله عليه په خپل تفسير کې ددې آيت تصوفي ترجمه کړې ده فارجع اليه. او مظهري ددې آيت يعنې "فاتقوا الله حق تقاته" د نسخ دعوى کوي لکه مقاتل رحمه الله عليه چې وايي ليس في سورة آل عمران من المنسوخ الا هذه الآية، او مظهري رحمه الله عليه وايي ليس المراد منه ان حق التقوى منسوخ وجوبه" او پر دې يې دلائل ويلي دي فارجع الى تفسير المظهري رحمه الله عليه.

دروښ وايي: چې دا و بيان د هغه عبارت چې عاصي ووايه چې تفسير ددې آيت معركة الآراء دی، او دروښ خپله ناقصه رايه هم وتاسي ته ښکاره کړه والله اعلم بمراده في كتابه العزيز.

وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٠٢﴾

او تاسي مه مرئ مګر په داسي حال کې چې تاسي مسلمانان ياست.

پوه سه: چې مراد له اسلام څخه اسلام کامل دی يعنې په هغه اسلام کې انقياد او فرمان برداري د خداى عزوجل ده. او اوامر او د منهياتو موجود وي. او هغه هم ټوله په اخلاص وي ريا نه وي پکښې او تفويض د امورو ټوله وخداى عزوجل ته وي او رضا په قضاء الهي هم ورسره ملګرې وي.

دروښ وايي: چې دا استثناء مفرغ ده يعنې "لاتموتوا على حال من الاحوال الا حال الاسلام" ظاهراً خو دا نهي له موت څخه دی او چونکه موت خو اختياري شی نه دی. نو مراد نهي دي له قيد څخه يعنې پر غير د اسلام، والمراد همېشه اوسئ پر دين د اسلام تر وخته پورې د مرګ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قاعده: نهي د مقيد په وصف يا په حال سره دري قسمه ده، ګاهي نهي متوجه وفعل ته وي فقط نحو لاتزن في ارض الله. او ګاهي متوجه وقيد ته وي فقط كما في هذه الآية، او ګاهي متوجه وقيد او مقيد دواړو ته وي يعني "لاتفعل المجموع، نحو لاتاكل السمک وتشرب اللبن. او ګاهي متوجه وهر يوه ته د قيد او مقيد وي نحو "لاتزن حليلة جارک"

ښهانه فائده: په پخوا زمانه کي به ملايانو په دغه مقوله کي "لاتاكل السمک آه" د لبن ترجمه به يې په شيدو کوله زما هم يو وخت داغه عقيده وه په سبب د شهرت ددې چي لبن شيدو ته وايي حتى د پخواني حج په يو موضوع زما ملګري له خپې څخه دباندې تللي وه د شکرې د پسه په ذبح کولو پسې، او زه په خپه کي وم يوه عرب نارې وهلې لبن لبن زما د پخوانۍ عقيدې په سبب زما دا خيال سو چي شيدې خرڅوي، نو نصف ريال مي هغه سړي ته ورکړی سړي دهر لبن راکړی اول زه حيران سوم چي څونده دهر لبن يې درکړی، نو لبن ما په دې نيت رانيولې چي ملګري راځي ته به شير چايي ورپخې کړې، خير خو ايشتوپ مي ولګوی او لبن مي وچای جوشي ته واچولې او چای مي هم ورواچولې، بوره مي هم ورواچوله، لبن جوش سوې اندې يوالان هم راورسېدل، دوی راته وويل چي مولوي صاحب څه چای جوشه دي باندې کړې ده ما ورته وويل چي شير چای مي درپخې کړي دي، کوپونه مو راواخستل د هر يوه کوپ ته مو شير چای ور توی کړې، يوه اندې يوال چي غږې ځندي وکړی هغه وويل چي مولوي صاحب دا خو تا وشلومبو ته چای او بوره ور اچولي دي، ما ورته وويل چي ته څه وايي ما خو لبن يعني شيدې زما په عقيده رانيولي او شيرچای مي ځندي پخې کړې هغه راته وويل چي ته يې خوند وګوره، ما چي يې خوند وکتی، نو رشتيا وشلومبو ته مي چای ور اچولي وې، نو له يو عرب څخه مي پوښتنه وکړه چي په عربي کي لبن څه شي ته وايي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه راته وویل پخپله ژبه چې شلومبو ته وایي، ما ورته وویل چې شیدو ته په عربي څه وایي؟ هغه راته وویل چې په عربي کې شیدو ته حلیب وایي، وروسته زه ددې مقولې په سره هم وپوهېدم، ولې چې د ماهي غوښې ډېرې ګرمي دي او شلومبې ډېرې خونکي دي، نو که یو څو ورځې سړی مداومت پر وکړي حکماء وایي چې هغه سړی پس کېږي. او پاتې شیدې او د ماهي غوښې خوړل ضرر نه لري، ولې چې دواړه ګرم دي، په اوسنۍ زمانه کې د مکې مکرمې په بنار کې او په نورو عربي بنارونو کې بعض د مسالې لوتې خرڅېږي او پر لیکلي وي لبن طازج یعنې تازه شلومبې. او که سړي شیدې رانیولې دکاندار ته به وایي اعط حلیباً.

دروېش وایي: چې دا قصه په مناسبت د هغې مقولې وکړه سوه لاتاکل السمک وشرب اللبن" او غالباً دا قصه به له نفع څخه خالي هم نه وي، ولې ډېر ناخبره خلګ یا طالبان دا عقیده لري چې لبن شیدو ته وایي، ولنرجع الی تفسیر القرآن الکریم.

وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيعًا

او تاسي لاسونه ونښئ په رسۍ پوري د خدای ﷻ تینګ.

پوه سه: چې "حبل" ورسۍ (مراندي) ته وایي. مراد دلته په قرآن مجید کې یا دین د اسلام دی بدلیل قوله تعالی ﴿ومن یؤمن بالله فقد استمسک بالعروة الوثقی لاانفصام لها﴾ او یا قرآن مبارک دی کما قال رسول الله ﷺ ﴿کتاب الله حبل ممدود من السماء الی الارض آه﴾

پوه سه: چې اطلاق د حبل پر دین د اسلام او یا قرآن مجاز مستعار دی، یعنې لکه چې په رسۍ پوري لاس تینګول سبب د نجات دی له لوړ ځای څخه ومځکې ته دغه رنګه تمسک په دین اسلام پوري او یا په قرآن پوري سبب د خلاصون دی په ورځ د وقوع في النار کې. او "اعتصام" استعاره ترشیحیه ده کما في علم البیان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "جميعاً" يا حال دی له فاعل څخه د "اعتصموا" نو معنا يې داده حال کونکم مجتمعين في الاعتصام، والمعنى خذوا في تفسير القرآن الكريم وتاويله ما اجتمع عليه الامة المرحومة، او مه ځئ هغه مختلفو کج وپېچ لاروته چې اصحابو د مذاهبو زائغه وو مختاره کړي دي، په مسلم شريف کې په روايت د ابو هريره رضي الله عنه له رسول الله ﷺ څخه نقل کوي چې خدای ﷻ راضي کېږي په دې سره چې تاسي به عبادت د خدای ﷻ کوئ او شرک به نه کوئ د خدای سره د هيڅ شي، او تاسي به لاسونه ټينګوئ په رسۍ پورې د خدای ﷻ ټوله، او تاسي به خير خواهي کوئ يعنې فرمانبرداري به کوئ د هغه چا چې خدای ﷻ والي ګرځولی وي ستاسي يعني د امير المؤمنين، يعني اذا كان عدلاً ولا يامركم بالمعصية لاكامرائنا اليوم، ولې چې ددوی امريت د توپک په زور دی بلکې په کومک د کفارو دی، او په غضب کېږي په قيل وقال سره يعنې بې ځايه او بې فائدې په اختلاف سره او په اضاعة المال سره يعنې په ناجائزه کارو کې يې صرفوي، وكثرة السوال او په ډېر سوال سره يعنې چې ضرورت نه ورته لري، او عاجزه له کار او کسب څخه نه وي بيا هم فقر کوي، له ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې عليه الصلوة والسلام وويل "ان الله لا يجمع امتي على الضلالة ويد الله على الجماعة ومن شذ شذ في النار" رواه الترمذي.

او که حال سي له مفعول څخه، نو يې معنا داده "اعتصموا بجميع كتب الله ولاتقولوا نومن ببعض الكتب ونكفر ببعض" ولې چې بعض تارونه د رسۍ دونده قوت نه لري لکه ټوله تارونه د رسۍ.

وَّلَا تَفَرَّقُوْا ص

پوه سه: چې دا جمله په تقدير ددې چې جميعاً حال سي له فاعل څخه د "اعتصموا" تاکيد دی د "جميعاً" او که "جميعاً" حال سي له مفعول څخه د "اعتصموا" چې حبل الله دی نو تاسيس او نوې خبره ده، يعنې "لاتفرقوا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عن الحق کاهل الکتاب" له عبد الله بن عمر ﷺ څخه روایت دی قال قال رسول الله ﷺ لیاتین علی امتي" رابه سي زما پر امت باندي "کما أتی علی بني اسرائیل" لکه چې راغلي دي هغه حالات پر بني اسرائیلو باندي "حذوا النعل بالنعل" لکه یوه چوتې چې پر بلې چوتې برابره وي "حتی لو کان منهم من آتی امه علانیة" حتی که په بني اسرائیلو کې څوک خپلې مور ته ورتلی یعنې په جماعو سره "لکان من امتي من یضع ذالک" یعنې زما په امت کې به هم داسي سړی پیدا سي چې له مور سره به جماع کوي "وان بني اسرائیل تفرقت علی ثنتین وسبعین ملة" او بني اسرائیل پر دوو اویا ملته وېشل سوي وه "وتفرق امتي علی ثلث وسبعین ملة" او زما امت به ووېشل سي پر درو اویا ملتونو "کلهم في النار الا الناجیة" چې ټوله به په دوزخ کې وي مګر نه ناجیه "قالوا من هي یا رسول الله قال ما انا علیه و اصحابي رواه الترمذي" صحابه وو پوښتنه ځندي وکړه چې ناجیه څوک دي؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې ناجیه هغه کسان دي چې هغه پر هغه لار روان وي چې زه او زما اصحاب پر روان یو.

پوښتنه: په حدیث کې بني اسرائیل دوو اویا فرقې وښوول سوه، او د علیه الصلوة والسلام په امت کې درو اویا فرقې وښوول سوې. نو کومې دي چې سره برابري سوې؟

ځواب: د بني اسرائیلو اختلاف وروسته تر موسی علیه السلام سمدلاسه شروع سو او د علیه الصلوة والسلام د امت اختلاف ډېره زمانه وروسته وروسته شروع سوی دی.

والحاصل: چې صحابه کرام ﷺ په زمانه کې د حیوت نبوي نه دي سره مختلف سوی ولافي خلافة ابی بکر وعمر وعثمان ﷺ، اول اختلاف چې امام بالحق باندي راغلی یرغل د اهل مصر و پر عثمان ﷺ باندي چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عثمان ﷺ پکښې شهید سو، وقصته مبسوطة في موضعها. او اول اختلاف په خلافت کې د حضرت معاویه ﷺ في مقابل علي ﷺ. او اول اختلاف چې په دین کې راغلی له حروریه څخه پیښ سو چې پر علي ﷺ یې بغاوت وکړی وروسته بیا عبد الله بن سبا مذهب د روافضو جوړ کړی، وروسته بیا مذهب د معتزله وو منځ ته راغلی په زمانه کې د تبع تابعینو، او دوی لمن د فلاسفه وو او حکماوو تینګه کړه وترکوا ظواهر کتاب الله وسنة نبي ﷺ ومسلک السلف الصالحین الکاملین الی هذا الزمان.

دروښ وایي: چې دا خو د پخوانۍ زمانې حال و، په اوسنۍ زمانه کې یعنې د سنه (۱۴۰۰) هـ څخه نیولې بیا تر سنه (۱۴۲۷) هـ ټول ټول فسادات واقع سوي دي والی الله المشتکی.

وَاذْكُرُوا

او په یاد کړئ یعنې اې ډلې د انصارو خصوصاً الاوس والخزرج.

نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ

یعنې احسان د خدای ﷻ چې هغه هدایة الی الاسلام دی، او بل الفت ستاسي د ژرونو په منځ کې دی.

إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً

یعنې سره دښمنان واست قبل الاسلام

فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ

نو خدای ﷻ الفت پیدا کړی ستاسي د زړونو تر منځ یعنې په سبب د اسلام.

فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا

نو تاسي وګرځېداست په رحمت د خدای ﷻ او په هدایت د خدای ﷻ ورونه، یعنې لکه ورونه په محبت کې یو له بله سره او په دین کې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې محمد بن اسحاق وايي چې اوس او خزرج سره وروڼه وه لاب وام، نو په منځ کې ددوی عداوت پیدا سو په سبب د یوه مړي. نو دا عداوت ددې دوو قبیلو تر منځ یو سل اوشل (۱۲۰) کاله روان و چې په سوو خلګ د دواړو قبیلو پکښې مړه سوه، او وروسته تر هجرت نبوي ﷺ ومدینې منورې ته چې دغو دوو قبیلو ایمان راوړی هغه اور د قتل او قتال خدای ﷻ مړ کړی. او ددې دوو قبیلو تر منځ په سبب د اسلام او په برکت د علیه الصلوة والسلام خدای ﷻ ورور ولي پیدا کړه.

پوه سه: چې امام مظهري رحمه الله یوه لویه قصه ایراد کړې حسب عادته فطالع تلک القصة في تفسیر المظهري.

وَكُنْتُمْ عَلٰى شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَاَنْقَذَكُمْ مِّنْهَا ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۰۳﴾

او واست تاسي پر څنډه د کندې د اور نژدې واست چې په کنده کې د اور یعنې دوزخ ولوېږي یعنې چې مړه سي پر کفر باندې، نو خدای ﷻ تاسي خلاص کړلاست له وقوع في النار څخه. یعنې په سبب د اسلام.

پوه سه: چې "منها" ضمیر یا "حفرة" ته راجع دی او یا نار ته چې مؤنث سماعي دی، او دغسي لکه بیان مذکور خدای ﷻ بیانوي دلائل خپل ددې لپاره چې تاسي هدایت پیدا کړئ، یعنې دوام او ثبات پر هدایت او دین د اسلام وکړئ.

دروبش وایي: چې په دې هدایت کې استعاره تمثیلیه ده وهي تشبیه الهیئة المنتزعة من مجموع بالهیئة المنتزعة من مجموع آخر بدون المجاز في مفرداتها کما في قولهم للمتردد في امر آتیک تقدم رجلاً وتوخر اخری وتحقیق تلک الاستعارة في علم البیان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: عبید الله تا خو وویل چې زما تفسیر پښتو دی، د خپل قام پښتنو لپاره، نو دا استعاري او په عین حال کې ډېري مشکلي استعاري لکه قبلاً چې تا استعاره تمثیلیه ذکر کړه. آیا دا به ستا د وینا او فعل تضاد نه وي؟

ځواب: ما خو فقط ویلي دي چې زما تفسیر پښتو دی او د پښتنو لپاره او داسې مي نه دي ویلي چې د عوامو پښتنو لپاره دی، اوس هم بعض ځایونه د تفسیر عوام او خواص یعنې طالبان دواړه فائده ځندي اخلي، او بعض مضمونونه یوازې او یوازې طالبان یا بعض ملایان فائده پر اخلي.

وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ أُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ إِلَى الْخَيْرِ

او پیدا دي سي په تاسي کې یوه ډله چې دعوت ورکوي یعنې خلګو ته د خیر رکاروونه.

پوه سه: چې "خیر" لفظ عام دی عقائدو ته هم شامل دی او اخلاق انسانیه وو او اعمالو ته هم شامل دی چې په هغو کې صلاح د دنیا او آخرت وي.

پوه سه: چې کلمه د "من" لپاره د تبعیض ده ولې چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر فرض کفایي دی، لکه د جنازې لمونځ طلب د دعوت الخیر خدای ﷻ د ټولو وکړی ددې لپاره چې که هیڅ څوک دعوت نه کوي نو د ټولو غاړې په بندي دي، لکن په فعل د بعض د ټولو غاړې خلاصیږي کما هو شان الفرض الکفائي کما تقرر في کتب الفروع، او بل په دې سبب هم "من" د تبعیض دی چې هر سړی خو قابل د امر بالمعروف او نهي عن المنکر نه سي کېدای لان من شرط ذالک العلم وکل المؤمنین لیسوا من اهل العلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې بعض محدثين ؒ وايي چې مراد له خير څخه اتباع القرآن وسنة رسول الله ﷺ ده كما ورد في الحديث النبوي ﷺ ايضاً.

وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ

المراد به ما عرف في الشرع حسنه من الفرائض والواجبات والسنن والمندوبات وفي راس الكل الايمان بالله ورسوله.

وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ ۖ

يعني نهي كوي خلګ له منكر او بدو كارو څخه يعنې چې شرع شريفې بد بللي دي من المحرمات والمكروهات وفي راس الكل النهي عن الكفر بالله ورسوله.

وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿١٠٤﴾

او دغه كسان چې بلونكى د خير وي او آمرون بالمعروف وي او ناهون عن المنكر وي فلاح يا بندګان دي.

فائده: جمله اسميه چې مبتداء او خبر يې دواړه معرفه او "هم" ضمير فصل هم ورسره دى لپاره د حصر د فلاح په دغو كسانو كې، يعنې په چا كې چې دغه مذكوره خويونه نه وي هغه خائبين او خاسرين دي، په حديث شريف كې راغلي دي چې روايت يې مسلم كړى دى رسول الله ﷺ فرمايي ﴿من رأى منكم منكراً فليغيره بيده﴾ يعنې كه هغه سړى د سړي زير دست وي نو ودې وهي لكه زوى وغيره، ﴿فان لم يستطع فبلسانه﴾ او كه يې د لاس د وهلو طاقت نه و، يعنې بېګانه و نو دي هغه منكر ته تغيير وركړي په خوله سره يعنې نصيحت دي ورته وكړي ﴿فان لم يستطع فبقلبه﴾ كه يې د خولې د نصيحت طاقت هم نه و يعنې يو حاكم جابر ظالم و نو دي په زړه كې بد ګڼي وړي، او دا اضعف ايمان دى يعنې كه په زړه كې هم بد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نه ځندي وړه نو په دې سړي کې هغه ضعیف ایمان هم نسته ولې چې دی شریک دی للعاصي في المعصیة.

دروښ وایي: چې افسوس دی پر هغه کسانو چې امریکایانو ته په نظر د دوستۍ ګوري.

ترمذي د حذیفة بن یمان رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې نبي علیه السلام وویل ﴿والذي نفسي بیده لتامرون بالمعروف ولتنهون عن المنکر﴾ زما دي قسم وي په هغه خدای جل جلاله چې زما روح د هغه په قبضه قدرت کې دی، تاسي به هر آئینه امر کوئ په معروف سره او نهي به کوئ له منکر څخه، او یا قریب دی چې خدای جل جلاله را استوي پر تاسي باندې له خپل لوري څخه، او بیا به تاسي خواستونه او زاری کوئ یعنې په دفع کې د هغه عذاب خدای جل جلاله به مو خواست نه قبلوي، او له ابي بکر صدیق رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وویل اې خلګو تاسو دا آیت وایاست ﴿یا ایها الذین آمنوا علیکم انفسکم لایضرکم من ضل اذا اهتدیتم﴾ واني سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم چې ویل یې چې مسلمانان چې منکر وویني او هغه ته تغیر نه ورکوي، نو قریب دی چې خدای جل جلاله عموم د ټولو خلګو که ښه وي او که بد وي په عذاب سره، رواه ابن ماجه والترمذي، وری ابو داؤد نحوه.

دروښ وایي: چې پښتانه وایي چې ځنګل چې اور واخلي لانده او وچ دواړه پکښې سوځي.

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا

او تاسي مه ګرځئ لکه هغه کسان چې سره یې ډلي ډلي سوه، یعنې تفرقوا کمامر

وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ ۚ

او دوی پخپل منځ کې اختلاف ونه سره شروع کړه وروسته تر دې چې ودوی ته واضحه دلائل راغله چې بیانونکي د حق وه چې باید هغه ټوله پر هغه متفق سوي وایي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې یهودیانو ته په توارت کې قطعي آیتونه وه چې نعوت د علیه الصلوة والسلام پکښې صاف صاف موجود وه لکن احبار یعنې ملایانو ددوی هغه نعوت عالیه تبدیل کړه لحب ریاستهم علی العوام واخذ اموالهم فې الصدقات وغیر ذالک، او داغه رنګه آیت د رجم دوی محض بدل کړی.

فائده: اختلاف ګاهې په اصولو کې د دین وي یعنې العقائد لکه زمونږ په اسلامي دین کې اختلاف د اهل هوا، یعنې المعتزله والروافض والشیعة وغیر ذالک له اهل سنتو څخه، او ګاهې په داسې فروعو کې اختلاف وي چې هغه د سلف رح مجمع علیها وي، لکه غسل د پښو چې موزې یې نه وي په پښو او مسح پر موزو چې موزې یې په پښو وي یعنې په اوداسه کې چې د څلورو امامانو رحمهم الله مجمع علیه مسئله ده، لېکن شیعه ګان عکس ددې کوي یعنې پر لڅه پښه مسحه کوي او پر خفینو یې نه کوي، نو دوی په وخت کې د سفر دونده فراخه موزې جوړې کړي چې لاس په نښاسي او پر پښه مسح کوي، نو ځکه ضرب المثل دی، چې یو جامه چې پر سړي ډېره فراخه وي نو بل سړی ورته ووایه چې څونده فراخه جامه دي ده لکه د شیعه موزه.

او یا لکه ترتیب د خلافت د خلفاء اربعه رض یعنې خلیفة بالحق واجماع الصحابة رض، اول ابو بکر صدیق رض و، او دوهم خلیفة المؤمنین بالاجماع عمر فاروق رض و، او دریم عثمان بن عفان رض، او څلورم علي رض، شیعه ګان وایي چې خلیفة بالحق اول علي رض و، او دوی نسبت د غصب د خلافت و خلفاء ثلثه وو ته کوي، دا خبره ددوی له اجماع څخه د صحابه کرامو رض خلاف ده.

فائده: د امت مرحومه د مجتهدینو لکه ائمة اربعه رحمهم الله تعالی په سبب د اجتهاد في فروع الدین من جهة الاستدلال بالادلة الظنیة کالاخبار الآحاد والاقسیة الظنیة. هغه له دې آیت څخه خارج دی له جهته د خطا د بعض مجتهدینو په اجتهاد کې، نو دغه اختلاف بذل الجهد بلا مکابرة ولا تعصب في المذهب معفو، بل هو رحمة وسعة للناس في الاختیار لمسائل علی رای ای مجتهد کان، په حدیث شریف کې د عمر بن الخطاب په روایت راغلي دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قال قال رسول الله ﷺ چې ما سوال وکړی له خدایه په باره کې د اختلاف د اصحابو زما وروسته تر ما، نو ماته خدای ﷻ وحي وکړي یا محمد ﷺ چې ستا اصحاب په نېز زما لکه ستوري د اسمان دي چې بعض یې تر بعضو ډېر روښانه وي او بعض لږ او هر یوه لره نور سته فمن اخذ بشيئ مما هم علیه من اختلافهم فهو عندي علی هدیً رواه الدارقطني في فضائل الصحابة ﷺ.

پوښتنه: دا حدیث خو پر اختلاف د صحابه وو ﷺ دلالت کوي، نو د نورو مجتهدینو لکه ائمه اربعه ؒ د اختلاف څه دلیل سته؟

ځواب: ائمه مجتهدین اول رجوع کوي په مسائل شرعیه وو کې و قرآن مجید ته، نو که یې په قرآن مجید کې بعد بذل المجهود حکم د مسئلې پیدا کړی من نص القرآن واشارته ودلالته او اقتضائه اخذوا به وحکموا به، او که یې حکم په قرآن کې نه کړی پیدا رجعوا الی احادیث رسول الله کریم ﷺ بعد تفتیش الاحادیث النبویة حسب الوسع والطاقة، نو که یې په احادیث مبارکه وو کې حکم نه کړی پیدا رجعوا الی اقوال الصحابة ﷺ فان اصابوا الحق فلهم اجران وان اخطاؤا فلهم اجر واحد فهم معفوعنهم في صورة الخطاء بل یعطیهم الله اجراً.

دروښ وایي: چې تفصیل او تحقیق د ماقلنا په کتابو کې د اصول الفقه مطالعه کړئ والله الموفق.

وَأُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠٥﴾

او دغو کسانو لره چې وروسته تر راتلو د ایاتو بیناتو الاختلاف "في الدین" سره کوي لکه چې د هغو بیان او امثال عنقریب مونږ بیان کړه.

يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ

هغه ورځ چې سپین به وي بعض مخان او تور به وي بعض مخان

پوه سه: چې بعض مفسرین ؒ وایي چې تنوین د "وجوه" دواړه ځایه عوض دی له مضاف الیه څخه، یعني "تبعیض وجوه المؤمنین وتسود وجوه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الكافرين" او يا دواړه ځايه تنوين لپاره د تكثير دى اى وجوه كثيرة، او بعض مفسران و ابن عباس ﷺ ته دا خبره او تفسير منسوبوي چې "تبيض وجوه" اهل السنة "وتسود وجوه" اهل بدعت دي. او ابن عمر ﷺ ته هم دا تفسير منسوب سوى دى، لكن د دواړو سند ضعيف دى.

فائده: لفظ د "يوم" منصوب دى په "اذكر" مقدر سره اى اذكروا بها المؤمنون يوم تبيض آه.

فائده: بياض الوجه كنايه له خوشحالى او له سرور څخه ده، او سواد الوجه كنايه ده له خوف څخه. نو ځكه و هغه چاته چې پخپل مقصد كې كاميابه سي خلګ داسي وايي "ابيض وجه فلان" او چې مقصود ته نه ورسېږي وايي اسود وجه فلان، كذا في روح البيان.

فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ ۖ أَكَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿١٠٦﴾

پوه سه: چې دمخه تر "اكفرتم" لفظ د "يقال" محذوف دى باتفاق المفسرين، والمعنى هغه كسان چې مخان يې تور وي، نو دوى ته ويل كېږي توبيخاً چې آيا تاسي كفر كاوه وروسته تر ايمان،

دروېش وايي: چې اكثر مفسرين رح وايي چې دا مخاطبين اهل التوراة والانجيل دي او كفر ددوى كفر دى په عليه الصلوة والسلام سره وروسته تر ايمان ددوى په هغه عليه الصلوة والسلام دمخه تر مبعث د عليه الصلوة والسلام چې دوى به ويل مشركانو ته چې ژر دى چې نبي اخير الزمان به مبعوث سي او مونږ به ايمان پرى راوړو او د تاسي سره به جنګ كوو، قال الله تعالى ﴿فلما جائهم ماعرفوا كفروا به﴾ او بعض مفسرين رح وايي چې مخاطب هغه كسان دي چې په دمخه آيت كې ذكر سوه، يعني ﴿ولا تكونوا كالذين تفرقوا واختلفوا الخ﴾ وهم اهل الاهواء والبدعات من هذه الامة كالروافض والخوارج والمعتزلة وغيرهم، وكذا اهل الاهواء من الامم السابقة، كذا قال ابو امامة وقتادة رض.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وفي حديث الذي رواه مسلم واحمد والترمذي عن ابی هريرة قال قال رسول الله بادروا بالاعمال فتناً " تاسي تلوار کوئ په اعمالو کي د خير دمخه تر فتنو، يعني په اخيره زمانه کي "کقطع الليل المظلم" لکه تهوتي د تاريکي شپي "يصبح الرجل مؤمناً ويمسي کافراً" يعني چي د هغو فتنو په زمانه کي به يو سړی سهار کړي مسلمان به وي او مابنام به وګرځي کافر "ويمسي مؤمناً و يصبح کافراً" او پر يو سړي به مابنام راسي په داسي حال کي چي دی به مؤمن وي او سهار به پر راسي په داسي حال کي چي دی به کافر وي "يبيع دينه بعرض من الدنيا قليل" او دوی به خرڅوي خپل دين يعني الاسلام په يو شي د دنيا چي هغه به لږ وي انتهى الحديث مع الترجمة.

دروښ وايي: چي دا اوسنی زمانه يعني د سنه (١٤١٨) هجري څخه بيا تر وخته د تحرير د تفسير يعني سنه (١٤٢٧) هم داسي واقعات چي مخبر صادق يې پېښ ګويي کړي ده رونما کېږي کما لايخفى والى الله المشتكى، او کرار کرار به پسي د پرېږي "ان شاء الله ولعل الله يحدث بعد ذالک امراً" او بعض مفسرين وايي چي دا آيت په هغه کسانو کي نازل سوی دی چي له دين څخه مرتد سوي وه، او بعض مفسرين وايي چي دا آيت په شان کي د اهل کتابو نازل سوی دی، والمعنى کفروا برسول الله والقرآن بعد ما آمنوا بموسى والتوراة او آمنوا بعيسى.

وَأَمَّا الَّذِينَ ابْيَضَّتْ وُجُوهُهُمْ فَفِي رَحْمَةِ اللَّهِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿١٠٧﴾

او هر چه هغه کسان دي چي مخان يې سپين وي نو هغه به په رحمت کي د خداى وي يعني الجنة والثواب الدائم او دوی به په هغه رحمت او ثواب او جنت کي هميشه وي.

پوه سه: چي مظهري د "ابيضت وجوههم" تفسير فقط په اهل سنت سره کړی دی، فقير وايي چي دا تفسير قاصر دی بلکې "ابيضت وجوههم" مقابل دی د "اسودت وجوههم" نو په هر د معنا چي د اول وه د دې آيت تفسير دي په مقابل د هغه وکړه سي، وقد عرفت تفسير الذين اسودت آه" په مختلفو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تفسیرو سره سوی دی، او مظهري ﷺ هم په هغو کي موافق و، نو باید دلته مظهري یوازي په اهل سنت تفسیر نه وای کړی بلکې پر مقابل د "اسودت وجوههم" یې تفسیر کړی وای کما لایخفی.

فائده: خدای ﷻ له جنت څخه تعبیر په رحمت سره وکړی، له دې سببه چې مؤمنان پوه کړي په دې سره چې مؤمن که خپل ټوله عمر په طاعت د خدای ﷻ کي مستغرق تېر کړي، خو بیا به هم وجنت ته په فضل د خدای ﷻ او په رحمت د خدای ﷻ ورځي لیس الا.

پوښتنه: په بل حدیث کي داسي راغلي دي "ادخلوا الجنة بما کنتم تعملون" نو په ذکر سوي ایت کي دخول د جنت په عمل پوري مربوط کړی دی او دلته یې وویل چې دخول د جنت صرفاً په رحمت د خدای ﷻ دی؟

ځواب: په جنت کي منازل او درجې یو تر بله لوړي ستې، هغه درجې په عملو پوري اړه لري وذالک معنا قوله تعالی "ادخلوا الجنة بما کنتم تعملون" یعني المنازل التي في الجنة واما اصل دخول الجنة والخلود فیها بفضل الله ورحمته کما قلنا سابقاً ویدل قول ابن مسعود ﷺ تجوزون الصراط" تاسي به ټهرپرئ پر پل صراط په عفوه د خدای ﷻ "وتد خلون الجنة برحمة الله" او تاسي به جنت ته داخلېرئ په رحمت د خدای ﷻ "وتقسمون المنازل باعمالکم" رواه هناد في باب الزهد وابو نعیم عن عون بن عبدالله کذا في المظهري.

دروښ وایي: چې ددې خبرې دلیل چې دخول د جنت په صرف رحمت الهي سره دی هغه حدیث نبوي دی کوم چې بخاري او مسلم یې روایت له حضرت عائشه ﷺ څخه کړی دی چې رسول کریم ﷺ وویل "سددوا وقاربوا وابشروا فانه لایدخل الجنة احداً عمله قالوا ولا انت یا رسول الله، قال ولا انا الا ان یتغمدني الله بمغفرة ورحمة" او احمد ﷺ هم ددغه حدیث روایت کړی دی، او بخاري و مسلم ددغه حدیث روایت له حضرت ابو هریره ﷺ څخه هم کړی دی.

تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ۭ وَمَا اللّٰهُ يُرِيْدُ ظُلْمًا لِّلْعٰلَمِيْنَ ۝

دغه مذکوره آیتونه د خدای ﷻ دي چې په وعد او وعید کي راغلي دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "تلک" مبتداء ده او "آیات" الله" یې خبر دی او "نتلوها" یې خبر بعد الخبر دی.

ژباړه: دغه آیتونه د خدای ﷻ دي چې موږ یې تلاوت کوو پر تا باندې اې محمد ﷺ په حقه سره، او خدای ﷻ اراده نه لري د ظلم پر عالمیانو باندې.

پوه سه: چې مراد له ظلم څخه دادی لکه چې په منځ کې د بندګانو استعمالیږي نو د آیت معنا داده چې خدای ﷻ نه کموي ثواب د مستحق د هیڅ ثواب بفضله او نه ډیروي عذاب د هغه چا چې مستحق د لږ عذاب وي بعدله. واما الکفر بالله فهو اعظم الجنایات لانه لا ذنب اعظم منه فیعذب باعظم العذاب لا عذاب فوقه وهو النار المخلدة فیها لیکون جزاءً وفاقاً.

وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۗ وَإِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿١٠٩﴾

او خدای ﷻ لره دي هغه شیان چې په اسمانو کې دي "من الملائکة التي لا یعلم عددها الا الله والنجوم والی غیر ذالک من عجائب المخلوقات او هغه شیان چې په مځکه کې دي من الحیوانات والنباتات والمعدنیات" یعنې دا ټوله شیان مخلوق او مقدور د خدای ﷻ دي لاشریک له في خلق تلک الامور او وخدای ﷻ ته راجع کیږي ټوله امور یعنې د انسانانو او د شیطانانو او د جنیانو فیجازي کلاً علی حسب وعده ووعیده، او یا معنا د آیت داده چې که هر څو وسائط په عالم الاسباب ظاهراً پیدا دي لکن انتها د خلق وخدای ﷻ ته ده.

پوه سه: چې اسباب ظاهره اسباب دي په حسب د عقول متوسطه وو، واما علة ارباب العقول العالیة المضیئة فالکل بخلق الله.

پوښتنه: د بحارو او دریابو ذکر خدای ﷻ ونه کړی مع ان فیها من عجائب المخلوقات حتی قالوا ان حیطان البحر منها مالا یدرکه الطرف ومنها ما لا یدرک له طرف؟

ځواب: دریاب چونکه محیط پر مځکه دی نو په "مافي الارض" کې داخل دی ولا یعلم جنود ربک الاهو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ

پوه سه: چې اضافت د "خير" وامت ته اضافت دی د صفت وموصوف ته. او مفضل عليه محذوف دی، فالتقدير كنتم امةً خير الامم كلها.

پوه سه: چې ټوله مفسرين رح پر دې خبره متفق دي چې "كان" دلالت کوي پر ثبوت د خبر و اسم ته په زمانه ماضي کې. او پر دې دلالت نه کوي چې عدم سابق لري او يا عدم لاحق لري الا بقرينةٍ خارجيةٍ مثلاً قولنا كان زيد قائماً په سبب د قرينې چې زيد خو ابدي او ازلي نه دی نو ثبوت د قيام وزيد ته هم عدم سابق لري او هم عدم لاحق لري. او په دې آيت کې "وكان الله غفوراً رحيماً" پر دوام دلالت کوي ولې چې صفات د خدای ﷻ قديم ازلي او ابدي دي، نو په دې آيت کې. خو دا معلومه سوه چې امت محمديه ﷺ خير د امتو دي په تېرو زمانو او خيريت ددې امت في الحال والاستقبال له دې آيت څخه معلوميږي "تامرون بالمعروف ۞" او بعض مفسران وايي چې معنا د آيت داده "كنتم خير امة في علم الله"

أُخْرِجَتْ

يعني اظهرت

دروښ وايي: چې په دې کې اختلاف دی چې مخاطب په "كنتم" کې څوک دی، بعض وايي چې صحابه رض دي خاصةً كذا قال جرير عن الضحاك. او له عمر ابن الخطاب رض څخه روايت دی "كنتم خير امة يكون لاولنا ولايكون لآخرنا" او له ابن عباس رض څخه روايت دی چې مخاطب هغه کسان دي چې د عليه الصلوة والسلام سره يې هجرت کړی وي ومدينې منورې ته. او يا مخاطب ټوله امت د عليه الصلوة والسلام دی، مظهري رحمه الله وايي چې دوارې معناوې ثابتې دي په نصوصو سره او پر دوارو اجماع د امت مرحومه ده. ولې امت د عليه الصلوة والسلام افضل الامم كلها دی، والافضل منهم قرن الصحابة رض، په حديث شريف کې چې روايت يې طبراني کړی دی له عمر بن الخطاب رض څخه چې عليه الصلوة والسلام وويل چې جنت حرام دی پر انبياء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علیهم السلام تر هغو چې ژه داخلیږم، او حرام دی پر امتو د انبیاوو حتی چې داخلیږي زما امت، او له ابن عباس ﷺ څخه حدیث مرفوع راغلی دی په دې الفاظو "الجنة محرمة على جميع الامم حتى ادخلها انا وامتي الاول فالاول" او په حدیث طویل کې چې روایت یې بخاري کړی دی داسې راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام وویل چې زما امید دی چې تابعان او امت زما به څلورمه برخه د ټولو جنتیانو وي. د صحابه کرامو ﷺ له خوشحالیه الله اکبر تر خوله ووتی، او بیا یې وویل چې زما امید دی چې زما امت به دریمه د اهل الجنة وي، صحابه کرامو ﷺ د خوشحالي له کبله الله اکبر ووایه، او بیا یې وویل چې نیمی د اهل جنت به وي. او ترمذي په سند حسن له جابر ﷺ څخه روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام وویل "ټوله جنتیان به یو سل او شل صفه وي، او اتیا صفه به زما امتیان وي.

دروښ وایي: چې احادیث شریفه په فضیلت کې د امت د علیه الصلوة والسلام او په دې هر والي د اهل جنت له امت څخه د علیه الصلوة والسلام بیخي دې هر راغلي دي من شاء التفصيل في ذالک فليطالع كتب الآحاديث الشريفة من الصحاح الستة وغيرها.

لِلنَّاسِ

متعلق بخير امة. قال ابو هريرة ﷺ خير الناس للناس يجيئون بهم في السلاسل فتدخلونهم في الاسلام. ابو هریره ﷺ وایي چې خیر الناس د خلګو لپاره په دې سبب یاست چې تاسي خلګ راولئ په ځنځیرانو تړلي او په اسلام کې یې داخلوئ او یا په دې معنا خیر الناس یاست د خلګو لپاره چې په تاسي کې مبلغین او واعظین دې هر دي او ستاسي تاثیر دې هر دی په خلګو کې تر نورو امتو په جلب او جذب کې د خلګو وخدای ﷻ ته.

تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ

تاسي امر کوئ خلګ په معروف في الشرع کې او تاسي نهي کوئ له منکره في الشرع کې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې دا جمله مستانفه ده په استیناف بیاني کانه قیل ماوجه خیریتهم. او یا خبر ثاني دی د "کنتم" وعلی کل تقدیر. فالمراد تفضیلهم علی سائر الامم من جهة کثرة الامر بالمعروف والنهي عن المنکر فیکم من غیرکم من امم الانبیاء علیهم السلام.

وَتُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ

او تاسي ایمان لرئ پر خدای ﷻ باندي.

پوښتنه: ایمان بالله خو اصل الاصول دی. نو ولي تر امر بالمعروف او نهي عن المنکر وروسته راوړه سو؟

ځواب: تؤمنون بالله" قید دی لپاره د امر بالمعروف او نهي عن المنکر. نو معنا یې داده چې دوی چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوي لپاره د ایمان بالله وتصدیقاً لا ریاء وسمعةً.

بوه سه: چې مراد له ایمان بالله څخه ایمان دی بکل مایجب الایمان به لانه الفرد الکامل والمعتدبه بقرینة قوله تعالی "ولو آمن اهل الکتاب آه" او سره له دې چې اهل کتاب خو خدای ﷻ منې. او بل په دلیل ددې قول د علیه الصلوة والسلام په حدیث کې د طلحة بن عبیدالله ؓ چې بخاري او مسلم یې روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام وویل واصحابو ؓ ته "اتدرون ما الایمان بالله وحده" آیا تاسي پوهیږئ چې ایمان بالله وحده څه دی "قالوا الله ورسوله اعلم" صحابه وو ؓ وویل چې خدای ﷻ او د هغه رسول ښه خبر دي "قال شهادة ان لا اله الا الله وان محمداً رسول الله. واقام الصلوة وایتاء الزکوة وصیام رمضان وان تعطوا من المغنم الخمس.

پوښتنه: په دې حدیث کې خو حج نه راغلی؟

ځواب: حج په دغه وخت کې نه و فرض سوی.

وَلَوْ اٰمَنَ اَهْلُ الْكِتٰبِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ

که چېرې ایمان راوړی وای اهل کتابو یعنې یهودو دا به ددوی لپاره خیر وای.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولي چې په خير الامم کې به دوی داخل سوي وای.

مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿١١٠﴾

بعض له اهل کتابو څخه مؤمنان دي په ایمان کامل سره لکه عبد الله بن سلام ﷺ وامثاله. او اکثره يې فاسقان دي. يعني خارج له ایمان څخه وکفر ته. لان الفسق هو الخروج نحو فسقت التمرة عن قشرها ای خرجت.

پوه سه: چې له دې آیت څخه دا معلومه سوه چې په دمخه آیت يعني "ولو آمن آه" ایمان د ټولو اهل کتابو مراد دی. ولي چې د بعض اهل کتابو ایمان خو موجود و. لکن ټوله يا اکثره يې نه وه مسلمانان.

دروېش وايي: چې په دې سره دفعه سوه بد ګماني پر هغو بعضو کسانو چې دوی ایمان راوړی و چې دا بد ګماني له هغه آیت څخه پیدا وه "ولو آمن آه"

لَنْ يَضُرُّوكُمْ إِلَّا أَذًى ۖ

او اهل کتاب وتاسي مسلمانانو ته ضرر نه سي رسولای مګر په خوله چې غیبت به مو کوي. او دا خو يو ضرر يسير دی. يعني د جنګ او مقابلې طاقت نه لري. والمراد التسلي الى المؤمنين يعني د خولې په ضرر يې تاسي باک مه کوئ.

پوه سه: چې د يهودیانو رئیسانو د ضرر قصد کړی و وعبد الله بن سلام ﷺ واضرابه ته. نو خدای ﷻ وهغو ته اطمنان ورکړی چې دوی تاسي ته بېله د خولې له ضرر بل کوم ضرر نه سي رسولای.

وَإِنْ يُقَاتِلُوكُمْ

او که چېرې يهودیان وتاسي ته اې مسلمانانو د جنګ ومیدان ته را ووځي.

يُوَلُّوكُمُ الْأَدْبَارَ ثُمَّ

دوی به وتاسي ته شا درګرځوي يعني شکست به خوري او تاسي به يې وژنئ او بند یانوئ به يې او مالونه به يې په غنیمت راوړئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثُمَّ لَا يُنْصَرُونَ ﴿۱۱۱﴾

او بیا هم پر تاسي مسلمانانو باندي غلبه نه سي پیدا کولای.

دروښ وایي: چي دا اخبار بالغیب دی او معجزه د قرآن او د علیه الصلوة والسلام ده. ولي چي بني قریضه او بني النضیر او بني قنقاع او د خیبر او فدک یهودیانو چي وجنګ ته ځانونه اماده کړه ټوله یا قتل سوه یا وتښتېدل. او مالونه یې مسلمانانو په غنیمت راوړه او ښځي یې مینځیانې سوې.

ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ

او لازم کړل سوی دی پر یهودیانو باندي سپکاوی، یعنې نه یې ځانونه معصوم دي او نه یې اموال، او نه یې اهل وعیال معصوم دي.

أَيْنَ مَا ثُقِفُوا

چېرې چي دوی پیدا کړل سي.

إِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ اللَّهِ

پوه سه: چي مستثنی منصوب علی الحالیة ای ضربت علیهم الذلة في جمیع الاحوال الا بحبل آه.

پوه سه: چي مراد له "حبل الله" څخه یا قرآن یا دین د اسلام دی چي هغه حکم په دې سره کوي چي اهل ذمه او مستامنینو ته مسلمانان تعرض نه کوي، قال الله تعالی ﴿وان احد من المشرکین استجارک فاجره﴾ وهذا في حق المستامن، او بل ځای وایي حتی یعطي الجزیة عن ید وهم صاغرون وهذا في حق اهل الذمة.

وَحَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ

او یا خلګو یعنې مسلمانانو امان ورکړی وي چي دوی یې طلب وکړي، او یا عقد ذمه ددوی خلګ قبوله کړي. فالمراد بحبل الله وحبل الناس واحد علی رائ المظهري رحمه الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "حبل" په لغت کې رسی ته وایي په قرآن مبارک کې مستعار دی د وعدې لپاره په علاقه د تشبیه فافهم. قال الامام الرازي رحمه الله في التفسیر الکبیر، چې طریقه د امان چې اهل ذمه وو ته پیدا کېږي دوه قسمه دی. یو هغه امان دی چې حاصلېږي اهل ذمه وو ته په نص د قرآن وهو الامان الحاصل لاهل الذمة باعطاء الجزیة عن ید، او بل هغه دی مفوض چې ورایي ته د امام المسلمین چې امام المؤمنین دته روا ده چې ودوی ته امان مجاناً او مفت ورکړي، او یا جزیه پرې ډېره کړي او یا یې پر لږ کړي علی حسب اجتهاد الامام. او اول ته حبل الله وایي او دوهم ته حبل المؤمنین وایي. نو معطوف او معطوف علیه سره غیر دي پر رایه د امام رازي رحمه الله، او مورد چې دمخه وویل چې مراد له حبل الله او حبل المسلمین څخه یو دی هغه رائ د مظهري رحمه الله وه کمامر، فلا یتوهم التناقض بین قولي العبد الضعیف فتامل.

فائده مهمه: دا ټوله بیان د قرآن پاک ومسلمانانو ته دی چې ددوی په دار الاسلام کې څوک په امان اوسېږي او یا په عقد ذمه استېږي، دا مراد نه دی چې اهل کتاب چې هر ځای وي دوی به ذلیله وي، او دا سوال چې د ډېرو خلګو په زړونو کې ورګرځي حتی العلماء چې یهودیان یعنې بنې اسرائیل خو د عربو په منځ کې پر یوه ډېر محکمه دولت لري چې ورځېرمه دولتونه د مسلمانانو مقابله نه سي ورسره کولای لکه مصر چې یو قوي دولت دی د مسلمانانو، شام شریف چې بل قوي دولت دی، او فلسطین چې دغه د اسرائیلو حکومت توته توته کړی او په کومک د خبیث دولت د امریکا او د منهوس دولت د انګرېزانو دغه ریاست د بنې اسرائیلو اوس اوس ایتمي طاقت لري او نور دولتونه د کافرانو ایتمي توانایي ور انتقالوي کما سمعتموه في النشریات العامة.

دروښ وایي: چې په دې بیان به د ډېرو خلګو توهمات، شکوک او شبهات په بیان کې د قرآن کریم دفع سي ان شاء الله العزیز والله الموفق.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَبَآءُو بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ

دوی یعنې یهودان به رجوع وکړي الی ماکانوا من الموت او الحیوة بعد الموت، مستحق د غضب د خدای ﷻ. نو کلمه د با. جاره متعلق په محذوف سره اعني مستحقین ومستوجبین.

وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الْمَسْكَنَةُ ؕ

یعنې مسکنت پر دوی احاطه کړې ده لکه خونه پر اهل د خونې. نو په "ضربت" کې مجاز مستعار دی. بیضاوي رحمه الله وایي هغه یهود چې په دول اسلامیه وو کې استوګنه لري یا حقیقةً مسکینان دي او که اغنیا هم وي پر حالت د مسکینانو ګذاره کوي في الملبس والماکل خشیة زیادة الجزیة علیهم. او یا معنا داده چې یهودان بخیلان دي او حریصان پر جمع کولو د مال دي نو دوی په سبب د بخل او حرص همېشه پر هیئت د مسکینانو ژوند کوي لقطع طمع الناس منهم.

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقْتُلُوْنَ الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ؕ

دغه ماذکر من الذلة والمسکنة، او رجوع په غضب سره د خدای ﷻ په سبب ددې ده چې دوی همېشه کفر کاوه په آیاتو د خدای ﷻ یعنې په تورات کې، او وژل یې انبیاء علیهم السلام ناحقه لکه زکریاء او یحیی او نور علیهم السلام. والمعنی چې دوی پخپله هم پوهېدل چې د نبي مرګ ناحقه دی، ولې په حق وژل یا په ارتداد بعد الاسلام دی او یا په قصاص دی او یا په زنی بعد الاحصان دی ولا یتصور في النبي شيئ من ذالک.

ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ۝

او دغه کفر او قتل د انبیاؤ په سبب د دوی د عصیان دی. نو کلمه د "با." سببیه ده او "ما" مصدریه ده.

پوه شه: چې "کانوا" عطف دی پر "عصوا" او صیغه د مضارع یعنې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"یعتدون" لپاره د استمرار ده، نو معنا د آیت داده چې دا کفر او قتل په سبب ددې چې دوی اعتداء، اعني تجاوز حدود الشرع همېشه کوله.

دروېش وایي: چې علماؤ په اتفاق دا خبره منلې ده چې همېشه والی پر صغائرو ګنهو مغضي ګرځي وارتکاب یعني کولو ته د کبائرو ګنهو. او همېشه والی او استمرار پر کبائرو ګنهو اخیراً مغضي وکفر او انکار ته ګرځي اعاذنا الله من الاستمرار علی شیئ من الصغائر والکبائر ورزقنا الله التوبة عنها بفضله واحسانه.

دروېش وایي: چې علما، وایي چې همېشه والی او استمرار پر ګنهو پر زړه د مسلمانانو تاریکي د ګنهو راولي حالاً فحالاً ویضعف نور الایمان في قلبه شیئاً فشیئاً ولم یزل الامر کذالک الی ان یبطل نورا الایمان عن قلبه وتحیط علی قلبه ظلمة الکفر اعاذنا الله تعالی منها، او خدای ﷻ ودغه موضوع ته په دې آیت کې اشاره کړې ده ﴿کلا بل ران علی قلوبهم ماکانوا یکسبون﴾ یعني احاط علی قلوبهم ظلمة ماکانوا یکسبون من المعاصي.

پوه سه: چې شیخ ابو طالب رحمه الله وایي چې همېشه والی پر اورادو الماثورة عن النبي ﷺ او عن اصحابه رضي الله عنهم او عن السلف الصالحین رحمهم الله اخلاقو څخه د مؤمنانو دی، وطریق العابدین وهي تزید نور الایمان في قلب المؤمن عکس الذنوب والمعاصي کمامر رزقنا الله تعالی هذا الاستمرار والدوام یعني علی الاوراد الماثورة عن احدي الفرق الثلثة.

دروېش وایي: چې له عارفانو او اهل الله څخه نقل سوی دی چې څوک دوه سوه کاله ژوندی وي او دا څلور شیان نه پېژني فالنار اولی له.

(۱) معرفت د خدای ﷻ په پته او په لڅه کې، او دا ایمان درلودل دی چې ورکونکی د هرنعمت او منع کونکی د هر نعمت خدای ﷻ دی فقط یعني داسي به نه وي لکه یو شاعر چې وایي """

بر زبانت یا صمد پیدا ودردل یا صنم،،، ای بباطن کافر ظاهر مسلمانی چې سود

(۲) معرفت دی د عمل د خدای ﷻ په دې ډول چې خدای ﷻ نه قبلوي د خیر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اعمال د بنده الا ماکان خالصاً لرضی الله یعني لاریاء فیه ولاسمعة.

(۳) معرفة نفسه بالضعف بانه لایرد من قضاء الله تعالی شیئاً.

(۴) دی باید وپېژني دښمن د خدای ﷻ، او دده یعني الشیطان ویحاربه بسلاح معرفة الله وذکره والتفکر في نعمه واداء شکره، انتهی بزیادة.

پوه سه: چې ابن ابي حاتم له ابن عباس ؓ څخه روایت کړی دی چې څه وخت چې ایمان راوړی عبدالله بن سلام او ثعلبة بن شعبة او اسید بن تبیعة او اسد بن عبید ؓ او نورو یهودانو چې د دوی سره ایمان راوړی و او تصدیق د دین محمدي ﷺ یې وکړی نو ملایانو د یهودانو چې احبار او کافران وه دوی وویل چې چا متابعت د محمد ﷺ کړی دی هغه کسان دي چې زمونږ د قوم یهودانو اشرار وه که دوی اخیار وای نو دوی به خپل د پلرو او نیکه ګانو دین نه پرې ښولای فانزل الله تعالی هذه الآیة.

لَيْسُوا سَوَاءً ؕ

نه دي یهودان سره برابر په ذکر سوي معاصي وو کې بلکې بعض د دوی پر ضد د هغو معاصي وو دي.

پوه سه: چې ضمیر مرفوع په "لیسوا" کې اسم د "لیس" دی او "سواء" یې خبر دی "سواء" چونکه مصدر دی نو دلته په معنا د مستویین دی.

مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اُمَّةٌ قَآئِمَةٌ

بعض له یهودانو داسي ډله ده چې پر حق لاره ثابت دي. ابن عباس ؓ وایي ای مهتدین ثابتین علی امر الله لم یضیعوه، او مجاهد ؒ وایي عادلة، او سدي ؒ وایي چې ثابتة علی کتاب الله وحدوده واحکامه، او پر هر تقدیر مراد څندي عبدالله بن سلام ؓ وامثاله دي من الهیود.

پوه سه: چې جمله د "منهم آه" تعلیل او دلیل دی د "لیسوا سواء"

يَتْلُوْنَ اٰيٰتِ اللّٰهِ

او دوی تلاوت کوي له آیاتو د خدای ﷻ یعني القرآن.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې جمله د "يتلون" حال دی له فاعل څخه د "قائمة" او یا صفت بعد الصفة ده.

اٰنَآءَ الَّيۡلِ

په ساعاتو د شپې

پوه سه: چې "آناء" د "اني" جمع ده په معنا د ساعت او "انا" ظرف دی د "يتلون"

دروښ وایي: چې بعض مفسرین ؒ له تلاوت څخه د "اناء اللیل" د تهجد لمونځ بولي، او ابن مسعود ؓ د ماخستن لمونځ مراد بولي ځکه چې اهل کتاب یعني یهود د ماخستن لمونځ نه لري.

وَهُمۡ يَسۡجُدُوۡنَ ﴿۱۱۳﴾

د ابن مسعود ؓ پر مذهب یې ترجمه داده "وهم یصلون العشاء" ذکر جزء مراد ځندي کل دی، او ددې تفسیر تائید هغه حدیث هم کوي چې مسلم یې له عبدالله بن عمر ؓ څخه روایت کړی دی چې موږ په مسجد کې یوه شپه د هېر درنګ وکړی په انتظار د راوتلو د علیه الصلوة والسلام د ماخستن د لمانځه لپاره، نو علیه الصلوة والسلام را ووتی پسله دې چې دریمه حصه د شپې تېره سوې وه، نو علیه الصلوة والسلام داسي وویل چې تاسي انتظار د یو داسي لمانځه کوئ یعني د ماخستن لمونځ چې هیڅ اهل دین انتظار ددغه لمانځه نه دی کړی پرته له تاسي څخه. یعني بل اهل دین د ماخستن لمونځ نه درلودی. او که دا سبب نه وای چې زما پر امت به د ماخستن دغه ساعت دروند واقع سي نو ما به همېشه د ماخستن لمونځ په دغه وخت کې کولای. ثم امر المؤذن فاقام وصلی.

دروښ وایي: چې تعجب دی ومظهري ؒ ته چې سره له دې چې د ابن مسعود ؓ تفسیر یې په صلوة العشاء سره هم راوړی دی او حدیث د عبدالله بن عمر ؓ یې هم راوړی دی په اخیر کې وایي قلت والظاهر ان المراد به قیام اللیل یعني التهجد دون صلوة العشاء، او بیا مظهري ؒ په عقلي دلائلو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره قول د ابن مسعود او حديث د ابن عمر رضي الله عنهما رد کړی دی.

دروښ وايي: چې د دوئ دي لوی محدث او مفسر سره دا عقلي رد نه ښايي. او عالم متبحر صاحب روح المعاني وايي چې مراد بصلاتهم هذه التهجد على ماذهب اليه البعض والذي عليه بعض السلف انها صلوة العتمة اى العشاء. او بيا صاحب د روح المعاني هغه حديث د تاخير د عليه الصلوة والسلام د ماخستن لمونځ چې مونږ عنقريب ذکر کړی دليل ددغه قول ګرځولی دی چې مراد ځنډي د ماخستن لمونځ دی. نعم القاضي البيضاوي رحمه الله اولاً داسې تفسير کړی دی "اى يتلون القرآن في تهجدهم" وروسته يې حديث د تاخير د ماخستن د لمانځه هم راوړی دی کمامر عنقريب.

دروښ وايي: چې شايد مظهري رحمه الله به هم قول د بيضاوي مختاره کړی وي. د ابن مسعود او د ابن عمر رضي الله عنهم د قول مقتضی خو داده چې د ماخستن لمونځ مراد دی، نو مظهري رحمه الله چې صلوة تهجد مختاره کړی هغه ددې رايه ده. وللناس فيما يعشقون مذاهب.

يُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ

او دوی ايمان لري پر خداى جل جلاله چې خداى جل جلاله واحد دی لاشريک له في الخلق والملک يفعل مايشاء ويامر مايريد.

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ

او ايمان لري پر ورځې د اخيرت د جزا. د ابرار او فجار بالجنة والنار. حسب ما فعلوا في الدنيا لاظلم في ذالک اليوم.

وَيَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ

او دوی به خلګ امر کوي په هغه شي سره چې په شرع شريفه کې معروف وي من الفرائض والواجبات وغيرها. او دوی به نهي کوي خلګ له هغه کار څخه چې په شرع کې بد وي من المحرمات والمکروهات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ

او دوی په تلوار کوي د ځیر په کارو کي په سبب د ډېرې بېرې ددوی، وقصر املهم قال رسول الله ﷺ بادروا بالاعمال هرماً ناغضاً. یعنې چې د ډېرې سپېنې ږیرتیا ځخه یې سر رپږدي. وموتاً خالصاً یعنې نابېره مرګ ومرضاً حابساً او له داسي ناجوړې ځخه چې سړی له عمله بند کړي وتسویفاً موږساً او ځنډول د طاعت چې په پای کي یې نا امېدي وي. رواه البیهقي عن ابي امامة ﷺ.

پوه سه: چې له "یؤمنون آه" ځخه نور صفات دي د امت قائمه لکه دمخه صفات ای یتلون الکتاب آه. چې دا صفات هم ضد دي د یهودانو له صفاتو ځخه.

ولي چې یهودان خو له حق ځخه منحرف وه غافلین عن الحق لیلاً ونهاراً. او مشرکین وبالله وقالوا عزیر ابن الله الحاد او کجروي کول په صفاتو کي د خدای ﷻ، او ددوی عقیده پر ورځ د قیامت خلاف وه د هغه ورځي د واقعې له حاله، ولي چې دوی به ویل نحن ابناء واحبائه لایعذبنا في ذالک الیوم. او بعضو به ویل چې په قدر د ځلو پښتو ورځو چې زموږ اسلافو د ګلګې عبادت کړی و، موږ په عذابوي وبس که ښه وکړو او که بد، امر یې کاوه خلګو ته په منکر سره، یعنې د دین د اسلام متابعت مه کوی، او نهي کول یې خلګ له معرفت ځخه چې متابعت د دین نبوي ﷺ و او یسارعون في الشرور.

وَأُولَٰئِكَ مِنَ الصَّالِحِينَ ﴿١١٤﴾

او دغه کسان چې موصوف په صفات مذکوره سره وي له صالح بندګانو ځخه د خدای ﷻ دي.

وَمَا يَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ يُكْفَرُوهُ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالْمُتَّقِينَ ﴿١١٥﴾

او هغه کار چې صالحین بندګان یې وکړي د خیر له کارو ځخه مما ذکروا مما لم ذکر د هغه ثواب نه کمېږي او هغه عمل ضائع نه ځي.

پوښتنه: کفران خو عدم شکر دی د نعمت نو منع د ثواب یې ولي کفران

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ووایه. او سره له دې چې څوک پر خدای ﷻ کوم نعمت نه لري چې خدای ﷻ ته دې اضافت د کفران وکړه سي؟

خواب: هو! پر خدای ﷻ څوک نعمت نه لري لکن چونکه خدای ﷻ ایصال د ثواب وبنده ته شکر بللی دی مجازاً حیث قال ﴿فان الله شاکر علیم﴾ یعنې پوره ثواب ورکول وبنده ته خدای ﷻ له خپلې خوا مجازاً شکر بللی دی، نو د هغه سره دا مجاز هم لازم سو چې قطع د ثواب یا کمول د ثواب کفران وبلل سو.

پوښتنه: کفر خو ویوه مفعول ته متعدي وي، دلته یې و دوه مفعوله ته متعدي ګرځولی دی، یعنې یو هغه مفعول دی چې د فاعل په ځای کې درېدلی دی په صیغه مجهول کې د "لن یکفروه" او بل مفعول یې هاء الضمیر دی؟

خواب: کفر یې متضمن ګرځولی دی معنا لره د حرمان چې هغه ودوه مفعوله ته متعدي دی.

پوه سه: چې دېر قاریان "یکفروه" په صیغه د غائب وایي موافق د دمخه صیغو سره، یعنې یؤمنون ویامرون الی ههنا. او بعض قاریان یې په صیغه د مخاطب وایي یعنې فلن تکفروه نظراً الی قوله تعالی کنتم خیر امةٍ لانه مخاطب.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَن تُغْنِيَ عَنْهُمْ

په تحقیق هغه کسان چې کافران وي په هره نوع د کفر چې وي که مشرک وي که یهودي وي الی غیر ذالک. فائده نه سي رسولای یعنې په دفع کې د عذاب آلهي. أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُم مِّنَ اللَّهِ شَيْئًا

نه مالونه ددوی چې په دنیا کې یې درلوده او نه اولاد ددوی له عذاب څخه د خدای ﷻ هیڅ شی لکه په دنیا کې چې دفع د عذاب خلګو اول په دفع د مال کوله او وروسته به یې په اولاد کوله. مثلاً یو چا پر بل یو جنایت کړی و، نو په هغه جنایت کې ینې لور په نکاح ورکړه او یا به یې عوض د جنایت مال ورکړی، او یا به یې زامن په جنګ ورته درول. په اخیرت او قیامت کې دا کارونه نه دي ممکن لانه لامال هناک ولابنین.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿١١٧﴾

او دغه کافران اصحاب د اور دي يعني د دوزخ او دوی به په دوزخ کي همېشه پاته وي لايموتون ولا يخرجون.

مَثَلُ مَا يُنفِقُونَ

مثال او حال د هغه مال چي مصرفوي کفار. نو پر دې تقدير کلمه د "ما" موصوله ده او عائد محذوف دی ای ينفقونه. والاوضح داده چي کلمه د "ما" مصدريه ده ای مثل انفاق الکفار خواه په عداوت کي د عليه الصلوة والسلام انفاق کوي. او يا د فخر لپاره لکه انفاق د کفارو د قريشو في الحرب. او يا په بيت د تقرب الی غير الله وي لکه انفاق د يهودانو پر خپلو ملايانو چي نعوت د عليه الصلوة والسلام په تورات کي مه بيانوئ. يا انفاق د کفارو د قريشو تقرباً الی الاصنام. او يا رياء لکه انفاق د منافقينو.

فِي هَٰذِهِ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا

په دې ناقص او بې بقاء ژوند کي

كَمَثَلِ رِيحٍ فِيهَا صِرٌّ

لکه مثال د بادچي په هغه کي سخت يخ وي لکه د ژمي د توري څلي باد. دا ترجمه قاموس والا کړې ده. او له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي "صر" ډېر تود باد ته وايي.

دروېش وايي: چي "لعل" لفظ "صر" من الالفاظ المشتركة بين الضدين کلفظ القرء بين الطهر والحيض وغير ذالک من الالفاظ المشتركة بين الضدين. په هر صورت دغه دواړه بادونه وکښتو ته ضرر دی کما هو معلوم بالتجربة عند ارباب المزارع.

أَصَابَتْ حَرْثَ قَوْمٍ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ

ورسېږي دا باد وکښت ته د يو قوم چي ظلم يې کړی وي پر خپلو ځانو يعني په سبب د کفر او د ګنهو. يعني دا باد عذاب آلهي وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې لفظ د "ریح" مؤنث سماعي دی ولهذا انث الفعل المسند الیه.

فَاَهْلَكَتْهُ ؕ

نو دا باد ټوله کښت برباد کړي یعنې لکه دغه باد چې کښت برباد کړي دغه رنګه انفاق د کفارو د خپلو مالو دوی بربادوي. ولي چې دغه انفاق ودوی ته عذاب الله راجلبوي په اخیرت کې او یا دا معنا ده چې لکه باد مذکوره چې د ذراع تخم بې فائده کوي دغه رنګه انفاق د کفارو بې ثمایه مالونه خپل مالونه ضائع کول دي.

پوه سه: چې احتمال لري چې تشبیه مذکور في الآیة دي استعاره تمثیلیه وي یعنې تشبیه الهیئة المنتزعة من المشبه بالهیئة المنتزعة من المشبه به. او یا دي تشبیه د یوې قصې وي په بله قصه سره والتفصیل في علم البیان.

وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ وَلٰكِنْ اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۱۷﴾

او خدای ﷻ په دغه اهلاک کې د انفاق یا د کښت ددوی سره ظلم نه دی کړی. ولي د خدای ﷻ شان ظلم نه دی لکن دوی پر ځانو باندي ظلم کوي چې کفر او معاصي یې اختیاره کړه.

پوه سه: چې ابن جریر ﷺ په روایت د ابن عباس ﷺ وایي چې بعض مسلمانانو د انصارو به د بعض یهودانو سره مجلسونه کول په سبب د جوار او همسایه توب او یا په سبب د حلف د جاهلیت د وخت نو خدای ﷻ دا آیت نازل کړی،

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا بِطَانَةً

اې هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی تاسي مه ګرځوئ صاحب د سر یعنې د پټو خبرو چې اسرار ورته وایي د مسلمانانو اعتماداً علیه.

مِّنْ دُوْنِكُمْ

یعنې پرته له مسلمانانو څخه. او یا معنا داده چې د هغو کسانو اسرار مه وایه چې تر تاسي په کمه درجه کي دي لکه یهودان. لکه شان نزول چې دلالت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر کوي وقد مر آنفاً.

دروېش وايي: چې په دې لفظ کې "من دونکم" تنبیه پر دې ده چې جنس مسلمان اعلی درجة دی تر یهودانو په دنیا او اخیرت کې. نو تاسي ولي اسرار او پټ رازونه ددوی سره شریک کوئ په سبب د جوار او یا حلف الجاهلیة.

پوه سه: چې علما. ټوله پر دې متفق دي چې عزلت یعنې د چا سره مجلس نه کول بهتر دی تر جلیس سوء یعنې د بد سړي تر مجلس او خبرو کولو. او جلیس صالح بهتر دی تر عزلت یعنې د ښه سړي ناسته ښه ده تر یوازي ناستي چې عزلت یې بولي.

پوه سه: چې لفظ "من دونکم" یعنې تر تاسي کښته خلګ شامل دي ټولو اهل هواء ته لکه معتزله، روافض وهابیان، شیعه ګان او نور باید ددې کسانو سره هم ناسته ولاړه سني مسلمانان ونه کړي لئلا یغتر بخرافاتهم.

لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا ط

دوی تقصیر نه کوي په شر رسولو کې وتاسي ته یعنې هغه کسان چې ستاسي پر دین نه وي لکه یهودان کوتاهي نه کوي په شر رسولو کې وتاسي ته او په فساد کولو ستاسي تر منځ بلکې د هر کوشش او سعي کوي په شر رسولو کې وتاسي ته او په فساد کولو کې. نو تاسي مسلمانان څرنګه دوی صاحب سِر ګرځوئ.

پوه سه: چې "خبالاً" یا منصوب دی په نزعه د حرف جر ای لایالونکم في الخبال. او یا منصوب دی چې مفعول ثاني د "لایالونکم" دی علی تضمین معنی المنع ای لا یمنعونکم خبالاً. والتفصیل في المطول وحواشیه في قول صاحب التلخیص لاآلوکم جهداً.

وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ ج

ای یحبون الیهود شدة الضرر لکم فکلمة ما مصدریه فکیف یحبونهم ایها المسلمون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَآءُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ ۚ

او ګاهي ښکاره سي بغض ستاسي تر خولو ددوی، یعني بلا اختیاره پر تاسي بد وایي او تهمت درباندي وایي.

وَمَا تُخْفِيْ صُدُوْرُهُمْ اَكْبَرُ ؕ

او هغه چي د دوی په زړو کي پټ دي له بغضِ څخه ډېر غټ دی تر هغه چي تر خوله یې راباسي، ولي چي دوی په ظاهره ستاسي سره محبت ښکاره کي لپاره د مکر او خطا ایستلو ستاسي.

قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْاٰيٰتِ

مونږ وتاسي ته بیان کړه هغه دلائل چي دال پر عداوت ددوی وُه، او پر وجوب د دوستۍ د مسلمانانو او عداوت د کفارو سره.

مسئله: یو کافر چي ده لره په زړه کي عداوت د مسلمان نه وي صرف دده د ایمان په سبب او د شر رسولو قصد یې هم نه وي، بلکې په منځ کي دده او د مسلمان دوستي او قرابت وي او یا اشتراک في التجارة وي مثلا د هغه سره مودت او محبت حرام نه دی، لکه د علیه الصلوة والسلام او د ابو طالب تر منځ او یا د عباس ؓ تر منځ قبل اسلامه.

اِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۱۸﴾

که تاسي یاست چي خپل دوست او دښمن سره پېژنئ فالمفعول محذوف ای تعقلون ولیکم وعدوکم ویحتمل ان یکون تعقلون، منزل منزلة الازم ای کنتم من اهل تعقل.

پوه سه: چي ددې شرط جزاء له ماقبل څخه فهمېږي یعني فانتهوا عن موالات الکفرة او اخلصوا لله و والو المسلمین.

هٰۤاَنْتُمْ اُولَآءِ تُحِبُّوْنَهُمْ

پوه سه: چي کلمه د "ها" لپاره د تنبیه ده د مسلمانانو پر خطاوتو کي او پر غفلت ددوی او "انتم" مبتداء ده او "اولاء" یې خبر دی ومعنی الآیة آګاه اوسئ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې تاسې دغه کسان یاست ای مؤمنانو چې تاسې محبت کوئ د دغو کافرانو سره په سبب د قرابت نسبي او یا په سبب د شناخت. نو په دې فعل کې تاسې مسلمانان پر خطا یاست چې د دغو کفارو سره محبت کوئ.

وَلَا يُحِبُّونَكُمْ وَتُؤْمِنُونَ بِالْكِتٰبِ كُلِّهٖ

او دوی ستاسې سره محبت نه لري په سبب د اختلاف في الدين. او ستاسې ایمان دی پر ټولو کتابو د خدای ﷻ فاللام للاستغراق ويحتمل الجنس والمعنى واحد، او بعض مفسران وایي چې لام لپاره د عهد دی یعني تورات. او دا توجیه مناسبه نه ده او "کله" پر هر تقدیر لپاره د تاکید دی.

پوه سه: چې جمله د "وتؤمنون آه" جمله حالیه ده بتقدیر المبتداء حتى يصح الحالية. ای وانتم تؤمنون.

پوه سه: چې تقدیر د مسند الیه یعني "انتم" چې محذوف دی لپاره د حصر دی کما هو القانون في تقديم المسند اليه اعنى المسند الفعلي. نو معنا د حصر داده چې کفار پر ټولو کتابو ایمان نه لري مثلاً یهودان تورات منې او انجیل او قرآن نه منې. او نصاری انجیل منې او تورات او قرآن کریم نه منې. او که لام لپاره د عهد سې کمامر نو یې معنا داده چې تاسې ټوله تورات منئ او یهودان ټوله نه منې لكفرهم بنعوت النبي ﷺ فيها.

وَإِذَا لَقُوكُمْ قَالُوٓا اٰمَنَّا

یعني چې ملاقي او یو ځای سې دغه یهودان یعني المنافقون منهم. نو دوی وایي نفاقاً چې مونږ هم ایمان راوړی دی پر علیه الصلوة والسلام او پر قرآن کریم باندې یعني لکه ستاسې چې ایمان دی.

وَإِذَا خَلَوْا عَضُّوا عَلَيْكُمُ الْأَنَامِلَ مِنَ الْغَيْظِ

او چې دوی یوازې سې د خپلو خانو سره نو دوی په غاښو چې خپل د ګوتو سرونه. له سببه د سخت غضب پر حال ستاسې مؤمنانو د اتفاق او پر پرمختګ رفت د اسلام د دین.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې کلمه د "من" لپاره د اجل ده او غیظ په جوش کې راتلله دي د وینو په زړه کې له جهته څخه د سخت غضب.

پوه سه: چې عض الانامل کنایه ده له دېرې غصې څخه، ولې چې بعض انسانان چې دېر سخت درد ورسي خپل د ګټو سرونه په غاښنو چچي یعني دغه منافقین چې یوازې سي د خپلو څانو سره ستاسي پر حال دېر تاسف او غم کوي چې اسلامي دین مخ پر غلبه او کامیابی روان دی، او دوی ستاسي وضرر ته هیڅ لار نه لري.

دروښ وایي: چې چونکه عض الانامل کنایه ده له سخت بغض څخه. او د علم بیان په کتابو کې وایي چې په کنایه کې امکان د حقیقت نه دی شرط فضلاً عن التحقق نو په ما نحن فیه کې که عض الانامل حقیقةً موجود نه وي کنایه یې صحیح ده. قُلْ مُوتُوا بِغَيْظِكُمْ

او ته ووایه دوی ته اې محمد ﷺ چې مړه سي پخپل غیض او غضب سره. وهو الظاهر او احتمال ددې هم سته ي دا خطاب دي ددغو کفارو او منافقینو او مسلمانانو باعثه کول وي پر دې چې مخامخ دي دوی ته خطاب د دښمنانو وکړي، ولې چې دا ښه قطعه کونکی د محبت دی او پر دوی د توري تر تېپ بد تاثیر کوي، قال الشاعر

جراحات السنان لها التیام ولا یلتام ماجرح اللسان

پوه سه: چې د "موتوا" خطاب ومنافقانو ته دی لان الکلام معهم او "موتوا بغیظکم" روح البیان وایي چې دا ښېرا ده ودوی ته حیث قال دعاء علیهم بدوام الغیظ وزیادته بتضاعف قوة الاسلام الخ، او په روح المعاني کې وایي والصحیح الذي اتفقت علیه کلمتهم انه دعاء علیهم، او بیضاوي هم وایي دعاء علیهم آه. او مظهري له دې څخه انکار کړی دی او دی وایي ان المدعو علیه لا یخاطب بل الله سبحانه یخاطب في الدعاء، او مظهري رحمه الله له تولو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مفسرینو څخه مخالف وایي چې "موتوا" امر دی صیغةً او په معنا د اخبار دی حیث قال، والظاهر انه اخبار بانکم لن تروا مایشرکم آه.

دروښ وایي: چې امر په معنا د اخبار دی، خو مجاز دی او دې مجاز ته ضرورت څه دی، او پر مخالف د مظهري د تولو مفسرینو څخه باعث څه شی دی.

پوښتنه: باعث پر مظهري رحمه الله هغه خبره ده چې ده وکړه ان المدعوا علیه لایخاطب آه؟

ځواب: آلوسي رحمه الله په ځواب کې د مظهري رحمه الله د دلیل په روح المعاني کې داسي ویلي دي، ولا خفاء في خفائه وانه غفلة عن قولهم قاتلک الله حیث خاطب المدعوا علیه لا الله سبحانه وقولهم في الدعاء لشخص دم بعین حیث خاطب المدعوله دون الله تعالی وبت قریر العین في الدعاء لشخص خاطب فیه ایضاً المدعوله وغیره مما لایحصی انتهی قول الآلوسي في تفسیر روح المعاني.

دروښ وایي: چې وهذا قدر قول المظهري والله اعلم بالصواب.

إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿١٩﴾

په تحقیق سره خدای ﷻ خبر دی په هغه چې ستاسي په سینو کې دی والمراد به القلوب من ذکر المحل وارادة الحال یعني البغض والعداوة مع الرسول والمؤمنین لاینفعکم الا خفاء.

پوه سه: چې روح البیان والا دا جمله هم مقوله د قول بولي حیث قال ای قل لهم ان الله علیم بذات الصدور، نو پر دې تقدیر مراد ددې جملې له دوارو څخه دادی چې خدای ﷻ به تاسي منافقین په دې دنیا رسوا کړي او په اخیرت کې به عذاب الیم درکړي، او آلوسي رحمه الله په روح المعاني او امام رازي رحمه الله په تفسیر کبیر کې او مظهري رحمه الله پخپل تفسیر کې دا احتمال هم راوړی دی چې داجمله یعني ان الله علیم آه، له مقول څخه خارج وي لکه وروستنۍ جملې، نو معنا د آیت داده چې که څه هم تاسي نه یاست خبر په حال د منافقانو چې دوی ستاسي محبت نه لري "واذا خلوا یغضون آه" لکه په دمخه جملو کې چې تېره سوه، لکن خدای ﷻ خو په خبر دی، نو پر تاسي مؤمنانو لازم دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

متابعت د امر الله والحب في الله والبغض لله لا الحب لاجل الوصلات والقرابات والجوار بينكم وبين هؤلاء المنافقين.

إِنْ تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ

که تاسي ته ورسېږي يو خصلت حسنه اى نعمةً حسنةً لکه ظهور د اسلام او غلبه پر دښمنانو کافرانو، او غنيمت په جنګو کي او پراخي د ژوند انه معاش بعد ان کنتم في ضيق من العيش دا منافقين په دې سره غمجن کېږي للعداوة القلبية.

وَإِنْ تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ يَفْرَحُوا بِهَا

او که تاسي ته ورسېږي يو خصلت قبيحه كالهزيمة في غزوات وضيق العيش لاجل بعض الاسباب دغه منافقين خوشحاله کېږي په هغه سيئه سره.

فائده: په لفظ کي د "مس" دلالت پر دې دى چې په ادنى حسنة سره ستاسي دوى غمجن کيږي لشدة عداوتهم لكم.

فائده: دا دوې شرطيه جملې بيان دى د سخت عداوت ددوى له تاسي سره، او مربوط په هغه شرطيه پورې دى "واذا خلوا آه" او منځنى جمله يعنې "قل موتوا آه" جمله معترضه ده.

وَإِنْ تَصْبِرُوا

او که تاسي مسلمانان صبر وکړئ پر اذاء او عداوت د منافقانو او يا پر تولو

وَتَتَّقُوا

مصائبو او يا تکاليفو دينيه وو.

او تاسي پرهېز وکړئ له موالات او له دوستى څخه ددوى او يا ځان وساتئ له تولو محرماتو څخه د دين.

لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا

تاسي ته ضرر نه رسوي چمونه ددوى ستاسي په ضرر کي پر طريقه د اخفاء هيڅ شى.

پوه سه: چې لفظ د "شيئا" مفعول مطلق دى اى شيئاً من الضرر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿١٢٠﴾

پوه سه: چې دا جمله علت دی د ماقبل والمعنی په تحقیق خدای ﷻ په هغه شي چې دوی عمل کوي چې ضرر ومؤمنانو ته دی، نو "ما" موصوله ده او عائد محذوف دی او بعملهم نو "ما" مصدریه ده. محیط دی یعنې علماً وقدرةً نو خدای ﷻ به تاسي ددوی له ضرره وساتي او دوی ته به جزاء ورکړي.

پوه سه: چې که امت ټوله پر دې جمع سي چې تاته نفع ورسوي د یو شي، نو تاته نفع نه سي رسولای مګر په هغه شي چې خدای ﷻ پر تا لیکلی وي رفعت الاقلام وجف الصحف.

دروښ وایي: چې ژباړه د هغه حدیث چې احمد او ترمذي یې روایت کړی و. او احمد، ابن ماجه او دارمي ؒ له ابي هریره ؓ څخه روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام وویل چې ماته یو آیت معلوم دی که خلګ عمل په وکړي دوی لره کافي او بس دی. ﴿ومن یتق الله یجعل له مخرجاً ویرزقه من حیث لایحتسب﴾

ژباړه: که څوک له خدای ﷻ څخه وویرېږي خدای به وهغه ته مخرجا ورکړي یعنې ځای د خلاصون او هغه ته به خدای ﷻ رزق ورکوي له داسي خوا څخه چې دده ګمان او طمع به نه وي، او امام احمد له ابي هریره ؓ څخه نقل کوي چې علیه الصلوة والسلام وویل چې خدای ﷻ وایي که چېرې زما بندګان زما اطاعت وکړي یعنې په حق اطاعت سره، زه به پر دوی اوروم بارانونه د شپې او پر دوی به د ورځې لمر را خېژوم او په دوی به نه اورم آواز د تالندي، او مسلم له شعبه ؒ څخه نقل کړی دی چې علیه السلام وویل چې تعجب دی وحال ته د مسلمان، ولي چې د مؤمن هر حال خیر دی دده لپاره او بېله مؤمنه بل چا لره دا حال نسته، هغه حال دادی چې که مؤمن د خدای ﷻ شکر ووایي په حال کې د نعمت او خوشحالی، نو ده لره دا شکر ویل خیر دی یعنې پر شکر ویلو خدای ﷻ راضي کېږي او بل یې وعده کړې ده "لئن شکرتم لازیدنکم" او که

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چېرې ضرر او مصیبت وروسېرې دی صبر وکړي دده لپاره خیر دی، یعنې خدای ﷻ پر صبر ثواب ورکوي، او بل خدای ویلي دي ﴿ان الله مع الصابرین﴾ یعنې بالعون والنصرة.

فائده: في قوله تعالی "لاتاخذوا بطانةً من دونکم" اشاره ده ودې ته چې خپل اسرار دي سړی وهغه چاته ووایي چې دده له جنس څخه وي، اول په مسلمانی کي، دوهم په قومیت کي، دریم په هم وطنې کي او بیا به هم دده معتمد وي، ولي چې دهر وخت داسي پېښېږي چې دا سړی به دده سر وهغه چاته بیان کړي چې دی نه غواړي چې هغه په خبر سي. او یا به هر چا ته د سړي اسرار بیانوي او سړی به رسوا کړي، دا مقوله ده

ان الرجال ضادیق مقفلة وما مفاتیحها الا التجارب.

امام غزالي رحمه الله په احیاء العلوم کي وایي چې اعتماد پر ظاهر محبت د سړي مه کوه چې تجربه یې نه کړې، اوله همسایه والی دی د سړي سره، دوهم امتحان دی د سړي په فقر او غناء کي، دریم که د حکومت سړی و تجربه کوې به یې په حال کي د چوکی او عزل، څلورم په معامله د دنیا او درهم به یې تجربه کوې، نو چې په دې ټولو حالاتو کي دي تجربه په وکړه او په امتحان کي کامیاب سو نو که تر تا مشر و پلار یې وګڼه، او که تر تا کشر و زوی یې وبولې او که ستا مثل وخپل ورور یې وګڼه، نو وروسته که اسرار ورته ووایه نو پرواه نه لري.

وَإِذْ غَدَوْتَ

او ته ذکر کړه هغه وخت چې ته په اول کي د ورځې ووتې د احد پر لور.

مِنْ أَهْلِكَ

له خوني څخه د خپل اهل، یعنې له خوني څخه د ام المؤمنین عائشې ﵂.

فائده: ددې لفظ یعنې اهل څخه دا معلومه سوه چې عائشه ﵂ له اهل څخه د علیه السلام ده او په اساس ددې قول د خدای ﷻ "الطیبات للطیبین، والطیبون للطیبات" نو چونکه علیه السلام طیب ذات دی نو عائشه ﵂ له طیباتو څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ده، نو بعض منافقانو چې عبدالله بن ابي بن سلول و او اتباع ددې چې په غزوه د مریسع یې عائشه ﷺ متهمه په زنا سره ګرځولې وه لکه پوره قصه چې به یې پخپل ځای کې راسي ان شاء الله تعالی هغه محض درواغ وه، ولې چې په زنا کولو سره څو عائشه ﷺ د طیباتو له جملې څخه ووتل، او اهل د طیب لازماً به طیب وي، الا تری ان ابن نوح ﷺ یعني کنعان لما کان کافراً قال الله تعالی لنوح "انه لیس من اهلک" کذا امرئة لوط ﷺ لما کانت کافرةً سلب الله تعالی اهلیتها من لوط ﷺ.

تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِيْنَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ ۭ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۲۱﴾

تا نازلول مسلمانان په ځایو کې د اراسته والي وجنګ ته. والمقاعد جمع مقعدة معنایې ده ځای د ناستي، لکن دلته مقاعد په معنی د نفس ځایو دی یعنې په ځایو کې د انتظار وحکم ته د جنګ، چې په پښتو ځاینو ته تیارسئ ورته وایي.

پوه سه: چې واقعه د احد د جنګ چې په کتابو کې د احادیثو راغلې ده په دې دول وه چې مشرکان د مکې په مشرۍ د ابو سفیان لپاره د مکافات د ورځې او د جنګ د بدر چې په هغه غزا، کې اویا کسه سرکرده د مشرکانو د مکې د ابو جهل په شمول ووژل سوه، او اویا کسه یې ژوندي ونیول سوه. نو دغه مشرکان په دې ډر ساز وسامان د خپلو مړو د کسات لپاره په ورځ د چارشنبې په احد کې چې د یوه غره نوم دی نژدې ومدینې منورې ته خیمه زن سوي وه. نو علیه الصلوة والسلام په باره کې د جنګ له اصحابو کرامو ﷺ سره مشوره کوله او په دې مشوره کې یې عبدالله بن ابي بن سلول منافق هم راوغوښتی، نو عبدالله بن ابي او نورو دې ډرو نفرو د انصارو وعلیه الصلوة والسلام ته داسي مشوره ورکړه چې یا رسول الله د مدینې له بنار څخه د جنګ ومیدان ته مه ورووځه. او د مدینې منورې د سرایو بامونه د خپل ځان لپاره سنګر وګرځوه. پرهرده دغه مشرکان نو دوی که په دغه احد کې پاته سي نو تر کومه به دوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دلته پاته وي اخير به په سبب د تمامېدو د نفقې بيرته مکې ته ستانه سي خائبين او احد به تر هغو ودوی ته بنډي خانه وي تر څو چې دوی ځندي ځي. او که دوی پر مدينې يرغل راوړی يعنې د جنګ لپاره بنار ته داخل سي. نو لويان خلګ مسلمانان به مخامخ جنګ ورسره کوي. او کوچنيان او ښځي به يې له بامو څخه په ډبرو ولي. نو په دې توګه به دوی شکست او عقب نشينی او فرار ته مجبوره سي، او بعض مسلمانانو چې اکثره يې مهاجرين وه داسې وويل چې موږ ومیدان جنګ ته ددې سپو وروباسه چې دا خيال ونه وهي چې موږ بزدله يو، نو عليه الصلوة والسلام وويل چې ما وليده په خوب کې يوه پرکی د غويو چې زما پر شاوخوا ذبح سوه او ما وليدی په مخ کې د توري څپل ثلماً ای کسراً نو ما يې تاويل په شکست زموږ وکړی، او ما په هغه خوب کې وليدل چې ما لاس داخل کړی په محکمه زغره کې، نو ما يې تاويل وکړی په مدينه سره، نو که ستاسي خوښه وي موږ په په بنار کې د مدينې ورته پاته سو دوی به پرېږدو هرڅه چې کوي يعنې که عقب نشيني کوي او که پر مدينه يرغل راوړي، نو هغه کسان چې د بدر په غزاء کې نه وه شامل سوي او د شهادت خمار يې په سرو کې و، داسې يې وويل اخرج بنا الى اعدائنا طلباً للسعادة والشهادة، نو دې کسانو پر عليه السلام ډېر اصرار وکړی چې موږ د جنګ وډګر ته وروباسه، نو عليه الصلوة والسلام د عائشې ﷺ په خونه ننوتی او خپله زغره يې واغوستل او خول يې پر سر کړی او د غشو بغل ځولی يې پر وډه وځړول او توره يې واخستل، نو صحابه ورڅ چې عليه الصلوة والسلام په مذکوره جنګي لباس کې وليدی دوی پښېمانه سوه او يو له بل سره يې وويل چې موږ ډېر بد کار وکړی چې عليه الصلوة والسلام ته مو د جنګ مشوره ورکړه او سره ددې چې وعليه الصلوة والسلام ته د وحي دروازه خلاصه ده، نو دوی ورته وويل "يا رسول الله افعل ما رئيت واراک الله" نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې نه ښايي نبي لره چې خپله زغره واغوندي او پيرته به يې کاږي بېله جنګه، نو مشرکان چونکه احد ته د شهار شنبې په ورځ را

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رسېدلي وه، او د پنجشنبې په ورځ هم دلته وه. او علیه الصلوة والسلام د جمعې په ورځ چې د جمعې لمونځ یې وکړی له مدینې منورې څخه د احد پر خوا روان سو، او یو سړي ته د انصارو یې چې وفات سوی و د جنازې لمونځ ورکړی، نو سهار په یوې شپلې کې د احد په ورځ د شنبې پر پنځلس د شوال کال دریم هجري ور داخل سو. نو پر خپله اوښه باندې علیه الصلوة والسلام سپور و او اصحاب کرام رضی الله عنهم یې صفونه صفونه کړل که د یوه ځېګر به ټر صف وتلی و علیه السلام به ورته ویل اخر، او په یو طرف کې د هغې شپلې یې وارول، او خپل او د عسکرو شا یې د احد وخوا ته کړه. او علیه الصلوة والسلام پنځوس کسه په مشرۍ د عبدالله بن جبیر رضی الله عنه د دوو غرو د منځ په دره کې کښېنول، او ورته وه ګې ویل چې په غشو سره زمونږ څخه دفعه د دښمن کوئ چې زمونږ تر شا را نه سي او مونږ په منځ کې ونه ګرځوي. او تاکیداً یې ورته وویل که مونږ کفارو ته شکست ورکړی تاسې به ځای نه بدلوئ چې ما سړی نه وي در استولی او که کفارو مونږ ووژلو هم به تاسې د کومک لپاره نه راځی، او چونکه علیه الصلوة والسلام ابن ابي په مشوره کې داخل کړی و، او عبدالله المذکور له قدیمو خلګو څخه و او رئیس د درو سوو منافقینو و او وه یې ویل چې علیه الصلوة والسلام د دوو ځوانانو په خوله وکړه او زما په خوله یې ونه کړه، نو ابن ابي وخپلو منافقینو ملګرو ته وویل چې څرنګه د جنګ ودګر ته نژدې سوو زه به ناري کړم چې راځی دا خو جنګ نه دی په قصد د ځان وژنه ده، نو دې سوه کسه ده جلا کړه او تخمیناً اووه سوه کسه وعلیه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام ته پاته سوه، نو په ابي پسي جابر اسلمي ﷺ ور ږغ کړه "انشدکم الله بنبیکم وانفسکم" ابن ابي ورته وویل "لو نعلم قتالاً لاتبعناکم" یعني که موږ دا جنګ پللی موږ به ستاسي متابعت کړی وایي لکن دا جنګ نه دی په قصد ځانونه وژل دي، په دې وخت کي دوو قبیلو د انصارو چي مخلص مسلمانان وه یعني بنو سلمه د خزرج د قبیلې او بنو حارثه د اوس د قبیلې چي دغه دوې قبیلې دوه وزر وه د لښکر د علیه الصلوة والسلام قصد یې دا وکړی چي کاشکي موږ هم متابعت د ابن ابي وکړو یعني له لښکر څخه ووځو. لکن چونکه مخلص مسلمانان وه خدای ﷻ له متابعت څخه د ابن ابي منافق وسائله کما سیأتي في القرآن صراحةً.

دروښ وایي: چي صحیح راویان د قصې وایي چي څنګه چي جنګ شروع سو یو په بله پسي علم برداران د کفارو وژل کېدل او کفارو ناچاره شکست وکړی حتی راوي وایي چي هغه ښځي چي کفارو له ځان سره راوستلي وې ما ولیدلې چي ځغاستلې په غره کي یې پایځې راپورته کړي وې پای زېبونه یې معلومېدل، نو هغو پنځوسو کسانو د عبدالله بن جبیر ﷺ په مشری د درې په خوله کي ناست وه او دا شکست د کفارو چي یې ولیدی سره نارې یې کړې یا قوم الغنیمة یعني اې قومه درځی چي غنیمتونه سره جمع کړو، ددوی په خیال دا شکست داسي ورغلی لکه د بدر د غزا، هر څه چي عبدالله ﷺ د علیه الصلوة والسلام وصیت ورپیاداوه یعني چي تاسي به دا مرکز نه خوشي کوئ، خو هغو ونه منل او څورلس کسه د عبدالله ﷺ سره پاته سوه نور ټوله راکښته سوه. خالد بن ولید چي په هغه وخت کي مسلمان سوی نه و د دوو سوو کسو سره پر هغه دره راغله او هغه څورلس کسه صحابه کرام ﷺ یې پر هغه ځای شهیدان کړل. او راغله د شا له خوا یې پر مسلمانانو حمله وکړه او مسلمانان د جنګ په منځ کي سوه او جنګ ډېر شدت اختیار کړی، او خدای ﷻ په سبب د مخالفت د مسلمانانو یعني چي هغو پنځوسو کسانو وکړی د شکست خورده کافرانو زړونه یې قوي کړه چي په نتیجه کي یې یو په بله پرله پسي مسلمانان په شهادت ورسېدل چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کفار په عدد کې تر مسلمانانو پېځې ډېر وه یعنې درې زره کسه وه. راوي وایي چې علیه الصلوة والسلام خپله تووره واخسټل او وه یې ویل چې ځوک به ددې تورې حق پر ځای کړي یعنې چې د کفارو سره جنګ په وکړي. نو ابو دجانه ﷺ هغه تووره واخسته او په ملګرتیا د ځو کسانو یې سخت جنګ وکړی. وقاتل علي ﷺ حتی چې تووره یې کړه سوه. وقاتل سعد بن ابي وقاص ﷺ وقال النبي ﷺ یقول للسعد ارم فداک ابي وامي. راوي وایي چې په دې وخت کې جنګ ډېر تود سو. نو اصحاب کرام ﷺ د علیه الصلوة والسلام له یو ځایه او بل ځایه د جنګ په سبب له علیه السلام ځخه متفرق سوه حتی چې د علیه الصلوة والسلام سره اووه کسه انصار او دوه کسه مهاجر پاته سوه. او کفارو ته چې دا معلومه سوه چې علیه السلام دلته دی. نو ابن قمیة ملعون علیه الصلوة والسلام په غټه ډبره وویشتی چې سر مبارک یې مات سو او د مخ د ځلورو غاښو ځخه یې ځم یو غاښ مات سو. نو ابن قمیة چې قصد وکړی چې علیه الصلوة والسلام مړ کړي. نو مصعب بن عمیر ﷺ چې صاحب الرائیة و ځان پر وغوړاوه حتی چې ابن قمیه مصعب شهید کړی. دده دا خیال سو چې ګواکه ما علیه الصلوة والسلام مړ کړی فنادی باعلی صوته الا ان محمداً قد قتل. دا نعره چې مسلمانانو واورېدل زړونه یې له کوګله وختل او لهرې مسلمانانو ته چې په جنګ اخته وه د علیه الصلوة والسلام هیڅ درک نه معلومېدی حتی نضر بن انس ﷺ وایي چې ما په میدان کې د جنګ عمر ﷺ ولیدی چې ناست و خپل پښې یې کښېکښلي ما ورته وویل چې عمره ځه کیږي چې ناست یې ده راته وویل چې تا نه واورېدل چې علیه الصلوة والسلام شهید سو. نو بالا جنګ ځه کوو. نضر ورته وویل چې علیه السلام چې شهید سو نو بالا ژوند ځه کوو. عمر ﷺ وایي چې نضر ﷺ وویل چې درولاړ سه چې جنګ وکړو. عمر ﷺ وایي چې زه ورسره ولاړ خو سوم لکن ما دونده طاقت نه درلودی چې دده سره تر پایه ملګری سم. راوي وایي چې د نضر بن انس ﷺ مړی چې وروسته پیدا سو اتیا ټپه ورباندې وه د نېزې او د غشو او د تورو. او توله ټپونه یې دمخ وخواته وه. راوي وایي چې د علیه الصلوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسلام سره یو ازي طلحة بن عبید الله ملګری پاته سو، او هر د توري واري چې به چا پر علیه الصلوة والسلام کاوه طلحة به لاس ورته نیوی چې د هغه په اثر د طلحه دوې ګوتي شلې سوې او څلورو بښت ځایه تپې سو، اخیر الامر پر علیه الصلوة والسلام د ډبرو وینو د بهېدلو په سبب بېهوشي راغله، نو طلحة رضي الله عنه د خپلو تپو سره سره دی مبارک په شا کړی او د غره وخواته یې وړی، که به څوک پسې راغله طلحة رضي الله عنه به علیه الصلوة والسلام کښېښوی او د هغه سرې سره به یې جنګ کاوه، حتی چې اخیر یې غره ته پورته کړی، ولهذا قال رسول الله ﷺ اوجب طلحة یعني جنت یې وځان ته واجب کړی.

دروښ وایي: چې څه وخت چې د علیه الصلوة والسلام د شهادت آواز په کافرانو او مسلمانانو کې شائع سو حتی چې یوه له انصارو څخه چې نوم یې ابو سفیان و لویه نعره وکړه هذا رسول الله وهو حي فجمع نحو الصوت المهاجرون والانصار رضي الله عنهم.

دروښ وایي: چې د احد په غزاء کې دو اویا کسه شهیدان شوه چې په هغو کې سید الشهداء امیر حمزه رضي الله عنه هم شامل و چې یو مریي د وحشي په نامه دی وژلی و، او پزه او غوږونه یې څندي پرې کړي وه او نس یې ور څیرلی و او زړه یې څندي را کښلی و او چا په خوله کې زېښلی و.

دروښ وایي: چې راویانو د حادثې د احدوایي چې د ډبرو شهیدانو سره مثلت سوی و یعني غوږونه پرېکول او نس څیرل الی غیر ذالک اخیر الامر ابو سفیان چې دغه جنګ سپه سالار و جنګ یې متوقف کړی او وه یې ویل چې د اوس لپاره دغه مړي د مسلمانانو بس دي، نو چونکه مسلمانانو ځانونه وهغه غره ته ورسول چې علیه الصلوة والسلام او مسلمانان پر هغه ځای جمع وه، نو ابو سفیان د غره د درې پر هغه بلې خوا کښېښتی سره د خپلو فوجیانو او پر جماعت د مسلمانانو یې نعره وکړه افي القوم محمد، علیه الصلوة والسلام وصحابه وو ته وویل چې ځواب مه ورکوئ، بیا یې ناره کړه افي القوم ابو بکر بن ابي قحافة، بیا علیه السلام ورته وویل چې ځواب مه ورکوئ، بیا یې ناري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړي افي القوم عمر بن الخطاب، بيا عليه السلام ورته وويل چي ځواب مه ورکوئ، نو ابو سفيان وويل دا کسان ځو ښه دی وژل سوي دي، نو عمر ﷺ بې طاقته سو ورناړې يې کړې يا عدوالله دا کسان ټوله ژوندي دي، ابو سفيان ورته وويل يوم بيوم بدر. او بيا يې وويل لنا العزى چي د يو بت نوم و، ولا عزى لكم، عليه السلام وويل الا تجيبوه صحابه کرامو ﷺ ورته وويل چي څه ورته ووايو عليه السلام ورته وويل ورته ووايست الله مولنا ولا مولى لكم. بيا ابو سفيان وويل اعل هبل چي د يو بت نوم و، عليه السلام وصحابه کرامو ﷺ ته وويل الا تجيبوه عليه السلام ورته وويل قولوا الله اعلى واجل، ابو سفيان ورته وويل چي تاسي به ووينئ چي ستاسي په مړو سره به مثلت کړه سوي وي د هغه مثلت نه ما امر ورکړی دی او نه په خوابدی يم. او ابو سفيان ورته وويل چې مورې او تاسي به په بدر صغراء کي "چي د يو بازار نوم و" بيا جنګ سره کوو، عليه الصلوة والسلام ورته وويل ان شاء الله تعالى، وروسته تر دې ابو سفيان کوچ وکړی او مسلمانان له غره څخه راشوه سوه او د خپلو شهيدانو او مړو په ښخولو يې پيل وکړی، چونکه دو اويا کسه شهيدان وه د ګردو ټپل ټپل قبرونه مشکل وه، نو عليه الصلوة والسلام امر وکړی چي شهيدان دي دوه دوه په يوه قبر کي سره د خپلو جامو ښخ کړل سي. نو چي قبر به جوړ سو هر دوه کسه چي به يې پکښې ښخول عليه السلام به ووېل ايهما اكثر اخذاً للقرآن فاذا اشير الى احد قدمه في اللحد، او عليه الصلوة والسلام ووېل انا شهيد على هؤلاء يوم القيامة يعنې پر دې چي دغو کسانو په لار کي د خداى ﷻ ځانونه قربان کړه.

پوه سه: چي د عليه الصلوة والسلام د سر مبارک وينه نه وه درېدلې. نو فاطمه ﷺ وروسته تر کوچ د ابو سفيان د جنګ وميدان ته راغله د خپل پلار د وينو د پرېولو لپاره، حضرت علي ﷺ اوبه په سپر کي ورته راوړې او دې مبارکي وينې پرېولې، چونکه په پرېولو سره به وينو زياتوب کاوه، نو دې د يوې بوريا ټوټه چي دلته موجوده وه وسوځل او د بوريا ايرې يې د عليه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام د مبارک سر پر ټپ کښېښولې نو وینه ودرېدل.

دروېش وایي: چې راویان د واقعې د احد د جنګ وایي چې دروسته د مدینې منورې له ښار ه دېرې ښځې د جنګ د میدان ډګر ته راغلې، یوه ښځه وه چې د هغې په دغه جنګ کې هم مېړه او هم ورور شهید سوی و، چې میدان ته د جنګ راغله او یې د علیه الصلوة والسلام پوښتنه وکړه چې آیا ژوندی دی. خلګو ورته وویل چې هو ژوندی دی، هغې ښځې په عربي دا بیت ووایه چې ترجمه یې داده

موږ دي تو له تر تا خار شو اې د دوو کونو سردار ه
ته ژوندی ګرځه جانانه سل دي ومره یو دي مه مره

تبصره: دروېش وایي چې دا ټوله واقعات چې رونما سوه د مخالفت د پنځوسو کسانو چې له امر نبوي ﷺ څخه یې خلاف مرکز خوشې کړی او د الغنیمة نارې یې وهلې.

یوه سه: چې ابو سفیان یو منزل ولاړی نو خلګ ته یې وویل چې موږ څه وکړه بری مو پیدا کړی لکن د سر خلګ لکه علیه السلام او ابو بکر او عمر مو پرېښول راځی چې بیرته ورستانه سو او د سر کسان یې ختم کړو، جبرئیل علیه السلام راغلی آنحضرت ﷺ ته یې وحي وکړې چې ابو سفیان بیرته د جنګ لپاره راستون سو تاسي هم د مدینې منورې څخه ور ووځی. علیه الصلوة والسلام چې دا خبر واصحابو کرامو رضي الله عنهم ته ووایه نو چونکه دوی د هر غمزده او تپیان وه وروتل د هر درونډ باندې پرېوتی، نو علیه الصلوة والسلام خپل جنګي صلاح په غاړه کړه او وه یې ویل چې زه به ور ووځم که څه هم یو ازې زما رقبه پاته وي وروسته اویا کسه نور پسې ووتل. تر یو ځایه چې ولاړه خبر ورکړه سو چې ابو سفیان بیرته له خپلې دعوی څخه پښېمانه سو. نو دوی هم را وګرځېدل.

تبصره: چونکه اسلام یجب جمیع ماقبله. نو ابو سفیان چې د دې ټولو شهیدانو په وخت کې د کفر ذمه واره و لکن چې ایمان یې راوړی ټولې ذمه واری یې ختمې سوې، یعنې هیڅ مسلمان وده ته پېغور لا هم نه دی ورکړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او داغه خالد بن وليد چې د احد د جنګ په وخت کې کافر و لکن اسلام يې راوړی ټوله ماجرا ختمه سوه بلکې د سيف الله په لقب سره مشال سو وعلى هذا فقس الاشخاص الاخر.

دروښ وايي: چې ابن اسحاق صاحب المغازي وايي چې د احد په شان کې شپېته آيته د آل عمران نازل سوي دي.

پوه سه: چې ځان جارول د اسلام په لاره کې په کوچنيانو کې هم تاثير کړی و، ولې چې راوي وايي چې عليه الصلوة والسلام چې خپل فوج معاينه کوی، نو د پنځلسو کالو په عمر کې هلکانو ته يې اجازه د شمول ورکړه چې عبدالله بن عمر، زيد بن ثابت، اسامه بن زيد، زيد بن ارقم، براء بن عازب، ابو سعيد خدري، اوس بن ثابت انصاري او رافع بن خديج ﷺ چې څورلس کلن و يو وار يې رد کړی بيا خلګو ورته وويل چې دا هلک نه غشي ويشتونکی دی نو يې قبول کړی. نو ثمره بن جندب ﷺ چې هغه هم څورلس کلن و ويې ويل چې عليه الصلوة والسلام رافع بن خديج ته اجازه ورکړه او زه يې رد کړم او سره له دې چې زه پر هغه غښتلي يم، نو عليه الصلوة والسلام دوی دوه په غېږ سره وروستل نو په غېږ کې سمره ﷺ رافع ﷺ غځار کړی نو سمره ﷺ ته يې هم اجازه ورکړه.

دروښ وايي: چې ټوله قصه د جنګ د احد فقير د مختلفو تفاسيرو او د مختلفو کتابو څخه د احاديث مبارکه وو سره جمع کړي ده، او شايد چې دا ټوله قصه نه په يوه تفسير کې او نه په يوه تاريخ کې څوک وويښي بېله تفسير ايوبي او دا د خداى ﷻ توفيق دی زما مېرانه نه ده. البته سعي او کوشش مې په دې باره کې ډېر کړی دی، شاعر وايي

بقدر الكد تكتسب المعالى ومن طلب العلى سهر الليالى

په اندازه د تکليف ته پيدا کوي رتبې، او څوک چې طلبوي بلندي شپې به رونوي

إِذْ هَمَّت طَّآئِفَتَانِ

چې قصد کړی و دوو ډلو. يعنې بني حارثه او بني سلمه چې د انصارو د قوم وه.

پوه سه: چې "اذهمت" بدل دی له "اذ غدوت" څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مِنْكُمْ

یعنې ستاسې د کامل مسلمانانو څخه. یعنې داسې نه وه ابن ابي واصحابه من المنافقین. نو ځکه خدای ﷻ د هغو رجوع نه کړه ذکر.

اَنْ تَفْشَلَا

الفشل الجبن والضعف، یعنې دوی بزدله سي یعنې له جنګ کولو څخه ډډه وکړي او د ابن ابي متابعت وکړي.

وَاللّٰهُ وَلِيُّهُمَا

او خدای ﷻ ددوی دوست دی یعنې چونکه دوی کامل مسلمانان وه، نو خدای ﷻ دوی له خطر څخه د رجوع وساتله.

وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿۱۲۲﴾

او پر خدای ﷻ دي توکل کوي مؤمنان، او تقدیم د جار او مجرور لپاره د حصر دی، یعنې بېله خدای ﷻ دي پر بل چا تکیه نه کوي. نو باید دوی په فرار د ابن ابي او منافقینو نه وایی تر فشل لاندي راغلي. په حدیث کي د جابر بن عبدالله ﷺ روایت دی چې دا آیت زمونږ په دوو قبیلو کي نازل سوی دی او دا قصد زمونږ موږ ته پېښور نه دی ولي چې خدای ﷻ زمونږ په شان کي وویل "والله ولیها" او ولایت د خدای ﷻ لوی غنیمت دی.

فائده: په ذکر کي د "مؤمنون" تنبیه ده چې مسلمان لره باید ایمان باعث د توکل پر خدای ﷻ باندي وي لانه ورد في موضع آخر "ومن یتوکل علی الله فهو حسبه"

پوه سه: چې توکل پر خدای ﷻ منافي د اسبابو ضروریه سره نه دی.

حکایت: ابراهیم خواص رحمه الله چې اول لمبر متوکل علی الله و لکن په سفر کي به دده سره یوه سترې او یو څو تارونه او یوه مشکولا د اوبو او یوه غچي گرده عمر ملګري وه، نو یو چا پوښتنه وکړه چې ته خو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

متوکل یې نو دا شیان ولې درسره وي؟ ده ورته وویل چې د فقیر ځو یو جوت کالي وي. نو ګاهي وخت هغه کالي څېرې سي نو که ستن او تارو نه نه وي نو خو عورت د سړي بنکاره کېږي بیا خو یې لمونځ نه دی روا. او سړی په سفر کې ترې کېږي نو له اوبو څخه چاره نسته، نو که مشکولا د اوبو نه وي، نو په بعض دښتو کې به سړی چولاوه سي، او که غنچي نه وي نو د سړی برېښتونه به په خوله کې پراته وي وهو خلاف السنة.

حکایت: ابو حمزه خراساني رحمه الله وایي چې یو کال زه په سفر د حج روان وم په لاره کې یو وچ څاه و. زما فکر نه و چې یو دم ورولوېدم. نو زما نفس راته وویل چې نارې کړه ګوندي یو څوک پیدا سي او له څاه څخه دي را وکاږي، وروسته مي د ځان سره وویل چې بهله خدایه بل چاته استغاثه کوې؟ وروسته یو دوه کسه پر لار راغله یوه وهغه بل ته وویل چې دا څاه بېخي بد ځای په لار کې واقع دی راسه چې پر سر یې لرګي او ټلان ورکښېږدو چې څوک ور وه نه لوېږي. دوی چې په کار شروع وکړه یو وار زړه راته وویل چې ناره پر وکړه چې ما یو وار در وکاږي بیا د څاه ځوله ورپټه کړئ. بېرته مي ځان ته وویل چې وغیر ته د خدای ﷻ څرنګه استغاثه کوې، خیر خو هغو د څاه ځوله په ټلانو ورپټه کړه او زه دننه پاته سوم، وروسته یو شی پیدا سو او د څاه ځوله یې لڅه کړه او د یو حیوان پښه را وځړېدل او ماته یې ښورول یعنې چې لاس پوري تینګ کړه. ما لاس پوري تینګ کړی او له څاه یې را وکښلم، که ګورم هغه پرانګ و چې زه یې را وکښلم بیا رهي سو، وروسته هاتفي آواز راته وسو یا ابا حمزة الیس هذا احسن نجیناک بالتلف من التلف فمررت.

پوه سه: چې خدای ﷻ د مسلمانانو د تسلی لپاره د احد په جنګ کې هغه غزاء د بدر ورته ذکر کوي. چې دوی په هغه غزاء کې په حالت کې د قلت او ذلت وه بیا هم خدای ﷻ ودوی ته فتح ورکړه پر لوی عدد د کافرانو د مکې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې عدد يې تخميناً زر کسه و، او د مسلمانانو عدد درې سوه دیارلس کسه و او صلاح يې هم کمه وه، او په نتيجه کې يې د ابو جهل په شمول اویا کسه ووژل سوه او اویا کسان ژوندي ونيول سول چې بيا په فديه سره خلاص سول.

وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ

او په تحقيق ستاسي سره کومک وکړی خدای ﷻ په بدر کې يعنې فتح او بری يې درکړی پر کافرانو د مکې.

پوه سه: چې بدر په نېږ د اکثرو مفسرينو د يو ځای نوم دی په منځ کې د مکې او د مدينې لکن مدينې ته نژدې دی، او ځوک وايي چې د ځاه نوم دی، او بعض وايي چې بدر د هغه سړي نوم و چې دا ځاه يې کښلی و دا قول د شعبي رحمه الله دی لکن نور اهل لغت له دې ځخه انکار کوي.

وَّاَنْتُمْ اَذِلَّةٌ

او سره له دې چې تاسي د بدر په موضوع او غزاء کې ذليل واست.

پوه سه: چې مراد له ذلت ځخه ضعف الحال وقلة المركب والسلاح دی، ولې چې دوی پر روايت مشهوره درې سوه دیارلس کسه وه او اویا اوښان ورسره وه چې په نوبت به پر سپر بدله او دوه آسان ورسره وه چې يو د مقداد ﷺ او بل د زبير بن العوام ﷺ و او تخميناً اته توري ورسره وې.

فَاتَّقُوا اللّٰهَ

نو تاسي له خدای ﷻ ځخه وبيرېږئ په ثبات کې په وخت کې د جنګ يعنې تښتئ مه او بې زړه توب مه کوئ.

لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۲۳﴾

او بنايي تاسي له دې چې تاسي دې شکر د نعمت د فتح د بدر په طاعت سره د خدای ﷻ ادا، کړئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِذْ تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ

چې تاويل ومؤمنانو ته يعنې د بدر په موضوع کې.

پوه سه: چې "اذ" ظرف دی د "نصرکم" قتاده رحمه الله وايي چې دا قول د علیه الصلوة والسلام د بدر په ورځ و چې اول خدای ﷻ امداد د زرو ملکو ورسره وکړی قال الله تعالی "فاستجاب لکم انی ممدکم بالف من الملائکة" وروسته يې بيا درې زره ملکي کړې او بيا يې پنځه زره ملکي کړې، کما ذکر في هذه الآيات.

پوه سه: چې ددې امداد د حاضرېدو سبب هغه حدیث د شعبي رحمه الله دی چې مسلمانانو ته په بدر کې چا داسي وويل چې کرز بن الجابر المحاربي چې هغه د هر جنګيالی سړی و او د هر لوی قوم يې درلودی هغه د مشرکانو مرستې ته راځي فشق ذالک علی المؤمنین، فانزل الله تعالی هذه الآيات.

أَلَن يَكْفِيَكُمْ أَن يُمِدَّكُمْ رَبُّكُم بِثَلَاثَةِ آلَافٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُنزَلِينَ ﴿١٢٤﴾

آيا ستاسي نه دی بس چې ستاسي کومک وکړي خدای ﷻ په درې زره ملکو سره چې له آسمان څخه به راکښته سي.

پوه سه: چې په قول د مظهري رحمه الله لفظ د "منزلين" په فتح د نون دی او په تشديد د زاء. يعنې د باب تفعيل دی لپاره د تکثير. يعنې زر ملکې دېرې دي. او نور قاريان يې ټوله په سکون د نون او په تخفيف د زاء وايي يعنې له باب څخه د افعال چې لپاره د دفعه دی. يعنې دفعةً واحدةً به راسي د ازر ملکې.

پوه سه: چې همزه د استفهام لپاره د انکار دی، نو چې پر نفي داخل سو اثبات يې کې لان نفي النفي يستلزم الاثبات کمافي کتب النحو، يعنې زر ملکې کافي دي، ولهذا قال الله تعالی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بَلٰٓى

لپاره د ایجاب د ما بعد النن آه. ای بلی یکفیهم یعنې زر ملکې کافي دي.

اِنْ تَصْبِرُوْا

او که تاسي صبر وکړئ پر جنګ له کفارو سره مع الذلة وقلة العدد یعنې اسبابِ د جنګ وقلة العدد.

وَتَتَّقُوْا

او له خدای ﷻ څخه وبیر پرئ چې مخالفت له امر څخه د رسول الله ﷺ وند کړئ.

وَيَاْتُوْكُمْ مِّنْ فَوْرِهِمْ هٰذَا

او که چېرې دا کفار راسي پر تاسي یعنې جنګ درباندي وکړي هم دا اوس دستي

فائده: فور" په لغت کي مصدر دی د فارت القدر فوراً یعنې ویشېدل کتیو فوراً نو چونکه کتیو چې پر جوش راسي نو چابک چابک اوبه پرله اوړي، نو "فور" استعاره وسرعت ته ده، والمعنی که راسي دا کفار في الحال سره د ضعف ستاسي چې درې سوه دیارلس کسان یاست او قوت د کفارو د جنګ نه لرئ من حیث العدد، ولي چې دوی علی الروایة المشهورة زر کسه وه ومن حیث کثرة السلاح معهم وقلته معکم واختلف القوم في الامداد بخمسة آلاف احصل ام لا، روی الشعبي رحمه الله ان المسلمین کانوا یخافون من امداد الکرز الی المشرکین فلما اجبن کرز ورجع الی وطنه لم یمدد الله المؤمنین بخمسة آلاف بزوال خوف المسلمین من امداد الکرز للمشرکین، وقیل قد وقع الامداد بخمسة آلاف ایضاً والتقید بالفور اتفاقي.

يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِيْنَ ﴿۱۲۵﴾

قرء مسومین بکسر السین علی صیغة اسم الفاعل وبفتحها علی صیغة اسم المفعول وکلاهما قرائتان متواترتان والمسوم من التسویم بمعنی علامه دار کردن، او ملکو علامه داره کړي وه خپل آسان په رنګه وړیو سره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې د تندي او د لکی په وهښتیانو پورې یې ورغوته کړې وې، ابن اسحاق روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام وویل واصحابو ته په ورځ د بدر "تسوموا فان الملائکة قد تسومت بالصوف الابیض فی قلانسهم مغافرهم" یعنې په خولیو کې او په خولو کې، او بعض مفسرین د "مسومین" ترجمه په ارسال سره کوي، روی عن عروة بن الزبیر ﷺ ان الملائکة کانت علی خیل بلق یعنې ملکې پر ابلقو اسانو سپرې وې، او ژړې لنګوتې یې تړلې وې، او بعض وایي سپینې لنګوتې یې تړلې وې، او شملې او چارخول د لنګوتو یې پر منځ د اوږو وه، قال قتاده ﷺ فصبروا یوم بدر واتقوا. فامدهم بخمسة آلاف. او حسن بصري ﷺ وایي چې پنځه زره ملکې الی یوم القیامة د مسلمانانو سره په غزواتو کې شاملېږي لکن په شرط د صبر او تقوی.

دروښ وایي: چې دا دوه شرطونه په مسلمانانو غازیانو کې د موجوده زمانې کالعنقاء خصوصاً التقوی کما هو الظاهر من ان یخفی، ابن عباس ﷺ او مجاهد ﷺ وایي چې جنګ نه دی کړی ملکو مګر نه په ورځ د بدر، او په نورو غزواتو کې ملکې رائي مګر جنګ نه کوي صرف او صرف عدد د مسلمانانو په ستر ګو کې د کافرانو زیاتوي تاچې کافران وېرېږي او شکست وخوري، او دې پر علماء وایي چې خدای ﷻ وعده وکړه د مسلمانانو سره په ورځ د بدر ان صبروا علی طاعته واتقوا محارمه ان یمدهم فی حروبهم کلها فلم یصبروا الا یوم الاحزاب چې غزوه د خندق یې هم بولي، نو په هغه غزاء کې خدای ﷻ کومک د ملکو ورواستاوه او کفارو ته یې د شپې شکست ورکړی پېله جنګه د مسلمانانو وسیئاتي بیان غزوة الاحزاب مفصلاً في موضعه. او داغه رنګه په جنګ او غزاء کې د بني النضیر او بني قریضه خدای ﷻ دریې زره ملکې ورواستولې، د صحیح تاریخ راویان وایي چې څه وخت چې علیه الصلوة والسلام د خندق د غزاء چې غزوة الاحزاب یې هم بولي او خندق یې په دې بولي چې علیه الصلوة والسلام پر خپل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عسکرو خندق را گرځولی و. او غزوة الاحزاب یې په دې بولي چې ځو ډلې د کفارو ددې جنګ لپاره جمع سوي وې، یعنې یهود، نصاری او مشرکان چې تفصیل او پوره بیان به یې په خپل ځای کې راسي ان شاء الله تعالی. خو خدای ﷻ هغه احزابو ته شکست په سبب د ډېر تندباد چې ځاوري د خندق بې پر پاشلې او خیمې بې ځندي وړلې. اوښان او آسان به یې ایله کوله او د بلې خوا دري زره ملکي خدای ﷻ را استولې وې چې هغو به صرف د الله اکبر نارې وهلې د کافرانو په لښکر کې، نو د کافرانو دا خیال سو چې مسلمانان په موږ راګډ سوه، ددغو اسبابو پر بنا، احزاب د کفارو سره دربدره وتښتېدل او مسلمانانو څه شیان چې له هغو ځخه پاته سوي وه هغه یې د غنیمت په توګه سره راغونډ کړه، نو علیه الصلوة والسلام او مسلمانان په خیر او عافیت سره له فتحې مدینې منورې ته را ستانه سوه، نو علیه الصلوة والسلام چې کورته ورغلی مخ او سر مبارک یې په ګرځو سره پټ و، نو سر یې پرېولی او سلاح د جنګ یې له ځانه ځخه لېرې کړه او جبرائیل ﷺ ورته راغلی او ورته وه یې ویل "وضعتم اسلحتکم ولم یضع الملائکة اوزارها" یعنې تاسي خپله سلاح کښېښول او ملکو تر اوسه اوزار د جنګ نه دي اېښي، نو علیه الصلوة والسلام نعره وکړه چې را ووځی جنګ ته، او جبرائیل ﷺ ته یې وویل چې پر کومه خوا به ځو؟ جبرائیل ﷺ ورته وویل چې بني نضیر او بني قریضه ته ځو.

پوښتنه: چې سبب ددې حملې پر قریضه او نضیر پسله له جنګه د احزاب فوراً څه و؟

ځواب: بني نضیر او بني قریضه وو له علیه الصلوة والسلام سره عهد کړی و چې موږ بېطرفه ژوند کوو یعنې نه ستا سره شاملېږو چې ته له کفارو سره جنګ کوې، او نه د کفارو په فوج کې داخلېږو چې ستا سره جنګ وکړو، لکن دوی چې ولېدله چې اقوام د کفارو ډېر د علیه الصلوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسلام سره د جنګ لپاره راغونډ سوه یعنې په غزوة الاحزاب کې نو ددوی زعم باطل دا و چې علیه الصلوة والسلام او اصحاب ﷺ او دین د اسلام خواه مخوا به دا وار ختم سي، نو ځکه نضیر او قریضه په پته د کفارو د احزابو سره شامل سوه. نو په هم دې سبب دستي حمله پر وسوه، او خدای ﷻ د علیه الصلوة والسلام چې ملکې ورسره وې چې حمله یې وکړه او قریظه او نضیر یې هم فتح کړه ولله الحمد، نو جنګ زده مسلمانانو ته غنیمت علی غنیمت په لاس ورغلی، تفصیل ددې فتح به پر خپل ځای راسي ان شاء الله تعالی.

دروښ وایي: چې بعض مفسران وایي چې دا قول د خدای ﷻ ﴿اذ تقول للمؤمنین الن یکفیکم ۞﴾ په ورځ کې د احد نازل سوی دی چې خدای ﷻ د ملکو د کومک وعده ورسره کړې وه "ان صبروا واتقوا" نو دوی صبر ونه کړی او د علیه الصلوة والسلام د امر مخالفت یې وکړی یعنې مرکز یې خوښي کړی کمامر تفصیله عنقریب، نو خدای ﷻ هم کومک د ملکو ورسره ونه کړی.

پوه سه: چې دا شان نزول مخالف له سیاق څخه د مخ د آیتو دی، ولې سیاق خو تهوله د بدر په غزا کې و کمامر فاین الاحد.

وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ

او نه دی ګرځولی دا امداد خدای ﷻ د ملکو.

إِلَّا بُشْرٰى لَكُمْ

مګر نه زېرې ستاسي لپاره په نصر سره.

وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوبُكُمْ بِهٖ ۚ

او چې مطمئن او آرام سي ستاسي زړونه په دې امداد سره، نو به تاسي بېقراري او جزع نه کوئ، له سببه د کثرت د کافرانو او د قلت خپل، ولې چې د انسان طبع داده چې اسباب ښه برابروي نو یې زړه پر قراره کېږي او د فتح او ظفر امید یې ډېرېږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ﴿١٢٦﴾

او نه دی فتح او بری یعني في الحقیقة مگر له جانبه د خدای ﷻ چې دی غالبه دی چې هر کار ته یې اراده سي هغه کار کړي او چې په هر کار کې حکمت لري که نصر دی او که خذلان چې نصر یې موجب د شکر دی پر بندګانو، او خذلان یې موجب د صبر دی، والحاصل انه لایجب علی الله شیئ بل الکل بمحض مشیته تعالی وحکمته ولااعتبار لکثرة العدد والسلاح وقلتها في الحروب لان الاسباب الظاهرة کلها عادیة وافعال العباد من الانس والجن والملائکة کلها مخلوقة لله تعالی علی ماهو المنهل العذب لاهل السنة والجماعة ومتوسط بین مذهبي الجبریة والقدریة ای المعتزلة کما هو مبسوط في کتب العقائد.

لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا

تاچې له منځه یوسي یعنې هلاک کړي په بدر کې یوه ډله له هغو کسانو څخه چې کافران دي یعنې مشرکین اهل مکه. تاچې داغسې خدای ﷻ هم وکړه چې اویا کسه له غټو کافرانو څخه د مکې چې په سر کې یې ابو جهل و د مسلمانانو په لاس مردار کړه سوه او اویا کسه یې د مسلمانانو په لاس کې بندیان سوه.

پوه سه: چې لام په "لیقطع" کې متعلق دی یا په "لقد نصرکم الله" پورې او یا په "یمددکم" پورې، او دا لام په معنی د "کی تعلیلي" دی ای فعل مافعل لیقطع آه.

أَوْ يَكْبِتَهُمْ

په صحاح کې وایي چې "کبت" ښرل د چا دي په سختی سره او مراد دلته ځندي هزیمت او شکست دی؟

پوه سه: چې کلمه د "او" لپاره د شک نه ده بلکې لپاره د تقسیم ده. والمعنی چې کفار مکه به دوه قسمه سي په بدر کې یعنې یوه طائفه به یې هلاک او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بنديان سي، او بله طائفه بې شکست خورده مکې ته وتښتېږي.

فَيَنْقَلِبُوا خَآئِبِينَ ﴿١٢٧﴾

نو دوی به ولاړ سي خپل وطن ته بېله دې چې ظفر او برى بې نوي پيدا کړى، او شکست خورده به وي. والخيبة هي الحرمان من المطلوب والفرق بينها وبين الياس ان الخيبة لاتكون الا بعد التوقع. واما الياس فقد يكون قبل التوقع وقد يكون بعد التوقع فنقيض الياس الرجا. ونقيض الخيبة الظفر.

پوه سه: چې خيبت سخت دى تر قتل ولي د قتل غم او درد يو ګړى دى او د خيبت درد او غم همېشه وي.

پوه سه: چې په غزاء کې د احد يو له رباعي غاښنو څخه د عليه الصلوة والسلام مات سو او مخ يې ټپي سو او وينې يې پر مخ را تويدلې. نو عليه الصلوة والسلام داسي وويل ﴿كيف يفلح قوم فعلوا هذا بنبيهم وهو يدعوهم الى الله تعالى﴾

دروېش وايي: چې ددې حديث روايت مسلم او احمد له انس ﷺ څخه کړى دى او دا کلمات نبويه يو قسم نښېرا وه د عليه الصلوة والسلام له خوا وقوم ته، نو دا ايت نازل سو.

لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ

پوه سه: چې صاحب د روح البيان تفسير د "شيئ" په اعتراض سره کړى دى يعنې ته حق د اعتراض يا د نښېرا نه لرې پر چا.

أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ

او يا به خداى ﷻ توبه قبوله کړي دداغو کافرانو د احد که ايمان راوړي لکه ابو سفيان او خالد بن وليد وامثالهم او يا به يې په عذاب کړي په اخرت کې که چېرې پر کفر مړه سي، روح البيان وايي چې جمله د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"اویتوب آه" عطف ده پر "اویکتبهم" باندې او معنا د آیتو یې داسې کړې ده چې خدای ﷻ مالک علی الاطلاق د احوالو ددې کافرانو، نو یا به یې هلاک کړي، او یکتبهم ویتوب علیهم ان اسلموا او یعذبهم عذاباً شدیداً في الآخرة ان اصروا علی الکفر، ولیس لک من امرهم شیئ انما انت عبد ما مور لانذارهم وجهادهم.

دروښ وایي: چې داسې تفسیر ډېر په زړه پورې او اسانه تفسیر دی. روح المعاني، مظهري، امام رازي او نور ګڼ شمېر مفسرینو یې هم تفسیر کړی دی چې د تولو حاصل دادی، روایت کړی دی احمد او بخاري له ابن عمر رضی الله عنه څخه چې یو وخت یعنې وروسته تر غزاء د احد رسول الله ﷺ داسې بښېرا وکړه ﴿اللهم العن ابا سفیان اللهم العن حارث بن هشام اللهم العن سهیل بن عمرو اللهم العن صفوان بن امیة﴾ نو دا آیت نازل سو تر پایه پورې ﴿لیس لک من الامر شیئ﴾ وروسته خدای ﷻ دغه نومورو کسانو ته هدایت وکړی او ایمان یې راوړی، حافظ ابن حجر العسقلاني رحمه الله وایي چې یو وار علیه الصلوة والسلام هغه خبره وکړه چې مسلم یې روایت کړی یعنې ﴿کیف یصلح قوم فعلوا آه﴾ کمامر سابقاً قریباً، او بیا دغه بښېرا "اللهم العن ابا سفیان آه" په لمانځه کې وکړه وروسته تر غزاء د احد فنزلت الآیة في الامرین یعنې "لیس لک من الامر شیئ" او سعید بن المسیب او محمد بن اسحاق صاحب المغازي رحمهما الله وایي چې څه وخت چې علیه الصلوة والسلام او مسلمانانو ولیدل چې د مسلمانانو د شهدا ؤ سره د مکې کفارو ډېره بې عزتي کړې وه یعنې غوږونه یې ځندي پرې کړي وه او نسونه یې ور ځیرلي وه او مردانه ذکر وغیره یې هم ځندي غوڅ کړي وه او پزې یې هم ځندي پرې کړي وې وغیره من المثلات العدیدة، نو علیه الصلوة والسلام او مسلمانانو داسې وویل که موږ ته خدای ﷻ پر دغو کافرانو د جنګ د احد یو وخت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بری راکړی "یعنون ابا سفیان وامثاله" نو مونږ به هم ددوی سره داسي کارونه وکړو او داسي مثلت به ورسره وکړو چي هیڅ چا د عربو نه وي اورېدلی. فانزل الله "لیس لک من الامر شیئ الی اخیرها. او بعض مفسران وایي چي رسول الله ﷺ اراده وکړه چي ښېرا د استیصال وکافرانو ته د احد د جنګ وکړي، نو دا آیت نازل سو "لیس لک من الامر شیئ الی اخیر الآیات" ولي خدای ﷻ خبر و چي ډېر له کافرانو څخه چي په جنګ کي موجود وه وروسته به مشرف بالایمان سي کمامر عنقریب.

فَإِنَّهُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿١٢٩﴾

دا دلیل دی د تعذیب.

فائده: په آیت سابقه کي "شیئ" اسم د "لیس" دی، او "لک" خبر دی او "لام" په معنی د "الی" دی کما في قوله تعالی "منادیاً ینادی للایمان ای الی الایمان" او لفظ د "من الامر" حال دی له "شیئ" څخه قدم علیه لتنکیره کماهو القانون النحوي.

دروښ وایي: چي یو عجیب تفسیر ددې آیتو هغه دی چي له فراء نحوي څخه منقول دی، هغه وایي چي کلمه د "او" في قوله "اویتوب علیهم" په معنی د "حتی" ده، او ابن عیسی وایي چي په معنا د "الا ان یتوب" دی کما في قوله القائل لمدیونه لالزمنک او تعطیني حقي، یعني زه به ستا څخه نه جلا کیږم حتی یعطیني حقي په قول د فراء "او الا تعطیني حقي" په قول د ابن عیسی فمعنی الآیة ههنا لیس مفوضاً الیک من امرهم ای کفار احد من التعذیب او الانجاء شیئ حتی یتوب علیهم او الا ان یتوب علیهم بالاسلام فتفرح بهم او یعذبهم بقتلهم فتشقی قلبک منهم.

دروښ وایي: چي صاحب د روح المعاني دا احتمال هم په تفسیر کي د "لیس لک من الامر شیئ او یتوب علیهم او یعذبهم" راوړی دی بلکي روح المعاني والا اصل تفسیر هم دغه بللی دی. حیث قال في تفسیر قوله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعالى "اويتوب عليهم او يعذبهم" عطف على الامر باضمار ان المصدرية ليكون او يتوب عليهم او يعذبهم بتاويل المصدر اى التوبة عليهم او يعذبهم، والمعنى ههنا اى ليس لک من امرهم او من التوبة عليهم او من تعذيبهم شيئ فان الامور كلها بقدرة الله و اورد عليه العلامة التفتازاني رحمه الله في حاشية الكشاف انه يلزم على هذا عطف الخاص اى التوبة والتعذيب على العام اى من امرهم بكلمة او ومثل هذا العطف لايجوز عند النحاة انتهى مع اختصار وزيادة. واجاب عنه بعضهم بجواب لايرضى بسماعة الاذن الكريمة.

دروېش وايي: چې عجبه ده زما حاسدين علماء وايي چې عبيد الله صرف ناقل دی او تفسير مظهري ددوی په نېز مقبول دی يعنې ثناء الله رحمه الله چې مصنف د تفسير مظهري دی هغه مجتهد في التفسير دی ، وروڼو حاسدانو تاسي تفسير مظهري په دې ځای کې او تفسير روح المعاني او حاشيه د علامه تفتازاني رحمه الله مطالعه کړئ، بيا فيصله تاسي وکړئ چې مظهري رحمه الله ناقل دی او که نه صرف فرق دادی چې دروېش حواله وماخذ ته د خپل تفسير کوي، او مظهري حواله هم نه کوي بلکې د مطالعه کونکو په خيال دا ورکوي چې دا خبري زه له خپل اجتهاد څخه کوم، او دوريش که له مظهري څخه يو ځای نقل کوي وايي وفي التفسير المظهري، او يقول او بقول المظهري رحمه الله، نو حاسدانو محاکمه تاسي ته سپارل کېږي.

پوښتنه: ستا له خبرو څخه داسي معلومېږي چې ته تفسير مظهري غندې او چندان تفسير يې نه بولې؟

ځواب: حاشاً لله من ذالک بلکې زما غرض دادی چې حاسدان پر ما عيب د نقل ولي وايي او سره له دې چې نقل په کتابو کې که تفاسير وي او که نور کتابونه مروج دي، تفسير مظهري مې شاهد ددې دعوې وګرځاوه په دې معنا چې تفسير مظهري په علماؤ کې مقبول تفسير دی او زما په نېز

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هم مقبول دی، ولي چې زه هم نقل ځندي کوم او په عين حال کې تفسير مظهري هم ناقل دی د نورو تفاسيرو ځخه لکه تفسير روح المعاني فيما نحن فيه يا بغوي وغيره، او سره له دې چې تفسير مظهري د قول منقول د بل تفسير وهغه ته نسبت نه کوي وغايته ان يقول وقيل، او دروېش په نقل نسبت وماخذ ته کوي، نو ولي پر ما عيب د نقل حاسدان وايي.

وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۗ يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ۗ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝

او خدای ﷻ لره دي هغه شيان چې په اسمانو کې دي او هغه شيان چې په مځکه کې دي خلقاً وملکاً هيڅ څوک دخل نه پکښې لري، او خدای ﷻ بخښنه کوي پخپل فضل او احسان سره هغه چاته چې اراده يې سي يعنې وروسته تر توفيق واسلام ته خواه وروسته تر اسلام له معاصيو ځخه توبه وکاږي او که نه، او عذاب ورکوي هغه چاته چې اراده يې سي.

پوه سه: چې له دې آيت ځخه صراحةً دا معلومه سوه چې تعذيب د عاصي چې بې توبې مړ سي پر خدای ﷻ نه دی واجب کما يقوله المعتزلة بلکې مغفرت يې فضل دی، او تعذيب يې عدل دی.

فائده: مغفرت يې دمخه کړی پر تعذيب لما ورد في الحديث القدسي سبقت رحمتي على غضبي. او خدای ﷻ غفور او مهربان دی. نو بنده او مسلمان لره په کار ده چې داسي اعمال وکړي چې جلب د رحمت د خدای ﷻ وده ته وکړي، او مسلمان بايد په سبب د خپلو بدو عملو د خدای ﷻ له رحمت ځخه نا اميده نه سي، فانه قد ورد ﴿لا ييأس من روح الله الا القوم الكافرون﴾

فائده: خدای ﷻ و داؤد ﷺ ته وحي وکړې چې ته زهری وکړه وگناه کارانو ته او وه بپروه صالحين د بندگانو، داؤد ﷺ وويل ای رب کيف ابشر الخاطئين وانذر الصديقين والصالحين.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې د داؤد عليه السلام په خيال کې داوه چې معامله بايد بالعکس وای، خدای پاک ورته وويل چې گناه کار ته دا زپری ورکړه چې پر ما درنه نه واقع کېږي بخښنه د گناه ولو کانت کبيرةً، او صديقين په دې وبېروه چې عجب او خود بيني دي په اعمالو سره نه کوي، بلکې خپل اعمال حسنه دي د خدای ﷻ توفيق وبولي او شکر د خدای ﷻ دي وايي، له ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې زه يوه ورځ ورغلم و عليه الصلوة والسلام ته او ومي ليدل چې عليه الصلوة والسلام ژاړي، نو ما ورته وويل ما يبکيک يا رسول الله؟ عليه الصلوة والسلام وويل چې ماته جبرائيل عليه السلام راغلی ان الله يستحي ان يعذب عبداً قد شاب في الاسلام فکيف لا يستحي من شاب في الاسلام ان يعص الله.

فائده: صوفيه کرام وايي چې که د چا زړه زنګ د ګنهو نيولی وي، نو علاج يې تلاوت د قرآن او ذکر د خدای ﷻ او درود پر نبي عليه السلام دی، او بهترين د اذکارو کلمة التوحيد ده لا اله الا الله وهي العروة الوثقى، او ابراهيم خواص رحمه الله وايي چې د زړه دوا پنځه شيان دي.

(۱) تلاوت القرآن سره له فکره په معانيو کې د قرآن.

(۲) نس بايد دپر له دوډی ډک نه سي.

(۳) صلوة الليل يعني التهجد.

(۴) والتضرع الى الله تعالى وقت السحر يعنې په سدس اخير کې د شپې.

(۵) ناسته ولاړه او محبت يې بايد د صالح بندګانو سره وي فبهذه يحصل تزكية الباطن.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا الرِّبَا أَضْعَافًا مُّضَاعَفَةً

اې هغه کسانو چې ايمان يې راوړی دی تاسي مه خورئ سود څو چنده مضاعف.

پوه سه: چې مراد له اکل څخه نفس اخذ د سود دی، او تخصيص د اکل يې له دې سببه وکړی چې اکثره سود په ماکولاتو کې دی لکه غنم اور

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بشي وغيرهما او بل له دې سببه چې عموماً غرض د سود خورو د ماکولاتو برابرول دي.

فائده: تخصيص د اضعاف چې په مضاعفة سره يې تاکيد وکړه سو، ددې لپاره يې وکړی چې د جاهليت د زمانې د خلګو دا عادت و. چې د يو سړي به پر بل سړي سل روپۍ باندي وې مثلاً په وعده د کال، نو وعده چې به پوره سوه مديون به روپۍ نه درلودې، نو دائن به ورته وويل چې دوه سوه روپۍ راکړه زه به يو کال بل درته وګورم ثم وثم الى آجالٍ كثيرةٍ، نو به دائن په عوض کې د سلو روپو اضعاف ځندي واخستل.

پوه سه: چې اضعاف جمع د ضعف ده حال دې له ريا څخه ای متضاعفاً، لکن چونکه جمع قلت وه او مقصود خو کثرت د اضعافو و نو ځکه يې وروسته لفظ مضاعفة پسې راوړی، او مضاعفة اسم مفعول دی مصدر ميمي نه دی.

مسئله: په اتفاق د ټولو مفسرينو او محدثينو او فقهاؤ رحمهم الله وايي چې اضعاف قيد د نهي د سود نه دی بلکې سود مطلقاً حرام دی بلکې دا قيد اتفاقي دی د بيان د حال د اهل جاهليت.

وَاتَّقُوا اللّٰهَ

تاسې وبپرېږئ له خدای ﷻ يعنې له عذاب څخه د خدای ﷻ في يوم القيامة نو سود مه کوئ وغيره مما نهاکم الله ﷻ.

لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝

"لعل" لپاره د ترجي دی والمعنى راجين الفلاح يعنې د قيامت په ورځ له عذاب څخه.

وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْٓ اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ۝

امام المسلمين ابو حنيفه رحمه الله وايي چې دا آيت اخوف د مافي القرآن دی من الآيات حيث او عد الله المؤمنين بالنار المعدة للكافرين ان لم يتقوا الربوا، قاضي بيضاوي رحمه الله وايي چې په دې آيت کې تنبيه ده پر دې چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوزخ بالذات معدة او جوړ سوی دی د کافرانو لپاره او بالعرض د عصاتو د مؤمنانو لپاره، تفسير مظهري وايي چې دا نعت لپاره د تخصيص دی او دی وايي چې نار چې د کفارو لپاره دی د هغه اور څخه جلا دی چې اراسته دی لپاره د عصاتو د مؤمنانو، والله اعلم بمراده والحق ماقاله البيضاوي رحمه الله، او روح البيان هم قول د بيضاوي تائيد کړی دی، او مظهري د روح المعاني څخه نقل کړی دی، لکن د روح المعاني نوم يې نه دی ذکر کړی، بلکې نسبت يې وځان ته کړی دی حيث قال وقلت آه.

وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿١٣٢﴾

او تاسي اطاعت او فرمانبرداري کوئ د خدای ﷻ او د رسول ﷺ په ټولو اوامرو او منهياتو کي خصوصاً في حرمة الربوا.

تنبيه: په دې آيت کي رد دی پر مرجيه وو باندي، ولي ددوی مذهب دادی چې سړه له ايمانه هيڅ معصيت ضرر نه لري.

فائده: اکثره مفسرين وايي چې کلمه د "لعل" او "عسى" په کلام کي د خدای ﷻ لپاره د تحقيق دی، او ظاهره داده چې وجوب پر خدای ﷻ نه فائده کوي بل يفيد الرجاء مع بقاء الخوف هذا ما قال المظهري رحمه الله.

پوه سه: چې امام قاشاني رحمه الله وايي چې عربي عبارت يې دادی لايخفى على الفطن مافيه من المبالغة في التهديد على الربا، حيث اتى بلعل في فلاح من اتقاه واجتنبه لان تعليق امكان الفلاح ورجائه بالاجتناب منه يستلزم امتناع الفلاح لهم اذا لم يجتنبوه ويتقوه مع ايمانهم.

دروښ وايي: چې له دې عبارت څخه د قاشاني رحمه الله دا معلومه سوه چې "لعل" په کلام د خدای ﷻ محمول پر خپل معنا دی يعنې ترجي مع الخوف دی او په معنا د تحقيق خواه مخواه نه دی کما قيل. او دا قول د قاشاني رحمه الله امتناع الفلاح لهم آه محمول دی پر مبالغه في التهديد على اكل الربوا وليس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مراده حقيقة الامتناع لانه يخالف مذهب اهل السنة. ثم قال القاشاني رحمه الله ثم اوعد عليه بالنار التي اعدت للكافرين مع كونهم مؤمنين.

دروښ وايي: چې له دې عبارت څخه دا معلومه سوه چې اور يو اور دی چې د دوزخ په نامه يادېږي لکه بيضاوي چې وويل على خلاف ماقال المظهري نقلاً عن تفسير الآلوسي المسمى بروح المعاني. ثم قال القاشاني رحمه الله فما اعظمها من مصيبة توجب اعقاب الكفار للمؤمنين وما اشده من تغليظ عليه ثم امد التغليظ بالامر بطاعة الله ورسوله تعريضا بان اكل الربوا منهمک، في المعصية لا طاعة له ثم علق رجاء المؤمنين بطاعة الله وروسوله اشعاراً بانه لارجاء للرحمة مع هذا النوع من العصيان يعني اكل الربروا فهو يوجب الياس لاكلة الربوا مع كونهم مؤمنين من رحمته تعالى فانظر كيف ادرج التغليظ في التهديد حتى الحقه يعني اكلة الربوا بالكفار في الجزاء والعقاب، انتهى بعبارته.

تبصره: دروښ وايي چې مراد د قاشاني رحمه الله بيان المبالغات والتشديدات الآلهيه دی في اكل الربوا، او دده د قول حقيقت نه دی مرادلان اكلة الربوا مع الايمان بحرمتها ليسوا بكافرين وليس لهم عذاب الابد في النار بل هو مذهب المعتزلة كما رئيت في كتب العقائد. والمبالغات في التهديدات لاتحمل على الظاهر، نعم تفيد غاية الخوف والله اعلم ﴿قال رسول الله ﷺ لعن الله آكل الربوا وموكله وشاهده وكاتبه ومحلله﴾

پوه سه: چې ربوا عبارت ده له طلب څخه د زيادت پر مال على الوجه الذي نهى الله تعالى عنه، او ربوا دوه قسمه ده، يو قسم ربوا د پور ده لکه د جاهليت عادت چې و کمامر سابقاً، او بل قسم ربوا د فضل ده، يعني زيادت غوښتل په مقابله کې د جنس په جنس سره لکه يو من غنم يا اوربشي يا خرما په دوه منه وركول الى غيرها من المطعومات او غيرها كما هو مذكورة في الفقه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې که جنس مختلف وي لکه غنم او اوربشي فضل يې روا دی او پور يې سود دې، يعنې يو په لاس بل په پور.

دروبش وايي: چې وقد اتفق العلماء على تحريم الربوا في القسمين او تفصيل د ټولو اموالو ربويه وو په فقه کې مطالعه کړئ، ولې چې دا مبحث ډېر طويل دی او د امامانو پکښې اختلاف هم دی.

پوه سه: چې باعث پر ربوا حرص د دنيا دی اضعافاً مضاعفةً الى ما لايتناهي، ولهذا قال عليه الصلوة والسلام لوكان لابن آدم وادیان من ذهب لاتبغى اليها الثالث ولايملاء جوف ابن آدم الا التراب، روى عن عبدالله بن سلام ﷺ للربوا اثنان وسبعون باباً وحوباً ادناها كمن آتى امه في الاسلام، كذا في تنبيه الغافلين

دروبش وايي: چې ددې حديث روايت روح البيان کړی دی والله اعلم بصحته يعنې پر دروبش به څوک اعتراض نه کوي.

وَسَارِعُوٓا إِلَىٰ مَغۡفِرَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ وَجَنَّةٍ

او تلوار وکړئ اې خلګو وبخښې ته د خدای ﷻ ستاسي، او وجنت ته، ابن عباس ﷺ وايي چې مراد مسارعت دی واسلام ته، نو معنا داده چې مخاطب په دې آيت سره کفار دي، او له هم ده ﷺ څخه روايت دی چې عکرمه ﷺ يې روايت کړی دی چې مراد توبه ده، نو دا روايت اشمل دی تر اول له دې سببه چې په آيت کې مخاطب کافران او مسلمانان دواړه ګرځي، اما الكافرون فبالتوبة عن الكفر واما المؤمنون فبالتوبة عن المعاصي، او علي ﷺ وايي سارعوا الى اداء الفرائض، يعنې القلبية وهي الايمان وسائر المعتقدات والبدنية كالصلوة والصوم، والمالية كالزكوة والمجتمعة منها كالحج، وروى عن انس بن مالك ﷺ هي التكبيرة الاولى من الصلوات الخمس.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې ددې اقوالو مرجع ويوه يوه شي ته ده، والمعنى في الكل سارعوا الى مايستوجب جهت المغفرة ودخول الجنة فكل ذكر النوع الاحسن عنده في الامور الدينية ولاريب ان بعض هذه الاقوال اشمل من بعض كما لا يخفى على المتامل فيها.

عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ

ای فراخي د جنت لکه فراخي د اسمانو او د مځکي.

پوه سه: چې مراد له عرض څخه مقابل د طول نه دی بلکه مطلق سعت او فراخي ده.

پوه سه: چې د جنت اندازه په مجموع السموات والارض سره مجرد تمثيل دی لپاره د فهم د خلګو، ولي چې خلګو په ځايو کې فراخه تر اسمانو او مځکو بل ځای نه دی لیدلی او نه يې اوريدلی دی ورنه د جنتو وسعت او فراخي تر اسمانو او مځکو ډېر دی كما يدل عليه الحديث الذي اورده البغوي، سئل انس بن مالک عن الجنة افي السماء اوفي الارض قال انس رضي الله عنه فاي سماء والارض تسع الجنة فقيل فاين هي قال انس رضي الله عنه فوق السموات السبع تحت العرش.

فائده: دوزخ تر اوو مځکو کښته دی.

دروښ وايي: ولا يعلم مخلوق ربک الا هو، وقد ورد ولا يعلم جنود ربک الا هو.

اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ

اراسته سوی دی جنت لپاره د پرهېزګارانو.

دروښ وايي: چې لکه د پرهېز ګارانو کړه وړه چې سره مخالف دي دغه رنګه درجات د جنت هم مختلفي دي فالاعلى للاعلى ثم وثم. فماقال المظهري رحمه الله حقيقة التقوى وهم الذين اتقوا من شغل قلوبهم بغير الله ومن رزائل انفسهم ففيه ان هذا التقوى انما هي في خواص المؤمنين دون

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جميع اهل الجنة وماقال المظهري ويجرى فيه التاويلات كما جريا في النار التي اعدت للكافرين آه، ففيه انه قياس مع الفارق وقياس رحمة الله تعالى وفضله تعالى على غضبه وعقابه فتدبر.

الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ فِى السَّرَّآءِ

هغه كسان يعني متقين دي چې نفقه كوي پر فقراء او مساكينو په وخت كي د غنى وكثرة الاموال.

وَالضَّرَّآءِ

يعني په حال كي نقص الاموال قاله صاحب القاموس يعني په هيڅ حال كي له انفاق څخه ډډه نه كوي حسب الطاقة بقليل او كثير، بغوي رحمه الله وايي چې اول صفت د متقينو خداى ﷻ سخاوت ذكر كړى ولهذا قال رسول الله ﷺ السخي قريب من الله قريب من الجنة قريب من الناس بعيد من النار والبخيل بعيد من الله بعيد من الجنة بعيد من الناس قريب الى النار وجاهل سخي احب الى الله من عابد بخيل، رواه الترمذي عن ابي هريرة رضي الله عنه، وعن ابن عباس رضي الله عنه السخاء خلق الله الاعظم رواه البخاري.

پوه سه: چې په حديث نبوي كي چې روايت يې نسائي كړى دى او صحيح يې بللى دى، او ابن خزيمة يې هم روايت كړى دى، او ابن حبان او حاكم يې هم روايت كړى دى له ابي هريرة رضي الله عنه څخه چې عليه الصلوة والسلام وويل چې يو درهم تر يو لك درهمه يعني وقبول ته په دربار كي د خداى ﷻ ډېر دى، نو يو سړي ورته وويل وكيف ذالك چې دا سبقت د يوه درهم تر يولك درهمه څرنگه و؟ نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې يو سړى ډېر مال او نقود لري يعني لكه چې موږ وايو فلانى سړى كروړپتي دى، نو دې سړي يو لك درهمه راواخستل او په لاره كي د خداى ﷻ يې صدقه كړه، او بل سړى و فقط دوه درهمه يې درلوده، نو يو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې في سبيل الله ځندي خيرات کړی.

دروښ وايي: چې ددې سبب دادی چې کروړپتي ته خو په لکو روپۍ او درهمه ورپاته سوه او دوه درهمه والا ته فقط یو درهم ورپاته سو.

وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ

او د متقینو بل صفت چې دوی به نوشونکي د درد او غصې چې چاته یې په یو سبب ورسي مع القدرة علی نفاذه یعنې هغه غصه نوش کي او د هغه عذاب مستحق ته یې ورنه کړي، عن ابي هريرة ﷺ قال قال من كظم غيظاً وهو يقدر على انفاذه ملاء الله قلبه امناً وايماناً. رواه احمد وعبدالرزاق وعن ابن عمر ﷺ مرفوعاً من كف غضبه ستر الله عورته ای عيبه.

وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ ؕ

او عفوه کونکي دي ومتقینو خلګو ته خصوصاً المملوکین سوء الادب معهم، او زيد بن اسلم او مقاتل يې تفسير داسي کړی دی العافين عمن ظلمهم واساء اليهم، قال رسول الله ﷺ ان هؤلاء من امتي قليل الا من عصمه الله رواه الثعلبي، في تفسيره عن مقاتل والبيهقي في مسند الفردوس من حديث ابن مالک قاله الامام المظهري رحمه الله.

وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ۝

او د خدای ﷻ خوښ دي احسان کونکي خلګ او مسلمانان.

پوه سه: چې لام د "المحسنين" که لپاره د جنس سي نو هغه دمخه ذکر سوي دري ډلي هم پکښي داخلې دي، او که لپاره د عهد ذکر سي يعنې هغه دري ډلې ځندي مراد وي، نو که څه هم ځای د ضمير و يعنې "والله يحبهم" لکن اسم ظاهر يعني "المحسنين" چې په ځای کې راوړی لمدحهم لصفة الاحسان.

فائده: احسان الی الغير يا به په رسولو کي د نفع وي وهغه سړي ته او يا به دفع د ضرر وي له هغه څخه. نو ايصال النفع مراد ده په هغه آيت کي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"ينفقون في السراء والضراء" او په ايصال النفع کي تعليم د علم وطالبانو ته د دين هم شامل دی لکن بشرط عدم اخذ الاجرة منهم. او هدايت وجاهلانو ته کول او وعظ او تبليغ کول ويدخل فيه انفاق المال في وجوه الخيرات والعبادات، واما دفع الضرر عن الغير فهو في الدنيا ان لايشتغل باسائة الغير باسائة اخرى من جانبه، وهو المراد بقوله تعالى "والکاظمين الغيظ" وفي الآخرة هو ان يعفو عن ظلم من ظلمه باى نوع کان، وهو المراد بقوله تعالى والعافين عن الناس.

پوه سه: چې فضيل بن عياض وايي چې احسان د چا سره کول وروسته تر احسان د هغه مکافات دی، او بد د چا سره کول وروسته تر بدو د هغه مجازات دی، او احسان د چا سره وروسته تر بدو د هغه کرم او جود دی، او بد کول وروسته تر احسان د چا منحوس خوی دی.

دروښ وايي: چې غالباً داخوی په ښځو کي سته، ولي چې په حديث شريف کي چې روايت يې بخاري کړی دی راغلي دي چې ښځه له پوښتنې څخه پيدا سوې ده يعنې حواء ﷺ چې له چپه طرف له پوښتنې څخه د آدم ﷺ خدای ﷻ پيدا کړه، نو عليه الصلوة والسلام وايي چې پوښتنې که څوک غواړي چې سيده دې کړي نو خوا مخوا ماتوي به يې، يعنې که څوک غواړي چې ماينه زه پر خپل طبعيت راواړوم نو طلاقوي به يې، نو پر داغسې کاږه ډول به ژوند ورسره کوي په اخير کي عليه الصلوة والسلام وويل "فاستوصوا بالنساء خيراً او کما قال ﷺ.

حکايت: راوي وايي چې حسن بن علي ﷺ او د هغه مېلمانه پر سترخوان سره ناست وه چې نابېره د مريي له لاسه څخه د ښوروا کاسه د حسن بن علي ﷺ پر سر چپه سوه، نو مريي وويل "والکاظمين الغيظ" حسن ﷺ ورته وويل "قد کظمت" مريي وويل "والعافين عن الناس" حسن ﷺ ورته وويل "قد عفوت لک" مريي وويل "والله يحب المحسنين" نو حسن بن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علي رضي الله عنه ورته وويل "انت حر لوجه الله" او فلاني زما مينځه تاته په نکاح درکوم او د کور سامان دي هم پر ما دی، حضرت علامه عبدالرحمن الجامي رحمه الله وايي

جوان مردا جوانمردی بیاموز زمردان جهان مردی بیا موز
درون ازکین کین جویان نگه دار زبان از طعن بدگویان نگه دار
نکویی کن بآن که باتو بد کرد که آن بد رخنه در اقبال خود کرد
چو اثین نکو کاری کنی ساز نگردد جز بتو آن نیکوی باز

دروښ وايي: مظهري رحمه الله چې د هغه طويل حديث چې جبرائيل عليه السلام له عليه الصلوة والسلام څخه په حضور کې د صحابه کرامو رضي الله عنهم پوښتنې کولې، يعنې جبرائيل عليه السلام چې په صورت د يو سائل ورته راغلی و چې صحابه رضي الله عنهم د جبرائيل عليه السلام سوالونه او د عليه الصلوة والسلام ځوابونه اوري، په اخير کې جبرائيل عليه السلام ورته وويل "ما الاحسان" عليه الصلوة والسلام ورته وويل "الاحسان ان تعبدالله كانك تراه فان لم تكن تراه فانه يراك" دا اخيره ټوټه را جلا کړې ده او ددې آيت "والله يحب المحسنين" ترجمه کړې ده.

دروښ وايي: چې هغه حديث خو صحيح دی چې بخاري او مسلم يې روايت کړی دی، او د مشکوة په دوهمه صفحه کې مذکور دی، لکن هغه معنی د احسان دلته مراد نه ده، بلکې دلته ځندې دا مذکور کسان مراد دي يعنې "الذين ينفقون في السراء والضراء الى اخيره" والمظهري رحمه الله اقر به حيث قال اللام في المحسنين للعهد الخ.

دروښ وايي: چې وروسته امام مظهري رحمه الله په متابعت د مکتوبات د امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله بعض تصوفي خبرې کړې دي من شاء فليطالع تفسيره في هذا الموضع.

دروښ وايي: چې خداى عليه السلام چې د متقينو حالات بيان کړه، اوس بيا د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغو مسلمانانو حال بیانوي چې ملحق په متقینو سره دي یعنې بعد التوبة فقال ﷻ.

وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً

او هغه کسان چې وکړي فاحشه ګناه.

دروښ وایي: چې فاحشه که څه هم په غالب استعمال کې وزنی ته وایي لکن مراد څندي دلته ګناه کبیره ده چې په فحش والي یې لکه د زناء وي.

پوه سه: چې یو احتمال دادی چې دا موصول سره د خپلو صلو او د معطوفاتو پر صله او جمله معترضه دي مبتداء وي او جمله د "اولئک جزائهم آه" دي خبر وي، او بل احتمال دادی چې "والذین" تر پایه پورې دي معطوف وي پر متقینو باندې، نو پر دې تقدیر جمله د "اولئک جزائهم آه" جمله مستانفه ده، والاظهر الذي اختاره اکثر المفسرین هو الاحتمال الاول، یعنې دا موصول چې مبتداء سي او وروسته "اولئک جزائهم" یې خبر سي.

پوه سه: چې ابن مسعود ؓ ددې آیت شان نزول داسي بیان کړی دی چې یوه ورځ مسلمانانو و علیه الصلوة والسلام ته وویل چې بني اسرائیل تر مونږ پر خدای ﷻ ګران وه، ولې دوی چې به یوه ګناه پټه په کور کې وکړه، نو کفاره د هغې ګناه به پر دروازه ورته نوشته وه مثلاً اجدع انفک او اقطع اذنک الی غیر ذالک من الکفارات، یعنې زمونږ د ګنهو کفاره نه نوشته کیږي، نو علیه الصلوة والسلام یو ګړی ساکت و چونکه جبرائیل ؑ دا آیت راوړی "والذین اذا فعلوا فاحشة الخ" چې حاصل یې دادی چې ستاسي د ګنهو کفاره الندم والتوبة والاستغفار دی لا الکتابة علی الباب، والسر فیه ان الله قد فضل علی هذه الامة، نو دوی یې ونورو ته نه رسوا کوي، بلکې په پټه ګناه کې په پټه توبه کافي ده ولله الحمد.

دعاء: یا الله یا الله یا الله جل سلطانک وعظمت رحمتک لکه په دې دنیا کې چې دي مونږ پټ ساتلي یو او خلګو ته دي نه یو رسوا کړي خدایه ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په لویه ورځ د قیامت زموږ ګنهونه مه رسوا کوې، یوه شرمندګي ترتا پوري بس ده ومخلوق ته مو مه په دنیا کي او مه په اخیرت کي رسوا کوې بجاه نبیک محمد ﷺ.

او عطاء رحمه الله وایي چې دا آیت په شان کي د بنهان چې خرما غروش و نازل سوی دی چې د هغه دکان ته یوه بښانسته بنځه د خرما رانیولو لپاره ورغلې وه، نو بنهان وهغې ته وویل چې د دکان خرما بهکاره ده، او زما په کور کي ډېره بنه خرما سته، نو بنځه چې یې کورته بوتله نو هورې یې په غېږ کي ټینګه ونیوله او مچي یې ځندي اخستلې، نو بنځي ورته وویل اتقي الله، له خدایه ﷻ وبېرېږه، نو بنهان بنځه پرېښول او پر کړي کار هم پښېمانه سو، نو علیه الصلوة والسلام ته ورغلی او ټوله کار یې ورته بیان کړی، نو دا آیت نازل سو، او مقاتل او کلبي رحمهما الله وایي چې علیه الصلوة والسلام د دوو نفرو اصحابو رضي الله عنهم په منځ کي ورور ګلوي ور اچولې وه چې یو د انصارو د قبیلې و او بل د ثقیف د قبیلې و، نو ثقفي په یوه غزا، کي ولاړی او انصاري یې د خپل کور ناظر او فکر کونکی مقرر کړی، نو انصاري یوه ورځ غوښي د ثقفي د کور لپاره رانیولې، نو د ثقفي ماینې چې غوښي ځندي واخستلې، نو انصاري سمدلاسه پسې ورننوتی، نو صرف یې د ثقفي ماینه پر لاس مچ کړه، او دستي پښېمانه سو او د ثقفي له کوره ووتی، او خاوري یې پر سر او پر مخ اچولې، نو ثقفي چې له غزا، څخه راغلی نو د مدینې منورې ټوله خلګ واستقبال ته د غازیانو ور ورتلي وه، خو ثقفي دوري دوري وکتل خو خپل انصاري ورور یې ونه لیدی په خلګو کي، نو ثقفي چې خپل کور ته ورغلی نو له خپلې ماینې څخه یې پوښتنه وکړه چې ما هغه خپل انصاري ورور په استقبال کونکو کي ونه لیدی؟ نو د ثقفي ماینې ورته وویل لااکثر الله في الاخوان مثله، خدای ﷻ دي لکه انصاري نور داسي ډېر ورونه نه درکوي، د ثقفي ماینې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صورت حال د انصاري ټوله ورته بيان کړی، اوانصاري په غرو کې
ګرځېدی او بغاري يې وهلې تائباً مستغفراً، نو ثقفي پسې وګرځېدی او
انصاري يې پيدا کړی، نو دواړه اول وار ابو بکر صديق رضي الله عنه ته ورغله چې
ګوندې يو راحت او خوشحالي پيدا کړي، فقال الانصاري هلكتُ وذكر
القصة، نو ابوبکر صديق رضي الله عنه ورته وويل "ويحک اما علمت ان الله يغار
للغازي مالا يغار للمقيم" بيا عمر رضي الله عنه ته ورغله د ابو بکر رضي الله عنه رنګه خبري
يې ورته وکړې فانزل الله عنده هذه الآية.

أَوْ ظَلَمُوٓا أَنفُسَهُمْ

او يا ظلم وکړي پرخپلو ځانو.

پوه سه: چې مراد له "فاحشة" څخه کبائر ګنهونه دي، او مراد له "ظلموا
انفسهم" څخه صغائر دي عند بعض المفسرين كالقُبلة واللمس بالشهوة
او المعانقة لامرئة اجنبية بدون الزنى، او بعض مفسران وايي چې
"فاحشة" قولي ګناه ته وايي او "ظلموا" عملي ګناه ته وايي. او بعض
وايي چې "فاحشة" هغه ده چې وغير ته متعدي وي، او ظلم پر نفس هغه
دی چې متعدي نه وي وبل ته.

دروښ وايي: چې بهترين تفسير هو الاول دی وهو مختار اکثر
المفسرين رح.

ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ

نو يې خدای ﷻ ورپياد سي. يعني عذاب د خدای ﷻ للعاصين يعني نو
پر ګناه پښېمان سي او توبه وکاږي، نو طلب د بخښنې له خدای ﷻ څخه
وکړي، وقد ورد في الحديث الصحيح الندم هو التوبة. بعض مفسرين
وايي چې عين ممکنه ده چې له "فاستغفروا" څخه مراد صلوة استغفار وي
کما روى علي رضي الله عنه عن ابى بكر رضي الله عنه انه سمع رسول الله ﷺ يقول ما من عبد
مؤمن يذنب ذنبا فيحسن الطهور يعني الوضوء ثم يقوم فيصلى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رکعتین، او درود ووایي علی النبي ﷺ ثم یستغفر الله الا غفر الله له رواه ابو داوٗد و احمد والترمذي والنسائي وابن ماجه وابن حبان.

وَمَنْ يَّغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اللّٰهُ ۫

او نه بخښي ګنهونه مګر خدای ﷻ.

پوه سه: چي کلمه د "من" په معنا د استفهام انکاري ده تاچه استثناء مفرغ د الا الله څنډي صحیح سي، فالمعنی لایغفر الذنوب احد الا الله.

پوښتنه: څوک چي د چا یو مړی وکړي او یا د یو چا غیبت وکړي او یا بهتان الی غیر ذالک، نو هغه بل سړی سره له جنایته عفوه ورته وکړي نو هغه خو بخښنل کېږي، او دا بخښنه له جانبه د بنده ده؟

ځواب: مجني علیه خو تر خپل حقوق وجاني ته ور تپر سو، لکن ګنهونه او معاصي چي حقوق د خدای ﷻ وي لکه ترک الصلوة الی غیر ذالک هغه په عفوه د مجني علیه نه بخښنل کېږي، او بل ځواب دادی چي مجني علیه چي عفوه وجاني ته کوي دده غرض خو دادی چي خدای پاک به ماهم وبخښي. نو دی خو په حقیقت کي سوداګر دی. والغافر بلا عوض وغرض انما هو الله لیس الا.

پوښتنه: ددې جملې د آیت فائده څه ده؟

ځواب: دا خو جمله معترضه ده په منځ کي د معطوف یعني ولم یصروا، او معطوف علیه یعني فاستغفروا الله آه. فائده یې داده چي عموم د رحمت او مغفرت د خدای ﷻ ومسلمانانو ته بیان کړي، او باعثه کول دي د مسلمانانو پر طلب د بخښې او بیان دی د وعده الهي په قبول د توبې یو احتمال ضعیف داهم سته چي دا جمله یعني ومن یغفر الذنوب الا الله دي حال وي په تقدیر د قائلین ومن یغفر الذنوب الا الله وجه الضعف هو الاحتیاج الی التقدیر.

وَلَمْ يُصِرُّوْا عَلٰى مَا فَعَلُوْا

او دوی یعني ګناه کاران تینګ نه سي پر فعل د ګناه او دوام ور نه کړي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وهغې ګناه ته، ولې چې د ګناه کولو سره سره مغفرت له خدایه غوښتل لکه استهزاء په خدای ﷻ سره ده، العیاذ بالله.

فائده: ددې آیت په رڼا کې دا معلومه سوه چې عزم او ټینګ قصد کول پر ترک ګناه شرط دی د استغفار کالندم علی الفعل.

پوښتنه: د ګناه په پرېښولو سره او سره د ندم پر ګناه او سره د طلب د بخښې له خدایه څخه که له هغه سړي څخه بیا هغه ګناه صادره سول، نو حکم به یې څه وي؟

ځواب: قال رسول الله ﷺ ما اصر من استغفر یعني مع الندم وان عاد في الیوم سبعین مرةً رواه ابو داؤد والترمذي من حدیث ابی بکر الصدیق ؓ.

مسئله: ګناه صغیره سره د دوامه کبیره ګناه ده کما روی ابن عباس ؓ قال قال رسول الله ﷺ لاکبیرة مع الاستغفار ولا صغیرة مع الاصرار رواه الدیلمي في مسند الفردوس، کذا قال المظهري وروح المعاني.

وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٣٥﴾

پوه سه: چې دا جمله حال ده له ضمیر څخه د "لم یصروا" او معنا یې داده چې دوی چې ترک الاصرار پر معصیت کوي له دې سببه چې دوی علم پر دوی درلودی چې دا فعل د معصیت او ګناه ده.

فائده: که له سړي څخه زناء په سبب د کسالت طبعي پاته سوه او یا یوه ګناه په سبب د ببرې د بند ګانو ځندي پاته سوه او یا له بل سببه لاخوفاً من الله تعالی، نو هغه اهل د مغفرت نه دی او نه یې اصرار دفع کړې، ولې چې مغفرت خو مرتب پر کف د نفس دی بنیة الطاعة لا بمجرد الترک.

پوښتنه: عدم فعل الزناء مثلاً في الصور المذکورة جزاء یې لکه د زناء داسې ده او که څرنګه؟

ځواب: د زنا کولو جزاء خو نسته لکن د عزم صمیم د زناء جزاء ورلره سته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې بعض مفسرين د "وهم يعلمون" ترجمه داسې کوي چې دوی علم او يقين لري پر دې باندې که مورږ طلب د بخښې له خدای ﷻ څخه وکړو مورږ بخښي ويوړيده الحديث القدسي "انا عند ظن عبدي بي" او هم ددې ترجمې تائيد هغه حديث کوي چې متفق عليه د بخاري او مسلم دی. حضرت ابو هريره ﷺ وايي چې عليه الصلوة والسلام وويل "ان عبداً اذنب ذنباً فقال رب اني اذنبت ذنباً فاغفر لي" ما خو ګناه وکړه اې خدای ﷻ ته يې راوبخښې "فقال ربه اعلم عبدي ان له رباً يغفر الذنب ويأخذ به غفرت لعبدي" نو خدای ﷻ وايي چې زما بنده علم او يقين لري چې مالره رب سته چې ګناه وبنده ته وربخښي او په ګناه سره يې نسي هم، نو ما بخښه کړې ده ودغه بنده ته. ثم مكث ماشاء الله ثم اذنب ذنباً اى آخر فقال ربي اذنبت ذنباً آخر فاغفره لي فقال اعلم عيدي ان له رباً يغفر الذنب ويأخذ به قد غفرت لعبدي ثم مكث ما شاء الله ثم اذنب ذنباً فقال رب اني اذنبت ذنباً اخر فاغفره لي. فقال اعلم عبدي انه له رباً يغفر الذنب ويأخذ به قد غفرت له فليفعل ماشاء.

دروښ وايي: چې طبراني او حاكم په سند صحيح سره له ابن عباس ﷺ څخه روايت کړی دی چې رسول الله ﷺ وويل قال الله ﷻ من علم اني ذو قدرة على مغفرة الذنوب غفرت له ولا ابالي مالم يشرك بي شيئاً. الهي عدم شرک له تا سره په يو شي خو متيقن دی او ګناه زما هم متيقن ده فاغفرلي ذنوبي كلها مغفرة عامة.

أُولَٰئِكَ جَزَآؤُهُم مَّغْفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَجَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا

پوه سه: که دا جمله "اولئک" مستانفه وي، نو اشاره و متقينو او تائبينو دواړو ته ده. او که دا جمله خبر د موصول وي، نو اشاره يوازې تائبينو ته ده.

دروښ وايي: چې دا دوه احتماله دمخه تېر سوه، والمراد بالجزاء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والثواب لتقواهم وتوبتهم على الاحتمال الاول ولتوبتهم على الاحتمال الثاني بخښه له جانبه څخه د رب ده دوی او جنتونه چې لاندې تر هغو جنتو يعني تر قصورو د هغو جنتو به ولې بهېږي اوبه، شيدې، عسل، شراب چې په هغو شرابو کې د جنت به نه درد سر وي او نه به سلب العقول وي كما في خمور الدنيا. او همېشه به وي دوی په دغو جنتو کې.

پوښتنه: تائبين که بخښنې ته ضرورت لري لصدور الذنوب عنهم، نو متقينو لره د څه شي بخښه سته؟

ځواب: عصمت له ګناه څخه خاصه د انبياء عليهم السلام ده على المذهب الصحيح لکه دروېش چې په عصمت د انبياء عليهم السلام له کبائرو ګنهو او له صغائرو ګنهو څخه په خپله رساله کې چې نوم يې "كشف الغطاء عن عصمة الانبياء" دی که څه هم په عصمت د انبياء عليهم السلام قبل النبوة بلکې بعد النبوة له کبائرو او صغائرو ګنهو څخه بعض فرق مخالف دي لکن دروېش په دې رساله کې اثبات د عصمت د انبياء عليهم السلام له کبائرو ګنهو او صغائرو ګنهو څخه قبل النبوة وبعد النبوة په نقل د کتب معتبره وو سره په اثبات رسولي دی، او پر هغه رساله لاسليکونه د قندهار د علماؤ او د هرات او کابل د مشائخو هم موجود دي، او دا رساله له ډېره وخته څخه چاپ سوې ده، او په بعض کتب خانو کې د کوتې د ښار هم تر لاسه کېدای سي. حاصل دا چې متقين يعني پرته له انبياء عليهم السلام ومغفرت ته د ګناه محتاجه دي. وهذا تحقيق انيق لهذه الآيات لاتجده مجموعاً في مطاوي التفاسير الكبار ولله الحمد على ذالک.

پوه سه: چې "جنات" چې يې نکره راوړه په دې سبب چې جنتونه داسې ځايونه دي چې لاعين رئت ولا اذن سمعت ولا خطر على قلب لبشر كما ورد في الحديث الصحيح. وَنِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ ﴿٧٦﴾

او ښه مزدوري ده مغفرت او جنتونه د عمل کونکو لپاره، يعني د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

طاعاتو او توبه پر سیئاتو.

پوه سه: چې مخصوص بالمدح يې محذوف دی ای نعم اجر العاملين المغفرة والجنات، قال رسول الله ﷺ "التائب من الذنب كمن لاذنب له" رواه البيهقي عن ابن عباس رضي الله عنه.

فائده: دا نه ده لازمه چې اعداد جنتونه د متقينو او د تائبينو لپاره دي چې مصرون پر گناه بلاتوبة من المؤمنين به جنت ته نه ورځي اصلاً لكه چې دا هم نه ده لازمه چې اعداد د جهنم خو د كافر لپاره دي چې هيڅ مؤمن عاصي به دوزخ ته نه ورځي، نعم لازمه ده چې څوک چې جنت ته داخل سو سواء كان من جهة التقوى او من جهة التوبة او من جهة رحمة الله العامة هغه له بيانه استل كېږي، البته هغه مؤمن عاصي چې په سبب د عصيان دوزخ ته داخل سي بيرته يو وخت له دوزخ څخه جنت ته داخلېږي.

فائده: ثابت البناني رحمه الله عليه وايي چې ماته دا خبره رسېدلې ده چې ابليس وژړل چې دغه ايت نازل سو "والذين اذا فعلوا فاحشة" الى اخيرها مظهري، والله اعلم چې ثابت بناني ته دا خبره د ابليس د ژړا له كومي خوا رسېدلې ده،

قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ سُنَنٌ ۙ فَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ۝

او په تحقيق تېر سوي دي تر تاسي دمخه ای كفار مكه عادات يعني د خدای ﷻ نو تاسي سفرونه وكړي پر مځكه، يعني په مځكه كې د ثمود يانو او عاديانو او د قوم د فرعون وامثالها. نو تاسي وگورئ چې څرنگه سوی دی اخير كار د هغو كسانو چې تكذيب د خدای ﷻ د رسولانو يې كړی و، يعني تاسي كفار مكه له هغه څخه عبرت واخلئ چې موږ به هم اخير كار لكه د هغو كافرانو هلاك او خراب يو. وفيه بشارة للنبي ﷺ والمؤمنين بان كفار مكة سيصير حالهم كحال الكفار الماضية. سعدي شيرازي رحمه الله عليه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پند گیر از مصائب دیگران　　تانگیرند دیگران زتوپند
نرود مرغ سوی دانه فراز　　چودیگر مرغ بینند اندر بند

فائده: ننه ورځ د پنجشنبې چي اخیر د صفر الخیر وه سنه ۱۴۲۷ هجري قمري چي زما په متعالمانو کي یو طالب ماته داسي خط نوشته کړی چي ستا په تفسیر کي فارسي بیتونه ډیر راځي نو ته د هغو بیتو ترجمه په پښتو هم کوه، ما ورته وویل ولي؟ ده راته وویل چي ډیر داسي طالبان سته چي هم دا اوس دوره د حدیثو کوي چي سږ کال به لنګوته هم تړي ددغه فارسي بیتو په ترجمه نه پوهیږي، ما ورته وویل چي ولي لنګوتې تړي خو یو څو کتابه د فارسي ادب بې هم ویلي وای لکه پنج گنج، بوستان سعدي، گلستان سعدي، نو به ددغو فارسي بیتو په ترجمه پوهیدلای، البته که ده ویلي وای چي خواننده عوام او ښځي ددې فارسي په ترجمه نه پوهیږي کان له وجه.

دروښ وایي: چي مالایدرک کله لایترک کله.

پوه سه: چي "سنن" جمع د سنت ده، سنت هغې طریقې ته وایي چي نور خلګ یې متابعت کوي که په خیر کي وي او که په شر کي وي کما ورد في الحدیث النبوي ﷺ "من سن یعني في الاسلام سنةً حسنة فله اجرها واجر من عمل بها من غیر ان ینقص من اجورهم شیئاً ومن سن سنة سیئة فعلیه وزرها ووزر من عمل بها من غیر ان ینقص من اوزارهم شیئاً" رواه اصحاب السنن النبوي، او بعض مفسران وایي چي سنن په معنی د امم دی والسنة بمعنی الامة، ومعنی الآیة علی المعنی المشهور چي تېر سوي دي تر تاسي دمخه طریقې د خیر او د شر تاسي اهل مکه وګورئ چي څرنګه و عاقبة د هغو کسانو چي تکذیب د انبیاء علیهم السلام یې کاوه، او پر معنی ثاني د آیت معنی داده چي تېر سوي تر تاسي امتونه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَّمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۳۸﴾

او دا یعنې قرآن مبارک ټوله او یا دا قول د خدای ﷻ "قد خلت آه" بیان دی د ټولو خلګو یعنې که مؤمنان وي او که کافران وي. او هدایت دی لپاره د متقینو ولي چې نفع د هدایت دوی پر واخستل.

وَلَا تَهِنُوْا

او تاسي بې زړه کېږئ مه او مه ضعیفه کېږي له جهاد څخه له اعداؤ څخه د اسلام چې ټوله کافران دي په سبب د قتل او جراحت یعنې یوم احد چې په مهاجرینو کې پنځه کسه شهیدان سوه چې نومورې یې سید الشهداء حمزه بن عبدالمطلب، مصعب بن عمیر او اویا کسه د انصارو وه رضي الله تعالی عنهم.

وَلَا تَحْزَنُوْا

او تاسي ژوندي غم مه کوئ د هغو کسانو چې شهیدان سوه لانهم وصلوا الی الدرجات العلی والجنة الماوی في مقعد صدق عند المليک المقتدر.

وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ

الواو حالیة، والمعنی چې تاسي مسلمانان اعلی حالاً یاست تر کافرانو، ولي چې تاسي خو امید د اجر او ثواب لرئ پر هغه قتل او جراحاتو چې تاسي ته رسېدلی دی او کفار دا امید نه لري، او بل افضلیت مو دادی چې ستاسي شهیدان په جنت کې دي او د کافرانو مړي په دوزخ کې دي.

دروېش وایي: چې له بلاغاتو څخه د صاحب د روح البیان دا عبارت دی اصل اعلون اعلیون فکرهوا الجمع بین اخت الکسرة والضمة. او کلبي رحمه الله وایي چې معنی د آیت داده "انتم الاعلون عاقبة الامر بالنصر من الله والظفر علی الاعداء.

اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۳۹﴾

قیل معناه ان صح ایمانکم ولاتهنوا ولاتحزنوا الان مقتضی الایمان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رجاء الثواب، وقوة القلب بالتوكل على الله، او بعض مفسرين وايي چې که ستاسي ايمان صحيح وي نو تاسي په اخير الامر کې غالب ياست پر کفارو قال الله تعالى حق علينا نصر المؤمنين.

إِنْ يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ

که تاسي ته ورسېدل زخمونه په ورځ کې د احد.

پوه سه: چې فراء نحوي وايي چې قرح بفتح القاف جراحت ته وايي او قرح بضم القاف درد ته د ټپ وايي.

دروښ وايي: چې په دې آيت کې دواړه قرائته متواتره دي.

فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ

نو رسېدلي وه يعنې وقوم ته د کفارو د قريشو.

قَرْحٌ مِّثْلُهُ

يعنې په ورځ د بدر، خو بيا هم د قريشو زړونه ضعيفه نه سوه بلکې آينده کال بيا جنګ ته راغله يعني في غزوة احد.

پوه سه: چې دا آيت د تسلي د زړه د نبي ﷺ او د مسلمانانو دی چې د احد په جنګ کې يې شهداء له لاسه ورکړه او ټپونه هم ورورسېدل حتى چې د عليه الصلوة والسلام يو له رباعي غاښنو مبارکو څخه په دې غزاء کې مات سو او سر مبارک يې هم ټپي سو.

وَتِلْكَ الْأَيَّامُ

او دغه ورځې او وختونه د غلبې او ظفر.

نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ

موږ به بدلوو په منځ کې د خلګو ګاهي غلبه مسلمانانو ته ورکړو پر کافرانو کما في البدر. او ګاهي غلبه وکافرانو ته ورکړو پر مسلمانانو باندې کما في احد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې چونکه قصه د احد بکمال التفصيل والبسط ما دمخه بيان کړې وه نو اعادې ته يې ضرورت نسته لکه امام مظهري چې ټوله قصه دمخه نه وه بيان کړې نو د احد د غزا، يوه برخه يې په دې ځای کې راوړې ده.

پوه سه: دروښ وايي چې د "انداولها" ترجمه په غلبه سره وکړه د يوه طرف پر بل طرف باندې يعني المسلمين والكفار، او مظهري رحمه الله يې ترجمه په نصر سره کړې ده حيث قال فيكون النصر تارة لهؤلاء كالمؤمنين في بدر وتارة لهؤلاء يعني الكفار كما في احد آه، او صاحب د روح البيان دا ترجمه رد کړې ده حيث قال وليس المراد من هذه المداولة انه تعالى تارة ينصر المؤمنين واخرى ينصر الكافرين. او ده يې د بطلان وجه دا بيان کړې ده چې نصر د خدای عزوجل خو يو منصب جليل دی فلا يليق بالكافر بلکې معنا يې په مثل د معنا د دروښ کړې ده

دروښ وايي: چې قاضي بيضاوي او علامه بغداد الآلوسي په روح المعاني کې او امام کبير په تفسير کبير کې ترجمه د "نداولها" داسې کړې ده "اى تديل هؤلاء وتديل هؤلاء" نو "تديل" ماخوذ له دولت څخه دی چې معنا يې غلبه ده لاالنصر الذي هو المنصب الجليل.

پوښتنه: چې څه حکمت الهي دی چې همېشه دولت او غلبه ومسلمانانو ته نه ورکوي پر کفارو باندې.

ځواب: که همېشه نصرت او غلبه خدای عزوجل ومسلمانانو ته ورکوي لحصل العلم الضروري والاضطراري بان الايمان حق وماسواه باطل، او که داغسې سې نو دائره د تکليف الهي د بندګانو به ختم سې او ثواب وعقاب له منځه څخه ولاړ سې، نو له دې سببه خدای عزوجل ګاهې دائره د محنت پر مسلمانانو راوګرځوي او ګاهې پر کافرانو تاچه شبهات د کفارو باقي وي، يعني کفار به وايي که دين د اسلام حق واى نو ولي مسلمانان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مغلوبه کېدل، او دوی به دغه شبهات دفع کوي په نظر سره په هغه دلائلو سره چې پر صحت او حقیقت د اسلام دلالت کوي من معجزات النبي الکریم ﷺ وغیر ذالک من الدلائل الآفاقیة. نو به خدای ﷻ ثواب عظیم ورکړي، قال السعدي الشیرازي رحمه الله.

برگ درختان سبز درنظر هوشیار هرورقي دفتری است معرفت کردگار

ونعم ما قیل

دا باران چې پر همه وو مځکو اوري،، ،مشرف کړی دا ذات د کېمیا ولي

وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

پوه سه: چې لام د "لیعلم الله" متعلق دی په "نداولها" پورې او کلمه د واو معطوف ده پر محذوف باندې، والتقدیر هکذا نداولها لحکم ومصالح ولیعلم الله الذین آمنوا آه.

پوښتنه: خدای ﷻ خو ازلاً علم پر "الذین آمنوا" درلودی فما معنی ولیعلم الله؟

ځواب: بعض مفسران وایي چې معنی د "یعلم الله" یمیز الله ده، یعنې چې خدای ﷻ سره جلا کړي هغه مؤمنان چې په حق او کامل ایمان سره مؤمنان وه چې هغه به صبر او ثبات ولري پر ایمان له نورو څخه یعنې المنافقین چې هغو خپل نفاق ښکاره کړی او د جنګ د احد له میدان څخه ووتل کما مر في القصة المفصلة لغزوة احد من هذا التفسیر، او بعض مفسران وایي چې خدای ﷻ لره یو علم ازلي دی پر ټولو کائناتو باندې، او یو علم ظهوري دی وخلګو ته چې علم تفصیلي یې هم بولي. او دا علم تفصیلي حادث دی چې د ظهور سره د معلوماتو تعلق لري، وتفصیل هذین العلمین في کتب المنطق.

وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَآءَ

او بل ددې لپاره چې شهادت في سبیل الله چونکه یو عبادت عظیمه و عند الله نو دا نعمت جلیله هم وتاسي ته درکړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "ويتخذ" معطوف دی پر "يعلم" باندې.

پوه سه: چې له دې شهيدانو څخه شهداء د احد مراد دي، وما قال المظهري وليتخذ منكم شهداء يصلح للشهادة على الامم الماضية يوم القيامة آه فنداء من بعيد لايتعلق بهذا المقام اى بيان الحكم والمصالح لغزوة احد كما لايخفى.

وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۴۰﴾

او د خداى ﷻ نه دي خوښ ظالمان، او دا كنايه ده له بغض او غضب څخه د ظالمانو خلګو يعنې كافران چې مراد دلته ځنډي منافقين دي چې ثبات پر ايمان يې ونه كړی بلكې خپل نفاق او بغض يې بنكاره كړی چې د احد له جنګه ووتل.

پوه سه: چې دا جمله معترضه ده په منځ كې د معطوف عليه يعنې "ليتخذوا" او معطوف يعنې "وليمحص الله آه"

وَلِيُمَحِّصَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

او چې پاک كړي خداى ﷻ من الذنوب اى المعاصي لان تكاليف الحيوة خصوصاً تكليف غزوة احد ممحقة للذنوب والمعاصي.

وَيَمْحَقَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۴۱﴾

پوه سه: چې محق لږ لره محوه كول دي د "شئ" يعنې كفار به لږ لږ له منځه ځي، والحاصل المقام كه غلبه د كفارو پر مسلمانانو راسي لكه د احد په جنګ كې د احد خو فائده يې ده جلا كول د مؤمن صادق او منافق، او بله فائده يې منصب عالي د شهادت في سبيل الله ده، او بله فائده يې پاک والى د مؤمن دى له ګنهو څخه، او كه چېرې غلبه د مسلمانانو وې پر كافرانو باندې لكه په بدر كې، د هغه فائده هلاكت د دوى دى او محوه او نابود والى د اثارو ددوى دى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ

آیا ستاسي خیال او ګمان دی اې مؤمنانو چې تاسي به داخل ېږئ جنت ته. والاستفهام للانکار یعنې داسي نه سي کېدای او دا ګمان مه کوئ.

وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنْكُمْ

او خدای ﷻ به نه وي معلوم کړي یعنې په علم ظهور سره هغه کسان چې جهاد یعنې چې صبر او ثبات یې کړی وي ستاسي د مؤمنانو له ډلي څخه.

دروېش وایي: چې ما قید د ظهور ووایه له دې کبله چې دغه مجاهدین خو خدای ﷻ ته په علم ازلي سره معلوم وه. وقد مر تحقیقه.

وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ ﴿١٤٢﴾

نو به نه وي خدای ﷻ معلوم کړي صبر کونکي پر سختیو د جهاد في سبیل الله لکه قتل د اقاربو او د دوستانو، او برداشتول د جراحاتو او لوړه او ببره وامثال ذالک.

پوه سه: مفسرین وایي چې "یعلم" منصوب دی په اضمار د "ان" والواو للجمع بین الامرین ای الجهاد والصبر کما في قولهم لاتاکل السمک وتشرب اللبن کمامر، او یا مجزوم دی عطف دی پر "یعلم الله" او میم ته یې حرکت ورکړی دی له جهته څخه د التقاء الساکنین او زور یې ورکړی له جهته څخه ماقبل د فتحې.

دروېش وایي: چې روح المعاني د شهر بن حوشب څخه داسي روایت کړی دی چې طلب د جنت بېله عمل ذنب من الذنوب او امید د شفاعت د سرور کائنات ﷺ کول بېله سببه یعنې د متابعت د سنت نبوي ﷺ نوع من الغرور یعنې د شیطان د خطایستو څخه، او امید کول د رحمت الهي له هغه چا څخه چې اطاعت د خدای ﷻ نه کوي حمق وجهالة ولهذا قیل

ترجوا النجاة ولم تسلک مسالکها ان السفینة لاتجری علی الیبس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وقرئ ويعلم بالرفع بناء على ان الواو للاستيناف.

فائده: خدای ﷻ "لما" ووایه او "لم" یې نه ووایه. اشاره ودې ته ده چې جهاد په وروسته زمانو کې متوقع دی، ولې چې له کلام څخه د سیبویه رحمه الله امام النحاة چې هغه وایي لما تدل على توقع الفعل المنفى بها بخلاف "لم" داسې فهمېږي.

پوه سه: د بدر په شهداؤ کې چې څورلس کسان وه خدای ﷻ او علیه الصلوة والسلام د هر لوی ثواب بیان کړی و. نو هغه کسان چې په بدر کې حاضر نه وه هغو به ویله چې کاشکې موږ ته یو موضوع مساعده سوې وایی چې موږ هم وژل سوي وایی لکه شهداء د بدر او د کافرانو سره مو جنګ کړی وایی او کفار مو وژلي وایی لکه د بدر په موقع کې. نو موږ ته به هم خدای ﷻ ثوابونه راکړي وایی، او یا به په شهادت رسېدلي وایی، او یا رزق او غنیمت لکه ژوندي مسلمانانو ته د بدر چې په نصیب سوه زموږ به هم په نصیب سوي وایی، نو خدای ﷻ په آینده کال کې د بدر د غزاء د احد جنګ په منځ کې راوستی، نو دا آیت نازل سو.

دروښ وایي: دا و حاصل د ما روی عن ابن عباس رضي الله عنه.

وَلَقَدْ كُنتُمْ تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ

او په تحقیق تاسي واست چې تمنی د مرګ مو درلوده، یعني في سبیل الله، او یا مراد له موت څخه جنګ دی مجازاً لانه سبب للموت.

مِن قَبْلِ أَن تَلْقَوْهُ

دمخه تر دې چې تاسي ملاقي کېداست د جنګ سره چې سبب د مرګ و او کراوونه او شدت د جنګ نه و درته معلوم.

فَقَدْ رَأَيْتُمُوهُ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ ﴿١٤٣﴾

نو دا دی تاسي ولېدی حرب مفضي موت ته او تاسي ورته کتل یعني په غزاء کې د احد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې جمله د "وانتم تنظرون" حال دی له فاعل څخه د "رئیتموه"

پوښتنه: رئیتموه" څو هم دلالت پر "تنظرون" کاوه او ددې جملې څه ضرورت و؟

ځواب: ددې جملې فائده داده چې رویت بصري و او په معنی د علم نه دی کماهو معنی الرویة في بعض المواضع.

پوه سه: چې رویت د موت که ضمیر منصوب د "رئیتموه" وموت ته راجع سي رویت دی د موت د شهداء د احد د ژوندو لپاره.

پوه سه: چې په دې آیت کې توبیخ او سرزنش دی وهغو کسانو ته چې تمنی د حرب یې کوله او په وخت کې د حرب یعنې حرب احد بیا یې بذدلي او شکست اختیار کړی کمامر في تفصیل غزوة احد.

پوه سه: چې د حاتم اصم څخه روایت دی چې زموږ او د ترکانو کافرانو سره جنګ و، نو یو ترکي زه په غشي وویشتم او له آس څخه یې را واچولم، او دی هم له آس څخه راکښته سو او زما پر سینه کښېنستی او زه یې تر ډېره ونیولم او چاړه یې راوکښل چې ما ذبح کړي، حاتم اصم رحمه الله وایي چې زما دي قسم وي په حق د خدای ﷻ چې نه زما زړه د ترکي سره مشغول و او نه دده د چړې سره او زه ساکت او متحیر وم او له خدای ﷻ سره مي دا مناجات کاوه چې اې زما باداره ما خپل ځان وتاته سپارلی دی که ستا اراده وي چې دغه ترکی ما ذبح کړي فعل الراس والعین یعنې زما دغه ذبح قبوله ده پر سر او سترګو انا لک ومللک فینا زه خو ستا بنده یم او ستا ملک او سلطنت پر مادی، په دې وخت کې ناګاه یوه مسلمان دغه ترکی په غشي په حلق کې وویشتی، نو زما له سینې څخه غوځار سو، نو زه ور ولاړ سوم او چاړه مي له لاسه ځندي واخستل او دی مي په ذبح کړی، فهذا من عجائب لطف تعالی لاترونها من الآباء والامهات فنعم الصبر عند الشدائد.

واعلموا ایها الاخوان ان من صبر و استسلم لقضاء الله تعالی ظفر ومن فر لم یتخلص.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې ابن ابي حاتم له ربیع رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چې د احد په غزاء کې چې ابن قیمه علیه الصلوة والسلام په دېره پر سر وویشتی او سر مبارک یې سخت ټپي سو کفارو نارې کړې، الا ان محمداً قد قتل، نو بعض خلګو وویل که دی نبي وایی نو دی به ولي قتل کېدای، او بعض خلګو وویل چې راځي چې جنګ ته دوام ورکړو یا به فتح وکړو او یا به مړو هم لکه دی ځانونه مړه کړو، او ابن منذر له عمر رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چې مړو په غزاء کې د احد له علیه الصلوة والسلام څخه متفرق سو، نو زه غره ته وختلم، نو یو یهودي نعره وکړه قد قتل محمد، عمر رضی الله عنه وایي چې ما وویل که چا وویل چې علیه الصلوة والسلام وژل سوی دی زه به یې سره په توره پرې کړم، وروسته عمر رضی الله عنه وایي ما چې وکتل علیه الصلوة والسلام او نور مسلمانان د غره وخواته په رجوع کې وه، او په یوه روایت د بیهقي رحمة الله علیه څخه داسي نقل راغلی دی چې یو سړی له مهاجرینو څخه پر یوه سړي د انصارو تېرېدی او هغه انصاري رضی الله عنه په وینو کې لغبستی فقال له اشعرت ان محمداً قد قتل، فقلت ان کان قتل فقد بلغ، یعنې که دی وژل سوی وي خو تبلیغ د دین یې وکړی، فنزل هذه الآیة.

وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ

نه دی محمد ﷺ مګر نه رسول دی، معنی دا چې محمد ﷺ خو رب نه و چې فنا او موت یې محال وي، او نه یې خلګ وخپل عبادت ته بلل، په قاموس کې وایي چې حمد شکر ته وایي او رضاء بالقضاء الهي ته وایي او د تحمید معنی حمد ویل دي د خدای ﷻ مرةً بعد اخری یعني الی ما لانهایة له ومنه محمد کانه حمد الله ﷻ مرةً بعد مرةٍ، او بغوي رحمة الله علیه وایي چې محمد ﷺ هو المستفرق في جمیع المحامد لان الحمد لایستحقه الا الکامل، والتحمید من باب التفعیل اقوی من الحمد فلا یستحقه الا المستولی علی الامد والنهایة في الکمال.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې حسان بن ثابت ؓ په مدح کې د علیه الصلوة والسلام داسې شعر ویلی دی

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَرْسَلَ عَبْدَهٗ ببُرْهَانِهٖ وَ اللّٰهُ اَعْلٰی وَ اَمْجَدُ

وَ شَقَّهٗ مِنْ اِسْمِهٖ لِيَجِلَّهٗ فَذُوا الْعَرْشِ مَحْمُوْدٌ وَّهٰذَا مُحَمَّدٌ

قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ

چې تېر سوي او مړه سوي دي د مخه تر ده نور رسولان یعنې نو دی به هم وفات سي. اَفَاۡئِنْ مَّاتَ اَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلٰۤی اَعْقَابِكُمْ

نو که دی په خدایي مرګ مړسي او یا یې څوک قتل کړي، نو تاسي مسلمانان به تر شا ځئ یعنې رجوع به کوئ ودین اول ته ستاسي یعنې چې کفر و.

پوه سه: چې همزه لپاره د انکار دی پر ارتداد و دین اول ته په سبب د موت یا د قتل د علیه الصلوة والسلام او سره ددې چې تاسي په دې خبر یاست چې تر ده دمخه انبیاء علیهم السلام یا مړه سوي او یا قتل کړه سوي دي، لکه زکریاء او یحی علیهما السلام، او د هغه سره یې دین پاته دی، نو که علیه الصلوة والسلام مړ یا قتل سي نو باید تاسي هم پر دین محمدي ﷺ باندي ژوند وکړئ او مرتد نه سئ.

وَمَنْ يَّنْقَلِبْ عَلٰی عَقِبَيْهِ

یعنې له دین څخه مرتد سي العیاذ بالله.

فَلَنْ يَّضُرَّ اللّٰهَ شَيْئًا

نو هغه سړی وخدای ﷻ ته ضرر نه سي رسولای په خپل ارتداد سره بلکې خپل ځان ته یې ضرر ورساوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَسَيَجْزِي اللّٰهُ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۴۵﴾

او ژر دی چې خدای ﷻ به ثواب ورکړي وهغو کسانو ته چې شکر د نعمت د اسلام ووایي او د اسلام د دین رسی په لاس کې محکمه وساتي.

دروښ وایي: چې چونکه دې فقیر واقعه د جنګ د احد په ډیر تفصیل سره راوړې وه نو په دې ځای کې یې تکرار نه کوي.

فائده: نعره د قتل د علیه الصلوة والسلام چې د احد په غزاء کې وسوه، ولې یې پر مسلمانانو دهشت او حیرت نه اچاوه، او سره ددې چې هغه ورځ چې د علیه الصلوة والسلام په خدایي مرګ آوازه مسلمانانو واورېدله، نو مسلمانان دومره مضطرب سوه چې بعض مدهوشه سوه، او بعض مسلمانان پر ځای کښېنستل نه سوای ولاړېدلای، او د بعض مسلمانانو ژبې بندې سوې خبرې یې نه سوای کولای، او بعض مسلمانانو یې له مرګ څخه بالکلیة انکار وکړی حتی چې عمر ﷺ د خلګو په منځ کې ودرېدی او وه یې ویل چې بعض د منافقانو دا وایي چې علیه الصلوة والسلام وفات سوی دی، نو دا وینا غلطه ده والله ما مات رسول الله ﷺ لکن ذهب الی ربه کما ذهب موسی بن عمران ﷺ فغاب عن قومه اربعین لیلة ثم رجع وکما ذهب علیه الصلوة والسلام في لیلة المعراج ثم رجع، او عمر ﷺ وویل چې قسم په خدای ﷻ دی چې علیه الصلوة والسلام به هم رجوع وکړي، او عمر ﷺ زیاته کړه چې قسم په خدای ﷻ دی چې زه به لاسونه او پښې پرې کړم د هغو کسانو چې ووایي چې علیه الصلوة والسلام مړ سو. دا خبره عمر ﷺ څو واره مکرره کړه حتی چې ابو بکر ﷺ چې کور یې په سنح کې و را ورسېدی او د علیه الصلوة والسلام له وفات څخه خبر سو، نو ابو بکر ﷺ اول ورغلی د خپلې لور عائشة ﷺ خونې ته چې علیه الصلوة والسلام په هغه خونه کې پروت و او یو پټو پر اوار و، نو ابو بکر ﷺ یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مخ مبارک ور لخ کړی او پر تندي یې مچ کړی او داسي یې وویل والله قد طبت حیاً ومیتاً والله لایجمع الله علیک الموتتین اما الموت الذي کتب علیک فقد متها، ثم خرج الی المسجد النبوي ﷺ وعمر رضی الله عنه یکرر مقالته فقال له اقعد ایها المتالي علی الله فلم یقعد عمر نو باره ابو بکر رضی الله عنه د خلګو په مخ کي ودرېدی او خلګو تولو رجوع و ابو بکر رضی الله عنه ته وکړه، نو ابوبکر رضی الله عنه اول حمد او ثناء د خدای ﷻ وویل او بیا یې وویل ای خلګو من کان یعبد محمداً ﷺ فان محمداً ﷺ مات ومن یعبد الله فهو حي لایموت، وروسته ابو بکر رضی الله عنه دا آیت ووایه "وما محمد الا رسول" تر پایه پورې، او عمر رضی الله عنه چې توره یې په لاس کي وه او خپلي پخوانۍ خبري یې کولې توره یې له لاسه څخه ایله سوه او د آیت مذکوره په اورېدلو سره یې یقین سو چې علیه الصلوة والسلام وفات سوی دی، راوي د قصې وایي چې دغه آیت لکه خلګو چې نه و اورېدلی، راوي وایي چې وروسته د تولو خلګو په خولو کي دغه آیت و "وما محمد الا رسول الله ﷺ".

دروېښ وایي: چې په مفارقت د علیه الصلوة والسلام سره جمادات وچاودل فکیف بقلوب الاصحاب الکرام رضی الله عنهم، په صحیح حدیث کي د بخاري راغلي دي چې دمخه تر جوړېدلو د منبري نبوي ﷺ به علیه الصلوة والسلام یوه وچ لرګي ته د خورما د جمعې په ورځ درېدی او خطبه به یې ویله څه وخت چې منبر نبوي ﷺ د یوې ښځې مریی چې نجار و له شین غزیو څخه د څنګله ورجوړ کړی او علیه الصلوة والسلام پر منبر باندې کښېنستی لپاره د خطبې هغه وچ لرګي داسي ژړا شروع کړه لکه د کوچنۍ یعني په سبب د فراق د علیه الصلوة والسلام له ده څخه حتی چې علیه الصلوة والسلام له منبر څخه راکښته سو او هغه لرګی یې په غېږ کي ونیوی کرار کرار هغه لرګی ساکتېدی او ژړا یې بنده کړه، او علیه الصلوة والسلام خلګو ته وویل چې که ما دا لرګی په غېږ پورې نه وایی نیولی د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قیامت تر ورځي به یې ژړلای، راوي وایي چې د علیه الصلوة والسلام مرض چې څه وخت سخت سو، نو له علیه الصلوة والسلام څخه کړب یعني بې تابي کېدله نو فاطمه رضي الله عنها چې ورته ناسته وه داسې به یې ویله "واکرب اباه" نو علیه الصلوة والسلام ودې ته وویل لیس علی ابیک کرب بعد الیوم لکن چونکه د فاطمې رضي الله عنها بېقراري اوښکي نه درېدلې، نو علیه الصلوة والسلام نژدې وروغوښتل او په غوږ کې یې پټه خبره ورته وکړه چې د فاطمې رضي الله عنها سوز او ګداز نهایت ډېر سو او اوښکي یې لکه باران تر سترګو را روانې وې، بېرته علیه الصلوة والسلام ور وغوښتله او په غوږ کې یې پټه خبره ورته وکړه او فاطمه رضي الله عنها په خندا سوه، بې بې عائشه رضي الله عنها چې دلته حاضره وه ورته وه یې ویل چې ما نه ده لیدلې تر اوسه دونده نژدې خوشحالي وغم ته او نه دونده نژدې خندا وژړا ته، نو عائشې رضي الله عنها له فاطمې رضي الله عنها څخه پوښتنه وکړه چې دا دوه واره تاته علیه الصلوة والسلام څه وویل؟ دې وویل "ما کنت لافشي سر رسول الله ﷺ" خو خیر وروسته تر وفات څو ورځې بیا عائشې رضي الله عنها له فاطمې رضي الله عنها څخه هغه پوښتنه وکړه، نو فاطمې رضي الله عنها و عائشې رضي الله عنها ته وویل چې اول وار علیه الصلوة والسلام ماته په غوږ کې دا وویل چې زه له دې مرضه نه جوړېږم او وفات کېږم نو ما وژړل، دوهم وار یې دا راته وویل چې اول له اهل بیت څخه زما به ته په ما پسې رائې یعنې وفات کېږې به نو ما وخندل، چناچه وروسته تر علیه الصلوة والسلام په شپږ میاشتې کې فاطمه رضي الله عنها وفات سوه.

دروښ وایي: چې صحیح راویان د وفات د علیه الصلوة والسلام وایي چې پسله وفات څخه د علیه الصلوة والسلام د اصحابو په منځ کې دا اختلاف پیدا سو بعض وویل چې په جنت البقیع کې به یې دفن کړو لکن ابو بکر رضي الله عنه ورته وویل چې ما له علیه الصلوة والسلام څخه اوریدلي دي نبي چې پر کوم ځای مړ سي هم هغه ځای به دفن کېږي، نو د قبر مبارک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځای یې هجره د بي بي عائشې رضي الله عنها وتاکل سوه. بیا اختلاف په دې کې راغلی چې قبر ته یې لحد ورکوو، او کسه شق یعنې د قبر په منځ کې بل یو لښتی غوندې ځای به جوړ وو او په هغه شق کې به یې اړدو او دفن کوو به یې، نو بیا اتفاق پر دې سو چې صحابه وو رضي الله عنهم په دواړو قسم قبر کن پسې سړی استولی و نو هر یو چې دمخه راغلی هغه سې قبر به ورجوړه وو. هغه و چې هغه قبر کن دمخه راغلی چې د لحد قبر یې جوړاوه، نو قبر نبوي ته یې لحد ورکړی، راوي وایي چې څه وخت یې علیه الصلوة والسلام وقبر مبارک ته داخل کړی چونکه خاوري وې نو شقران رضي الله عنه مولی رسول الله ﷺ خپله یوه شړی په قبر کې ورهواره کړه لکن د نورو صحابه وو رضي الله عنهم دا خوښه نه وه چې لاندې تر میت دې شی هوار وي، نو شړی یې بیرته ځندې را ټوله کړه.

تتمه: د بخاري د حدیث سره موافق بي بي عائشه رضي الله عنها وایي چې ما په ژوند کې د علیه الصلوة والسلام ځخه اوریدلي وه چې هر نبي چې مري خدای ﷻ ده ته اختیار ورکوي د مرګ او د ژوند تر منځ، نو عائشه رضي الله عنها وایي چې ما علیه الصلوة والسلام وخپل ځپګر ته تکیه کړی و، نو ده مبارک ګوته پورته کړه او داسې یې وویل في الرفیق الاعلی، دا وایي چې ما په زړه کې وویل چې اذا لایخترنا ثم مالت یده فتوفی، له انس رضي الله عنه ځخه روایت دی چې موږ چې علیه الصلوة والسلام په قبر کې کښېښوی او خاوري مو پر اچولې، نو فاطمه رضي الله عنها ولاړه وه او داسې یې وویل اطابت انفسکم ان تحثوا علی نبیکم التراب" په حدیث صحیح کې راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام وویل چې هر چا ته چې یو مصیبت پېښ سي یعنې من موت الاولاد والاقارب، نو زما مرګ ورپیاد کړئ فانه من اعظم المصائب، یعنې تسلي د زړه دي په وکړي.

دروښ وایي: چې د قصې د علیه الصلوة والسلام نتیجه داده چې په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ژوند د دنیا کې دې څوک نه مغروره کېږي او د خدای ﷻ په عبادت او محبت سره دې زړه پیوند کړي، سعدي شیرازي رحمه الله

جهان ای برادر نه ماند بکس دل اندر جهان آفرین بند وبس

او عاقل سړی هغه دی چې د قیامت د سختې ورځې لپاره پوزه تونبه برابره کړي، سعدي شیرازي رحمه الله وایي:

در آن روز کز فعل پرسند وقول اولوا العزم راتن بلرزد زهول
به جای که دهشت خورد انبیاء تو عذر گناه را چه داری بیا

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَنْ تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ

او نسته هیڅ نفس لره چې مړه دې سي مګر په اراده او مشیت او قضاء د خدای ﷻ، او یا معنا دا ده په اذن د خدای ﷻ وملک الموت ته په قبض کې د روح.

كِتَابًا مُؤَجَّلًا

پوه سه: چې دا مصدر مؤکد دی د ماقبل، نو کتاب په معنی د مکتوب دی او "مؤجلا" یې صفت دی یعني مقید په اجل سره لا یتقدم ولا یتاخر، نو له جنګه مه پېرېږئ ولي چې بې اجله مرګ نسته.

وَمَنْ يُرِدْ ثَوَابَ الدُّنْيَا نُؤْتِهِ مِنْهَا

او که څوک اراده لري په عمل سره خپل عوض د دنیا نو موږ بې ورکوو له دنیا څخه عوض.

دروښ وایي: چې که څه هم دا قضیه موجبه کلیه ده لکن په دې کې تعریض دی پر هغو پنځوسو کسانو چې د درې خوله یې د غنیمت لپاره خوښي کړه په غزاء کې د احد چې هم دغه خوښي کول خلاف د امر نبوي ﷺ څخه سبب د هزیمت او شکست وګرځېدی وقد مر تفصیله في بیان قصة غزوة احد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الْاٰخِرَةِ نُؤْتِهٖ مِنْهَا ۚ

او که څوک اراده لري په عمل سره ثواب د اخرت موږ به ورکو يعني ثوابونه به ورکړو. وَسَنَجْزِي الشّٰكِرِيْنَ ۝

او ډېر ژر په موږ ثوابونه ورکړو و شاکرو بندګانو ته.

پوه سه: چي د شکر معنا لغوي چي د حمد معنی حقیقي هم ده. روح البیان په دې الفاظو اشاره ورته کړې ده. الشارکین نعمة الاسلام الثابتین علیه الصارفین ما اتاهم من القوی والقدر الی ما خلقت هي لاجله من طاعة الله لا یلهیهم عن ذالک صارف اصلاً.

پوه سه: چي په جنس کي د شاکرینو هغه معهود شهدا، د احد او نور ﷺ هم داخل دي.

فائده: دا آیت که څه هم په موضوع کي د جهاد نازل دی لکن توله اعمال پر دغه قیاس دي، ولي چي مؤثر په طلب کي د ثواب او عقاب ماهو مقصود العامل وداعیه الی ذالک العمل لا ظواهر الاعمال فان المقصود من وضع الجبهة علی الارض في صلوة الظهر، او لمر هم ورته مخامخ وي، نو که د ساجد قصد عبادت د خدای ﷻ و کان ذالک السجود من اشرف دعائم الاسلام یعني الصلوة. او که یې مقصود سجده ولمر تنه وه، نو دا سجده له اعظم څخه د دعائم الکفر ده یعني الشرک.

دروښ وایي: چي ابو هریره ﷺ د نبي کریم ﷺ څخه داسي روایت کړی دی چي خدای ﷻ به ووایه وهغه چاته چي في سبیل الله وژل سوی وي یعني په جنګ کي د کفارو چي ته پر څه شي وژل سوی یې، نو هغه مقتول به ورته ووایي چي تا امر د جهاد في سبیل الله کړی و، نو ما هم جنګ وکړی او شهید سوم، خدای ﷻ به ورته ووایي کذبت یعني دغه ځای دي درواغ دی چي ما ځان في سبیل الله مړ کړی، ستا خو غرض دا و چي خلګ ووایي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فلانی څونده دلاوره و، نو هغه خو خلګو وویل. نو په امر د خدای ﷻ دی کش کړل سي ودوزخ ته، حاصل دا چې مقاتل في سبيل الله حقيقةً هغه سړی دی چې جنګ او غزاء يې فقط وفقط لپاره د اعلاء د كلمة الله العلياء وي، لا للذكر الجميل يعنې خلګ يې صفت وکړي، او يا خپله دلاوري وخلګو ته وربښي، او يا لپاره د غنيمت تر لاسه کولو. سعدي رحمه الله

عبادت با خلاص نيت نكوست وگر نه چه آيد زبی مغز پوست
بروی وريا خرقه سهل است دوخت گرش باخدا درفروشی نكوست

دروښ وايي: چې په هم دغه حديث کې حال د غنې دی چې خيراتونه يې کړي وي او مسکينانو ته يې دودی ورکړې وي الی غير ذالک، لکن لپاره د نامه او ريا وسمعه د رضاء الهي لپاره نه، نو دا سړی به هم و اور ته دوزخ کش کړل سي، او په هم دغه حديث کې حال د قاري مرايي هم ذکر سوی دی او د عالم مرايي هم په ورته بيان سره راغلی دی، او دا به هم دوزخ ته تپله کيږي، او په يو بل صحيح حديث کې راغلي دي چې که د چا نيت په اعمالو کې د خير طلب د اخيرت وي يعنې ثوابونه د اخيرت او د ورځې د قيامت خدای ﷻ به يې په زړه کې غنی پيدا کړي او متفرق خيالات او فکرونه د دنيا به نه وهي وآتته الدنيا وهي راغمة. او که د چا طلب د دنيا غرض وي خدای پاک فقر دده په سترګو کې ور ګرځوي او جمعيت د خاطر به ځندي سلب کړي ولايائتيه من الدنيا الا ماكتب له، او په صحيح حديث کې په روايت د بخاري راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام وايي انما الاعمال بالنيات اى ثواب الاعمال بالنيات لاوجودها ولاصحتها وانما لكل امرءٍ مانوى فمن كانت هجرته الى الله ورسوله يعني نيةً وقصداً فهجرته الى الله ورسوله اى ثواباً في الاخرة فلا يلزم اتحاد الشرط والجزاء فافهم، ومن كانت هجرته الى الدنيا يصيبها اى من جهة انصار المدينة رضي الله عنهم، او امرئة يتزوجها لكه مهاجر د ام قيس، فهجرته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الی ما هاجر الیه یعني الدنیا والزوجة، نو په هجرت کي یې ثواب د اخرت نسته، وفي الحدیث القدسي "الا من طلبني وجدني ومن تقرب الي شبرا تقربت الیه زراعاً" خدای پاک وایي که څوک زما طلب کوي ما به پیدا کړي، او که څوک ماته نژدې سي یعني په طاعت او محبت سره یوه لوښت، زه به نژدې سم ده ته یو ګز "ومن تقرب الي زراعاً تقربت الیه باعاً" او که څوک ماته نژدې سي یو ګز، زه به نژدې سم وده ته یوه غبرګ الی اخیر الحدیث.

حکایت: حاتم اصم رحمه الله وایي چې زه ملاقي سوم د شقیق بلخي سره په یوه غزاء کي د خراسان، او جنګ ډیر په شدت روان و، نو شقیق راته وویل کیف تجد قلبک یعني زړه دي خفه دی یا خوشحاله، مضطرب دی یا بېغمه، نو حاتم ورته وویل چې زړه خومي داسي خوشحاله او بېغمه دی لکه اوله شپه چې زه د ماینې سره یو ځای او هم بستره سوم، زه خوشحاله یم یعني چې د جنګ په حالت کي یم او د اولي شپې د یو ځای والي د خوشحالي فرق نه سم کولای، نو شقیق بلخي رحمه الله ورته وویل زه خو داسي یم نو یې سر پر سپر کښېښو او بیده سو حتی چې ما یې خرکی واورېدی.

دروېش وایي: چې دغه دی غایت یقین پر قضی الهي والسکون في الحرب.

حکایت: ابراهیم الرقي رحمه الله وایي چې زه په نیت د بیعت او مرېدی د ابو الخیر خراساني رحمه الله ولاړم چې هغه یو شیخ کامل و، نو د مانښام لمونځ مي په ابو الخیر خراساني پسي وکړی لکن د خراساني قرائت د قرآن پر قواعدو د تجوید برابر نه و، نو پښېمانه سوم دده پر مرېدی او له ځانه سره مي وویل لقد ضاع سفري، د مانښام تر لمانځه وروسته یو نژدې غر و د هوا داری لپاره غره ته پورته سوم که څه ګورم یو زمری مي ولیدی چې په ما پسي را روان و ما ځندي میدان کړه د مسجد پر خوا چې په دې وخت کي شیخ خراساني له مسجده را ووتی او زه یې وار خطا ولیدم ویل څه کوې؟ ما ورته وویل چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زمری راپسې دی خیر خو په دې وخت کې زمری را ورسېدی. نو شیخ خراساني وزمري ته وویل چې ما تاته نه دي ویلي چې زما په مېلمنو کار مه لره؟ زمري لکی وښورول او بیرته غره ته ولاړی. نو شیخ خراساني راته وویل چې انتم اشتغلتم بتقویم الظواهر فخفتم الاسد واشتغلنا بتقویم القلب فخافني الاسد. ابراهیم الرقي وایي چې په دې کرامت لیدو سره د خراساني رحمه الله زما قصد د بیعت او مریدۍ مصمم سو او بیعت مې ورسره وکړی.

وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ

پوه سه: چې اصل د "کاین" "ای" و بیا کاف پر داخل سو. نو په "ای" کې یې معنا د تکثیر پیدا کړه، ولهذا مفسرین وایي چې "کاین" په معنی د کم خبري دی المفید للکثرة. او "من نبي" د "کاین" دی والغالب في تمیزها انیکون مجروراً بمن ولم یجئ في القرآن الا کذالک.

قَٰتَلَ مَعَهُۥ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ

چې جنګ به کوي دغه نبي له کفارو سره او دده سره به ملګري وي ډېر ربیون، ابن عباس، مجاهد او قتاده رضي الله عنهم ترجمه د "ربیون" په جماعات کثیرة وکړې ده، او ابن مسعود رضي الله عنه د "ربیون" معنا په زرو کړېده، او کلبي رحمه الله وایي چې یوه ربیه لس زره کسانو ته وایي، او ضحاک رحمه الله وایي چې یوه ربیه زر کسه ده، او حسن بصري رحمه الله یې ترجمه په فقهاء علماؤ کړې ده، او بعض مفسرین علماء وایي چې ربیون په معنا د اتباع دی، نو هم دغه مفسر وایي چې ربانیون ولاة الامر ته وایي او ربیون د رعیت ته وایي، والاشهر ان الربي منسوب الی الرب وهم الذین یعبدون الرب.

فَمَا وَهَنُوا۟ لِمَآ أَصَابَهُمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ

نو نه دي ضعیف سوي هغه کسان چې ژوندي به پاتې سوه پسله قتله د اصحابو او ملګرو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا ضَعُفُوا

او نه وه ضعیفه سوي یعني من بقی له دوام ورکولو څخه د جهاد.

وَمَا اسْتَكَانُوا

او دوی نه و تسلیم سوي ودښمن ته او نه یې عجز او زاری وهغو ته کړي دي چې بسته بالا موږ مه وژنئ بلکې صبر یې کړی و پر امر د رب او پر اطاعت د خپل نبي او پر جهاد له دښمانانو سره. مظهري رحمه الله وایي چې په دې کې تعریض دی پر هغو بعضو مسلمانانو چې په جنګ کې د احد یې امان وغوښتی له ابو سفیان څخه او له جنګ څخه بزدله سوه.

وَاللَّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ

او د خدای ﷻ خوښ دي صبر کونکي او هم یې خدای ﷻ نصرت کوي او غلبه ورکوي ولو بعد زمان مدید.

وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ إِلَّا أَنْ قَالُوا

نه و قول ددوی مګر دوی ویله.

پوه سه: چې "قولهم" منصوب دی او خبر د "کان" دی، او "الا ان قالوا" اسم د کان دی، موږ ولي داسي وویل او عکس ددې مو نه وویل له دې سببه چې "ان قالوا" چونکه دال دی پر حدث او پر نسبت او پر زمان د حدث، نو دی اعرف دی تر "قولهم" او قانون نحوي دی چې اعرف اولی بالاسمیة دی.

رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِي أَمْرِنَا

اې زموږ خدایه موږ ته وبخښې گنهونه زموږ یعني گناه صغائر او تر حد تجاوز په حدود کې د عبودیت په حال کې زموږ یعني الکبائر من الذنوب.

وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ

او ټینګې کړې زموږ پښې پر سمه لار د بندګۍ او پر جهاد مع الکافرین، او موږ ته کومک راکړې پر کافرانو باندې په جهاد کې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې حاصل د آیت دادی چې دغو کسانو ته چې سختي او قتل د اصحابو په جهاد کې ور رسېدلی و دوی بله خبره نه کوله یعنې ربنا اغفرلنا ذنوبنا تر پایه پورې، او سبب ددې خبرو ددوی دادی چې خدای پاک خو وعده د کومک د مؤمنانو سره کړې ده او د غلبې پر کافرانو کما قال عزوجل حقاً علینا نصر المؤمنین، وقال في موضع آخر ان جندنا هم الغالبون، او دا هم خدای پاک ویلي دي ما اصابکم من مصیبة فبما کسبت ایدیکم ویعفو عن کثیر" نو دوی فکر وکړی چې دا مصیبتونه او شهادت چې موږ ته رسېږي دا له سببه څخه د شومو ګنهو زموږ او له جهته د اصراف زموږ في امور دیننا، نو ځکه دوی اولاً اقرار په خپله ګناه سره وکړی تاچې پښېمانی او استغفار ته لار پرانېزي وروسته طلب د نصر وکړي له خدای ﷻ څخه، او د ثبات د اقدامو په جنګ کې د کفارو سره عملاً بقوله تعالی "وما النصر الا من عند الله العزیز الحکیم"

مسئله: دعاء وروسته تر پاکی له ګنهو څخه په سبب د ندم او استغفار اقرب واجابت ته د عندالله الغفور الرحیم.

فَاٰتٰىهُمُ اللّٰهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ الْاٰخِرَةِ ؕ

نو دوی ته ورکړي خدای ﷻ ثواب د دنیا چې نصر پر دښمنانو دی او غنیمتونه دي او پادشاهي، او ددوی یادول په خیر چې مسلمانان به یې کوي او هم به دوی ته ورکړي ښه ثواب د اخیرت من الجنة ومراتب القرب من الله ﷻ ورضوان من الله اکبر.

دروښ وایي: چې تخصیص د ثواب الآخرة په حسن سره وکړي له دې کبله چې ثواب د اخرت عالي او قائم او خالد دی، او بل ثواب الآخرت مشوب په امور محزنه وو سره نه دی بخلاف ثواب الدنیا فانه لاثبات له ولا دوام ومصحوب بالآخران والآفات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۳۴﴾

او د خدای ﷻ محبت دی او کوي يې د ښه کار کونکو بندګانو سره.

پوه سه: چې معنا د محبت د بنده سره عبارت دی له رضا څخه د خدای ﷻ له بنده څخه او اراده د خیر ده وبنده ته، نو محبت د خدای ﷻ علت تامه دی د هري نېک بختۍ في الدنیا والآخرة. اللهم ارزقني حبک بفضلک وکرمک وارزقني حبک وحب حبیبک وحب من یحبک وحب عمل یقربني الیک، بر کریمان کارها دشوار نیست.

نصیحت: مسلمان لره پکار ده چې همېشه معترف په خپل تقصیر وي. او خپل په یو جزوي عبادت مغروره نه سي. ولي چې امام اعظم مقتدی الامة رحمه الله د کعبې مبارکې په داخل کې داسي ویلي دي "ما عبدناک حق عبادتک، او مؤمن لره پکار ده چې شب وروز دروازه د عفوي ټکوي. سعدي شیرازي وایي

تو پیش از عقوبت درعفو کوب — که سودی ندارد فغان زیر چوب
کنون بایدت عذر تقصیر گفت — نه چون نفس ناطق زگفتن بخفت

وقال ایضاً

کنونت که چشمت اشکی ببار — زبان دردها نست عذری بیار
فراشو چو بینی در عفوه بار — که ناگه در توبه گردد فراز
مرو زیر بار گناه ای پسر — که حمال عاجز بود در سفر

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تُطِيْعُوا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

اې هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی که تاسي په خوله وکړئ د هغو کسانو چې کافران دي. حضرت علي ؓ وایي چې له "الذین کفروا" څخه منافقان مراد دي. ولي هغه آوازه د قتل د رسول الله ﷺ په غزوه کې د احد چې شائع سوه نو د غو منافقینو ومسلمانانو ته وویل راځئ چې د خپلو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورونو یعنې مشرکینو په دین کې داخل سو. ولې که محمد نبي وایی نه به قتل کېدای. او بعض راویان وایي چې مراد له "الذین کفروا" څخه ابو سفیان دی یعنې بعضې خلګو وویل چې راځئ ابو سفیان ته تسلیم سو. او دوی وویل چې ابو سفیان ته به عجز وکړو او امان به ځندي وغواړو.

يَرُدُّوكُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ فَتَنقَلِبُوا خَاسِرِينَ ﴿١٤٩﴾

تاسي به رد کړي تر شا یعنې هغه دین ته چې دمخه ستاسي و چې شرک دی، نو تاسي به وګرځئ تاوانیان یعنې خسر الدنیا والآخرة.

بَلِ اللَّهُ مَوْلَاكُمْ

خدای ﷻ ستاسي محب او بادار دی او ستاسي ناصر دی پر دغه دین د اسلام، نو د چا په خوله مه کوئ.

وَهُوَ خَيْرُ النَّاصِرِينَ ﴿١٥٠﴾

او خدای ﷻ ښه او قادر له نصرت کونکو څخه د خپلو دوستانو مؤمنانو دی. د غزوه احد راویان وایي چې ابو سفیان چې قائد اعظم د مشرکانو د احد و په ورځ د یکشنبې شپاړس د شوال وروسته تر دې چې اویا کسه یې په شهادت ورسول جنګ یې متوقف کړی او د مکې وخواته ستون سو، یو منزل چې ولاړه ابو سفیان وخپلو خلګو ته وویل چې موږ څه وکړه پر مسلمانانو مو غلبه پیدا کړې وه مګر سرکرده خلګ مو پرېښول. یعنې رسول الله ﷺ، ابوبکر. عمر وغیرهم ﷺ درځئ چې بیرته ورو ګرځو او ټوله ختم کړو، نو چې ابوسفیان دا عزم ټینګ کړی خدای ﷻ په زړه کې بیره ور واچول بیرته یې هغه عزم فسخ کړی او د مکې پر خوا را رهي سو. وانزل الله تعالی هذه الآیة.

سَنُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ

ژر دی چې موږ به واچو بېره په زړو کې د هغو کسانو چې کافران دي یعنې ابو سفیان واتباعه به.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "سين" لپاره د مجرد تاکيد دی مجرد له تاخير څخه. او صيغه د مضارع لپاره د حکايت د ماضي ده. ولي چې رعب خو ددوی په زړو کي واقع سوی و، او بعض مفسرين وايي چې ابو سفيان او فوج يې د مکې وخواته روانېدل، نو يې پخپلو کي دا مشوره سره وکړه چې مسلمانان خو اوس د خپلو مړو په دفن کولو اخته دي درځئ چې ورسو او مدينه لوټ کړو فالقى الله الرعب في قلوبهم فلم يتجاسروا على ذالک.

بِمَآ أَشْرَكُوا۟ بِٱللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ سُلْطَٰنًا ۚ

پوه سه: چې کلمه د "با" سببي ده او کلمه د "ما" مصدري ده، والمعنى په سبب د شريکولو ددوی له خدای ﷻ سره يعنې بتان چې دوی ته نه و نازل د هغو پر شرک باندې نه دليل عقلي او نه نقلي اتباعاً لاسلافهم المشرکين بلکې دلائل عقليه او نقليه پر توحيد باندې موجود وه او هغه هم په ډکه پيمانه.

وَمَأْوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ ۖ وَبِئْسَ مَثْوَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٥١﴾

او ځای ددوی به اور يعنې دوزخ وي، او بد ځای دی اور د ظالمانو لپاره.

پوه سه: چې دا جمله د قرآن عطف ده پر "سنلقى" باندې او مخصوص بالذم محذوف دی ای النار.

پوښتنه: ځای خو د ضمير و "ای مثواهم" نو د څه حکمت لپاره خدای ﷻ اسم ظاهر يعنې الظالمين په ځای کې د ضمير راوړی؟

ځواب: دا تغليظ دی پر دوی باندې چې دوی ظالمان دي او لپاره د تعليل لقوله تعالى "ومأواهم النار"

وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ ٱللَّهُ وَعْدَهُۥٓ

او قسم دی چې په تحقيق خدای ﷻ رښتيا کړه وعده ستاسي سره يعنې په جنګ کې يعنې د جنګ احد په ابتدائي حالاتو کې تر څو پورې چې هغه پنځوس کسه چې عليه الصلوة والسلام ګمارلي وه پر حفظ د يوې درې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

باندي، پر هغه امر د عليه الصلوة والسلام باقي وه.

إِذْ تَحُسُّونَهُم بِإِذْنِهِۦ

پوه سه: چي "اذ" ظرف دی د "صدقكم" والمعنی هغه وخت چي خدای ﷻ وعده د نصرت ستاسي سره رشتیا کړه یعنې په غزاء کي د احد چي تاسي وژله کافران چابک چي د "تحسونهم" معنا ده.

حَتَّىٰٓ إِذَا فَشِلْتُمْ

تر هغه وخته پوري چي تاسي بې زړه سوا ست یعنې رایه مو ضعیفه سوه په طلب د غنیمت کي، وقد قيل حرص الدنيا سبب لضعف العقل.

وَتَنَٰزَعْتُمْ فِى ٱلْأَمْرِ

او ستاسي تر منځ نزاع راغله په امر کي د عليه الصلوة والسلام چي د عبدالله بن جبير ﷺ په مشرۍ يې تاسي د درې په خوله کي کښېنولي واست، او تاسي ته يې ويلي وه چي دا مرکز به تاسي نه پرېږدئ تر امر ثاني پوري زما، نزاع ددوی هغه وه چي دمخه تېره سوه، يعنې چي ملګرو د عبدالله بن جبير ﷺ چي هزيمت او شکست د کافرانو د مکې ولیدی نو دېرو ملګرو د عبدالله ﷺ وويل چي مونږ بالا دلته څه کوو هغه دی کافران مات سوه، نو عبدالله ﷺ وصيت د عليه الصلوة والسلام ورپياد کړی عبدالله ﷺ ورته وويل چي زه خو تر امر د رسول الله ﷺ نه سم تېرېدای، هغه و چي صرف څورلس کسه د عبدالله ﷺ سره پر هغه مرکز پاتې سوه نورو ټولو په طلب د غنيمت مرکز خوشي کړی.

وَعَصَيْتُم

او تاسي نافرماني وکړه له امر څخه د عليه الصلوة والسلام کمامر آنفاً.

سوال: فشل او تنازع في الامر خو تر عصيان دمخه وه خو بعض علماء وايي نو له دې سببه يې عصيان ورومبته راوړی؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: دا خبره صحیح نه ده، ولي چې دلته عطف بالواو دی او نحات وایي چې عطف بالواو ترتیب نه غواړي.

پوه سه: چې ځواب د "اذا" محذوف دی والتقدیر اذا فشلتم وتنازعتم وعصیتم منع الله عنکم نصره فاصابکم ما اصابکم من الهزیمة والشهادة.

مِّنۢ بَعۡدِ مَآ أَرَىٰكُم مَّا تُحِبُّونَۚ

وروسته تر هغه چې په تاسي کې یې ولیدی هغه شی چې ستاسي خوښ و یعنې فتح او بری پر دښمن او غنیمت، نو کلمه د "من" متعلق په "فشلتم" پورې ده ویمکن التعلق بتنازعتم او بعصیتم لان کل واحد من هذه الامور کان بعد ارادته تعالی ما تحبون لکن الاول اولی لتقدمه في الذکر.

مِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلدُّنۡيَا

بعض کسان ستاسي څخه هغه وه چې اراده د دنیا یې درلوده یعنې الذین ترکوا المرکز من اصحاب عبد الله بن جبیر ﷺ في طلب الغنیمة.

وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلۡأٓخِرَةَۚ

او بعض له تاسي څخه هغه کسان وه چې اراده د اخیرت یې درلوده یعنې ثواب الآخیرة دا هغه څورلس کسه وه چې د عبد الله ﷺ سره پر مرکز معهود ثابت پاته سوه.

فائده: د عبد الله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی چې زه نه پوهیږم چې یو څوک دي له اصحابو څخه د علیه الصلوة والسلام اراده د طلب د دنیا لري حتی نزلت هذه الآیة یعنې "منکم من یرید الدنیا"

دروښ وایي: چې له دې قول څخه د ابن مسعود ﷺ مراد دادی چې طالبان د دنیا په اصحابو کې د علیه الصلوة والسلام فقط دغه کسان وه او فقط په هم دغه ورځ کې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثُمَّ صَرَفَكُمْ

وروسته خدای ﷻ په سبب د عصیان ستاسي د امر نبوي د غلبې خوا واړول.

عَنْهُمْ

له کافرانو څخه حتی چې دوی غالبه سوه او تاسي مغلوبه.

لِيَبْتَلِيَكُمْ

تاچې پر تاسي بلا او مصیبت نازل کړي په سبب د معصیت د بعض کسانو ستاسي.

فائده: له دې آیت څخه دا معلومه سوه چې ګاهي په سبب د عصیان د بعضو خلګو پر عامو خلګو مصیبت نازلوي، نو دا بلا او مصیبت به جزاء سي د عاصیانو لپاره او رحمت او پورته والی به سي د مرتبې د مطیعانو خلګو لپاره.

پوښتنه: عام خلګ له سببه څخه د ګناه د خاصو خلګو د ګناه ظلم خو به نه وي؟

ځواب: یا ظلم نه دی، ولي ظلم پر یو چا خو دا بولي په عرف کې چې د مظلوم حق ورتلف کړي، په دې ما نحن فیه کې خدای ﷻ د مطیعانو خلګو درجات عالیه ورکوي کمامر عنقریب. فهو عین العدل من الله العزیز فافهم الفرق بین الظلم والعدل.

وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ

او خدای ﷻ په تحقیق سره تاسي ته عفوه وکړه یا تفضلاً واحساناً منه تعالی، او یا یې په سبب د پښیمانۍ ستاسي پر مخالفت د امر نبوي ﷺ لان الندم هو التوبة.

وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ

پوه سه: چې تنوین د "فضلٍ" لپاره د تعظیم دی، والمعنی خدای ﷻ خاوند د لوی فضل دی پر مؤمنانو حتی چې پر مخالفت د امر نبوي ددوی استیصال یې ونه کړي، او بعض مفسران ؒ وایي چې خدای ﷻ په ټولو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

احوالو کې احسان کونکی دی د مؤمنانو سره، ولې چې نازلول د مصیبت پر مؤمنانو وروسته تر مصیبت هم د خدای ﷻ احسان دی، ولې چې په دې دنیا کې له ګناه څخه پاک او جزاء یې واخرت ته نه وځنډوي، په حدیث شریف کې چې له علي بن ابي طالب ﷺ څخه مروي دی راغلي دي چې آیا زه تاسي خبر نه کړم په افضل آیت د کتاب الله څرنګه چې مونږ ته علیه الصلوة والسلام بنوولی دی هغه دغه آیت دی ﴿وما اصابکم من مصیبة فبما کسبت ایدیکم ویعفو عن کثیر﴾ قال علیه الصلوة والسلام چې زه بیان ددې آیت وتاته وکړم یا علي ﴿ما اصابکم من مرض او عقوبة او بلاء في الدنیاء فبما کسبت ایدیکم والله ﷻ اکرم من یثنی علیهم العقوبة في الآخرة﴾ یعنې چې په دې دنیا پر سړي او مسلمان په سبب د معصیت یو عذاب مسلط کړي له هر قسمه څخه چې وي من مرض او فقر او تسلط العدو، نو خدای ﷻ دپر مهربانه دی چې په اخیرت کې به وهغه عاصي مسلمان ته بیا عذاب راګرځوي، او هغه ګناه چې خدای ﷻ یې په دې دنیا ومسلمان ته عفوه وکړي یا تفضلاً یا په سبب د ندم د عاصي نو خدای ﷻ احکم دی تر دې چې په اخرت کې د هغې ګناه عذاب ومسلمان ته ورکړي.

إِذْ تُصْعِدُونَ

پوه سه: چې "اذ" یا منصوب دی په مقدر فعل سره ای اذکر اذا آه، او یا ظرف دی د "صرفکم" او یا د "یبتلیکم" او یا د "عفاعنکم"

پوه سه: چې قرآئت ددې لفظ مجمع علیها په ضمه د تاء دی یعنې له بابه د افعال، لکن مع هذا حسن بصري، قتاده او ابو عبدالرحمن ؒ یې په فتحه د تاء وایي یعنې له باب څخه د مجرد، لکن مفضل ددې دوو قرائتو جمع دا ډول کړې ده چې "صَعَدَ" باب د مجرد او "أَصْعَدَ" باب د افعال او "صَعَّدَ" باب د تفعیل په یوه معنا دی، نو دواړه قرائته صحیح دي، نو پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هر تقدیر معنا د "تصعدون" داده چې تاسي وغره ته پورته سوا ست.

وَلَا تَلْوُۥنَ عَلَىٰٓ أَحَدٍ

او تاسي غاړه نه پېچل پر یو چا یعني لا یلتفت احد الی احد لشدة الدهشة علیکم، وهذا کله في غزوة احد.

وَٱلرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ فِىٓ أُخْرَىٰكُمْ فَأَثَٰبَكُمْ

او علیه الصلوة والسلام تاسي را وبللاست چې دی په اخیر کې د قوم ولاړ و، ولي چې مسلمانان یې په سبب د شکست او هزیمت تر دمخه سوي وه، او علیه الصلوة والسلام داسي وویل "الي عباد الله فانا رسول الله" ماته راسئ اې بندګانو د خدای ﷻ زه رسول د خدای ﷻ یم "من یکر فله الجنة" که څوک رجوع وکړي له تېښتي څخه نو هغه لره جنت واجب دی.

پوه سه: چې جمله د "والرسول یدعوکم آه" منصوب محلاً حال ده، او جمله د "فاثابکم" عطف ده پر "صرفکم" باندې.

پوښتنه: ثواب خو جزاء ته د خیر د عمل وایي دلته خو دا شکست او علیه الصلوة والسلام په اخیر کې پر ېښول د خیر کار نه و؟

ځواب: هو! دلته ثواب په معنا د عقاب دی علی فشلکم وعصیانکم، او تعبیر په ثواب سره له قبیلې څخه د هغه قول د خدای ﷻ دی "فبشرهم بعذاب الیم" یعني تعبیر د یو ضد دی په بل ضد سره، واصل المعنی انه تعالی عاقبکم علی مافعلتم من الفشل والهزیمة وترک الرسول في اخریکم مکان ماکنتم ترجون من الثواب في القتال في سبیل الله.

غَمًّۢا بِغَمٍّ

ای غماً متصلاً بغم.

پوه سه: چې اول غم یې قتل او جرح او بری د مشرکانو و او دوهم غم یې اورېده د قتل د علیه الصلوة والسلام وه، او بعض مفسرین وایي چې اول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې فوت د غنيمت و، او دوهم يې قتل او جرح او شکست و.

دروښ وايي: چې فوت د غنيمت دومره نه و چې د اصحابو په دماغو کې دې پاته وايي، او بعض مفسران وايي چې اول غم جنګ د ابو سفيان و او دوهم غم د خالد بن وليد و چې عبدالله بن جبير ﷺ يې سره د څورلسو کسانو په شهادت ورساوه، او وروسته يې پر مسلمانانو د شا له خوا حمله شروع کړه کمامر تفصيله في هذا التفسير، او بعض مفسران وايي چې غم اول يې غم د قتل او جرح او د هزيمت و، او دوهم غم ددې و چې ابوسفيان پر مدينې منورې حمله ونه کړي او بښځي او کوچنيان مړه نه کړي او مدينه لوټ نه کړي.

دروښ وايي: چې ابوسفيان هم دغه سي قصد کړی و لکن خدای ﷻ دده په زړه کې رعب ور واچاوه او هغه يې عملي نه کړی، او بعض مفسران د آيت ترجمه داسي کوي چې کلمه د "با" في "بغمٍ" سببي ده فالمعنى غماً بسبب غم چې دوی عليه الصلوة والسلام خوابدی کړی بعصيانهم له. وقيل غير ذالک.

لِّكَيْلَا تَحْزَنُوا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا مَا أَصَابَكُمْ ۗ

پوه سه: چې لام متعلق دی په ماقبل سره، والمعنى فعل الله ما فعل ددې لپاره چې تاسي غم ونه کړئ پر هغه شي چې له تاسي څخه فوت سو چې بری پر کافرانو او غنيمت و، او نه پر هغه شي غم وکړئ چې تاسي ته ورسيدی من القتل والجرح والهزيمة يعنې په وروسته زمانو کې.

پوه سه: چې اکثره مفسران وايي چې دواړه ځايه کلمه د لا زائده ده. فالمعنى عند هؤلاء ددې لپاره چې تاسي غم وکړئ پر ما فاتكم وما اصابكم باندي، او بعض مفسران وايي چې کلمه د لا نه وه زائده، نو معنا يې داسي کوي اثابكم غماً بغم. ددې لپاره چې تاسي عادت سئ له صبر سره په شدائدو کې، نو د آينده لپاره به تاسي غم ونه کړئ پر نفع فائته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

باندي او نه پر ضرر لاحق باندي.

دروېش وايي: چې ترجمه لفظي د دروېش پر دغه مذهب بنا. وه، وانما اخترت هذا الوجه لانه حال عن القول بزيادة كلمة لا في القرآن كما في القول الثاني تدبر هداک الله الى ماهو الانسب بالقرآن العزيز.

دروېش وايي: چې مظهري رحمه الله دوه تفسيره نور راوړي دي چې يو يې وئان ته منسوب کړی دی، او بل يې په قيل سره راوړی دی چې دا دواړه تفسيرونه د ډېر تکلف سره مخامخ دي ان شئت فطالع هناک. له امير المؤمنين علي رضي الله عنه څخه روايت دی چې ما امير المؤمنين ابوبکر صديق رضي الله عنه ته وويل يا خليفة رسول الله ﷺ ته په کومو عملو او په څه سبب ودې درجې ته ورسېدلې. چې تر مورِ تولو تا سبقت پيدا کړی؟ ده وويل په دې سبب چې ما وليده خلګ دوه قسمه بعض مريد الدنيا وه او بعض مريد نعم العقبى وه، ما ځان مريد المولى وګرځاوه يعنې قسم ثالث مې پيدا کړی، او بل دا چې زما ومخته دوه عمله راغلي دي يو د دينا او بل د اخرت ما عمل د اخرت مختاره کړی دی، او بل صحبت د نبي کريم ﷺ دی چې ما په ډېر اخلاص ورسره کړی دی، علي رضي الله عنه وايي چې ابوبکر رضي الله عنه په هيڅ وخت کې له صحبت څخه د عليه الصلوة والسلام نه دی جلا سوی حتى في غار جبل الثور وقت هجرته عليه الصلوة والسلام الى المدينة. او پر ابوبکر رضي الله عنه ډېره سختي ورغلې ده په مصاحبت کې د نبي ﷺ او مالي نفعي يې هم ډېري رسول الله ﷺ ته رسېدلي دي، او سره سره د دغه تولو ماقلنا يو وخت هم په زړه کې د ابوبکر رضي الله عنه زيغ او شک نه دی پيدا سوی، او هيڅ وخت ابوبکر رضي الله عنه قصد د مخالفت د آنحضرت ﷺ نه دی کړی.

دروېش وايي: والى مثل محبة ابوبکر رضي الله عنه مع النبي ﷺ اشير في هذاين البيتين بالفارسية

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کیست دانی صوفیٔ صافی ز رنگ الفرقه
آنکه دارد رو بیک رنگی درین گاغ دو رنگ
نگسلد سر رشته اش از سر جانان گربه فرض
روبه رو گردد زیک سو شیر ودیگر سو پلنگ

وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝

او خدای ﷻ خبر دی ستاسي په اعمالو که اعمال د خیر وي او که د شر فیجازیکم علی حسب ذالک.

پوه سه: که کلمه د "با" متعلق سي په "خبیر" پورې او کلمه د "ما" مصدري سي نو یې معنا داده والله خبیر بعملکم، او که کلمه د "ما" موصوله سي، نو عائد و"ما" ته محذوف دی یعني والله خبیر بما تعملونه. والاول اولی.

ثُمَّ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ الْغَمِّ اَمَنَةً

وروسته خدای ﷻ نازل کړه پر تاسي ای ډلي د مسلمانانو یعني په عین حال کي د جنګ د احد اطمنان او آرام د زړو بعد شدة الخوف والغم بعد الغم.

نُّعَاسًا

پوه سه: چي "نعاساً" بدل اشتمال دی له "امنةً" څخه.

فائده: نعاس د خوف مقدمه ده چي په پښتو یې پنکی بولي، او عربي تعبیر یې دادی ثقل الراس من النوم کذا فسره روح البیان وما قال المظهري لعل النعاس ههنا عبارة عن استغراق یحصل للصوفي عند نزول الرحمة بحیث یغفل عما سواه الخ.

دروښ وایي: چي حصول ددې حالت وصوفي ته خو مُسلم دی لکن تفسیر د قرآن کریم په هغه غلط دی للزوم المجاز بلاضرورة او دا لفظ په آیت کرسي کي هم راغلی دی یعني "لاتاخذه سنة ولا نوم آه" نو هلته به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې مظهري څه معنا کوي.

فائده: قوله تعالى "ثم انزل آه" عطف على قوله تعالى "فاتاكم آه" او د انزل معنا دلته داده اى اعطى ووهب لكم ايها المؤمنون.

يَّغْشٰى طَآئِفَةً مِّنْكُمْ

پوه سه: چې د "يغشى" مشهور قرائت په ياء دى يعنې مذكر، نو ضمير يې راجع و "نعاس" ته دى، او "تغشى" په تاء سره هم راغلى دى يعنې مؤنث، نو ضمير خو راجع ونعاس ته دى په سبب د مبدل منه يعنې "امنةً"

دروښ وايي: چې تولـه مفسرين په دې موضوع کې هغه حديث چې بخاري او نورو محدثينو يې نقل کړى دى له انس ﷺ څخه چې هغه وايي ابو طلحه ﷺ وويل غشينا النعاس ونحن في مصافنا يوم احد قال فيسقط سيفي من يدي وآخذه يعني "احل النعاس، ويسقط واخذه" او ثابت بن انس د ابي طلحه ﷺ داسي روايت هم کړى دى چې ما سر پورته کړى په ورځ د احد ما نه وليدى يو سړى له قوم څخه يعني المجاهدين يوم احد مګر نه په داسي شان سره چې سر به يې بنورېدى لاندي تر سپر من النعاس.

وَطَآئِفَةٌ قَدْ اَهَمَّتْهُمْ اَنْفُسُهُمْ

او يوه بله ډله چې منافقان وه، په غم کې يې اچولي وه خپل ځانونه او له امن څخه د نعاس محروم وه بلکې دوى د خپل ځان د خلاصون په طمع وه، پوه سه! چې "طائفة" مبتداء ده،

يَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ غَيْرَ الْحَقِّ

پوه سه: چې "يظنون" خبر دى د "طائفة" او "غير الحق" منصوب دى مفعول مطلق دى لان التقدير يظنون ظناً غير الظن الحق، يعنې ددوى دا ګمان و چې خداى ﷻ د محمد ﷺ سره کومک ونه کړى، او يا داچې که محمد ﷺ نبي وايي، نو به ولې وژل کېداى، وذالک وقت اعلان قتل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محمد ﷺ حين رماه ابن قمية بحجر.

ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ

بدګماني د جاهليت

پوه سه: چې دا لفظ بدل دی من غير الحق. او يا منصوب په نزع د خافض دی يعني كظن اهل الجاهلية.

يَقُولُونَ هَل لَّنَا مِنَ الْأَمْرِ مِن شَيْءٍ

دوی يعنې دوهمي طائفې چې منافقان وه به ويل يا پخپلو زړو کې او يا شفاهاً و عليه الصلوة والسلام ته هل لنا. استفهام انکاري دی يعنې نسته موږ لره من الامر يعنون هغه شی چې زمونږ سره خدای ﷻ وعده کړې وه يعني النصر على الكفار من شيئ يوشی دا "من" استغراقي دی لپاره د استغراق د نفي مفهوم من الاستفهام الانكاري.

پوه سه: چې "يقولون" بدل دی له "يظنون" څخه.

قُلْ إِنَّ الْأَمْرَ كُلَّهُ لِلَّهِ

ته ورته ووايه اې محمد ﷺ چې حكم ټوله يعنې که فتحه ده او که هزيمت دی خدای لره دی يفعل مايشاء ويحكم مايريد. او روح البيان يې ډېره ښائسته ترجمه کړې ده ای الغلبة بالآخرة لله تعالى ولاوليائه فان حزب الله هم الغالبون يعني که څه هم غلبه د اولياء الله په بعضو اوقاتو کې نه سي ښکاره كما في يوم الاحد، نو په هغه کې د خدای ﷻ حكم او مصالح سته كمامر في الآيات السابقة فتدبر.

يُخْفُونَ فِي أَنفُسِهِم مَّا لَا يُبْدُونَ لَكَ

او ددوی په زړو کې له دغو خبرو څخه يو پټ شی دی چې تاته يې نه ښکاره کوي. ولي دوی چونکه منافقين دي، نو پر دې برابري چې زمونږ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نفاق نه سي ښکاره.

پوه سه: چي جمله د "یخفون" حال ده له ضمیر څخه د "یقولون" والحاصل چي دغه قائلین په ظاهره داسي ښکاره کوي چي مونږ ځان پوه کړو او طالبان د نصرت الهي یو. او حقیقت مراد ددوی هغه دی چي په راتلونکي آیت کي به یې خدای ﷻ بیان کړي.

يَقُولُونَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ

او دوی وایي که امر د نصرت الهي مونږ لره یو شی وایی کما وعدنا محمد ﷺ وقال ان الامر کله لله و اولیائه.

مَّا قُتِلْنَا هَٰهُنَا ۗ

نو مونږ به نه وژل کیدای دلته یعني د احد په ډګر کي.

پوښتنه: دوی خو نه دي وژل سوي په احد کي. نو ولي دوی داپوښتنې کوي؟

ځواب: دوی منافقان له ضمیر څخه د "نا" شهداء د احد مراد دي. یعني دوی دا ښکاره کوي چي هغه شهداء خو عین مونږ یو یعني شهداء د احد هم مسلمانان وه او مونږ هم مسلمانان یو.

پوښتنه: ابن ابی رئیس المنافقین خو درې سوه کسیزه ډله دمخه تر شروع د جنګ د احد جلا کړه کمامر سابقاً، نو دوی بیا څرنګه دا دعوه کوي ماقتلنا ههنا؟

ځواب: په منافقینو کي بعض داسي منافقین هم وه چي خپل نفاق یې ډپر پټ ساته. نو هغه د ابن ابی په ډله کي نه سوه جلا بللکې په جنګ کي یې شمولیت وکړی، نو قائلین د مخکنی خبري دغه مخفي منافقین دي والله اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب.

قُل لَّوْ كُنتُمْ فِي بُيُوتِكُمْ لَبَرَزَ الَّذِينَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ إِلَىٰ مَضَاجِعِهِمْ

ته ورته ووایه دغو کسانو ته چي که تاسي پخپلو کي وایی نو ظاهر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوي به وایی یعنې راغلي به وایی هغه کسان یعنې ستاسو چې لیکل سوی یعنې په لوح محفوظ کې قتل پر دوی. وهغه ځایو ته چې پر هغو ځایو وژل کېږي. یعنې اوسېدل ستاسي په مدینه کې فائده نه کوله بلکې اضطراراً به تاسي میدان جنګ ته راغلي وایی او هورې به وژل سوي وایی.

وَلِيَبْتَلِيَ اللّٰهُ مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ

او چې خدای پاک امتحان وکړی د هغه شي چې ستاسي په سینو کې دي یعنې په زړو کې من قبیل ذکر الظرف وارادة المظروف، یعنې ستاسي پټ حالات من الاخلاص والنفاق به خدای ﷻ ښکاره کړي، یعنې په علم ظهور سره وخلګو ته.

پوه سه: چې "ولیمحص" معطوف دی پر محذوف باندې چې هغه بیا متعلق دی بقوله "برز" والتقدیر "لبرزوا الی مضاجعهم لنفاذ القضاء الالهي فیکم ولمصالح کثیرة وللابتلاء آه کذا قال المظهري وصاحب روح البیان والبیضاوي، وروح المعاني وغیرها.

وَلِيُمَحِّصَ مَا فِيْ قُلُوْبِكُمْ

او چې خدای ﷻ کشف کړی و خلګو ته هغه شی چې ستاسي په زړو کې و ایها المؤمنون من الوساوس والخطرات.

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۱۵۴﴾

او خدای ﷻ خبر دی په علم ازل سره په هغه چې د خلګو په سینو کې وي، والمعنی چې خدای ﷻ خو غني دی له ابتلاء څخه، ولي چې ابتلاء او امتحان خو هغه څوک کوي چې په مافي الصدرو ناخبره وي لکه ممتحنان د مدارسو او مکاتبو چې د متعلمانو په حال ناخبره دي وهو تعالی لیس کک، بلکې فائده ددې امتحان ښکاره کول دي د حال د مؤمنانو من الثبات والصبر علی شدائد القتال من حال المنافقین من الجزع والضرار.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ الَّذِينَ تَوَلَّوْا مِنكُمْ

یعنې چې شکست یې وکړی له تاسې څخه اې مسلمانانو.

يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ

چې سره مخامخ سوې دوې ډلې جمع من المسلمین وجمع من المشرکین یعنې په ورځ د احد.

پوه سه: چې اکثره مسلمانانو شکست وکړی حتی چې د علیه الصلوة والسلام سره دیارلس کسه پاته سوه او د عبدالله بن جبیر رضی الله عنه سره چې د دره احد پر ساتنه مامور و پنځوس کسه ورسره وه لس کسه تخمیناً ورپاته سوه.

إِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطَانُ

یعنې طلب د زلت ددوی وکړی شیطان بالقاء الوساوس في قلوبهم خصوصاً اذا سمعوا قتل النبي ﷺ.

بِبَعْضِ مَا كَسَبُوا

بعض وایي چې مراد له "ماکسبوا" څخه ترک د مرکز دی د عبدالله بن جبیر رضی الله عنه د ملګرو، او حسن بصري رحمه الله وایي چې "ماکسبوا" قبول د دوی د وسواس الشیطان.

وَلَقَدْ عَفَا اللَّهُ عَنْهُمْ

او خدای ﷻ ودوی ته عفوه وکړه.

پوه سه: چې اهل مصر چې قاتلان د حضرت عثمان رضی الله عنه وګرځېدل یعنې دوی عثمان رضی الله عنه محاصره کړی پخپل کور کې او د شپې کورته ورواوښتل او حضرت عثمان رضی الله عنه د تهجد لمونځ کړی و او د قرآن مبارک وظیفه یې کوله او دې آیت ته رسېدلی و "فسیکفیکهم الله وهو السمیع العلیم" چې باغیانو یې سر غوڅ کړی وینې یې پر دغه آیت ومښتلې، اهل مصر د عثمان رضی الله عنه دا عیبونه بیانول چې په غزاء کې د احد ده فرار کړی دی، او د بدر په غزاء کې هم نه و شامل، او په بیعت رضوان کې د حدیبیې هم نه و

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حاضر، نو ابن عمر ﷺ ودوی ته وویل "اما فراره یوم احد فاشهد ان الله قد عفی عنه کما في هذه الآیة ولقد عفاالله عنهم، واما غیبة عن بدر" د هغه سبب دا و چې په نکاح کې د عثمان ﷺ د علیه الصلوة والسلام لور بي بي رقیه ﷺ وه او هغه مریضه وه، نو علیه الصلوة والسلام وعثمان ﷺ ته وویل چې ته زما د لور د ناروغۍ په خاطر بدر ته مه راځه، او تاته خدای ﷻ ثواب د یوه نفر د بدریانو او برخه د هغه درکوي، واما غیبة عن بیعة رضوان چې په موقع کې د حدیبیې وسوه، نو د عثمان ﷺ غیبت له دغه بیعت څخه په دې سبب و چې علیه الصلوة والسلام وغوښته چې یو نفر کفارو ته د مکې ورواستوي چې موږ ته اجازه راکړي چې موږ د عمرې لپاره مکې ته درسو، نو د علیه الصلوة والسلام په ملګرو صحابه وو ﷺ کې بل داسې عزت مند سړی پر کفارو د مکې لکه عثمان ﷺ نه و، نو یې ځکه دی واستاوه، او بیعة الرضوان چې په حدیبیه کې منځ ته راغلی او عثمان ﷺ په مکه کې و بیا هم علیه الصلوة والسلام خپل رسته لاس پورته کړی او وه یې ویل هذه ید عثمان فضرب بها یده الاخری او وه یې ویل چې دا بیعت د عثمان لپاره دی.

تتمه: پوه سه چې حضرت عثمان ﷺ ته اول علیه الصلوة والسلام یوه لور په نکاح ورکړې وه، چې هغه وفات سوه بیا یې بله لور په نکاح ورکړه، هغه چې هم وفات سوه علیه الصلوة والسلام وویل که ما درې یمه لور درلودی هغه مې هم عثمان ته په نکاح ورکوله، نو له دې سببه حضرت عثمان ﷺ په ذي النورین سره مشهوره و.

دروښ وایي: چې باغیان یو داسې رفتار د حضرت عثمان ﷺ سره وکړی چې په تاریخ کې د اسلام به د یو معمولي مسلمان سره چا نه وي کړی، هغه دا چې باغیانو وروسته تر قتل له کوره دده راویستی او پر مزیله یعنې د نجاساتو پر مجمع باندې یې وغورځوی، او امر یې وکړی چې هیڅ څوک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

به يې نه پښځوي، دريې ورځې د حضرت عثمان ﷺ جسد پر مزبله پروت و. ځلورمه شپه د شپې بعض مسلمانان له يوه کلي څخه راغله په پته يې د حضرت عثمان ﷺ جسد مبارک په جنت البقيع کې وخاورو ته وسپاره او تښتانه يې نه کړه ور چې بيرته يې باغيان له قبره را وه نه باسي. چې باغيان ولاړه بيا يې قبر پر جوړ کړی چې هغه قبر د عثمان ﷺ اوس هم په جنت البقيع کې ځمايان دی او حجاج يې زيارت ته ورځي.

دروښ وايي: چې امت محمدي ﷺ پر دې خبره متفق دي چې طعن پر اصحابو د عليه الصلوة والسلام هيڅ مسلمان ته روا نه دی. قال عليه الصلوة والسلام اصحابي كالنجوم بايهم اقتديتم اهتديتم.

مسئله: وما وقع من المشاجرات والمحاربات بينهم فمحمول على الخطاء في الاجتهاد" پر او ملامت وهيڅ چاته د عليه الصلوة والسلام له امتيانو څخه اجازه نسته عند اهل السنة والجماعة لكه شيعه گان چې يې کوي،

إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿٤﴾

په تحقيق سره خداى ﷻ بخښونکی د ګناه دی د عاصيانو، په توبه څو يې يقيناً بخښي او بې توبې يې هم احتمال د بخښې د ګناه سته عند اهل السنة خلافاً للمعتزلة، او خداى ﷻ حلم لري عاصي ژر په ګناه نه نسي، بلکې مهلت ورکوي حتى چې کفارو ته هم مهلت ورکوي يعنې د کافرانو دا امهال دی اهمال نه دی.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ كَفَرُوا

اې هغه کسانو چې ايمان يې راوړی دی، تاسې مه ګرځئ لکه هغه کسان چې کفر کوي.

دروښ وايي: چې په اتفاق د مفسرينو له "الذين كفروا" څخه مراد په دې آيت ګې منافقين دي يعنې عبدالله بن ابي او د هغه ملګري په نفاق کې، لانه ورد في الحديث "من تشبه بقوم فهو منهم" رواه ابو داؤد عن ابن عمر ﷺ مرفوعاً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې مراد تشبه ده په عقائدو کې لا عموماً مثلاً في اللباس وغیره لانه وان کان مکروهاً لایکون کفراً" په قرینه ددې چې وجه د مشابهت د منافقینو د کفارو سره انکار دی له تقدیر الهي څخه وهو کفر بالاتفاق.

وَقَالُوا

پوښتنه: قال" خو ماضي ده او دا وروسته خبري چې منافقینو کولې په مستقبل کې به یې کولې؟

ځواب: هوا ماضي خو ده لکن دلته په معنا د مستقبل ده وان کانت علی صیغة الماضي.

پوښتنه: خدای ﷻ د څه حکمت لپاره ماضي صغیه راوړه او مستقبل یې نه ووایه؟

ځواب: حکمت یې تنبیه ده پر تحقق د قول مذکور یقیناً في المستقبل قطعاً

لِإِخْوَانِهِمْ

یا په نسب کې ورونه او یا په نفاق کې ورونه.

پوه سه: چې اکثره مفسرین وایي چې د "لاخوانهم" معنا داده لاجل اخوانهم، نو کلمه د لام اجلي ده، او یا في حق اخوانهم، نو کلمه د لام په معنا د في ده، او دا لام له دې قبیلې څخه نه دی قلت لفلان کذا. ولي چې د وروسته څخه یعنې لوکانوا عندنا آه دا معلومیږي چې اخوان ددوی حاضر نه وه والا لقالوا لو کنتم عندنا آه، او مظهري رحمه الله پر خلاف د روح البیان داسي ویلي دي چې زه وایم چې احتمال لري چې "لاخوانهم" په اعتبار د بعض حاضرینو منافقینو وي، او ضمیر د "لوکانوا" چې غائب دی په اعتبار د امواتو او مقتولینو دي وي، نو خطاب او غیبت دواړه صحیح دي، وروسته مظهري رحمه الله لپاره د تصحیح د خپلې توجیه نورې خبرې هم کړې کړي، لکن علامه بغداد السید الالوسي رحمه الله په څلورم جزء کې د روح المعاني ص۹۹ وایي "وقول بعضهم یصح انیکون جعل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

القول لاخوانهم باعتبار بعض الحاضرين والقول الآتي يعني لو كانوا عندنا آه لضرب الاخر اى لقوم غائبين اى الذين ماتوا وقتلوا، تكلف لاحاجة اليه سوى كثرة الفضول آه.

دروښ وايي: چې قاضي بيضاوي رحمه الله د روح البيان موافق تفسير کړی دی،

إِذَا ضَرَبُوا فِي الْأَرْضِ

چې دوی سفر کوي په مځکه کي لپاره د تجارت يعني لهري ځايو ته ولاړ سي.

دروښ وايي: چې دا خبره ورسره محذوفه ده چې په سفر کي مړه سي بقرينة قوله تعالى "لوكانوا عندنا ماماتوا"

أَوْ كَانُوا غُزًّى

پوه سه: چې "غزى" جمع د غازٍ ته يعني غزاء ته ولاړ سي او قتل کړه سي وهذا ايضاً بقرينة ما بعده يعني ماقتلوا.

لَّوْ كَانُوا عِندَنَا مَا مَاتُوا وَمَا قُتِلُوا

دروښ وايي: چې دا قول مقوله ده د "قالوا" والمعنى که دوی زمونږ سره وايی نو به نه مړه کيدای، يعني في صورة السفر للتجارة وغيرها او نه به وژل کيدای يعني في صورة الخروج الى الغزوة.

پوه سه: چې دوی دا خبره له دې جهته کوله چې دوی ايمان نه درلودی پر قدر او قضاء الهي، نو قدريه چې معروفه ډله ده له اهل اهواء څخه د هغو ورته رايه ده.

لِيَجْعَلَ اللَّهُ ذَٰلِكَ

چې وګرځوي خداى ﷻ دغه اعتقاد ددوی او قول ددوی يعني "لوكانوا عندنا آه.

پوه سه: چې کلمه د لام د "ليجعل الله" لپاره د غرض او اجل نه ده، ولي چې دا خو ددوی غرض نه و بلکې دا لام عاقبة دی كما قوله تعالى في قصة فرعون وموسى، ليكون اى موسى "لهم" اى لفرعون وقومه "عدوا وحزنا" وكما في قول القائل لدوا للموت وابنوا للخراب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حَسْرَةً فِي قُلُوبِهِمْ

یو غم سي په زړو کي ددوی، وحاصل قوله تعالی "یاایها الذین آمنوا" ای مؤمنانو تاسي مه ګرځئ مثل د منافقینو چي ددوی رنګه خبري کوي او اعتقاد هم پر کوي یعني قولهم لو کانوا عندنا ماماتو وماقتلوا الان ذالک القول والاعتقاد کفر.

وَاللَّهُ يُحْيِي وَيُمِيتُ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١٥٦﴾

خدای ﷻ سړی ژوندی کوي او وژني یې، یعني سفر قریب یا بعید او حضور وجنګو ته د کفارو، ولي ګاهي سړی پر کور مقیم او په غزاء کي هم ناحاضره سړی مړسي او مسافر که څه هم په سفر بعید تللی وي، او غازي في سبیل الله ژوندی پاته سي کما دلت التجربة علیه کر الازمان ومر الدهور، او خدای ﷻ ستاسي په عملو عالم دی.

پوه سه: چي کلمه د "ما" یا مصدریه ده ای بعملکم او یا موصوله ده والعائد محذوف ای بما تعملونه والاول اولی کما لایخفی.

وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِنَ اللَّهِ وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ ﴿١٥٧﴾

او تاسي ووژل سئ په لاره کي د خدای ﷻ او یا مړه سئ یعني په مسافرت کي في سبیل الله، نو مغفرت د خدای ﷻ یعني تاسي لره خیر دی تر هغه چي ژوندي جمع کوي یعني حظوظ الدنیا ومنافعها لان الدنیا دار الفناء والآخرة خیر وابقی.

پوه سه: چي لام په "لئن" کي موطئه د قسم دی، او کلمه د "ان" شرطي ده او "لمغفرة" جواب دی د قسم محذوف لتقدمه او قائم مقام د شرط د جواب هم دی.

فائده: امام حفص رحمه الله علیه لفظ د "یجمعون" په صیغه د غیبت وایي کما في المصاحف المطبوعة، او نور قراء یې په تاء خطاب سره وایي، نو پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اول تقدیر یې معنی داده چې قتل یا مرګ في سبیل الله خیر دی تاسي لره، او مغفرت د خدای ﷻ تر هغه چې ژوندي خلګ یې جمع کوي من منال الدنیا، اوپر دوهم تقدیر یې معنا داده چې قتل او مرګ في سبیل الله او مغفرت د خدای ﷻ خیر دی تاسي لره تر هغه شي چې تاسي به جمع کړی وایی یعني که تاسي ژوندي پاته سوي وایی یعني من حضوظ الدنیا.

وَلَئِنْ مُّتُّمْ اَوْ قُتِلْتُمْ لَاِاِلَى اللّٰهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۱۵۸﴾

او تاسي مړه سئ په سفرو کي د تجارت وغیرها او یا ووژل سئ په غزوات کي.

پوه سه: چې لام لپاره د تاکید دی او جار مجرور متعلق په "تحشرون" پوري، نو دمخه چې راوړی لپاره د افادة الحصر. والمعنی چې دواړه صورته د موت کي و او قتل به تاسي خاص وخدای ﷻ ته حشر کیږئ لا الی غیره تعالی یعني في یوم القیامة، نو پر مؤمنانو دا لازمه ده چې ژوند د دنیا دي په محبت او اخلاص د خدای ﷻ سره وکړي تاچې په ورځ د حشر خپل محبوب حقیقي ته ورسیږي خلاصاً من سجن الفراق یعني دوزخ.

فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ لِنْتَ لَهُمْ ۚ

پوه سه: چې جار ومجرور متعلق دی په "لنت" پوري او تقدیم یې لپاره د حصر دی، او کلمه د "ما" زائده ده لپاره د دلالت پر مزید حصر باندي. او په سبب د رحمت د خدای ﷻ پر تا او پر امت باندي ته اې علیه الصلوة والسلام نرم طبعیت او کریم الاخلاق، او ته ټوله اوقات د امت په غم کي یې که څه هم دوی ستا څخه مخالفت وکړي کما في غزوة احد حیث ترک اصحاب عبد الله بن جبیر رضی الله عنه المرکز الذي عینته لهم.

وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيْظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوْا مِنْ حَوْلِكَ ۖ

او که وایی "فظ" یعني سخت طبعیت او غلیظ وایی ستا زړه یعني چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر چا دي زړه نه خوږېدلای نو به اصحاب کرام﷢ يعنې اکثرهم به يې متفرق سوي وايی له تا ځخه، يعنې ستاسره به يې استوګنه نه کولايی، نو په دې سبب به ورغندی د اسلام ددوی له غاړې ختلی وايی او استحقاق د جنت به يې له لاسه ورکړی وايی، او ستا ثوابونه به هم لږ سوي وايی بسبب قلة الاتباع.

فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ

ته عفوه کوه ودوی ته يعنې د خپل حق او طلب د بخښنې له خدای ﷻ ځخه يعنې په حقوق کې د خدای ﷻ، او ته مشوره کوه له دوی سره يعنې د اصحابو﷢ سره په يو امر مهم کې لکه جنګ وغيره، لکن مشوره په هغو کارو کې غواړئ چې و عليه الصلوة والسلام ته امر الهي د خدای ﷻ له خوا ځخه وي والا فلاحاجة الى المشاورة مع احد في المنصوص عليه.

فائده: په مشاورت کې دا فائده ده چې يو عقل د بل عقل ياري او کومک وسره کوي، او بله فائده يې خوشحاله کول د زړونو ددوی يعنې چې عليه الصلوة والسلام زمونږ سره مشوره وکړه. او بله فائده يې داده چې سنت د مشاورت و امت ته پاته سي، له عائشې﵂ ځخه روايت دی "مارئيت اکثر للرجال من رسول اللهﷺ" رواه البغوي.

فائده: دروېش وايي چې علماؤ او حکماؤ ويلي دي چې ډېر تېز رفتاره آس چاره نه لري له غمچيني ځخه چې د راکب سره يې ورسره وي د نبايدې لپاره، او هيڅ ماينه د سړي چاره نه لري چې د مېړه سره به يې لرګی او عصار ورسره وي د ماينې د بېرولو لپاره. او هيڅ عاقل سړی چاره نه لري له مشاورت ځخه د بل چا ولهذا امر الله تعالى نبيه بقوله وشاورهم في الامر، له ابن عباس﵄ ځخه روايت دی چې دا آيت په شان کې د ابوبکر او عمر رضي الله عنهما نازل سوی دی، نو ځکه عليه الصلوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسلام و ابوبکر او عمر رضی الله عنهما ته وویل چې که تاسي دوه په امر سره متفق ئ زه ستاسي مخالفت نه کوم.

پوه سه: چې کېدای سي یوه ښځه دي په مشاورت کي کامیابه سي تر یوه عاقل سړي کما في واقعة الحدیبیة چې حاصل یې دادی چې هغه وخت چې علیه الصلوة والسلام سره د ځورلسو سوو یا پنځلسو سوو صحابه کرامو رضی الله عنهم په نیت د عمرې ومقام ته د حدیبیې ورسېدل او ټوله احرام بنده هم وه او قریش د مکې ددوی د عمرې مانع وګرځېدل، قصه خو دېره اوږده ده خو زه به یې لنډه در ته وکړم چې اخیر د علیه الصلوة والسلام او د مکې د کفارو تر منځ داسي صلح وسوه چې سږ کال به تاسي له عمرې څخه محروم ځئ او د آینده کال د ذي القعدې په میاشت کي به راځئ، او موږ به درې ورځي تاسي ته مکه یعنې حرم درخالي کوو او تاسي به عمره کوئ، نو صلح نامه چې دواړه طرفه امضاء سوه. نو علیه الصلوة والسلام وصحابه کرامو رضی الله عنهم ته وویل چې ورسئ ځانونه حلال کړئ یعنې سرونه وخریاست او کالي واغوندئ هیڅ چا عمل په ونه کړی بیا یې ورته وویل هیڅ عمل یې په ونه کړی درې یم وار یې بیا ورته وویل خو بیا هم چا عمل په ونه کړی اخیر الامر علیه الصلوة والسلام محزون وخپلې خېمې ته ولاړی او په دې سفر کي ام المؤمنین ام سلمة رضی الله عنها ملګرې وه. هغې چې علیه الصلوة والسلام محزون ولیدی سبب د حزن یې ځنډي وپوښتی، علیه الصلوة والسلام صورت حال او ماجرى دده او د اصحابو یې ورته ذکر کړه، نو ام المؤمنین رضی الله عنها ورته وویل چې اصحاب تا احرام بنده ویني، نو ددوی طمع نه خېژي چې لعل یحدث بعد ذالک امراً، نو که ته غواړې چې صحابه دي احرامونه خلاص کړي ته ور ووځه خپل سر په یوه حلاق وخریه بیا نو وګوره چې اصحاب څه کوي، نو علیه الصلوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسلام د ام المؤمنین رضی الله عنها په مشوره عمل وکړی او له خپمې څخه ورووتی او خپل سر یې په یوه حلاق وخرایه خلګو چې ولیده چې علیه الصلوة والسلام ځان حلال کړی او هغه امید چې دوی درلودی قطع سو. نو یو د بل د سرو په خریلو یې پیل وکړی چې په لږ وخت کې تولو سرونه وخریل او ځانونه یې حلال کړه، دا واقعه تولو اصحاب الحدیث ذکر کړیده، دروېش هرچه گوید دیده گوید ومن الله التوفیق.

فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ

نو چې ستا قصد تینګ سي یعنې بعد المشاورة، نو توکل پر خدای ﷻ وکړه یعنې تفویض د کار وخدای ﷻ ته وکړه، وهذا کان شانه علیه الصلوة والسلام، ولې چې په ورځ د احد چې علیه الصلوة والسلام د خلګو سره مشوره وکړه ووتلو ته د جنګ د ابوسفیان او د هغه د لښکر یعنې د مدینې ودګر ته د جنګ، او بعضو خلګو مشوره د وتلو ورکړه او بعضو خلګو مشوره د قیام د مدینې ورکړه کمامر تفصیله في بیان غزوة احد. نو علیه الصلوة والسلام کورته ولاړی او خپله زغره او توره او نور جنګي آلات یې په ځان پورې وترل او را ووتی یعنې من بیت عائشة رضی الله عنها او خلګ یعنې اهل مشوره پر خپله مشوره پښېمانه وه او تفویض د خروج وجنګ ته او د قیام في المدینة یې و علیه الصلوة والسلام ته وکړی. نو علیه الصلوة والسلام داسي ورته وویل "لاینبغي لنبي ان یلبس لامته فیضعها حتی یقاتل" نو حاصل د آیت د معنی دا ده چې وروسته تر مشورې او توکل پر خدای ﷻ وکړه، یعنې لا علی رائک ولا علی رای المشاورین، ولې غرض له مشاورت څخه خو اظهار د رایو د مشاورینو و علی جری العادة او په غیبو سره خو هیڅ څوک خبر نه دی بیله خدایه، نو ځکه توکل پر خدای ﷻ وکړه، او خدای ﷻ ګاهې خرق العادة کارونه کوي فلا وجه علی الاعتماد وعلی الآراء.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې توکل پر خدای ﷻ منافي د تهیو د اسبابو نه دی ولذا قیل کسب کن پس تکیه بر جبار کن وفی روایت کشت کن پس تکیه بر جبار کن. په صحیح حدیث کې راغلي دي چې یو سړی لپاره د زیارت نبوي ﷺ پر اوښ باندي سپور راغلی و او اوښ یې دباندي تر مسجد خوشي پرې اینبی و یعنې توکل علی الله. نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې اوښ دي څه کړی هغه ورته وویل چې دباندي مي ایله کړی توکلاً علی الله، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې ورسه ځنګون یې ور وتړه او بیا نو توکل پر خدای ﷻ وکړه.

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ ﴿١٥٩﴾

او د خدای ﷻ خوښ دي متوکلین یعنې تکیه کونکي پر ده باندي.

پوه سه: چې محبوبیت د خدای ﷻ یوه لویه رتبه ده او دا رتبه خدای ﷻ مربوطه په توکل سره ګټلې ده. نو دا معلومه سوه چې توکل علی الله لویه مرتبه ده، وقال الله في موضع آخر من القرآن "ومن یتوکل علی الله فهو حسبه" او په یو حدیث قدسي کې راغلي دي "انا عند ظن العبدلي"

دروښ وایي: چې له عمران بن حصین ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وویل چې داخلېږي به اویا زره کسه زما له امت څخه وجنت ته بېله حسابه، قیل یا رسول الله من هم؟ قال هم الذین لایکتبون" چې داغونه ایږدي "ولایسترقون" او نه دم او تعویذ له چا څخه غواړي "ولا یتطیرون" او نه په یو شي بد فالي کوي "وعلی ربهم یتوکلون" او خاص یې پر خدای ﷻ توکل وي، نو عکاشه بن محصن ﷺ ولاړ سو او وه یې ویل یا رسول الله ته خدای ﷻ ته خواست وکړه چې ما له دغې ډلې څخه وګرځوي. نو علیه الصلوة والسلام وویل "انت منهم" بیا بل سړی ولاړ سو او وه یې ویل ادعوا الله ان یجعلني منهم فقال سبقک عکاشه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروبش وايي: چې له بعضو صالحينو څخه روايت دی چې زه په سفر کې د حج په يوه قافله کې وم يو څوک مې تر قافلې دمخه تر سترګو سو، آس مې ورچابک کړی چې دا څوک دی چې يوازې روان دی چې ور ورسېدم يو سال خورده ښځه ده چې په بغل کې يې د اوبو مشکوله ده او په بل لاس کې يې لکړه ده. ما ورته وويل اين تريد يا اختي؟ دې راته وويل مکة ان شاء الله تعالى. ما ورته وويل چې المسافة الى المكة بعيدة، دې راته وويل چې الزمان الى وقت الحج مديد. وبه رسېږم ان شاء الله تعالى، زما زړه پر وسو او په جيب مې لاس چغ کړی او شل درهمه مې راوکښل او دې ښځې ته مې وويل چې دا روپۍ واخله په ماپسې قافله را روانه ده نو يو اوښ وغيره په کرايه کړه اوزه به د لاري نوره خرڅه هم درکړم. ښځه راته وويل چې روپۍ لرم خو زما دا پياده تګ طبعاً خوښ دی. ما اصرار پر وکړی چې هرڅو مرو به دا روپۍ واخلې ښځې بيرته هغه مخنۍ ځواب راکړی. ما ورته وويل که ته روپۍ لرې نو ماته يې را ښکاره کړه چې زما اطمنان وسي. ښځې لاس وهوا ته لور کړی او ماته يې خلاص کړی که څه ګورم په لاس کې يې دنانير او طلاوي دي، نو ښځې راته وويل اخرجت الدراهم من الجيب واخذت الدنانير من خزانة الغيب فتركتها وشانها. وفي المثنوي

اولياء راهست قدرت از آله　　تير برجسته بگرداند زراه

سعدي شيرازي رحمه الله وايي

جهان آفرين گرنه ياری کند　　کجا بنده پرهيز گاری کند

إِنْ يَنْصُرْكُمُ اللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ

که ستاسي سره اې مسلمانانو کومک وکړي، نو غالب پر تاسي څوک نه سي کېداى. يعنې دا امکان نه لري چې منصور د خداى ﷻ دي مغلوب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سي د چا، لانه يلزم عجزه تعالى عن ذالک علواً كبيراً.

وَإِنْ يَّخْذُلْكُمْ فَمَنْ ذَا الَّذِيْ يَنْصُرُكُمْ مِّنْ بَعْدِهٖ ؕ

او که خدای ﷻ خپل نصرت درڅخه منع کړي، نو څوک هغه سړی چې ستاسي سره د کومک وروسته تر خدای ﷻ يعنې وروسته تر خذلان د خدای ﷻ، والاستفهام للانكار يعني نسته هيڅ څوک چې ستاسي سره د نصرت وکړي، ولې چې په نېز د اهل سنتو افعال د بندګانو ټوله مخلوق د خدای ﷻ دی، نو څرنګه به د خدای ﷻ د مخزول په بل څوک ناصر سي.

پوه سه: چې دا آيت دليل عقلي دی پر وجوب د توکل على الله وروسته تر دې چې خدای ﷻ سمعي دليل پر وجوب د توکل على الله ووايه بقوله تعالى واذا عزمت فتوكل على الله.

وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝

او خاص پر خدای ﷻ دي توکل کوي مؤمنان، نو تقديم د جار او مجرور پر عامل لپاره د حصر دی كما تقرر في النحو.

وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ اَنْ يَّغُلَّ ؕ

او نه ښايي هيڅ نبي لره چې په غنيمت کي د مجاهدينو دي خيانت وکړي.

پوه سه: چې مشهور په تفسير کي ددې دادی چې تر مذي او ابو داؤد له ابن عباس ﷺ څخه روايت کړی دی چې دا آيت په يوې سره شړۍ کي چې د بدر په ورځ له غنيمت څخه ورکه سوه. نو بعضو کسانو وويل چې شايد د رسول الله ﷺ به هغه خوښه سوې وي او اخستې به يې وي.

دروښ وايي: چې دا خبره ددې بعضو پر وجه د غيبت نه وه لان غيبة الرسول كفر. نو خدای ﷻ په نزول ددې آيت دا وخلګو ته وښوول چې اخستل د شي له غنيمت څخه غلول دي لا يحل للنبي ﷺ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې لفظ د "یغل" مفتوح الیاء یعنې پر صیغه د معلومي هم راغلی دی والمعنی هو المذکور او "یغل" پر صیغه د مجهولي هم راغلی دی فالمعنی ان ینسب الی الغلول والمآل واحد. او محمد بن اسحاق صاحب المغازي وایي چې دا آیت په باره کې د وحي نازل سوی دی فالمعنی ماکان للنبي ان یکتم شیئ من الوحي، یا د رغبت له کبله او یا د بېري له امله او یا د غورمالی له سببه. او بعض مفسرین وایي چې بعضو کسانو به د علیه الصلوة والسلام څخه جدي مطالبه کوله چې ماته ډېره برخه په غنیمت کې راکړه فانزل الله ماکان لنبي ان یغل" یعنې چې تقسیم د غنیمت پر تفاوت کوي یا بعضو کسانو ته لویه برخه ورکوي او بعضو ته لږه، او یا داسي چې بعضو ته یې ورکوي او بعض له برخې څخه منع کوي بل یقسم الغنیمة علیهم بالسویة، او کلبي او مقاتل رحمهما الله وایي چې دا آیت په غنائمو کې د احد نازل سوی دی، هغه وخت چې پنځوس کسیزې ډلې په مشرۍ د عبدالله بن جبیر ﷺ هغه مرکز چې علیه الصلوة والسلام دوی پر مقرر کړي وه پرته له څورلسو کسانو مرکز په طلب د غنائمو پرېښوی، او دوی دا ویل چې موږ بېرېږو چې علیه الصلوة والسلام به وایي من اخذ شیئا فهو له او تقسیم به یې نه کړي کما لم یقسمها یوم بدر، او دوی په غنائمو کې کفار ولیدل، نو رسول الله ﷺ ودوی ته وویل چې ما تاسي ته امر نه و درکړی چې تاسي دا مرکز مه پرېږدئ؟ دوی ورته وویل ترکنا بعض اخواننا یعنې څورلس کسه سره د عبدالله بن جبیر ﷺ چې خالد بن ولید حمله پر وکړه او څورلس سره یې هلته په شهادت ورسول، نو رسول الله ﷺ ورته وویل یا داسي نه ده بلکې "ظننتم انا نفعل فلا نقسم لکم" فانزل الله هذه الآیة فالغلول علی هذا عدم اعطاء النصیب لبعض المجاهدین.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَنْ يَّغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

او هغه څوک چې غلول وکړي، راتګ به کوي په ورځ د قیامت په هغه شي سره چې ده غلول پکښې کړی وي.

دروښ وايي: چې پر مشهور تفسیر کمامر ترجمه ددې آیت یعنې "یاتي بما غل" ظاهره ده یعنې هغه شی چې له غنیمت څخه یې پټ کړی وي لپاره د تشهیر نو هغه شی به یې پر اوږو وي او د قیامت په ورځ به راځي، نو ددې غلول سره میدان ته د حشر راتلل تشهیر دی فهو من قبیل قوله علیه الصلوة والسلام من غصب قدر شبر من الارض طوقه الله تعالی یوم القیامة من سبع ارضین، وقال علیه الصلوة والسلام من بعثناه علی عمل فغل شیئاً جاء یوم القیامة یحمله علی عنقه، وقال علیه الصلوٰة والسلام هدایا انولاة غلول ای قبول الولاة الهدایا غلول لانها في معنی الرشوة وهي غلول وخیانة مع الرعیة.

دروښ وايي: چې پر باقي تفاسیرو د "غلول" کمامرت معنی ددې آیت "یاتي بما غل آه" چې ظاهر به سې غلول دده پر اهل محشر د هر قسمه غلول چې و فتفکر في التفاسیر الاخر للغلول کمامرت، وفي البخاري عن ابي هریرة ﷺ دی وایي چې موږ د رسول الله ﷺ سره په کال د خیبر د غزا، نو موږ په غنیمت کې نه راوړه سره زر او سپین زر بلکې بعض اموال یعنې مواشي، کالي او متاع البیت مو په غنیمت سره جمع کړه، نو بیا علیه الصلوة والسلام د خپل لښکر مخ د وادي القری پر خوا واړاوه او رفاعة بن زید و علیه الصلوة والسلام ته یو تور مریی وربخښلی و چې نوم یې مدعم و، ابو هریره ﷺ وایي چې موږ چې وادي القری ته ورسېدلو، نو مدعم مریي د علیه الصلوة والسلام د اوښ ځیني وغیره خلاصول یو نابیره غشی راغلی او پر مدعم ومښتی او دی یې مړ کړی، نو خلګو یعنې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صحابه کرامو ﷺ وویل مبارک دي وي دلره جنت علیه الصلوة والسلام ورته وویل "کلا" یعنې دغسي نه ده چې دی به په جنت کې وي، اوزما دې قسم وي په هغه ذات چې زما روح د هغه په قدرت کې دی چې هغه پتو چې مدعم په ورځ د خیبر د غزا له غنیمتو څخه غلا کړی و تر تقسیم دمخه هغه اوس پرده باندې د اور پتو دی او لمبې زهي خلګو چې دا واورېدل یوه سړي یو یا دوه د چوتو بندونه و علیه الصلوة والسلام ته راوړه یعنې ده هم تر قسمت دمخه دغه وړي وه، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل "شراک او شراکان من النار" رواه البغوي محي السنة، او له زید بن خالد جهني ﷺ څخه روایت دی چې یو سړی په ورځ د خیبر وفات سو، نو خلګو علیه الصلوة والسلام ته وویل، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل "صلوا علی صاحبکم" چې ورسېږ تاسي د جنازې لمونځ ورکړئ، یعنې زه لمونځ نه ورکوم، نو د خلګو مخانو تغیر وکړی او حیران سوه چې ولې علیه الصلوة والسلام لمونځ نه ورکوي، نو یزید ﷺ وایي چې علیه الصلوة والسلام وویل "ان صاحبکم قد غل في سبیل الله" یعنې دغه مړي په غزا، کې یو شی غلا کړی دی، نو موږ چې د هغه مړي بستره تلاشي کړه یو څو دانې شنې چې یهودان یې په غاړه کوي پیدا کړې چې مجموع دغه دانې دوه درهمه نه ارزېدلې، رواه مالک، ابو داؤد او نسائي رحمهم الله تعالی.

دروښ وایي: چې احادیث نبویه ﷺ په باره کې د حرمت د غلولو یا په غنیمت کې او یا په وخت کې د امریت پر صدقاتو باندې په روایت د بخاري او مسلم کوچني او لوی حدیثونه بېخې ډېر دي من شاء التفصیل فلیطالع کتب الأحادیث الشریفة.

ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ۝

او بیا به پوره ورکړه سي و هر نفس ته "ماکسبت" یعنې جزاء د ما کسبت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من خیر او شر، او پر دوی به ظلم نه کړه کېږي یعني یا ثواب د مطیع ورکم کړي او یا عذاب د عاصي تر معصیت بالا ورکړي.

أَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللَّهِ

آیا هغه څوک چې طلب د رضاء الهي کوي په طاعت او عبادت د خدای ﷻ او په متابعت د رسول کریم ﷺ چې دا کسان مهاجرین او انصار دي رضي الله عنهم.

كَمَنْ بَاءَ بِسَخَطٍ مِّنَ اللَّهِ

چې دا منافقین خو ټوله دي او بعض د مسلمانانو فاسقان دي.

وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿١٦٢﴾

او ځای دده دوزخ دی او بد ځای د ورتلو دوزخ دی.

هُمْ دَرَجَاتٌ عِندَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿١٦٣﴾

یعني دغه من اتبع رضوان الله ومن باء بسخط درجات دي په حذف د مضاف یعني اهل درجات في القرب والبعد لان درجات القرب من الله تعالى متفاوتة غاية التفاوت. وكذالك درجات البعد منه متفاوتة غاية التفاوت، او خدای ﷻ خبر دی په عملو د خلګو من الحسنات والسيئات.

دروښ وایي: چې شروع د حسناتو د ایمان بالله ورسوله الى غير ذالك، او منتهی یې نبوت دی علی تفاوت درجاتها. او مبتدء د سیئاتو صغیره ګناه ده او منتهی یې کفر دی علی تفاوت درجاته ولهذه الحسنات والسيئات اجزية متفاوتة غاية التفاوت في الجنة وكذا في النار عصمنا الله من النار ورزقنا الله الخلود في الجنة دار الابرار، برحمتك يا ارحم الراحمين.

لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ

بوه سه: چې لام د "لقد" ځواب د قسم محذوف دی ای والله لقد آه، والمعنی منت او احسان او انعام کړی دی خدای ﷻ پر مؤمنانو یعني د زماني د علیه الصلوة والسلام، له دې سببه چې خدای ﷻ را واستاوه په دوی کې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رسول چې علیه الصلوة والسلام دی چې د همدوی له قوم څخه دی.

پوښتنه: نعمت د ارسال د رسول کریم ﷺ خو عام دی ټولو هغو کسانو ته چې پر ده ایمان راوړي من العرب والعجم والاسود والاحمر. نو تخصیص ددې نعمت یې په قوم پوري د علیه الصلوة والسلام ولي وکړ؟

ځواب: ددې سببه چې نفع اخستل د مؤمنانو له قومه د علیه الصلوة والسلام او استفاده د دغو مؤمنانو له ده مبارک څخهډیره ده تر نورو مؤمنانو، او دوی ته بعثت د علیه الصلوة والسلام لوی فخر او شرف دی کما ورد في الحدیث الصحیح الذي رواه البخاري ومسلم "الناس تبع لقریش مؤمنهم لمؤمنهم وکافرهم لکافرهم. وقال علیه الصلوة والسلام لایزال هذا الامر یعني الخلافة في قریش مابقی منهم اثنان متفق علیه"

فائده: په یوه قرائت سره پر ځای د "من انفُسهم بضم الفاء من انفَسهم بفتح الفاء راغلی دی ای من اشرفهم یعني له اشرف نسب څخه ستاسي. ولي د علیه الصلوة والسلام نسب مبارک په قریشو کي اعلی نسب و. او بعض مفسرین وایي چې مراد له "انفسهم" څخه مؤمنان د ټولو عربو دي. ولي رسول کریم ﷺ په ټولو اقوامو کي د عربو یوه علاقه نسبي درلوده الا بني تغلب کما قال الله تعالی هو الذي بعث في الامیین رسولاً منهم" والعرب جمیعهم امیون، او معنا ددې دا چې دی مبارک له انفسهم څخه ددوی و چې دی هم لکه دوی عربي و لیفهموا کلامه بسهولة او عرب دده په حالاتو في الصدق والامانة دمخه تر نبوت بنه خبر وه چې قبل النبوة علیه الصلوة والسلام په دوی کي شهرت په امین مکه درلودی وورد في الحدیث صحیح "انا عربي والقرآن عربي ولسان اهل الجنة عربي" او عربو ټولو قبل النبوة په دې سره فخر کاوه. او ټولو مؤمنانو قبائلو د عربو په ده سره قبل النبوة او بعد النبوة فخر کاوه وهذا منقبة عظیمة له ﷺ. او بعض مفسران وایي چې مراد له "انفسهم" څخه ټوله مؤمنان دي، ومعنی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کونهم من انفسهم کونه من الانس دون الملائکة حتی یسهل علیهم الاستفادة من کلامه لان التناسب شرط في التاثیر والتناثر.

دروښ وایي: والوجه الاول هو الانسب والاشهر. والوجه الآخیر هو اضعف الوجوه کما لایخفی علی اول النهی.

يَتْلُوا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ

چې ودوی ته وایي آیات قرآنیه او سره له دې دمخه دوی جاهلان وه، او دوی پاکوي له عقائدو فاسده وو څخه لکه شرک او له رزائلو نفسیه وو څخه او له اعمال قبیحه وو څخه او له انجاسو ظاهره وو څخه.

وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ

او دوی ته تعلیم او ښوونه کوي د قرآن عزیز او د هغه علومو چې له قرآن څخه یې استفاده کیږي، او علوم حقه ور ښیي پر ته له مافي القرآن وهي الآحادیث النبویة.

وَاِنْ كَانُوْا

پوه سه: چې کلمه د "ان" مخففه ده له مثقل څخه. او اسم یې ضمیر شان محذوف دی یعني الشان انهم کانوا.

مِنْ قَبْلُ

پوه سه: چې کلمه د "قبل" مبني پر ضمه ده په عوض کې د مضاف الیه محذوف ای قبل بعثته ﷺ.

لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝

وحیث یعبدون الشجر والحجر وادعوا لله شرکاء، او دوی به ویل چې ملائکه د خدای ﷻ لونې دي، وان لا بعث بعد الموت الی غیر ذالک من العقائد الفاسدة.

دروښ وایي: چې شان او جلال د نبي کریم ﷺ بیانول زما په طاقت کې خو نسته لکن مایدرکه کله لایترک کله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې عبدالمطلب چې نیکه د علیه الصلوة والسلام و یو وخت په حطیم شریف کې بیده و نابیره له خوبه په ډېر خوف سره راوپښ سو، او رهي سو عباس رضي الله عنه وایي چې زه ځوانکی وم او په ده پسې رهي سوم چې چېرې ځي، نو عبدالمطلب کاهنانو ته د قریشو ورغلی، او داسې یې ورته وویل چې ماخوب لیدی چې زما څخه د سپینو زرو ځینځیر ووځي یعنې له شا څخه او هغه ځینځیر بیا څلور ښاخه سو یو طرف یې مشرق ته د مځکې ورسېدی او بل ښاخ یې مغرب ته او بل طرف یې و آسمان ته ورسېدی او بل طرف یې ارض سفلی ته ورسېدی، او دا ځینځیر بیا شنه درخته سوه، نو عبدالمطلب وایي چې په داسې حال کې چې زه د خوب په دریاب کې غرق وم دوه سپین ږېرې کسان ماته ودرېدل، یوه ته مې وویل چې ته څوک یې؟ هغه راته وویل زه نوح یم، هغه بل ته مې وویل ته څوک یې؟ هغه وویل زه ابراهیم خلیل رب العالمین یم، که ګورم نابیره را وینې سوم، نو کاهنانو ورته وویل که تا دغه خوب رشتیا لیدلی وي نو ستا له ملا څخه به یو نبي پیدا سي چې پر هغه به ایمان لري اهل د اسمانو او مځکو، او د څلور ښاخه ځنځیر دا معنا ده چې د هغه نبي به اتباع او انصار ډېر وي او ډېر قوت به هم لري کتداخل حلق السلسلة، او ددې معنا چې وروسته دا سلسله شنه درخته سي داده چې امر د هغه نبي به ثابت وي او قدر به یې بلند وي، او د نوح علیه السلام معنا داده چې هغه قوم چې دی پر دې نبي ایمان نه راوړي هغه به هلاک سي لکه قوم نوح چې په طوفان سره هلاک سوه، او د ابراهیم علیه السلام د لیدو معنا داده چې دا نبي به د ابراهیم علیه السلام ملت ژوندی کړی او پر ملت ابراهیمي په مستقیم وي.

دروښ وایي: چې د حنین په غزاء کې علیه الصلوة والسلام داسې وویل:

انا النبي لا کذب انا ابن عبدالمطلب

بعض جاهل کسان وایي چې دا خو فخر بالاباء دی او له هغه څخه خو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نهي راغلي دي. لکن په دې شعر کې علیه الصلوة والسلام وهغه خوب ته اشاره وکړه یعنې زما د نبوت زېرى زما نیکه عبد المطلب ته په خوب کې ورکړه سوى و.

فائده: دروېش وایي چې دعوه د محبت د علیه الصلوة والسلام کول بېله متابعته دده د سنتو درواغ دى.

حکایت: د یو شېخ کامل مرید به همېشه وخپلو اندیوالانو ته داسې ویل چې شیخ زما د مقام په طریقت کې او په دې چې زه مستحق د خلافت یم او د ارشاد وخلګو ته ښه پوهېږي، نو ما ولي نه خلیفه ګوي؟ د مرید په دې ویناچا شیخ خبر کړى، نو هغه مرید یې پر خپل خدمت مقرر کړى. یو څو ورځې خو هغه مرید په شوق او په کوشش سره خدمت کاوه لکن چونکه وخت د خدمت ډېر تېر سو صوفي مرید ورځ په ورځ د شیخ په خدمت کې تکاسل او سستي کوله، نو شیخ چې د مرید حال ولیدى، نو یې وروغوښتى او ورته وه یې ویل انکاراً علی ماقاله للرفقاء. من لایقدر علی خدمة الخلق کیف یقدر علی خدمت الخالق. انظر ایها القاري للتفسیر الایوبي کیف جعل هذا الشیخ خدمة الخلق من اسباب خدمة الخالق، والاصول الیه، نو بناءً علی څوک چې دعوى د محبت د خداى ﷻ کوي او په زړه کې یې مېل وي چې زه دي خداى ﷻ ته ورسېږم اولاً باید خدمت د شریعت د نبي ﷺ وکړي تاچې د نبي ﷺ محبوب سي فیحب الله. کما ورد في القرآن ان کنتم تحبون الله فاتبعوني یحببکم الله. سعدي شېرازي رحمه الله وایي

مجالست سعدی که راه صفا — توان رفت جز درپی مصطفا

أَوَلَمَّآ أَصَٰبَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَدْ أَصَبْتُم مِّثْلَيْهَا

آیا هغه وخت چې تاسي ته ورسېږي یو مصیبت کقتل سبعین من المؤمنین په ورځ د احد، او په تحقیق تاسي دوه مثله د هغه مصیبت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رسولی و کفارو تنه د مکې یعنې په غزاء کې د بدر چې اویا کسه یې ځندي مردار کړه او اویا کسه یې ژوندي ځندي ونیول.

پوښتنه: چې مصیبت د مسلمانانو خو په احد کې قتل د اویا کسانو وو. او په بدر کې خو اویا کسان مړه سوه او نور اویا یې ژوندي ونیول سوه، نو دا ژوندي نیول سوي یې څرنګه پر مړو حساب کړه تاچې مثلین پوره سي؟

ځواب: ژوندي یې په دې په مړو کې حساب کړه چې مسلمانان قادره وه پر قتل د هغو لکن مسلمانانو مړه نه کړه، ولې چې مسلمانانو په امر د نبي ﷺ څلور زره درهمه في نفر فدیه ځندي واخستل کما سیأتي بیانه في موضعه ان شاء الله تعالی.

قُلْتُمْ أَنَّىٰ هَٰذَا

تاسي وویل د تعجب په لهجه چې څرنګه موږ ته پېښ سو دا هزیمت او شکست او شهادت د اویا کسانو په شمول د سید الشهداء حضرت حمزه رضی الله عنه، وجه د تعجب ددوی دا وه چې موږ خو مسلمانان یو او علیه الصلوة والسلام په موږ کې موجود دی.

پوه سه: همزه "په "اولما اصابتکم آه" کې لپاره د انکار او منع دی له داسي قول څخه، او ټوله جمله عطف ده پر ماسبق من قصة احد علی قوله تعالی ﴿لقد صدقکم وعده آه﴾ یعنې خدای ﷻ خو خپله وعده د نصر او کومک په غزاء کې د احد پر ځای کړه، ولې چې اولاً خو هزیمت او شکست د کافرانو په برخه سو کمامر منا مفصلاً في بیان غزوة احد. او تاسي په وخت کې د مصیبت او د هزیمت لیدلو دا خبره کوئ انی لنا هذا.

قُلْ هُوَ مِنْ عِنْدِ أَنْفُسِكُمْ

ته ووایه ودغو قائلینو ته د قول مذکور یعنې لنا هذا چې دا هزیمت او شکست او اویا کسه شهیدان ورکول ستاسي له خپلو ځانو څخه پېښ سو یعنې چې تاسي مخالفت د امر نبوي وکړی، او هغه مرکز چې تاسي پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ګمارل سوي واست خوشي مو کړی، ولي چي وعده د خدای ﷻ د نصر او کومک مشروط په صبر او ثبات او تقوی سره وه، او بعض مفسران وایي چي مراد له "من عند انفسکم آه" څخه اخستل د فدیې دي له بندیانو څخه د بدر، بغوي رحمه الله وایي چي روایت کړی دی ابو عبیدة السلماني له علي رضي الله عنه څخه چي جبرائیل علیه السلام راغلی ونبي ﷺ ته فقال ان الله کره مافعل قومک، چي دوی فدیه واخستل له بندیانو څخه د بدر. او ته خدای ﷻ امر کړی وې چي قوم ته دي اختیار ورکړه په منځ کي ددې دوو کارو چي یا دي دوی اقدام وکړي بندیان د بدر دي ټوله مړه کړي او یا دي فدیه څندي واخلي په دې شرط چي له دوی څخه به هم په حساب ددغو بندیانو وژل کېږي په آئینده کي، نو علیه الصلوة والسلام ودوی ته دا دوې خبري پېش کړې، نو دوی وویل چي دا بندیان خو زمونږ قوم او وروڼه دي مونږ یې نه وژنو بلکې مونږ فدیه څندي اخلو چي هغه به زمونږ لپاره قوت سي په آئینده جنګو کي د دښمنانو. او مونږ قبلوو چي زمونږ څخه په مقدار د بندیانو دي په آئینده وخت کي شهیدان سي، هغه و چي په احد کي اویا کسه د مسلمانانو په حساب د بندیانو د بدر شهیدان سوه، نو پر دې تقدیر د تفسیر د بعض مفسرانو دا معنا د دوی قول د خدای ﷻ "من عند انفسکم" یعني تاسي فدیه اختیاره کړه په شرط د شهادت د خپلو اویا کسانو.

فائده: بخاري له قتاده رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چي ماته نه ده معلومه یوه قبیله له قبائلو څخه د مسلمانانو چي اکثره دي وي په شهیدانو کي تر انصارو د مدیني قال قتادة رضي الله عنه حدثنا انس رضي الله عنه قال قتل منهم یوم احد سبعون ویوم بیر معونة سبعون ویوم الیمامة سبعون" او حافظ محب الطبري له مالک څخه روایت کړی دی چي شهدا. د احد پنځه اویا وه چي په دې کي یو اویا انصار وه او باقي مهاجرین وه. او شافعي رحمه الله وایي چي دوو اویا وه له انصارو څخه وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې په عدد کې د شهداؤ د احد اختلاف د امامانو د تاريخ اسلامي موجود دی، نو هر څو چې دي فرضي الله تعالى عنهم كلهم اجمعين.

إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٦٥﴾

په تحقيق خدای ﷻ پر هر شي قادر دی چې له هغو څخه يو نصر او کومک دی په وخت کې د طاعت او استقامت کما في البدر او خذلان او شکست دی په وخت کې د عصيان او مخالفت کما في احد.

وَمَا أَصَابَكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ ﴿١٦٦﴾

هغه چې تاسي ته ورسېدی من المصيبة په هغه ورځ چې دا دوه جماعته او ډلې سره مخامخ سوې يعني جماعة المسلمين وجماعة المشركين چې مراد څندي يوم احد ده.

فَبِإِذْنِ اللَّهِ

هغه ټوله مصيبت او هزيمت او شهادت په قضاء او قدر د خدای ﷻ وي.

وَلِيَعْلَمَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٦٧﴾

يعني چې خدای ﷻ معلوم او ظاهر کړي مسلمانان يعني الصادقين والمخلصين.

پوه سه: چې دا جمله عطف ده پر محذوف باندې يعني لمصالح كثيرة.

وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ نَافَقُوا ۖ

عطف على ماقبله يعني يميز الله هذين الفرقتين عند الناس فيعرف الناس ايمان المؤمنين المخلصين، ونفاق المنافقين. وانما قلنا ليميز الله لانه تعالى عالم في الازل بايمان المؤمنين ونفاق المنافقين.

قَالُوا

او وويل سوه دوی يعني منافقينو ته له جانبه څخه د مسلمانانو. هذا عطف على نافقوا والتقدير وليعلم الذين قيل لهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تَعَالَوْا قَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَوِادْفَعُوْا

راسئ جنګ وکړئ په لاره کي د خدای ﷻ یعنې که مو له وسه پوره وي او که نه وي، دفعه د دښمن وکړئ په سبب د ډېر والي د لښکر د مسلمانانو. یعنې تښتئ مه او صرف په لښکر کي د مسلمانانو ودرېږئ.

وَقِيْلَ لَهُمْ

وویل عبدالله بن اوبی او دده ډلې چې درې سوه کسه وه په جواب کي د مؤمنانو چې منافقین له احد څخه روانېدل.

لَوْنَعْلَمُ قِتَالًا لَّا اتَّبَعْنٰكُمْ

که چېرې موږ پوهېدای چې د احد جنګ دی یعنې د دونده لوی عدد د مشرکانو سره چې عدد یې تخمیناً درې زره کسه دی، نو موږ به ستاسي متابعت کړی وای لیکن دا په حقیقت کي ځانونه وهلاکت ته سپارل دي. او بعض مفسران وایي چې معنا ددوی د قول داده چې که موږ په جنګ پوهېدای او جنګ مو زده وای موږ به ستاسي متابعت کړی وای، نو پر دې تقدیر دا قول ددوی صرف استهزاء وه.

هُمْ

ای المنافقون القائلون لهذا القول

لِلْكُفْرِ

وکفرته فاللام بمعنی الی

يَوْمَئِذٍ اَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلْاِيْمَانِ

په دغه ورځ نژدې دي تر پخوا وکفر ته تر دوی وایمان ته، او معنا د آیت داده چې منافقان خو په خوا هم کافران وه قلباً لکن بیا هم کفر یې باطني او اسلام یې ظاهري دواړه پاالل لکن چې ورځ د احد د جنګ راغله دوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکفر ته ډېر مائل سوه تر ایمان او په دغه ورځ ددوی کفر عاموا و خاصو ته ظاهر سو حیث خرجوا من جیش المسلمین وقالوا ماقالوا.

يَقُولُونَ بِأَفْوَاهِهِمْ مَّا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ

دوی به همېشه وایي "فالمضارع للاستمرار" په خولو ددوی یعني کلمة الاسلام چي نه به وه په زړو کي ددوی.

پوښتنه: قول خو په خوله وي، نو د "افواههم" څه فائده ده؟

ځواب: فائده یي تاکید ددې دی چي دا قول ددوی صادر له اعتقاد څخه نه و، او بله فائده یي تحقیر د دوی دی چي دوی لره نه و له ایمان څخه الا مجرد هذا القول، وهذا الجملة کما قلنا ان المضارع للاستمرار بیان د حال ددوی دی همېشه لا في یوم احد فقط.

وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُونَ

او خدای ﷻ ښه خبر دی په هغه شي چي دوی به پټاوه یعني النفاق، یعني مسلمانانو خو علم اجمالي درلودی پر نفاق د منافقینو لکن خدای ﷻ پاک علم تفصیلي لري پر نفاق ددوی.

الَّذِينَ قَالُوا

هغه کسان چي دوی به ویل.

پوه سه: چي د اعراب له لاري "الذین" مرفوع دی بدل دی له ضمیر څخه د "یکتمون" او یا منصوب دی علی الذم یعني اذم الذین قالوا، او یا صفت دی د "الذین نافقوا" او یا مجرور دی بدل دی له ضمیر څخه في افواههم هذا ماقاله الامام المظهري رحمه الله.

لِإِخْوَانِهِمْ

پوه سه: چي دا لام هغه لام نه دی چي پر مفعول به داخلېږي کما في قولهم قلت لفلان، بلکي دا لام لپاره د اجل دی ای لاجل اخوانهم یعني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الذين قتلوا في احد.

پوه سه: چې صاحب د روح البيان د "اخوان" تفسير داسې کړی دی من جنس المنافقين المقتولين يوم احد، او اخوانهم في النسب او في الجوار في المدنية فيندرج فيه بعض شهداء المؤمنين، او مظهري رحمه الله يوازې په نسب سره تفسير کړی دی د روح البيان تفسير اشمل دی.

پوښتنه: منافقين خو ټوله له جنګ احد څخه په اعلان د عبد الله بن ابي را وګرځېدل، نو څرنګه روح البيان وايي من جنس المنافقين؟

ځواب: بعض منافقان چې خپل نفاق يې د هر پټ ساتی په جنګ کې شامل سوي وه او په جنګ کې وژل سوي وه.

وَقَعَدُوا

او دوی پخپله له جنګ څخه کښېنستلي وه.

پوه سه: چې "وقعدوا" حال دی له ضمير څخه قالوا په تقدير د لفظ "قد" کما هو القانون النحوي من ان الماضي انما يقع حالاً بتقدير قد.

لَوْ أَطَاعُونَا مَا قُتِلُوا

که دوی زمونږ په خوله کړي وای چې په جنګ کې نه وای شامل سوي، نو دوی به نه وژل کېدای لکه مونږ چې نه ووژل سولو.

دروښ وايي: چې له دې آيت څخه داسې ښکاره کېږي چې مقتولين د منافقينو له جنسه وه لان القائل هذا القول هم المنافقون كما لا يخفى. او دا هم احتمال لري چې منافقينو دي بعض هم نسب يا هم جوار مؤمنانو ته هم نصيحت د قعود عن القتال کړی وي، وان لم يسمع المؤمنون نصيحتهم فيشمل الكل كما ذكرنا من قبل قريباً ولا يلزم المنافات فافهم.

قُلْ فَادْرَءُوا عَنْ أَنْفُسِكُمُ الْمَوْتَ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِينَ ۝

ته ورته ووايه چې تاسي دفع کړي له خپلو ځانو څخه مرګ که تاسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رشتیا وایاست چې مرګ په تدبیر سره دفع کېږي لکه تاسي چې د ځپلو ځانو د نه مرګ په باره کې تدبیر د قعود عن الحرب سبب وګانه. والمقصود چې مرګ په اجل سره دی چې اجل ورسېدی بیا مرګ په حیلو نه دفع کېږي.

پوه سه: چې که مرګ په سبب د قرب الهي دفع کېدای نو انبیاء علیهم السلام به نه مړه کېدای خصوصاً سید الانبیاء محمد المصطفی ﷺ چې تر معمولي ژوند یعني دروشپېته (٦٣) کاله وروسته وفات سو. او که په لوی سطنت دفع کېدای سلیمان بن داؤد ﷺ چې د انس او جن سلطنت یې په لاس کې و نه به مړ کېدای. او که مرګ په ډېرې شتمنۍ دفع کېدای نو قارون به نه مړ کېدای، او که مرګ په طبابت او ډاکټرۍ دفع کېدای نو لوی لوی طبیبان او ډاکټران لکه جالینوس راس البغل او ابن سینا به نه مړ کېدای، او که مرګ د خدایي په دعوی دفع کېدای فرعون آو شداد او نمرود به نه مړه کېدای، بلکې مرګ داسي دی لکه خدای ﷻ چې وایي

﴿اِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ لَایَسْتَأْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّلَایَسْتَقْدِمُوْنَ﴾

سعدي شېرازي رحمه الله وایي

زپیش خطر تا توانی گریز — ولیکن مکن باقضا، پنجه تیز
گرت زندگانی بنشست دیر — نه مارت گرآیدت شمشیر وتیر

پوه سه: چې مرګ نه سن یعني عمر معین لري، او نه مرض معلوم لري. په دې کې حکمت الهي دادی چې مسلمان باید همېشه مرګ ته اماده باش وي او په طاعت کې د خدای ﷻ مشغول وي او له ګنهو څخه یې پرهېز وي لیکون موته علی احسن حال رزقنا الله الموت علی احسن الاحوال.

دروېش وایي: چې روح البیان په دې ځای کې یو عجیب او غریب او د عقل بعید حکایت راوړی دی ان شئت فطالع روح البیان في تفسیر هذا المقام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا

پوه سه: چې هشام رضي الله عنه دا لفظ بالیاء وایي یعنې په صیغه د غائب او نور قاریان یې تولې په تاء د خطاب وایي، والمعنی ته ګمان مه کوه او دې دی ګمان نه کوي، ددې آیت شان نزول مفسرین داسې بیانوي چې ترمذي او ابن ماجه او ابن خزیمه او بغوي له جابر بن عبدالله رضي الله عنه چې پلار یې د احد په غزاء کې شهید سوی و چې رسول الله ﷺ ددده سره ملاقي سو او راته وه یې ویل چې ولې داسې پریشانه یې ما ورته وویل چې زما پلار شهید سو او ډیر عیال یې پاته سو او پورونه هم پر باندې دي، نو علیه الصلوة والسلام راته وویل چې د هیڅ چا سره خدای پاک خبرې نه دي کړې مګر نه من وراء الحجاب، او ستا پلار خدای ﷻ ژوندی کړی او بې حجابه خبرې یې ورسره وکړې او ورته وه یې ویل چې ای زما بنده تمنی کوې څه شی غواړې چې زه یې درکړم. ستا پلار ورته وویل چې ما بیرته ژوندی یعنې په دنیا کې چې زه بیا جنګ وکړم في سبیلک، او بیا شهید سم خدای ﷻ ورته وویل چې ما له وړاندې دا اراده کړې چې دنیا ته بیرته رجوع نسته، قالوا فانزل فیه هذه الآیة ﴿ولا تحسبن الذین قتلوا﴾ الی اخیر الآیة.

او مسلم، احمد، ابو داؤد، حاکم او بغوي رحمهم الله تعالی له ابن عباس رضي الله عنه څخه داسې روایت کړی دی چې رسول کریم ﷺ وویل چې ستاسې وروڼه یعنې مؤمنان چې په غزاء کې د احد شهیدان سوه خدای ﷻ ددوی روحان په اجوافو کې د شینو مرغانو اچولي دي چې هغه مرغان د جنت ولو ته ورځي او له مېوو څخه د جنت خوراک کوي او ګرځي، دغه مرغان په جنت کې هر ځای چې یې خوښ وي او بیا دغه مرغان ورځي هغو قندیلانو ته د سرو زرو تر عرش لاندې یعنې د استراحت لپاره، نو دې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شهيد انو چې خپل وليدل او هغه شيان يې وليدل چې خداى ﷻ ودوى ته په طريقه د نعمتو ورکړي وه، نو دغو شهداؤ دا تمنى له خداى ﷻ څخه وکړه چې زمونږ کرامتونه کاشکي ژوندو وروښه يعنې مسلمانانو ته رسېدلي واى تاچې دوى هم په جهاد ددې کفارو ټينګه ونډه اخستې واى او دوى هم ځانونه په شهادت رسولي واى، نو خداى ﷻ ودوى ته وعده ورکړه چې ستاسي تمنى او پيغام به زه ودوى ته ورسوم، نو هغه جنتيان شهدا، په دې ډېر خوشحاله سوه فانزل الله تعالى ﴿ولاتحسبن الذين قتلوا﴾ الخ. او په يو روايت کې ابن المنذر له انس ﷺ څخه داسي راغلي دي چې په غزا، کې د احد چې حضرت حمزه او نور مسلمانان ﷺ په شهادت ورسېدل، نو دې شهداؤ دا تمنى وکړه چې کاشکي يو مخبر واى چې خبرونه د کرامت علـى الله يـې زمـونږ ژونـدو قريبـانو او مسـلمانانو تـه رسـولي واى، نـو خداى ﷻ ورته وويل چې زه ستاسي رسول يعنې خبر رسونکى يم ودوى ته. فانزل الله تعالى ﴿ولاتحسبن الذين قتلوا﴾ الى اخير الآية.

دروښ وايي: چې ددې قسما قسم شان نزولـو تر منځ هيڅ منافات نسته بلکې مآل د تولو يو دى غاية الاختلاف في العبارات فتدبر هداک الله تعالى.

فائده: مخاطب په "لاتحسبن" سره يا رسول الله ﷺ دى وهو ظاهر، او يا خطاب دى و اولياؤ ته د شهداؤ يعنې اقرباء ددوى چې هنوز ژوندي وه.

پوه سه: چې صاحب د روح البيان وايي که مخاطب ظاهراً عليه الصلوة والسلام هم وي لكن مراد نهي د امت ددې جسبان څخه او بيان د حال د شهداؤ دى و امت ته، ولي چې عليه الصلوة والسلام خو اجل رتبةً ددې گمان کولو څخه، او روح البيان دا هم ويلي دي چې يا دا خطاب و هر واحد ته د امت محمدي ﷺ دى، ولـي دا خـو لـوى زهـرى دى بايـد هـر فـرد د مسلمانانو په خبر سي، تاچې دواعي د جهاد في سبيل الله ودوى ته ډېرې سي او ددوى يقين سي پر بنه ثواب له جانبه څخه د خداى ﷻ انتهى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې دا احسن د تفاسيرو ددې آيت دی. او د دورښ مراد له هغه ظاهره څخه دا و چې دا ظاهره ده من حيث افراد صيغة الخطاب. او مظهري رحمه الله صرف دا ويلي دي او يا خطاب دی ورسول الله ﷺ ته نور يې نه دی کړی.

سوال: لاتحسبن" څو مفرد صيغه ده. نو څرنګه قربيان د شهداؤ چې دهر څلګ وه مخاطب کېدای سي؟

ځواب: په تاويل د مفرد يعني ولي الشهدا. مخاطب کېدای سي. او يا خطاب دی وهغو منافقينو ته چې دوی به ويل ﴿لو اطاعونا ماقتلوا﴾ وفيه مامر من السوال والجواب يعني بتاويل ايها المنافق. وحينئذ يكون داخلاً تحت قل فادرءوا آه. او پر تقدير د قرائت د هشام رحمه الله يعني بياء الغيبة يكون الضمير راجعاً الى اولياء والشهداء وفيه مامر. والجواب لايحسبن ولي الشهداء. او ياضمير د غائب راجع دی ومنافقينو ته الذين قالوا لو كانوا الخ. وفيه مامر والجواب انه بتاويل لايحسبن جنس المنافق.

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

په لاره کي د خدای ﷻ يعني في الجهاد خصوصاً جهاد الاحد لان الكلام في شهداء احد كما لايخفى.

پوښتنه: چې لفظ د في سبيل الله خو شامل دی هغه چاته هم چې په يو کار کي د خير مړ سي. مثلاً په طلب کي د علم يا په سفر کي د حج؟

ځواب: هو! لكن لفظ د قتل هغو ته نه دی شامل. البته مذكوره كسان په دلالة النص سره تر لاندې کېدای سي. او يا بالقياس على المقتولين في الجهاد. ولي چې دغه کسان خو هم مجاهدين دي لكن مع النفس. ولهذا سماه رسول الله ﷺ ذالک الجهاد مع النفس جهاداً اكبر.

اَمْوَاتًا ؕ بَلْ اَحْيَآءٌ

چې دوی مړه دي يعني په لذاتو د جنت نه پوهېږي. بلكې ژوندي دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې له دې آیت څخه خو دا معلومه سوه چې دغه مقتولین في سبیل الله ژوندي دي في الحال که څه روحان یې له ابدانو څخه جلا سوي دي، واختلف العلماء القائلون بحیاتهم في الحال په دې کې دغه حیوة ددوی په روح سره دی او که په بدن سره هم دی.

دروښ وایي: چې دوارې قسمه ژوندون د احادیث مبارکه وو او د اقوالو د صحابه وو ﷺ فهمېږي لکه تفصیلي بیان چې دروښ وکړی.

پوه سه: چې صاحب د روح البیان یوه په زړه پورې مقدمه ددې بحث راوړې ده، او وایي چې انسان مخصوص عبارت ددغې بنیه مخصوصې مجموع اجزاء بدنیه څخه نه دی بلکې انسان ددې مجموع اجزاؤ څخه جلا شی دی په دلیل ددې چې انسان مخصوص په وخت کې د کوچنیوالي او د شیر خورۍ د بدن اجزاء یې ډېر کوچني وي او کرار کرار یې اجزاء د بدن مخ پر غټېدو وي حتی چې نهایت ته د ځوانۍ ورسېږي چې درود برش یا څلوېښت کاله دي، نو اجزاء د بدن د هر انسان پر قرار ودرېږي، وروسته چې یې هرم یعنې د سپینې ږیرتوب وخت رانژدې کېږي کرار کرار یې اجزاء د بدن ولېږي او کوچني کېږي، او بعض انسانان په بدن چاغ او بعض ډنگر وي او شک نسته چې انسان مخصوص مغایر دی له بدن مخصوص څخه، اوس نو دوه احتماله سته، یو احتمال دادی چې انسان مخصوص دي هم جسم وي ساري دي وي په بدن مخصوص کې لکه اور په سکرو کې او یا روغن په کنجدو کې یا اوبه د ګل ګلاب په بلګو کې او پر دوارې تقدیره بعید د نه ده چې بدن چې مړ سي هغه ساري شی دی څنډي نقل سي، نو هغه جلا سوي شي ته دي خدای ﷻ ثواب یا عقاب ورکوي، او بل احتمال دادی هغه چې انسان مخصوص دی جوهر وي قائم بنفسه نه جسم وي او نه قائم بالجسم یعني الحال فیه کما هو مذهب الحکماء في النفس الانسانیة، روح البیان زیاته کړې ده، والدلائل العقلیة والنقلیة علی بقاء.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

النفوس بعد الموت كثيرة فوجب المصير اليه، قال وبهذا نزول الشبهات الواردة على القول بثواب القبر كما في هذه الآية. وعلى القول بعذاب القبر كما في قوله تعالى في حق فرعون واتباعه اغرقوا فادخلوا ناراً اذ لم تمت النفوس بموت الابدان.

دروښ وايي: چې دا وه پښتو ژباړه د قول د روح البيان مع نقل بعض العبارات العربية منه.

پوه سه: چې فضائل د شهداؤ بې حده ډير دي او تر حساب تهر دي کما لايخفى على من طالع كتب الاحاديث الشريفة. په يوه صحيح حديث کې راغلي دي چې شهيد د قتل درد دوند ډير محسوسوي لکه مېږۍ چې يې وخوري، او شهيد لره اووه شيان ستة.

(١) ده ته بخښنل کېږي تر وله ګنهونه د وينو د اول څاڅکي سره.

(٢) خپل ځای په جنت کې وينې.

(٣) امان ورکول کېږي له عذاب القبر څخه.

(٤) په امن کې به وي دی په ورځ د قرع اکبر يعني يوم القيامة.

(٥) ددې پر سر به په ورځ د قيامت يو تاج وي، چې يو ياقوت د هغه تاج به خير وي تر دنيا ومافيها.

(٦) درو اويا حورې به په نکاح ورکول کېږي.

(٧) ددې شفاعت به په اويا کسو کې د اقرباوو قبلېږي.

فائده: په ورځ د قيامت به بيرغ د صدق او اخلاص د ابوبکر ﷺ په لاس کې وي، تر وله صديقان به تر هغه بيرغ لاندې وي، او بيرغ د عدل به د عمر ﷺ په لاس کې وي او تر وله عادلان به تر هغه بيرغ لاندې وي، او بيرغ د سخاوت به د عثمان په لاس کې وي او تر وله سخيان به ددې تر بيرغ لاندې وي، او بيرغ د شهيدانو به د علي ﷺ په لاس کې وي او تر وله شهيدان به د هغه تر بيرغ لاندې وي، او بيرغ د فقهاؤ به د معاذ بن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جبل ﷺ په لاس کښې وي او ټوله فقهاء به دده تر بیرغ لاندې وي، او بیرغ د زاهدانو به د ابو ذر غفاري ﷺ په لاس کې وي او ټوله زاهدان به دده تر بیرغ لاندې وي، او بیرغ د فقراؤ به د ابو درداء ﷺ په لاس کې وي او ټوله فقیران به د هغه تر بیرغ لاندې وي، او بیرغ د قاریانو به د ابي بن کعب ﷺ په لاس کې وي او ټوله قاریان یا مقریان به تر هغه بیرغ لاندې وي، او بیرغ د مؤذنانو به د بلال په لاس کې وي، او ټوله مؤذنان به تر هغه بیرغ لاندې وي، او بیرغ د مقتولینو ظلماً به د حسین بن علي ﷺ په لاس کې وي، چې ټوله مقتولین ظلماً به د هغه تر بیرغ لاندې وي.

دروښ وایي: چې وهذا معنی قوله تعالی ﴿یوم ندعو کل اناس بامامهم﴾ یعنې مراد له امام څخه دغه بیرغ په لاس کې د صحابه کرامو ﷺ دی اجمعین.

فائده: روحان د شهداؤ که څه هم په علیین کې دي لکن دغه روحان خپلو قبرو ته راځي په ورځ او شپه د جمعې ولهذا یستحب زیارة القبور یوم الجمعة او لیلتها.

دروښ وایي: چې د شهید في سبیل الله دا خاصه ده چې جسد یې خاوري نه خوري او جسد یې کما کان في الحیوة مرطوب پروت وي او اعضاء یې سره کتپږي کما في زمن الحیوة، له طلحة بن عبدالله ﷺ څخه روایت دی چې غابة ته تلم چې د یو ځای نوم دی خارج المدینة نو شپه رابانديې راغله، نو زه ورغلم وقبر ته د عبدالله بن عمرو بن حرام ﷺ یعنې چې د یو شهید في سبیل الله نوم دی، فسمعت قرائة من قبره چې مانه و اورېدلی قرائت بنه قرائت تر دغه چې له قبر څخه د عبدالله ما واورېدی، نو وروسته چې زه له غابة څخه راغلم و علیه الصلوة والسلام ته ورغلم او دا حال مې ورته بیان کړی، نو علیه الصلوة والسلام وویل چې دا قرائت د عبدالله و چې تا واورېدی، بیا علیه الصلوة والسلام ماته وویل چې ته نه یې خبر چې خدای ﷻ چې روحان د شهداؤ قبض کړي نو یې وګرځوي په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قندیلانو کې د یاقوتو او زمردو، او بیا هغه قنادیل وځړوي په منځ کې د جنت، نو چې شپه راسي بیا رد کړي ارواح ددوی وجسدو ته د دوی چې په قبرو کې پراته وي، نو ارواح دلته وي چې سپېدی راوچوي بیرته روحان د دوی رد کړي وخپلو قنادیلو ته وبناء علی هذا القول یکتسب الشهید الطاعات وثوابها بعد الموت ایضاً، بیهقي رحمه الله له جابر بن عبد الله رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې څه وخت چې معاویه رضي الله عنه یو لښتی تېراوه په هغه شپله کې چې د بعض شهداؤ د احد د هغې شپلې پر څنډه واقع وه، نو یې قریبان د هغو شهداؤ خبر کړه چې راسئ دا خپل شهداء د شپلې د څنډې څخه لهرې کړئ تاچه اوبه یې قبرونه ور ونړوي، نو موږ شهداء له قبرو څخه راوکښل چې ومو لیدل بدنونه ددوی دغسې لانده وه لکه په ژوند کې، او اعضاء یې داسې سره کتېدل لکه په ژوند کې د پلار د جابر رضي الله عنه یعنې عبد الله رضي الله عنه چې له شهداؤ څخه د احد و او په سینه په غشي ویشتل سوی و چې په قبر کې بنکاره سو لاس یې پر سینه باندې نیولی و یعنې پر تپ د غشي، موږ چې لاس څندې را ایسته کړی تر تپ یې وینه را ووتل او چې لاس مو بیرته پر سنه ورکښېښوی وینه ودرېدله، جابر رضي الله عنه وایي ما چې خپل پلار ته وکتل زما داسې خیال راغلی چې په خوا ږه خوب بیده دی، او هغه شړی چې موږ دده د شهادت پر جامو سربیره اچولې وه هغه ثابته پر هواره وه، او د اذخر وانبه چې موږ پر پښو دده اچولي وه هغه هم کما کانت باقي وه، او سره ددې چې د شهادت د عبد الله رضي الله عنه او تر دغه کشف د قبر ددوی شپږ څلوېښت (۴۶) کاله کېدل، او د واقعې د کشف القبور راویان وایي چې د قبر لځونکو د یوه بېلچه د حضرت حمزه رضي الله عنه له بدن مبارک څخه ومښتله دستي یې وینه را ویستل، ابو سعید الخدري رضي الله عنه وایي چې وروسته تر دې واقعاتو هیڅ څوک له حیوة جسدي څخه د شهداؤ انکار نسي کولای، راوي وایي چې خلګو چې به شهید له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قبره ددغو شهداؤ راوکښی د مشکو بوی به یې ولاړ وی.

دروښ وایي: چې په مقدمه کې د بخاري شریف تصنیف د احمد علي سهارنپوري داسي حکایت راغلی دی چې امام بخاري رحمه الله چې څه وخت وخت وقبر ته وسپارل سو د قبر د خاورو یې د مشکو بوی تلی خلګ به له لېرې او نژدې ورته راتله او خاوره به یې بویوله او تعجب به یې ورته کاوه، سعدي شیرازي وایي

گلی ناچیز در حمام روزی	رسید زدست محبوبی بدستم
بدو گفتم که مشک یا عنبری	که از بوی دلاویزی تو مستم
بگفتا من گلی ناچیز بودم	ولیکن مدتی با گل نشستم
جمال همنشین درمن اثر کرد	وگر من همان خاکی که بودم

عِنْدَ رَبِّهِمْ

په نېږد خدای ﷻ.

پوه سه: چې عندية مكاني مع الله خو غير ممكن دی لعدم المكان لله. نو مراد دلته عندية معنوية دی وهي الزلفى والقرب الى الله تعالى.

دروښ وایي: چې ومما الهمت في السدس الآخير من الليلة الاربعاء واخير شهر ربيع الاول سنه ۱۴۲۷ هـ ق ان الحيوة الروحانية كما هو المشهور والمذكور في هذه الآيات والمحكى عن رسول الله ﷺ في الاحاديث الصحيحة تعم لجميع الشهداء في سبيل الله الى يوم القيامة لعدم المخصص لا في هذه الآيات ولا في الاحاديث النبوية. واما الحيوة الجسدية كما مرت في الحكايات عن شهداء احد فلعلها مخصوصة بشهداء احد ولا يجد في الشهداء الاخر في سبيل الله وهذا سانح عزيز. وقد قال العلامة التفتازاني رحمه الله في شرح العقائد النسفية الالهام حق ولكن لايكون حجة على الغير فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يُرْزَقُونَ ﴿۱۶۹﴾

رزق ورکول کېږي يعني له مېوو ځخه د جنت کمامر ان ارواحهم في حواصل طير خضر آه.

پوه سه: چې دا جمله تاکيد ده کونهم احياء لان الرزق يکون للحي.

فَرِحِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ

دوی خوشحاله وي په هغه څه چې دوی ته خدای ﷻ ورکړي وي له خپل فضل ځخه.

پوښتنه: خدای ﷻ هغه څه چې ودوی ته يې ورکوي معلوم نه کړل. بلکې کلمه د "ما" ابهاميه يې راوړه؟

ځواب: دا ابهام لپاره د تنبيه پر دې دی چې د هغه نعمتو تفصيلي بيان په عبارت کې نه ځائېږي او نه يې عقل تفصيلاً ادارک کولای سي.

وَيَسْتَبْشِرُونَ بِٱلَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا۟ بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ

او دوی خوشحاله دي په هغو مؤمنانو سره چې په دوی پورې نه دي ملحق سوي يعني هنوز ژوندي دي، خوشحاله له دې سببه دي چې هغه ژوندي هم پر ايمان دي او هم پر طاعت دي او هم پر قصد د جهاد في سبيل الله دي.

پوه سه: چې سين له باب د استفعال په دې آيت کې د طلب لپاره نه دی بلکې په معنی د مجرد دی نحو استغنی الله.

فائده: يستبشرون" عطف دی پر "فرحين" باندې.

سوال: يستبشرون" خو فعل دی او "فرحين" خو اسم دی، نو څرنګه يې عطف صحيح کېداى سي؟

ځواب: په تاويل د فعل واسم ته يې عطف صحيح دی کانه قيل "فرحين ومتبشرين" أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿۱۷۰﴾

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي "ان لاخوف" آه بدل اشتمال دی من الذین لم یلحقوا آه لان الاستبشار لیس بذوات الذین لم یلحقوا بهم بل بحال من احوالهم وهو ان لا خوف آه.

پوه سه: چي "ان" مخفف له مثقل څخه دی، والضمیر للشان محذوف. والباء مقدرة قبل ان والتقدیر بانه ای الشان لا خوف آه والضمیر في علیهم راجع الی الذین لم یلحقوا بهم آه، چي شان ددوی دادی چي دوی چي مړه یا في سبیل الله قتل کړه سي یفوزون بحیاة چي نه به دوی لره خوف وي له راتلونکي شي څخه په مستقبل کي او نه به دوی لره غم وي پر تېر سوي شي په ماضي کي.

دروښ وایي: چي علماء د تفسیر وایي چي خوف بهره ده له راتلونکي شي څخه، مثلاً د یو سړي قریب مریض وي، نو دی بهر ېږي چي مړ نه سي. او حزن غم دی پر تېر سوي شي باندي مثلاً د سړي قریب مړ سي او دی غم پر کوي.

پوښتنه: پر تقدیر د قتل في سبیل الله خو ظاهره ده چي پر لم یلحقوا کسانو به خوف او حزن نه وي او پر تقدیر د موت به ولي خوف او حزن دوی لره نه وي؟

ځواب: چونکه نیت د لم یلحقوا بهم راسخ و چي که في سبیل الله جنګ پېښ سي، دوی به هم ځانونه قربان کړي. نو په سبب د نیت دوی ته خوف او حزن نسته وفي الحدیث نیة المؤمن خیر من عمله، ای قد یکون نیة المؤمن خیر من عمله لان العمل قد یلحقه الریاء والنیة لا یلحقه الریاء لانها امر مبطن. فالحدیث قضیة مهملة في قوة الخبریة ولهذا قلنا قد یکون آه فتدبر.

یَسْتَبْشِرُوْنَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ لَا یُضِیْعُ اَجْرَ الْمُؤْمِنِیْنَ ۝

پوښتنه: دا بشارت خو دمخه هم تېر سو، نو په تکرار کي یې څه فائده ده؟

ځواب: فائده یې تاکید د اول بشارت ده، او یا دا فائده ده چي اول بشارت و په دفع سره د ضرر او دا بشارت دی په جلب سره د نفع.

ترجمه: او دوی زېرې کوي من لم یلحقوا بهم ته په نعمت سره د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ ثواباً لاعمالهم، او په فضل سره د خدای ﷻ زیادة علی ثواب الاعمال قیل هو رویة الله تعالی. وقیل مراتب قربه من الله تعالی.

پوه سه: فضل چې یې نکره راوړی لپاره د تعظیم د فضل الهي. او بل په دې سره چې خدای ﷻ نه ضائع کوي ثواب د مؤمنانو.

له ابو هریرة ﷺ څخه روایت دی چې علیه الصلوة والسلام وویل چې خدای پاک ضمانت کړی دی د هغه چا چې في سبیل الله ووځي یعنې جنګ ته د کافرانو او له کوره نه وي ایستلی مګر جهاد في سبیل الله، یعنې قصد د ریاء او شهرت او د غنیمت یې نه وي، چې یا به یې جنت ته داخلوي یعنې که شهید سو، او یا به یې بیرته راولي خپل کور ته چې دی ځندي وتلی وي سره د هغه چې ده به پیدا کړي وي من اجر و غنیمة یعنې که شهید نه سو، او علیه الصلوة والسلام دا هم زیاته کړه چې زما دي قسم وي په هغه خدای ﷻ چې زما روح د هغه په قدرت کي دی چې نه تپي کېږي یو څوک في سبیل الله والله اعلم بمن یکلم في سبیله یعني نیت دده وخدای ﷻ ته معلوم دی، الا جاء یوم القیامة وجرحه تبعث دماً اللون لون الدم والریح ریح المسک رواه البغوي ﷺ.

فائده: دا آیت په عموم د لفظ "المؤمنین" چې خدای پاک نه ضائع کوي ثواب د نفس مؤمن که شهید وي او که غیر شهید وي او شهداء په حال د تولو مؤمنانو زېړی ورکوي، ولي چې جمله د "وان الله لایضیع آه" واقع ده لاندي تر جملې د "ویستبشرون" او هغه جمله قول دی د شهداؤ.

مسئله: د څلورو مذاهبو د علماؤ اتفاق دی چې شهید ته به غسل نه ورکوي، ولي چې شهداؤ ته د احد غسل نه دی ورکړل سوی او علیه الصلوة والسلام امر کړی چې وسپني او پوستینونه چې پر شهداؤ وي هغه دي ځندي لهړي کړي نور دې د کالو او وینو سره دفن کړي، رواه ابو داؤد وابن ماجه عن ابن عباس ﷺ وهکذا حکم علماء المذاهب الاربعة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: د شهداؤ د جنازې په لمانځه کې اختلاف دی، امام شافعي رحمه الله وايي لمونځ دي نه ورکوي. او امام اعظم او امام مالک رحمهما الله وايي لمونځ دي ورکوي. وعن احمد رحمه الله روايتان. زمونږ دليل دادی چې لمونځ د ميت به يا لپاره د مغفرت د ګنهو وي او يا به لپاره د تکريم د ميت وي د شهداؤ، که څه هم په سبب د شهادت تر لاسه ګنهونه بخښل سوي لکن حق د تکريم خو لري، او که په ترک د صلوة الجنازة تکريم وايي نو رسول الله ﷺ اولی په تکريم و وقد صلى عليه اجماعاً.

الَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِلَّهِ وَالرَّسُولِ

او هغه کسان چې دوی قبلونه وکړه د خدای ﷻ په وتلو کې له مدينې څخه لپاره د جنګ د ابوسفيان و اصحابه چې هغو اراده کړې وه د اشغال د اهل مدينې.

مِنْ بَعْدِ مَا أَصَابَهُمُ الْقَرْحُ

وروسته تر دې چې دوی ته ټپونه رسېدلي وه په احد کې.

لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا مِنْهُمْ

د هغو کسانو لپاره چې ښه کارونه کوي له دوی څخه.

پوه سه: چې په لفظ کې د "احسنوا" تر لاسه عبادات من الفرائض والواجبات والسنن داخل سوه. وَاتَّقَوْا

او له خدای ﷻ څخه ډېرېږي په دې کې تر لاسه ترک د منهياتو دينيه وو داخل سوه. أَجْرٌ عَظِيمٌ

ثواب دی لوی.

اعراب: اجر عظيم" مبتدا، ده "للذين احسنوا" يې خبر مقدم دی او تر لاسه جمله په محل کې د رفع ده خبر د "الذين استجابوا" ده.

شان نزول: پوه سه چې ابو سفيان او ملګري دده چې له احد څخه ستانه سوه او روحا ته ورسېدل چې نوم د يو ځای دی په منځ کې د مدينې او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مکې، دوی پښېمانه سوه چې موږ غلبه پر مسلمانانو پیدا کړه او سرکرده خلګ مو مړه نه کړه یعنون محمداً ﷺ وابوبکر او عمر وغیرهم رضي الله عنهم. نو بیرته اراده وکړه چې پر مدینې یرغل وکړي او باقیمانده مسلمانان یې تولـه مړه کـي او ښځـي ځنـدي بـوزي او مالونـه یـې تـاراج کـړي. نـو جبرائیل علیه السلام خبر د رجوع د ابوسفیان واصحابه و علیه الصلوة والسـلام ته راورساوه، نو علیه الصلوة والسلام وخلګو ته دعوت ورکړی چې موږ باید له مدینې څخه په طلب د ابو سفیان واصحابه ور ووځو، او علیه الصلوة والسلام دا اعلان هم وکړی چې له موږ سره به وځي مګر هغه کسان چې پروند زموږ سره حاضر وه یعنّي في غزوة احد.

دروښ وایي: چې له بیان څخه دا معلومه سوه چې لفظ "منهم" لپاره د تبعیض نـه دی، ولـي هغـه کسـان چـي دا اجابـت یـې وکـړی هغـه تولـه محسنین او متقین وه لا یعضهم فقط بلکې ذکر د احسنوا واتقوا لپاره د مدح ددوی دی. نو کلمـه د منهم لپـاره د بیـان د جنس ده، نو کـه څـه هم مـسلمانان د احد د جنګ تولـه تېیـان وه بشـمول د آنحضرت ﷺ چې سر یې تېې و او له رباعي غـاښو څخـه یـې یـو مـات سـوی و، کمـامر فـي تفصـیل غزوة احد في هذا التفسیر باکمل وجه واتم بیان، خو بیا هم مسلمانانو مشقت پر ځان یووړی او دعوت د علیه الصلوة والسلام یې د خروج لپاره قبول کړی، نو چې علیه الصلوة والسلام سره د همراهانو و حمراء الاسد ته ورسېدل چې د یو ځای نوم دی چې له مدینې څخه اتـه میلـه لـهري واقـع دی. د ابو سفیان په زړه کې خدای ﷻ رعب ورواچونی، نو بیرته یې قصد د رجوع ومدینې ته فسخ کړی او د مکې پر خوا روان سو.

پوه سه: چې سبب د رعب د ابو سفیان دا و چې دی او اصحاب دده د مدینې پرخوا روان وه لپاره د استیصال د مسلمانانو د مدینې منورې، د مبعد په نامه یو سړی د مدینې له خوا را روان و کـه څـه هم کـافر و، نـو ابـو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سفیان ورته وویل چي ترشا دي څه شی ولیدل یعنې د مدینې پر خوا. مبعد ورته وویل چي محمد مي ولیدی چي خپل اصحاب او نور هغه کسان چي د احد په جنګ کي نه وه حاضر سوي هم ورسره وه چي ما تر اوسه پوري دونده لوی لښکر نه ولیدلی او ستاسي په طلب پسي را روان وه، ابو سفیان ورته وویل ویلک ما تقول، مبعد ورته وویل چي ته یو څه پېش قدمي وکړه چي نواصي الخیل به وویني، ابو سفیان ورته وویل چي مورږ په قصد د استیصال د مسلمانانو د مکې له خوا څخه مدینې ته رجوع کړې ده، مبعد ورته وویل چي زه تا منع کوم له دې قصد څخه ستا چي د لوی شکست سره به مخامخ سې، نو هغه و چي ابو سفیان وبېرېدی او ژر یې خپل لښکر د مکې پر خوا روان کړی چي د علیه الصلوة والسلام د طلب او د لښکر بېره یې په زړه کي وه.

دروښ وایي: چي په کتابو کي د مغازي وو ودې ته غزوة حمراء الاسد وایي چي متصله په احد پوري وه.

دروښ وایي: چي صاحب د روح المعاني او صاحب د روح البیان او تفسیر مظهري ټوله وایي چي دا وروسته آیتونه یعنې "الذین قال لهم الناس الخ" په باره کي د غزوة البدر الصغری نازل سوي دي او بد الصغری د موقتي بازار نوم دی د بني کنانه وو چي دوی او نور عرب به پکښې جمعه کېدل اته ورځي د ذو القعدې او په هغه بازرا کي به خرید او فروخت کېدی.

فائده: پوه سه چي عکرمة، قتادة او مجاهد رحمهم الله تعالی وایي چي دا آیت د بدر الصغری په واقعه کي نازل دی، او مظهري رحمه الله په اول کي ویلي دي خلافاً لاکثر المفسرین او وروسته یې ویلي دي، والظاهر عندي ان هذه الآیة نزل في غزوة بدر الصغری آه، نو زه وایم چي هغه اکثره مفسرین نو څوک دي چي دا آیت په بدر الصغری کي نازل نه بولي، بیضاوي یې هم په بدر الصغری کي نازل بولي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په هر صورت تفصیل د غزوة البدر الصغری داسي دی چي ابو سفیان چي په ورځ د احد سره د فتح او ظفر د مکي وخواته روانېدی نو یې علیه الصلوة والسلام ته داسي اعلان وکړی "یا محمد موعد ما بیننا وبینک موسم البدر الصغری القابل" یعنې هوري به بیا جنګ سره کوو ان شاء الله تعالی. نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل ذالک بیننا وبینک ان شاء الله تعالی، نو چي دا ښل کال موسم د بدر الصغری را نژدې سو ابو سفیان له مکي څخه دوه زره (۲۰۰۰) کسه را ویستله د مکي له قریشو او پنځوس آسان ورسره وه، نو په مجنة چي په ناحیه کي د مر الظهران واقع دی وایي رول. خدای ﷻ دده په زړه کي رعب او بیره پیدا کړه. نو یې قصد د رجوع بیرته ومکي ته وکړی، نو په هم دغه ځای کي یې نعیم بن مسعود الاشجعي چي مکي ته راغلی و د عمرې لپاره او اوس بیرته مدینې ته روان و، او بعض مفسران وایي چي د ابو سفیان په مخه یوه قافله ورغله د بني عبد قیس د قبیلې چي هغه مدینې ته تله د خوراکي موادو د راوړلو لپاره، نو ابو سفیان وهغو ته وویل چي زه د اوښ یو بار اوښکي تاسي ته درکوم که تاسي محمد منع کړی له راوتلو څخه د بدر الصغری لکه چي ما وعده ورسره کړې وه کمامر عنقریب. نو پر تقدیر ددې چي ابو سفیان د نعیم بن مسعود اشجعي سره ملاقي سوی وي. نو ابو سفیان وده ته وویل یا نعیم اني وعدت محمداً واصحابه ان تلتقي ببدر الصغری، او ابو سفیان خپل عذر داسي ورته بیان کړی چي سږ کال د بارانو کاختي ده او موږ لره پکار دی داسي کال چي نرعی فیه الشجر ونشرب فیه اللبن او زما اراده ده چي سږ کال بدر الصغری ته سفر نه وکړم او دا هم ډېره ګرانه راته تمامېږي چي محمد او اصحاب دده بدر صغری ته راسي او زه نه سم ور، ولي چي په دې سره د مسلمانانو جرائت ډېر لوړېږي. نو چي دوی نه سي را او خلف الوعد ددوی له خوا وسي ډېره به ښه وي تر دې چي زه خلف الوعد کوم. نو ابو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سفیان نعیم ته وویل چي ته ورسه مدینې ته او مسلمانان وبهروه چي ابو سفیان د ډېر درانه لښکر سره بدر الصغری ته را روان و او تاسي جنګ نه سئ ورسره کولای. او که تا دا وظیفه پر ځای کړه زه تاته لس اوښان درکوم چي دا اوښان به زه اوس في الحال وسهیل بن عمر ته ودروم او سهیل یې هم ضمانت وکړی، نو نعیم چي مدینې ته راغلی او وه یې لیدل چي مسلمانان د بدر الصغری تیاري کوي لپاره د ابو سفیان د جنګ، نو نعیم ورته وویل چي څه کوې دوی ورته وویل چي موږ د ابو سفیان د جنګ تیاري کوو په بدر صغری کي، نو نعیم ورته وویل بئس الرای داسي فکر ستاسي غلط دی، ولي چي تاسي ته باید چي تجربه حاصله سوی وای یعنې له جنګ څخه د احد چي ابو سفیان ستاسي وطن ته راغلی و او اویا کسه شهیدان یې تاسي ته درپرېښول او تېښان یې ډېر کړلاست. اوس تاسي بدر الصغری ته ورځی ابو سفیان په هغه سي یعنې لکه په احد کي په درانه لښکر بدر صغری ته را روان دی، نو که تاسي بدر الصغری ته ورسی یو به هم ژوندی را نه سي، نو د علیه الصلوة والسلام د بعضو اصحابو دا فکر پیدا سو چي باید موږ بدر صغری ته ولاړ نه سو، نو منافقان او یهودان خوشحاله سول او دوی وویل چي دا وار به محمد او اصحاب دده یو لاهم ژوندي رانه سي، او دا خبره و علیه الصلوة والسلام ته ورسېدله او پر دې وېرېدی چي بدر صغری ته به زما سره هیڅ څوک هم ولاړ نه سي، نو په دې دوران کي ابوبکر ﷺ او عمر فاروق ﷺ و علیه الصلوة والسلام ته راغله او د نعیم خبري او د مسلمانانو خوف ودوی ته معلوم سوی و، نو دوی وویل یا رسول الله ﷺ خدای پاک "مظهر دینه ومعز نبیه" او موږ له ابو سفیان سره وعده د بدر صغری هم کړې ده. نو زموږ دا خوښه نه ده چي موږ خلف وکړو. نو علیه الصلوة والسلام د ابوبکر او عمر په خبرو سره ډېر خوشحاله سو فقال رسول الله ﷺ والذي نفسي بیده لاتخرجن ولو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وحدي، نو علیه الصلوة والسلام او صحابه کرامو ﷺ دا عبارت ووایه چې قرآن هم په هغه نازل سو یعني ﴿حسبنا الله ونعم الوکیل﴾ نو علیه الصلوة والسلام او صحابه کرام د بدر صغری وخوا ته روان وه او مشرکان چې به په مخه ورغله نو علیه الصلوة والسلام او اصحابو به د ابو سفیان او د قریشو پوښتنه ځندي کوله، هغو مشرکانو به ورته وویل چې ابو سفیان او لوی عدد د قریشو بدر صغری ته رانژدې سوي دي لپاره ددې چې مسلمانان وبهروي د بدر صغری له ورتلو څخه لکن مسلمانانو به ویل ﴿حسبنا الله ونعم الوکیل﴾ حتی چې علیه الصلوة والسلام سره د مسلمانانو وبدر صغری ته ورسېدل، او علیه الصلوة والسلام د ابو سفیان انتظار کاوه، او ابو سفیان دمخه لا مکې ته ولاړی او علیه الصلوة والسلام هیڅ څوک هم د مشرکانو ونه لیدل، او د بدر صغری په بازار کې یې خرید وفروخت وکړی چې یو درهم یې دوه وګرځېدله، او اته ورځې وروسته مدینې ته راستانه سوه سالمین غانمین.

دروښ وایي: چې مظهري رحمه الله سره ددې چې دمخه یې وویل والظاهر عندي آه او قصه د بدر صغری یې ټوله وڅېړله لکن په پای کې وایي والصحیح هو القول الاول یعني ان الآیة المذکورة نزلت في غزوة احد ثم استدل علیه بما لا یفهم من دلیله شئ صحة کون الآیة في غزوة احد والله اعلم بالصواب وبمراده في الکتاب یعني القرآن والارجح عندي ان الآیة المذکورة کما سیأتي نزلت في واقعة البدر الصغری،

فائده: غزوة دبدر الصغری تر احد یو کال وروسته پېښه سوی ده، والآیة المنزلة هذا. الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ

پوه سه: چې "الذین آه" یا منصوب دی علی المدح ای امدح الذین آه او یا خبر د مبتداء محذوف دی ای هم الذین آه، او یا مبتداء د خبره فانقلبوا آه.

پوه سه: چې مراد له "الناس" څخه دي هغه قافله وي د عبد القیس د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قبیلې چې علیه الصلوة والسلام او دده اصحابو ته یې خبر د ابو سفیان راوړی ددوی د بهرولو لپاره. فاطلاق الناس ظاهر. او مجاهد او عکرمه رح وایي چې مراد له "الناس" څخه نعیم بن مسعود اشجعي دی چې مدینې ته یې خبر د ابو سفیان لپاره د بهرولو د اصحابو د علیه الصلوة والسلام راوړی. نو مراد له "الناس" څخه جنس دی لکه په دې محاوره کې "فلان یرکب الخیل ومالہ الا فرس واحد" فالمراد جنس الخیل. او یا له دې سببه یې اطلاق د "الناس" پر وکړی چې د نعیم مذکور سره منافقین د مدینې او یهودان د مدینې هم ملګري سوه په اشاعت کې د خبر د ابو سفیان.

پوه سه: چې امام رازي په تفسیر کبیر کې وایي مدح الله تعالی المؤمنین علی غزوتین یعرف احدهما بغزوة حمراء الاسد وهي المذکورة في الآیة المتقدمة والثانیة بغزوة البدر الصغری وهي المذکورة في هذه الآیة.

دروښ وایي: چې قول د امام کبیر په خپل تفسیر کې هم رد د قول د مظهري کوي چې دی وایي والصحیح هو الاول کمامر سابقاً.

إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ

مراد له "الناس" څخه دلته ابو سفیان وغیره من مشرکي مکة.

ژباړه: چې وویل ودوی ته خلګو چې ابو سفیان وغیره من المشرکین جمع کړي دي د هر خلګ او د هر آلات د جنګ ستاسي لپاره یعني ستاسي د جنګ لپاره نو له دوی څخه وبهرېږئ او بدر الصغری ته مه ځئ.

مراد له "الناس" څخه دلته ابو سفیان وغیره دي من مشرکي مکة.

فَزَادَهُمْ إِيمَانًا

نو دې قول زیات کړی ودوی ته ایمان یعني دوی ودې قول ته التفات ونه کړی بلکې لا یې په زړو کې ایمان یعني التوکل علی الله زیات سو. نو پر دې تقدیر ضمیر مستتر د "فزادهم" و وقول ته راجع دی. او یا ضمیر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مستتر وخدای ﷻ ته راجع دی یعنې خدای ﷻ ددوی ایمان قوي کړی، او یا ضمیر مستتر راجع وقائل ته د قال دی که له قائل څخه مراد نعیم یوازې وي یعنې د نیعم و خبره ته، چې ابو سفیان وتاسې ته لویه اجتماع کړې ده دوی یې ضعیفه نه کړه بلکې دوی غیرت اسلامي بیدار کړی په دې سبب دوی خدای ته قرب پیدا کړی او ایمان یې زیات سو بزیادة مدارج القرب.

وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ ﴿١٧٣﴾

او دوی وویل موږ لره کافي او بس دی خدای ﷻ په دفع کې د دښمن یعنې ابو سفیان او ښه وکیل دی خدای ﷻ.

پوه سه: چې چونکه حسب مصدر دی او حمل یې پر لفظ "الله" نه دی صحیح نو ځکه مفسران وایي چې مصدر په معنی د فاعل دی ای کافینا الله من احسبه اذا کفاه، او د وکیل معنی داده چې سړی خپل کارونه وبل چا ته وسپاري.

فائده: په وکیل کې دا شرط دی چې یو به تر موکل وکیل ښه په کار پوه وي، او بل به پر موکل رحم لري، دواړه کاره په خدای ﷻ کې تر هر چا اتم او اکمل دي، ولي چې خدای ﷻ دی چې تر هر چا د بنده په نفع او ضرر خبر دی، او خدای ﷻ دی ارحم الراحمین، نو باید بنده خپل کارونه وخدای ﷻ ته وسپاري وبس؛

فائده: نحات وایي چې افعال والذم چې "نعم" له هغو څخه یو دی لپاره د انشاء د مدح او ذم دی،

سوال: نو حسبنا الله، خو جمله خبریه ده نو څرنګه عطف د انشاء پر صحیح دی؟

ځواب: مولوي خیالي په حاشیه کې د شرح العقائد وایي چې عطف په کلام کې حاکي دی په محکي عنه کې عطف نه و یعنې محکي عنه حسبنا الله نعیم الوکیل و نو حاکي چې ددوی قول حکایت کاوه. نو واو عاطفه یې ورسره زیات کړی، فالمعنی قالوا حسبنا الله، وقالوا نعم الوکیل، ای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قالوا هذا القول وهذا القول، نو اصل عطف په منځ کې د قالوا وقالو دی وهما جملتان خبريتان البتة متعلق يعني مفعول د يوې جملې انشا، چې نعم الوكيل دی، وهذا لا يضر في العطف او فاصل سيالكوتي وايي چې دا قول حسبنا الله کنايه ده اعتقدنا على الله، او نعيم الوكيل کنايه د عن قولهم وكلنا امورنا الى الله، والمعنا الكنايي في كلتا الجملتين خبرية فيصح العطف باعتبار المعنى الكنايي، او هغه ځواب چې مظهري ته راوړی دی چې هغه جملې چې محل د اعراب نه لري بعض پر بعض عطف کېدای سي من غير مبالات بالاختلاف خبرية وانشاء انتهى.

دروېش وايي: چې دا ځواب په آيت شريف کې نه دی صحيح لان الجملتان هذه لهما محل من الاعراب يعني هما مفعولا لقالوا فهما منصوبان محلاً ، وما استشهد به المظهري فلا محل للاعراب فيه مطالع تفسيره والله اعلم بالصواب.

فَانْقَلَبُوا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ

نو عليه الصلوة والسلام راوګرځېدی سره د اصحابو رضي الله عنهم له بدر صغرى ځخه په نعمت د خدای جل جلاله له خوا چې ددوی سره و حين ذهبوا من المدينة من الايمان والعافية والاموال. **وَفَضْلٍ**

او زيادت د عقيدې پر خدای جل جلاله او زيادت ثواب د خدای جل جلاله له خوا او زيادت په اموالو کې په تجارت سره په بدر صغرى کې او زيات والی په عزت کې، ولې دوی خو لپاره د جنګ د ابو سفيان له مدينې ځخه وتلي وه، ابو سفيان چې مرعوب سو او بدر صغرى ته نه راغلی نو د عليه الصلوة والسلام او د مسلمانانو عزت نور زيات سو.

لَمْ يَمْسَسْهُمْ سُوءٌ

پوه سه: چې دا جمله حال ده له فاعل ځخه د "فانقلبوا" يعني دوی ته نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورسېدی کوم تکلیف یا جراحت یا قتل یا نهب الاموال وغیر ذالک.

وَاتَّبَعُوا رِضْوَانَ اللّٰهِ

او دوی په تلو کي د بدر صغری متابعت د رضا د خدای ﷻ وکړی چي هغه مناط د فوز د دارینو دی.

پوښتنه: د بدر صغری تګ خو غزاء نه وه، ولي دښمن یعني ابو سفیان حاضر نه سو؟

ځواب: هوا جنګ ځو ونه سو لکن علیه الصلوة والسلام خو په نیت د جنګ وروتلی و، نو خدای ﷻ ودوی ته ثواب د غزاء ورکړی او ځندي راضي سو.

وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَظِيْمٍ ۝

او خدای ﷻ مالک د لوی فضل دی چي پر لږ عمل په اخلاص او محبت سره لوی لوی ثوابونه مسلمانانو ته ورکوي.

إِنَّمَا ذٰلِكُمُ الشَّيْطٰنُ

یعني نعیم یا ابو سفیان شیطان دی.

پوه سه: چي "ذالکم" مبتداء ده او شیطان یې خبر دی، او وروسته جمله بیان د شیطانت د هغه شیطان دی، او داسي هم ممکنه ده چي شیطان دي صفت د "ذالکم" وي او "یخوف" دي خبر وي. او دا احتمال هم بعض مفسرانو ذکر کړی دی چي "ذالکم" دي مبتداء وي او شیطان دې خبر وي، او جمله د "یخوف" دي صفت د شیطان وي.

سوال: شیطان خو معرفه دی او نحات وایي چي جمله په حکم کي د نکرې ده، نو څرنګه جمله صفت د معرفې کېدای سي؟

ځواب: په یوه شعر کي داسي راغلي دي

لقد امر علی اللئیم یسبني فمضت ثمة وقلت لا یعنی

نو نحات وایي چي جمله د یسبني صفت ده اللئیم ده، او د مذکوره سوال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په جواب کي دوی داسي وايي چي الف لام په اللیم کي لپاره د عهد ذهني دی ای لیم من اللیام فلا یفیدان التعریف، نو دلته هم الف ولام د الشیطان لپاره د عهد ذهني دی ای شیطاناً من الشیاطین سوا. کان نعیم او غیره، کابو سفیان او منافقان. او یهودان فلا یفید ذالک اللام تعریفاً فیصح وقوع الجملة صفةً له فافهم.

يُخَوِّفُ أَوْلِيَآءَهُۥ

پوه سه: چي د "یخوف" ضمیر راجع دی وشیطان ته. او له اولیاؤ څخه د شیطان منافقان مراد دي چي دوی د علیه الصلوة والسلام سره بدر صغری ته نه ولاړه خوفاً من ابی سفیان وحزبه. والمعنی چي تخویف د شیطان محصور دی پر خپل حزب چي منافقان دي. او تاسي اې مؤمنانو تجاوز نه سئ کولای. ولي چي تاسي خو حزب الله او اولیاء الله یاست. او بعض مفسران وایي چي "اولیائه" منصوب په نزع د خافض وي او مفعول دې محذوف وي، والتقدیر یخوفکم باولیائه یعني ابو سفیان وحزبه ویدل علیه قرائة ابي بن کعب رضی الله عنه یخوفکم باولیائه.

فَلَا تَخَافُوهُمْ

نو تاسي مه ببرېږئ له اولیاء الشیطان څخه چي ابو سفیان واتباعه دي لانه لاقوة لاحد الا بالله.

وَخَافُونِ

او له ما څخه ببرېږئ چي زه کفار غالب نه وگرځوم پر تاسي کما جعلت یوم احد، او غلبه پر دښمن زما د خوا ده، نو زما له امر او نهي څخه مخالفت مه کوئ او د رسول له امر او نهي څخه هم مخالفت مه کوئ کما ظهر تلک المخالفة في احد بترک المرکز.

پوه سه: چي کسره د نون عوض دی له یاء محذوف څخه او اصل یې "یاخافوني" و، او ابو عمر قاري صرف په وصل کي یاء باقي پرېږدي نه په وقف کي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿١٧٥﴾

که تاسي په رښتيا مسلمانان ياست، ولي چي مقتضی د ايمان هم داده چي مسلمان ته لازمه ده چي له خپل معبود حقيقي څخه وبيرېږي، او که څوک له خدای څخه بيرېږي، مخلوق د خدای ﷻ به له هغه څخه بيرېږي لکه د بدر صغری په موضوع کي چي ابو سفيان سره د لوی توانائي او فوج خدای ﷻ د يخي لږو مسلمانانو څخه په زړه کي رعب او بيره ور پيدا کړه کمامر.

وَلَا يَحْزُنْكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْكُفْرِ

او تادي غمجن نه کړي هغه کسان چي په تلوار تلوار په کفر کي ځانونه واقع کوي، په اتفاق د مفسرينو له "الذين آه" څخه مراد منافقان دي چي نه په غزاء کي د احد شامل سوه کمامر او د بدر صغری له شرکته يې هم ډډه وکړه، نو يوماً فيوماً ددوی کفر مبطن بنکاره کړی او سعي ددوی په اطفاء کي نور الله چي اسلام دی معاونةً للكفار.

إِنَّهُمْ لَنْ يَضُرُّوا اللَّهَ شَيْئًا

جملة معللة لما قبلها، ولي چي دوی تاوان نه سي رسولای وخدای ﷻ ته يعني و اولياؤ ته د خدای ﷻ او دين ته د اسلام هيڅ شی بلکې تاوان وخپلو ځانو ته رسوي چي ځانونه د ابدي دوزخ مستحق گرځوي.

يُرِيدُ اللَّهُ أَلَّا يَجْعَلَ لَهُمْ حَظًّا فِي الْآخِرَةِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٧٦﴾

خدای ﷻ اراده کړې ده يعني په سبب د شومو اعمالو ددوی چي ور نه کړي ودوی ته يوه مطلقه برخه په ثواب کي د آخرت، او دوی سره ددې چي له ثواب څخه خو محروم دي لوی عذاب د دوزخ هم ورته سته.

إِنَّ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الْكُفْرَ بِالْإِيمَانِ لَنْ يَضُرُّوا اللَّهَ شَيْئًا وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٧٧﴾

په تحقيق هغه کسان چي بدلوی کفر په ايمان سره يعني ايمان چي په دوی کي فطري استعداد و هغه يې پر منزله د ثمن د کفر وگرځاوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې اطلاق د شراء پر دغه استبدال مجازاً او استعارة دی او په "اشتروا" کې استعاره تبعیه ده وقد مر تحقیق هذه الاستعارة والمجاز في سورة البقرة.

پوه سه: چې مراد له "الذین اشتروا الکفر آه" څخه اهل کتاب دي خصوصاً الیهود منهم، ولي چې دوی ایمان پر محمد ﷺ درلودی حتی په جنګ د مشرکانو کې به دوی ویل اللهم بحرمة النبي اخیر الزمان موږ ته فتح راکړې پر دغو مشرکانو، لکن چې علیه الصلوة والسلام ودوی ته راتګ وکړی په معجزاتو ظاهراتو سره او په دلائلو واضحاتو سره نو دوی کفر مختاره کړی حباً للدینار والدرهم والریاسة علی غربائهم وذالک من قبل علمائهم لعنهم الله تعالی.

وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا

اوګمان دي نه کوي هغه کسان چې د کفر لار یې خپله کړې ده.

پوه سه: چې حمزه القاري رحمه الله دا کلمه په تاء الخطاب وایي او خطاب دی ونبي ﷺ ته لپاره د تعریض پر الذین کفروا. ولي خو دوی حاسبان دي دون النبي ﷺ. او یا خطاب دی وهر چاته چې دا حسبان کوي. او باقي قراء یې په یاء د غیبت وایي وتوجیه ظاهر.

أَنَّمَا نُمْلِي لَهُمْ خَيْرٌ لِّأَنفُسِهِمْ

په تحقیق چې موږ مهلت ورکوو دوی ته یعني فوراً عذاب نه پر نازلوو خیر دی ددوی د ځانو لپاره.

پوه سه: چې "انما نملي لهم" مفعول دی د "لایحسبن" او قائم مقام د المفعولین ده.

پوه سه: چې املاء مهلت ورکولو ته وایي. یعني باطالة العمر وتخلیتهم وشانهم ای الکفر والمعاصي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّمَا نُمْلِي لَهُمْ لِيَزْدَادُوٓا إِثْمًا

موږ ملهت ورکوو ددې لپاره چې ددوی ګناهونه نور هم ډېر شي.

پوه شه: چې "انما نملي لهم" مستانفه ده ما تقدم من الحكم.

پوه شه: چې لام په "ليزدادوا" کې د ارادې دی په نېږد د اهل السنة والجماعة ای اراد الله زيادة اثمهم، ولې چې په نېږد د اهل السنة والجماعة فاعل او مريد د خير او شر خدای ﷻ دی، ولې چې املا. يعني اطالت د عمر لاشک انه من افعاله تعالى اوسره ددې چې دا املا. خو خير ددوی نه ده لانهم يتوسلون به الى الاثم والطغيان، نو چون خدای تعالى پخپله اراده سره عمر ورزيات کړی او دوی سره د اطالت د عمر کفر او طغيان او عصيان وکړی کان الله خالقاً لتلك الآثام ايضاً كما انه مريد وخالق لاسبابها وليست اللام للتعليل لان افعال الله ليست معللة بالاغراض، والعلل عندنا، او معتزله چې اصلح د بنده پر خدای ﷻ واجبه بولي او اراده د شر او ګناه پر خدای ﷻ محاله بولي، نو دوی دا لام دعاقبت بولي نحو لدوا للموت وابنوا للخراب.

دروېش وايي: چې تفصيل ددې مذاهبو او دلائل او جوابات په شرح العقائد او شرح المقاصد کې چې دواړه تصنيفه د علامه تفتازاني رحمه الله دي مطالعه کړي وغيرهما من كتب علم الكلام نحو كتاب الملل والنحل لعبد الكريم الشهرستاني وحواشي الفاضل اللاهوري على حاشية الخيالي.

وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ

او دوی لره عذاب دی د اهانت او سپکاوي.

فائده: مقاتل رحمه الله وايي چې دا آيت په مشرکانو کې د مکې نازل دی، او عطا رحمه الله وايي چې بني قريظه او نضير کې نازل دی، وروی احمد والترمذي والدارمي عن ابي بكر رضي الله عنه انه سئل رسول الله ﷺ اى الناس خير قال من طال عمره وحسن عمله، قيل فاى الناس شر قال من طال عمره وساء عمله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې عذاب د کفارو يې مقيد په "مهين" سره کړی احترازاً عن عذاب عصاة المؤمنين فانه للطهارة عن الذنوب لا للاهانة. د مثال په توګه خلګ لرګي سوځي د ډوډۍ د پخلي لپاره يا د ډېګ د پخولو لپاره الی غير ذالک په دې کې دلرګو اهانت دی په نېږد خلګو، او بعض خلګ خپل سره زر يا سپين زر چې خيرن سوي وي زرګر ته يې وروړي او هغه يې پر کوره د اور کښېږدي نه د سپکاوي لپاره بلکې له خيرو ځخه پاکېدو لپاره. وعلى هذا القياس تعذيب الكفار بالنار وتعذيب عصات المؤمنين.

مَا كَانَ اللّٰهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلٰى مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ

نه دی خدای ﷻ چې پرېږدي مؤمنان چې مخلصان وي يا منافقان پر داسي ډول چې تاسي ياست يعنې چې مخلص مؤمن او منافق سره ګډوډ وي كما في عصر النبي ﷺ فالخطاب لعامة المؤمنين والمنافقين.

حَتّٰى يَمِيْزَ الْخَبِيْثَ مِنَ الطَّيِّبِ

تر هغو پورې چې جلا کوي به خدای ﷻ خبيث يعنې المنافق من الطيب له مخلص مؤمن ځخه. او دا جلا کېدل به يا په وحي سره وي د عليه الصلوة والسلام كما قال الله تعالى ﴿يحذر المنافقين ان تنزل عليهم "اى في حقهم" سورة تنبئهم بما في قلوبهم﴾ چې هغه سورت دي آګاه کړي په هغه څه چې په زړو کې د منافقينو سته من النفاق والخداع، او يا دي دا تميز وکړي په تجربه د غزواتو لکه په واقعه کې د احد منافقانو ځانونه جلا کړه او خپل نفاق يې ظاهر کړی او دغه رنګه په واقعه کې د بدر الصغرى دوی ځانونه خوندي وساتل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَجْتَبِيْ مِنْ رُّسُلِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ۖ

او نه دی خدای ﷻ چې تاسي دي خبر کړي پر پټو شیانو. نو چې تاسي په ذریعه د علم غیب مؤمن صادق او منافق سره وپېژنئ د مخه تر پېژندلو ګلوی د خدای ﷻ له خواځخه.

لکن خدای ﷻ مختاره کوي بعض رسولان چې د خدای ﷻ اراده وسي من علم بعض المغیبات کما اطلع الله تعالی نبیه محمداً ﷺ په حالاتو د بعضو منافقانو په نور د فراسته.

فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ۚ وَاِنْ تُؤْمِنُوْا وَتَتَّقُوْا فَلَكُمْ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ۝

نو ایمان راوړي پر خدای ﷻ په توحید او خالقیت او عظیم قدرت، او علم مخلوق ذره ذره الی غیر ذالک من صفاته الجمالیة والجلالیة. او پر رسولانو د خدای ﷻ په صدق او اخلاص سره لا کالمنافقین.

فوائد شتی: تنفع في هذا المقام.

(۱) سلطان العارفین بایزید بسطامي رحمه الله وروسته تر وفات یوه مخلص په خوب ولیدی، نو یې پوښتنه ځندي وکړه چې د منکر او نکیر سره دي څه حال و چې در ته وه یې ویل من ربک ومن نبیک وما دینک؟ ده ورته وویل ما منکر او نکیر ته وویل چې تاسي له خدای ﷻ څخه پوښتنه وکړئ چې بایزید ستا بنده و که نه؟ نو که خدای ﷻ وویل چې زما بنده و یکفی. والا که زه ډېر وارونه ووایم چې زه په حقه سره د خدای ﷻ بنده یم فائده نه کوي بلا قبوله تعالی، فذهبت الملائکة ورجعت نو ملکو وویل چې خدای ﷻ ستا عبودیت قبول کړی. نو ما ورته وویل فاقول ان ربي الله ونبي محمد ﷺ ودیني الاسلام.

(۲) وری ان ذالک الشیخ یعنی ابا یزید رحمه الله دخل في اخیر عمره المحراب او داسي یې وویل یا خدایه زه نه ذکر کوم خپل لمونځونه. او نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روژې او نه پرته له هغه څخه نور عبادات، بلکې وایم چې ما خپل عمر
ټول په ضلالت او ګمراهي کې تېر کړی دی. او دا اوس مې زنار د ضلالت
له غاړې وکښې او راغلم ستا دروازې ته بالاستسلام وهو الاسلام.
محققین وایي چې دغه دی انصاف د کاملانو، شیخ سعدي رحمه الله په حال
کې د خپل شیخ سهروردي رحمه الله وایي:

شبی دائم از هول دوزخ نخفت بگوش صبحگاهی درآمد که گفت
چه بودی که دوزخ زمن پر شدی مگر دیگران را رهائی بدی

نو عاقل سړی هغه دی چې د ځان تزکیه نه کوي او ځان محل د کرامت د
خدای جل جلاله نه بولي بل یتواضع لله بحیث یری اعماله السیئة اضعافاً
مضاعفة لحسناته اللهم ارزقني حقیقة الایمان فانک علی کل شیئ قدیر.

فائده: دا آیت یعني ﴿انما نملي لهم لیزدادوا اثماً﴾ پر دې دلالت کوي
چې دراز والی د عمر د کافر یا فاسق، او کامیابي دده په مراداتو کې د
دنیا لیس بخیر له بل هي نعمة في الصورة ونقمة في الحقیقة مثال ددې
دادی چې یو سړی وبل چاته ښه چربه مهماني جوړه کړي مګر زهر قاتل
په ګډ کړي، نو دغه چربه ډوډۍ خو ظاهراً نعمت دی او په حقیقت کې
چونکه د مېلمه مفضي وهلاکت ته ګرځي نقمة دی، نو سړي لره پکار
ده چې په طول عمر یا په کثرة الاموال والاولاد غره نه سي. قال
السعدي الشیرازي رحمه الله

غره مشو بآنکه جهانت عزیز کرد
ای پس عزیزرا که جهان کرد زود خوار
مار است این جهان وجهان جوی مارگیر
و ز مار گیر مار بر آرد گهی دمار

في الحدیث قال الله تعالی لرسول الله ﷺ لیلة المعراج ﴿ان من نعمتي علی
امتک اني قصرت﴾ ما ورکوتاه کړي دي عمرونه ددوی ﴿کیلا تکثر ذنوبهم﴾

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لپاره ددې چې ډېر نه سي ګنهونه ددوی ﴿واخرت زمانهم کیلا یطول في القبور حبسهم﴾ او ما وروسته کړې زمانه د امت ستا تاچې په قبرو کې ددوی حبس ډېر نه سي ﴿واقللت اموالهم کیلا یشتد في القیامة حسابهم﴾ او ما لږ کړي دي مالونه ددوی تاچې په قیامت کې یې حساب سخت نه سي.

فائده: د نفس مثال د شتر مرغ دی چې ډېر خوراک کوي. او چې څوک بار ور پښا کړي نه الوزي، او که څوک ورته ووایي چې والوزه دی ورته وایي چې زه خو اوښ یم زما اوږدو پښو ته وګوره، او که د اوښ بار باندې کښېږدي وایي چې زه خو مرغه یم دامې وزرونه دي.

په صحیح حدیث کې راغلي دي چې سید تنا عائشه رضي الله عنها و علیه الصلوة والسلام ته وویل ﴿الا تستطعم الله فیطعمک﴾ ته طلب د خدای ﷻ څخه د نبه خوراکي شیانو نه کوې چې خدای ﷻ تاته طعام درکړي ﴿قالت وبکیت لما رئیت به من الجوع وشد الحجر علی بطنه من السغب﴾ عائشه رضي الله عنها وایي چې ما وژړل چې ما په علیه الصلوة والسلام کې لوږه محسوسه کړه، او پر نس مبارک یې ډبره تړلې وه په سبب د لوږې ﴿فقال یا عائشة والذي نفسي بیده لو سئالت ربي ان یجري معي جبال الدنیا ذهباً لاجراها حیث شئت من الارض﴾ علیه الصلوة والسلام وویل چې اې عائشې زما دي قسم په هغه ذات وي چې زما روح د هغه په قدرت کې دی، که زه له خدایه څخه وغواړم چې روان دي وي زما سره غرونه د دنیا سره زر خدای ﷻ به جاري کړي وای هر ځای چې زما زړه غوښتلای ﴿لکني اخترت جوع الدنیا علی شبعها وفقر الدنیا علی غناها وحزن الدنیا علی فرحها﴾ لکن ما مختاره کړې ده لوږه د دنیا پر مورتیا د دنیا. او مسکنت د دنیا پر غنۍ د دنیا او غم په دنیا کې تر خوشحالۍ په دنیا کې ﴿یا عائشة ان الدنیا لاتنبغي لمحمد ولا لآل محمد﴾ اې عائشې دنیا نه ښایي محمد لره او نه آل د محمد ﷺ لره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ

او ګمان دي نه کوي هغه کسان چې بخل کوي په هغه مال سره يعنې زکوة نه ورکوي چې خداى ﷻ دوى ته ورکړى دى له خپله فضله څخه چې دا بخل ددوى لپاره خير دى.

پوه سه: چې حمزه رحمه الله دا لفظ په تاء الخطاب وايي نو هغه مفسر چې واى چې مخاطب عليه الصلوة والسلام دى هغه بعيد دى. ولې چې داسې ګمان کول له شان څخه د عليه الصلوة والسلام لېرې دى. نو ښه تفسير د خطاب دادى چې مخاطب کل من يحسب ذالک. او باقي قراء يې په يا د غيبت وايي كما في المصاحف المطبوعة. او عجبه ده هغه مفسر لره چې پر تقدير د غيبت يې هم وايي چې ضمير راجع و عليه الصلوة والسلام ته دى بلکې پر تقدير د غيبت ضمير راجع وکل من يحسب ذالک ته دى فمآل القراتين واحد.

پوه سه: چې الذين آه مفعول اول په حذف د مضاف اى بخل الذين آه. او هو ضمير فصل دى خيرا لهم مفعول ثاني د يحسب دى.

بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ

بلکې دا بخل او منع د زکوة شر دى ددوى لپاره.

سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

ژر دى چې طوق به وګرځول سي د غاړې هغه مال چې دوى يې بخل په زکوة کې د هغه کړې دى په ورځ د قيامت.

پوه سه: چې دا آيت په مانعينو کې د زکوة نازل سوى دى كذا قال ابن مسعود وابن عباس و ابو وائل والشعبي والسدي رضي الله عنهم. له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وويل چې خداى ﷻ چاته مال ورکړي يعنې من الاموال التي فيها الزكوة. نو دى زکوة د هغه مال ورنه کړي هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مال به په ورځ د قیامت په صورت د یک مار وګرځي. چې د یک مار زهر نه پر قوي دي "له زیبیتان" پر شا به دوې لیکي لري او دده په غاړه کې به طوق سي په ورځ کې د قیامت او دا مار به دغه سړی ټینګ کړي په دوو کنجانو کې د خولې او خپل زهر به پکښې تویوي. او دا مار به دغه سړي ته وایي یعنې دغه سړی به د زهرو له سببه بېقراري کوي "انا مالک انا کترک" یعنې بېقراري مه کوه زه ځو ستا محبوب مال یم "ثم تلی" بیا علیه الصلوة والسلام تلاوت ددې آیت وکړی "ولا یحسبن الذین آه" رواه البخاري.

او ابو ذر رضي الله عنه د نبي علیه السلام څخه داسي روایت کړی دی "قال ما من رجل یکون له ابل او بقر او غنم لا یؤدي حقها یعني زکوتها الا اوتي بها یوم القیامة اعظم مایکون واسمنه تطائه باخفافها وتنطحه بقرونها کلما جانت اخراها ردت علیه اولاها حتی یقضی بین الناس" رواه البخاري ومسلم. او عطیه له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت کړی دی چې دا آیت په احبارو کې د یهودانو نازل سوی دی چې دوی به صفت د علیه الصلوة والسلام پټاوه. نو پر دې تقدیر له بخل څخه مراد بخل بالعلم دی. او له "سیطوقون ما بخلوا به" څخه مراد حمل د ګنهو ددوی دی.

وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

او خدای جل جلاله لره دی میراث د اسمانو او مځکو یعنې خدای جل جلاله به باقي وي بعد فنا، الخلق، او دوی به مري او مالونه به یې پاتې وي، نو اموال ددوی خدای جل جلاله وهغه چاته ورکوي چې خوښه یې وي من ورثتهم ومن غیر الورثة او حسرت او غم به یې پر دوی پاته وي، نو دوی ولي بخل په زکواتو سره کوي او في سبیل الله یې نه نفقه کوي.

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝

او خدای جل جلاله په هغو کارو چې تاسي یې کوئ خبر دی. یعنې جزاء د عملو به درکړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې محمد بن اسحاق او ابن جریر او ابن حاتم له ابن عباس رضي الله عنه داسې روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام یو خط نوشته کړی یعنې په یو کاتب. ولې چې علیه الصلوة والسلام خو پخپله کاتب نه و. او د ابو بکر صدیق رضي الله عنه په لاس یې ورکړی و یهودانو ته د ښې قینقاع چې و اسلام ته دعوت پکښې و. او د پنځو لمونځو دعوت هم پکښې شامل و او د زکوة ورکړه هم پکښې وه او بل دا پکښې نوشته وه "ان تقرضوا الله قرضاً حسناً" نو ابوبکر رضي الله عنه ددوی مدرسې ته ورغلی. نو ابوبکر رضي الله عنه ولیدل چې ډېر خلګ د یهودو سره جمع وه او د یو سړي خبرې یې اورېدلې چې نوم یې فخاص بن عازورا و او د یهودانو له ملایانو څخه و. او یو بل ملا ددوی چې نوم یې ارشیع و هم هلته موجود و. نو ابوبکر رضي الله عنه فخاص بن عازورا ته وویل "اتق الله واسلم. فوالله انک ان محمداً رسول الله قد جائکم بالحق من عند الله تجدونه مکتوباً عندکم في التورة" نو ایمان راوړه او تصدیق دده د نبوت وکړه. او خدای جل جلاله ته قرض حسن ورکړه چې خدای پاک به دي داخل کړي وجنت ته او څو چند ثوابونه به درکړي. نو فخاص و ابوبکر رضي الله عنه ته وویل چې ته وایې چې خدای جل جلاله قرض غواړي ستاسي له مالونو. او قرض خو نه غواړي مګر فقیر من الغني نو که ستا خبره ای ابوبکره رښتیا وي نو خدای جل جلاله فقیر دی او موږ غنیان یو. او بل یې دا ورته وویل چې خدای له سود څخه خلګ منع کړي دي او موږ ته سود راکوي. نو که چېرې خدای غني وای. نو موږ ته یې ویل سود راکاوه مقصود اللعین هغه ثوابونه اضعاف مضاعفه وه. نو ابوبکر رضي الله عنه ته ډېر درد ورغلی نو فخاص یې یوه ډېره سخته چپلاخه پر دامغ ووهله. او ورته وه یې ویل که نه وای عهد او امان زموږ او ستاسي تر منځ لضربت عنقک یا عدو الله. نو فحاص و علیه الصلوة والسلام ته ورغلی او د ابوبکر رضي الله عنه شکایت یې ورته وکړی فقال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رسول الله ﷺ یعنې ابوبکر ته یې وویل چې ولې دې دا فخاص په چپلاخه پر مخ واهه، نو ابوبکر رضي الله عنه و علیه الصلوة والسلام ته وویل چې دې فخاص لعین یوه ډېره سخته خبره وکړه او وه یې ویل چې خدای ﷻ فقیر دی او موږ اغنیا یو، نو ماته پر دې خبره درد راغلی او په چپلاخه مې وواهه، فخاص د ابوبکر رضي الله عنه خبره رد کړه او وه یې ویل چې ما داسې نه دي ویلي، فانزل الله رداً علی فخاص وتصدیقاً لابی بکر هذه الآیة.

لَقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ فَقِيْرٌ وَّنَحْنُ اَغْنِيَآءُ ۘ سَنَكْتُبُ مَا قَالُوْا

پوه سه: چې لام موطئه د قسم دی. والله په تحقیق واړېدله خدای ﷻ قول او خبره د هغه کسانو چې وه یې ویل په تحقیق خدای ﷻ فقیر او موږ اغنیا یو.

پوه سه: چې سین د "سنکتب" لپاره د استقبال نه دی بلکې په معنا د مجرد دی، او "سنکتب" که څه هم متکلم مع الغیر دی لکن مراد دلته کتابت د خدای نه دی بلکې امر په کتابت سر وکړی وکاتبانو ته د اعمالو د بندګانو. کما في قوله تعالی "وانا له کاتبون" یعنې قول ددوی به کاتبان نوشته کړي.

وَقَتْلَهُمُ الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ

او وژل ددوی انبیا وو لره په ناحقه سره.

پوښتنه: دا موجوده یهودو په عصر نبوي کې خو کوم نبي نه و وژلی بلکې قتل د انبیاؤ خو اسلافو ددوی کړی و. نو اسناد د قتل ودوی ته څرنګه وسو؟

ځواب: موجوده یهودانو قتل د اسلافو ددوی انبیاؤ لره پر ځای او حق باله.

پوښتنه: قتل د نبي خو وي ناحقه، ولې پر حق وژل خو یا له سببه څخه د ارتداد عن الدین وي او یا قتل قصاصاً وي او یا زنا بعد الاحصان وي وهذه الوجوه لاتتصور في الانبیاء علیهم السلام فما الفائدة في التقید بقوله بغیر حق؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: چې قتل د انبیاؤ لکه په واقع کې چې ناحق دی دلته مراد داوی چې دوی یې هم حقیقت ددې د انبیاؤ نه سوای بیانولای. نو دا قتل حرف او صرف په سبب د خواهشاتو د دوی د نفسو و. لان الانبیاء کانوا یامرونهم باوامر خلاف ماتشهی انفسهم وینهوهم عما یشتهون من الکفر والمعاصي فبهذا السبب کانوا یقتلونهم قتلاً ذریعاً.

پوښتنه: په شان نزول سابق کې خو یوازې فحاص بن عازورا دغه خبره کړې وه چې ان الله فقیر ونحن اغنیاء. او په آیت شریف کې "الذین قالوا الخ" په صیغه د جمع راغلې؟

ځواب: چونکه حاضران د مجلس د فخاص المذکور په جواب د فخاص لعین وه ابوبکر رضی الله عنه ته راضي او خوشحاله. نو ځکه په آیت کې د جمع لفظ استعمال سو. وَنَقُولُ ذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ ﴿۱۸۱﴾

او مورږ به ووایو دوی ته یعنې علی لسان الملائکة چې تاسي څکئ یعنې وړئ عذاب د سونکي اور چې دوزخ دی جزاء لما قالوا وما فعلوا.

پوه سه: چې حریق چې وزن یې فعیل دی په معنا د محرق دی.

پوښتنه: حریق خو له بابه د مجرد دی او محرق خو اسم فاعل له بابه د افعال دی. نو څرنګه یې ترجمه په روا ده، او دا سوال په عذاب الیم کې هم وارد دی چې بعض مفسران یې ترجمه په "مولم" سره کوي؟

ځواب: فعیل په معنا د مفعل په بعض اشعارو کې د قدیم شعراؤ راغلی کما في قوله.

امن ریحانة الداعي السمیع وآخره یورقني واصحابي هجوع

پوه سه: چې ریحانه ددې شاعر خور وه او یو چا ځندي تښتولې وه. نو دغه شاعر سر د ځو نورو کسانو په طلب کې د هغې روان وه مابنام چې یې یو ځای شپه سوه. نو همراهان د شاعر ټوله بیده سوه او شاعر ته د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ريحاني له سببه خوب نه ورتلی. نو يې دا شعر وويايه چې ترجمه يې داده
آياد ريحاني له خوا څخه زما څوک خبري اوري. چې بيخوابه کړی يې يم
زه او زما اند يوالان تولـه بيده دي.

پوه سه: چې ذوق خو اصلاً په ادارک کې مطعوم دی لکن مجازاً په ادارک کې د محسوساتو مستعملږي.

ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْكُمْ

او دا عذاب په سبب د هغو معاصي و او قتل د انبياء. چې ستاسي لاسو يې په دنيا کې کسب کړی و.

پوښتنه: کفر په لاس نه دی؟

ځواب: هو! لکن لـه "ايديکم" څخه مراد انفسکم دی ووجه التعبير بالايدي ان اکثر الاعمال المحسوسة يصدر عن الايدي. نو تغليباً يې تولو اعمالو که د خولې وي او که د زړه تعبير په ماقدمت ايديکم سره وکړی.

وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ۝

او نه دی خدای ﷻ ظلم کاره پر بندګانو.

پوه سه: چې بعض مفسران وايي چې صيغه د مبالغې "ظلام" په دې ځای کې په معنی ده ذي ظلم ده له دې سببه چې که پر مبالغه پاتـه سي توهم به ددې وي چې خدای ﷻ ډېر ظلم نه کوي بلکې لږ کوي، تعالى عن ذالک علواً کبيراً.

فائده: ظلم پر بندګانو دا دی چې بېله ګناه او کفره يې دوزخ تـه واچوي.

پوه سه: ان" نفي د ظلم مستلزم دی عدل لره چې هغه مقتضی دی ثواب ورکولو لره د مطيع او عقاب ورکولو لره ده عاصي.

سوال: نفي د ظلم خو لازم دی د ذات سره د خدای ﷻ ولې چې ظلم خو بد کار دی او د خدای ﷻ له بدو کارو څخه تنزيه واجبه ده. واذا کان نفی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الظلم اذا كان مستلزمًا للعدل چې هغه بيا مستلزم دی لاصابة المحسن وعذاب العاصي يلزم وجوب الاثابة والمعاقبة، او دا خو مذهب دی د معتزله وو خلافا لاهل السنة والجماعة من انه لا وجوب على الله تعالى بشی.

خواب: روح البيان وايي چې تعذيب بلا ذنبه که څه هم په خدای ﷻ کې ظلم نه دی لانه تعالى مالک على الاطلاق يتصرف في ملكه ما يشاء لكن عبر عن ذالک بالظلم لبيان كمال نزاهته تعالى عن ذالک بتصويره بصورة المستحيل صدوره عنه تعالى من الظلم ، وصيغة المبالغة اعني ظلام لتاكيد هذا المعنى بابراز ما ذكر من التعذيب بغير ذنب في صورة المبالغة فى الظلم انتهى ما قال صاحب روح البيان.

درويش وايي: چې محقق آلوسي رحمه الله په روح المعاني کې ددې خبرې لوی مفصل بيان کړی چې تر اذهانو د اکثره کسانو ډېر لوړ دی فلهذا دروېش له راوړلو څخه ډډه وکړه. او مظهري د حواشي او شروح څخه د بيضاوي يو طويل بيان را نقل کړی دی ان شئت فارجع الى تفسيره.

پوه سه: چې روح البيان، روح المعاني، مظهري وغيرها وايي په روايت د کلبي چې يوه ورځ کعب بن الاشرف او مالک بن الضيف او وهب بن يهودا او زيد بن تابوت او فحاص بن عازورا او يحى بن الاخطب چې د يهودو ملايان يا مشران وه و نبي عليه السلام ته راغله او دوی ويل يا محمد ته وايي چې زه خدای ﷻ را استولی يم رسول وتاسي ته او پر ما يې کتاب يعني القرآن نازل کړی دی، او موږ ته خدای ﷻ په تورات کې دا وصيت کړی دی ان لامؤمن لرسول چې هغه وايي چې زه له طرفه څخه د خدای را استول سوی يم تر هغه وخت پورې موږ ته د قربان معجزه نه کې را ښکاره، نو که ته رسول يې موږ ته د قربان معجزه را ښکاره کړه.

پوه سه: چې قربان هر عمل صالح او صدقه وغيرهما ته وايي چې بنده وخدای ﷻ ته په نژدې کېږي. وزن يې فعلان دی له قربت څخه مشتق

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی. دا څو معنا لغوي وه وروسته قربان په اصطلاح کي نوم وکړ ځېدی د هغه مذهبو چي دوی به تقرب وخدای ﷻ ته په کاوه. او په شریعت کي د بني اسرائیلو غنیمتونه یا د خیراتو خوړل یا نفع پر الخستل دوی ته نه وه روا بلکې دوی چې به غنیمتونه یا سره جمع کړه او یا به یې دا خیراتونه وکړه، نو که عند الله قبول وای نو له اسمانه به سپین اور بېله دوده نازل سو او هغه ټوله به یې وسوځل. او که به نه وه قبول نو به هغه خپل پر حال پاته وه یعنې اور به نه سوځل. بعض علماء وایي چې په تورات کي څو داغه وصیت رشتیا موجود و، لکن په تورات کي عیسی او محمد علیهما السلام څندي مستثنی کړي وه او لیکلي یې وه چې ددغو دوو نبیانو په دعوه کي د رسالت ومعجزې ته د قربان ضرورت نسته بلکې په نورو معجزاتو کفایت کېږي. فانزل الله تعالی هذه الآیة.

الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ عَهِدَ اِلَيْنَآ

یعني امرنا و اوصانا في التوراة.

اَلَّآ نُؤْمِنَ لِرَسُوْلٍ

یعني چې موږ به ایمان نه راوړو او تصدیق به نه کوو د هغه چا چې دعوه د رسالت کوي. حَتّٰى يَاْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ تَاْكُلُهُ النَّارُ

تر هغو پورې چې هغه مدعي د نبوت به موږ ته راوړي یعنې ظاهروي به معجزه د قربان چې اور یې وخوري یعنې وه یې سوځي کمامر في تفسیر القرآن عنقریب.

قُلْ قَدْ جَآءَكُمْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِيْ بِالْبَيِّنٰتِ وَبِالَّذِيْ قُلْتُمْ

ته اې محمده ووایه یعنې فوق الذکر یهودانو ته چې په تحقیق تاسي ته یا معشر الیهود راغلي وه رسولان تر ما دمخه په ښکاره معجزاتو سره یعنې علاوه تر قربان او په هغه معجزه سره چې تاسي وایاست یعنې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

القربان لکه زکریاء او یحیی او نور نبیان علیهم السلام چې د یهودانو د اسلافو له خوا په قتل رسېدلي دي.

فَلِمَ قَتَلْتُمُوهُمْ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِينَ ﴿۱۸۳﴾

نو ولې تاسي هغه نبیان وژل؟ که تاسي رښتیا وایاست.

پوه سه: چې "ان کنتم" شرط دی او جزاء یې محذوفه ده. یعنې که تاسي رښتیا وایاست چې زموږ امتناع ستاله ایمان راوړو څخه په سبب د وصیت د تورات دی د قربان په معجزه سره، نو تاسي ولې ایمان پر زکریاء او یحیی وامثالها باندې نه راوړئ حتی چې اخیر الامر مو قتل کړه که څه یې معجزه د قربان هم درښکاره کړې وه. نو چې پر هغو انبیاوو مو ایمان نه راوړی، نو دا ښکاره سوه چې ستاسي امتناع د ایمان پر ما باندې په سبب د قربان نه ده بلکې عناداً او تعصباً ده.

پوښتنه: مخاطب د قرآن مبارک خو معاصرین یهودان د عصر نبوي دي، او دې یهودانو خو هیڅ نبي نه و قتل کړی بلکې قتل د انبیاؤ خو ددوی اسلافو کړی و. نو ددغه قتل نسبت و معاصرینو ته څرنګه وسو؟

ځواب: معاصرین یهود د خپلو اسلافو په قتل د انبیاء راضي وه او دا قتل د اسلافو یې پر حق باله. فیصح النسبة الیهم لان الرضاء بالکفر کفر. مثلاً لکه رضا د تغلب د امریکایانو پر عراق او افغانستان باندې. بعض خلګ یې پر حق بولي او په راضي دي. والی الله المشتکی من امثال هؤلاء. حیث رجحوا ریاست الکافرین علی المؤمنین من ریاسة المؤمنین علی المؤمنین وما ذالک الا لبذل الکافرین الاموال والنقود علیهم.

پوه سه: چې د علیه الصلوة والسلام د تسلي لپاره خدای ﷻ دا آیت نازل کړی.

فَإِنْ كَذَّبُوكَ

که دوی یعنې یهودان فیمانحن فیه او نور مشرکان ستا اې محمده تکذیب کوي یعنې چې رسول نه یې بلکې دروغ وایي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې ددې شرط جزاء محذوفه ده یعنې فلاتحزن.

فَقَدْ كُذِّبَ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ

نو په تحقیق تکذیب کړه سوی د رسولانو تر تا دمخه دا دلیل دی د هغې محذوفې جزاء او د هغې جزاء قائمقام هم دی.

پوښتنه: تکذیب د نورو رسولانو ولې دلیل د عدم الحزن د علیه الصلوة والسلام دی؟

ځواب: یو ځو په دې چې تکذیب الرسل عادت الهي قدیم دی. نو سړی باید خوا بده نه کړي، او بل دا چې خلګ وایي د عالم سره غم نه غم دی. او عرب وایي البلیة اذا عمت هانت.

جَآءُوْ بِالْبَيِّنٰتِ وَالزُّبُرِ وَالْكِتٰبِ الْمُنِيْرِ ۝

چې هغو رسولانو به راتګ کړی و په معجزاتو ظاهراتو سره او په زبور سره.

پوه سه: چې "زبر" جمع د زبور ده مراد دلته څندې صحیفې دي کصحف ابراهیم وغیره او په روښانه کتاب سره لکه تورات د موسی او انجیل د عیسی علیهما السلام.

فائده: د دنیا محبت او حرص او د حلال او حرام فرق نه کول سبب د عذاب الهي ګرځي.

حکایت: راوي وایي چې یو وخت عیسی علیه السلام چې حواریین هم ورسره وه پر یوه قریه او وطن ورغله، چې خلګ د هغې قریې ټوله مړه پراته وه په لارو، کټو او سرایو کې، نو عیسی علیه السلام وحواریینو ته وویل چې دا خلګ په یوه وار په عذاب الهي مړه سوي دي، ولي که یو یو مړ کېدای نو دفن کولای به یې، نو حواریینو عیسی علیه السلام ته وویل یا روح الله زمونږ داسي تمنی ده چې مونږ ددې خلګو په حال خبر سو، نو عیسی علیه السلام له خدای جل جلاله څخه د حال ماجرې وغوښتله، وحي ورته راغلې چې مانبام سې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته نعره وکړه پر دغو مړو یو څوک به جواب درکړي او ماڅرې به درته بیان کړي، نو چې مانښام سو عیسی علیه السلام نعره وکړه یا اهل القریة. نو یوه سړي جواب ورکړی لبیک یا روح الله، نو عیسی علیه السلام ورته وویل چې ستاسي څه حال او قصه وه؟ هغه ورته وویل چې موږ د شپې بیده سوو په عافیت سره او سهار مو کړی په هلاکت سره، نو عیسی علیه السلام ورته وویل چې دا نو ولې داسي پېښه سوه؟ هغه ورته وویل چې محبت مو د دنیا درلودی او اطاعت مو د اهل عصیان کاوه، عیسی علیه السلام ورته وویل چې څه اندازه و محبت ستاسي د دنیا سره؟ هغه ورته وویل لکه حال د صبي رضیع د شیدو سره یعنې چې دنیا به پیدا سوه موږ به خوشحاله وو او چې دنیا به نه وه موږ به غمجن وو. نو عیسی علیه السلام ورته وویل چې ولې تا یوازي جواب راکړی نورو نه کړی را. هغه ورته وویل چې د نورو په خلو کې واګي دي د اور په لاسو د ملائکه وو چې غلاظ او شداد دي، بیا عیسی علیه السلام ورته وویل چې تا نو څرنګه جواب راکړی هغه ورته وویل چې زه په دې قریه کې وم او پر عمل د اهل قریه نه وم ولهذا الم یلجموني بلجام النار، او زه پر غاړه د دوزخ ولاړ یم نه پوهېږم چې نجات به پیدا کړم او که په دوزخ ته ولوېږم، کذا في روح البیان.

كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ

هر نفس که مؤمن وي او که کافر وي خوند کتونکی دی د مرګ.

دروښي وایي: چې ذائقة الموت یې له دې کبله وویله چې انسان خو عبارت دی له بدن مخصوص څخه چې ژوند یې په روح حیواني دی چې په غالبه حیواناتو کې متعلق په وینه پوري دی، او له روح انساني څخه چې جوهر دی قائم بنفسه دی او د بدن سره تعلق د تدبیر او تصرف لري کما هو المشهور، او بعض علماء وایي چې روح انساني جسم لطیف دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې حال په جسم انساني کې دی. په هر صورت په نېز د مرګ روح حیواني معدوم کېږي. او روح انساني که د مؤمن وي او که د کافر پاتېږي. نو دا موت صرف یو خوند دی د عدم او موت او پوره عدم نه دی. ولي چې روح انساني خو باقي دی. نو که نفس مؤمن و نو په نېز د جلا کېدو له بدن څخه د اسمانو دروازې ورته خلاصېږي او دا روح وعلیین ته چې مقر د ارواحو د مؤمنانو دی رسېږي. او که روح د کافر و قال الله تعالی ﴿لاتفتح لهم ابواب السماء﴾ نو چې ملکي یې د اسمانو پر خوا پورته کړي دروازې د اسمان ورته بندي سي او روح د کافر وسجین ته رد کړي چې مقر د ارواحو د کفارو دی تحت الارض السفلی.

پوه سه: چې اصلي معذب یا منعم خو روح انساني دی لکن په منځ کې د میت في القبر او دده د روح علاقه سته کما ان الشمس في السماء ونوره على الارض، نو په سبب ددې علاقې میت ته هم خوشحالي یا عذاب رسېږي.

ولهذا ورد في الحديث الصحيح القبر روضة من رياض الجنة او حفرة من حفر النيران. وهذا هو تنعيم الميت في القبر او تعذيبه فيه، ولهذا ورد في كتب عقائد اهل السنة والجماعة عذاب القبر حق وانكره المعتزلة، ولهذا شرع زيارة القبور والدعاء للاموات عند زيارة قبورهم والاستمداد من ارواح الصالحين عند زيارة قبورهم خلافاً للسلفية والوهابية.

دروښې وايي: چې دا و تحقیق د "كل نفس ذائقة الموت" مع الاختصار بقدر الوسع والطاقة.

فائده: بعض روحان د عصاة المؤمنین معلق پاته وي فيما بين السماء والارض يعني نه علیین ته رسېږي په سبب د عصیان او نه سجین ته رد ېږي په سبب د ایمان. لکن اخير الامر په سبب د دعاګانو د ژوندو قریبانو او یا د صدقاتو د هغو او یا په سبب د صدقه جاریه د مړي د هغه روح هم وعلیین ته لاړ پیدا کړي ولله الحمد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

او تاسي ته چي کامل د زکړه کېږي جزاء د عملو د خير او يا د شر په ورځ د قيامت.

پوه سه: چي په لفظ کي د توفيه اشاره ودي ته ده چي بعض ثوابونه ياعذابونه قبل يوم القيامة هم ورکول کېږي کمامر من الحديث الذي رواه ابو سعيد الخدري رضي الله عنه کما رواه الترمذي القبر روضة الخ.

فائده: په دې آيت کي هم تسلي ده و عليه الصلوة والسلام ته په دې معنا چي ستا دښمنان به مري او ستا د عداوت او دښمنۍ بدله به پوره وويني په ورځ د قيامت.

فائده: بغوي رحمه الله وايي چي حديث شريف کي راغلي دي چي د آدم عليه السلام د تصوير لپاره چي د مځکي له سره هر قسم خاوره جمعه سوه. نو مځکي وخداى پاک ته شکايت وکړى په سبب د ما اخذمنها. نو خداى جل جلاله وعده ورسره وکړه چي بيرته به رد کړي ما اخذ منک اليک. نو د هر چا يو جزء د خاورو چي له يوه ځايه اخسته سوى وي هورې په هغه سړى دفن کېږي.

دروښ وايي: چي دا په اعتبار د اغلب ده فلا يرد ما يتوهم فافهم.

فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ

که څوک لري کړه سو له اور څخ يعني يا په سبب عادي د عمل او يا په شفاعت نبوي صلى الله عليه وسلم او يا په رحمت الهي جنت ته داخل کړه سو. نو هغه سړى کاميابه سو او کامل مطلوب حقيقي ته ورسېدى اللهم جعلنا منهم.

وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ

او نه دى ژوند د دنيا يعني د معيشت د دنيا اسباب من الاموال والامتعة والقصور والملبوسات الفاخرة والمطعومات الشهية وغير ذالک مما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يتمتع بها في الدنيا مگر متاع د غرور يعني غولېدو او خطاوتو.

پوه سه: چې خدای ﷻ مشابه کړه لذات د دنيا کما ذکرت قريباً په هغه مبيعه سره چې عيب باطن پکښې وي او بائع يې عيب د هغې له مشتري څخه پټ ساتي تاچې مشتري په وغولوي او ځندي را يې نسي. لکن متاع الغرور د هغه چا لپاره ده چې دنيا يې پر آخرت مختاره کړې وي. يعني دنيا يې صرف او صرف د لذاتو شهويه وو ذريعه گرځولې وي. نه يې زکوة وي او نه يې خير او خيرات. او که چا دنيا په طور د مزرعة الآخرة گرځولې وه يعني زکوة يې ورکاوه او صدقات يې کولې. نو دنيا د هغه لپاره متاع د رسولو ده ونعمتو ته د آخرت. نو له دې سببه خدای ﷻ دنيا خير بللې ده ﴿وانه لحب الخير لشديد﴾ قال السعدي الشيرازي رحمه الله.

ترا دنيا همی گويد شب وروز که هان از صحبتم پرهيز وپرهيز
منده خود را فريب ازانگ وبوييم که هست اين خنده من گريه اميز

او رحمان بابا رحمه الله په قسم ثاني کې وايي

بنه ده بنه ده دا دنيا چې توبنه ده د عقبى
که فقيرو ته يې ورکړې فقير درومي په خندا

فائده: متاع ما يمتع به ته وايي، او "غرور" يا مصدر دی د غر يغر غروراً فهو مغرور، وغره جاء بمعنى خدعه واطعمه بالباطل. او يا غرور جمع د غار ده يعني خطاء ايستونکې، نو خدای ﷻ په دې آيت کې لذات دنيويه مشابه کړه د متاع الغرور سره. ولې چې د لذاتو سره د دنيا مکاره هم ملگري دي او سره د هغه بقا هم نه لري لکه سړی چې خوب ووينې او په دې خوب کې په ډير عيش او عشرت کې وي چې را ويښ سي هيڅ شی نه وي. وقال قتاده رحمه الله الغرور الباطل. او حسن بصري رحمه الله وايي چې نعيم د دنيا لکه شنه وانيه يا ناوکيانې د نجونو چې هيڅ حاصل نه لري. له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وويل چې خدای پاک وايي ﴿اعددت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لعبادي الصالحين مالا عين رئت ولا اذن سمعت ولا خطر على قلب بشر اقرئوا ان شئتم. فلا تعلم نفس ما اخفى لهم من قرة اعين جزاءً بما كانوا يعملون، وان في الجنة لشجرة يسير الراكب في ظلها مائة عام لا يقطعها واقرئوا ان شئتم وظل ممدود ولموضع سوط في الجنة خير من الدنيا وما فيها واقرئوا ان شئتم فمن زحزح من النار وادخل الجنة فقد فاز وما الحيوة الدنيا الا متاع الغرور، دا روايت بغوي رحمه الله په خپل سند سره راوړی دی.

لَتُبْلَوُنَّ فِيٓ أَمْوَٰلِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ

هر آينه ستاسي څخه به امتحان واخستل سي په مالو کي ستاسي او په ځانو کي ستاسي يعني بالاوامر التكليفة. من الزكوة والصدقات والصوم والصلوة والحج والجهاد في سبيل الله وبالمصائب يعني په ناجوړيو د بدنو او په امراضو د مالو او په تاوان د تجاراتو وموت الاقارب والاحباب وظلم الاعدا، والظالمين.

وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ وَمِنَ ٱلَّذِينَ أَشْرَكُوٓا۟ أَذًى كَثِيرًا

او هر آينه تاسي به اوريځ له هغو کسانو څخه چي وهغو ته کتاب ورکړه سوی تر تاسي دمخه يعني اليهود والنصارى چي کتاب يې تورات او انجيل دی. او داغه رنګه به تاسي اوريځ له هغو کسانو څخه چي مشرکين دي. دهر ازار.

دروښ وايي: چي يوه واقعه د ازار د يهودانو خو هغه وه چي عليه الصلوة والسلام ابوبکر صديق رضي الله عنه سره له يوه خطه فخاص بن عازورا چي رئيس د بني قنقاع و د کومک لپاره استولی و چي په تفسير کي د هغه آيت "ان الله فقير ونحن اغنياء الآية" نژدې تيره سوه. او دوهم ازار د مشرکانو د مکې خو بيخي دهر و چي عليه الصلوة والسلام به يې د کاين، شاعر او ساحر په نامه ياداوه. او نور قسم قسم ازارونه به يې مسلمانانو او عليه الصلوة والسلام ته رسول چي په احاديثو شريفه وو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي مذکور او مشهور دي، او دريم ازار د کعب بن اشرف يهودي و چي کعب بن اشرف به عيبونه د نبي عليه السلام بيانول او مسلمانانو ته به يې پوچ او ښکنځل کول، او مشرکان د مکې به يې و عليه الصلوة والسلام او مسلمانانو ته پر جنګ اماده کول په خپلو اشعارو کي، او د مسلمانانو د ماينو بيان به يې په مجالسو کي کاوه چي د فلاني دامسي غوړه ښائسته ماينه ده وهکذا، او هم دغه کعب بن اشرف وروسته تر واقعي د بدر چي د اسلام غلبه يې وليدله او په بدر کي يې اويا کسه رئيسان د مکې مردار سوي وليدل، نو کعب بن اشرف سره د ځلويښتو کسانو مکې ته ولاړی او قريش يې د عليه الصلوة والسلام سره پر جنګ باعثه کوله، نو قريشو د مکې وده ته وويل چي زمونږ دين ښه بولې او که د محمد؟ کعب ورته وويل چي ستاسي دين پر ښه دی، نو کفارو د مکې کعب ته وويل چي مونږ ستا په قول باور نه کوو چي تر څو ته زمونږ بتانو ته سجده ونه کړې، نو کعب که څه هم بت پرستي خو د يهودانو په دين کي ناروا وه لکن پر عناد او ضد د مسلمانانو يې د مشرکينو وبتانو ته سجده وکړه، حاصل دا چي عليه الصلوة والسلام دوښه د کعب بن الاشرف په عداوت و چي يوه ورځ يې ووېل من لي بکعب بن الاشرف فانه قد اذی الله ورسوله مراد يې دا و چي څوک به له مسلمانانو څخه کعب بن الاشرف قتل کړي، نو محمد بن سلمة الانصاري رضي الله عنه ورته ووېل "انا لک يا رسول الله هو خالي انا اقتله" يعني زه يې ذمه وار يم، دی يعني کعب زما ماما دی زه يې قتلوم، نو عليه الصلوة والسلام ورته ووېل "افعل ان قدرت علی ذالک" نو محمد بن سلمه رضي الله عنه ولاړی او دري ورځي او شپې يې هيڅ خوراک او اوبه ونه څښلې چي ډېر به مجبوره نه سو، نو عليه الصلوة والسلام چي په دې موضوع د محمد رضي الله عنه خبر سو، نو يې هغه ته ووېل "لم ترکت الطعام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والشراب" نو محمد بن سلمه رضي الله عنه وويل "قلت قولاً لا ادري افي به ام لا" چې ما يوه خبره وکړه يعنې چې زه يې قتل کوم. زه نه پوهيږم چې زه به وفا په هغه خبره وکړم او که نه. نو له دې وجهې مې دوه ځله او اويو ته چې ډېر مجبوره نه سم اشتهاء نه کېږي. نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل "انما عليک الجهد پر تا صرف کوشش لازم دی نه دا چې ته يې خامخا قتل کوې، او عليه الصلوة والسلام ورته زياته کړه چې ته د سعد بن معاذ رضي الله عنه سره هم په دې باب کې مشوره وکړه. نو سعد بن معاذ رضي الله عنه ورته وويل چې ته کعب بن الاشرف ته ورسه او شکايت د مسکنت ورته وکړه او ورته ووايه چې موږ ته څه خوراکي مواد په پور راکړه. نو محمد بن مسلمه رضي الله عنه او عباد بن بشر او ابو نائل او سلکان بن سلامة چې د کعب بن الاشرف د رضاع ورور و، او حارث بن عبس او حارث بن اوس بن معاذ او ابو عبس بن جبير رضي الله عنهم نو دا ټوله د عليه الصلوة والسلام ته ورغله او ورته وه يې ويل يا رسول الله موږ خو يې وژنو لکن موږ خو به تاسو کې يو څه وکعب ته وايو. عليه الصلوة والسلام ورته وويل قولوا مابدا لکم وانتم في حل من ذالک چې واياست زما په باره کې هرڅه چې تاسې ته ظاهر سي يعنې دا خبرې به موږ ته فائده وکړي په وژلو کې د کعب تاسې ته زما له خوا روا دي هغه خبرې. نو دوی اول ابو نائله ور واستاوه. نو له کعب سره يې يو ګړی خبرې وکړې، نو کعب غزلي ورته شروع کړې. او ابو نائله هم يو ګړی غزلي ورسره وويلې، وروسته ابو نائله ورته وويل "ويحک يا ابن الاشرف اني قد جئتک لحاجة" زه د يو کار لپاره راغلی يم او ته غزلي راته وايي لکن دغه زما کار به پټ ساتې. ابن الاشرف ورته وويل ښه دی پټ يې ساتم. ابو نائله ورته وويل چې راتګ د دغه سړي يعنې عليه الصلوة والسلام يې مراد و، زموږ وطن ته چې راغلی بلا سول زموږ څخه ټوله عرب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ناراض سول او ټول په یوه غشي ولي وانقطعت السبل دده په سبب پر موږ لازي بندي سوي حتی جاعت العیال وجهدت الانفس کعب بن الاشرف ورته وویل چي ما تاته دمخه لا دا خبره کړې وه چي ددې سړي له راتګ څخه به دا خبري پیښیږي، نو ابو نائله ورته وویل چي زما سره نور نفر هم راسره دي موږ راغلي یو چي ته پر موږ غنم خرڅ کړې په وعده د یو څو میاشتو. او موږ به تاته ګرو درکړو او ستا به ډېر احسان وي زموږ سره، نو کعب بن الاشرف ورته وویل چي زامن به په ګرو راکوې، ابو نائله او ملګرو ورته وویل چي دا خو زموږ د زامنو ټوله عمر پیغور دی، خلګ به ورته وایي چي ته په یوه وسق یا په دوه وسق غنمو پلار په ګرو ورکړی وې، کعب بن الاشرف ورته ووایل چي ماینې په ګرو راکړئ، نو هغو ورته وویل چي څرنګه ماینې په ګرو درکړو او ته خو ښائسته د عربو یې او موږ پر تا باور نه لرو چي زموږ ماینې وطي کړې، ولي چي کومه ښځه به وي چي که ته دعوت د جماعو ورکړې او هغه به ستا څخه خپل ځان وسپموي. ولي خو ته ډېر ښائسته یې د هري ښځي ستا وجماعو ته شوق کېږي، لکن موږ په ګرو درکوو سلاح زموږ او ته پوهېږې چي موږ همېشه وسلاح ته ضرورت لرو، نو کعب بن الاشرف نعم في السلاح وفاء. یعنې چي د چا سلاح ګرو وي خو امخا هغه سړی د پور په ورکولو کي کوشش کوي.

د ابو نائله غرض په دې کي دا وچي که موږ مسلح وده ته راسو دی به انکار زموږ له ملاقات څخه نه کوي د بېري په سبب بلکي دوی به دا ګمان وکړي چي دا سلاح ددوی سره د ګروي لپاره ده، نو موږ به دده پر قتل باندي قادر سو. ابو نائله ورته وویل چي موږ سبا شپه سلاح درته راوړو د ورځي د سلاح په ګروی، شرمېږو کعب بن الاشرف دا خبره ومنله. نو ابو نائله وخپلو ملګرو ته ورغلی دوی ته یې ټوله ماجری بیان کړه. نو اتفاق

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې پر دې وکړی چې سبا مانښام به موږ سره د سلاح ورځو وروسته ابو نائله او ملګري دده و علیه الصلوة والسلام ته ورغلل. او حالات يې ټوله ورته بیان کړی، او علیه الصلوة والسلام سبا شپه له کوره ددوی سره ولاړی تر بقیع الغرقد پورې چې اوس يې جنت باقیه بولي. باره يې دوی رخصت کړه او و يې ویل اللهم اعنهم خدایه ته کومک ورسره وکړې. او علیه الصلوة والسلام بیرته خپل کور ته راغلی او شپه هم د سپوږمی په سبب دېره روښانه وه. او شپه د ځورلسمي د سپوږمی وه د ربیع الاول د میاشتي، نو ابو نائله او ملګري دده د کعب بن الاشرف پر خوا ور روان سوه، نو ابو نائله وملګرو ته وویل چې کعب بن الاشرف خو همیشه د شپې سر په عطرو غوړوي، نو زه به ورته ووایم چې زه به دا ستا سر بوی کړم چې تاسي زه ولیدم چې ما دده ځونې بنې تینګې کړې بس تاسي به يې په توري ووهئ. نو مانښام چې ابو نائله ورغلی کعب بن الاشرف ته يې ور نعره کړه چې موږ داده سلاح راوړه. او کعب یوه نوې مایینه کړې وه او د هغې سره په ځای کې پروت و. نو چابک يې چادر پر ځان واچاوه د راوتلو لپاره مایني تر پټو تینګ کړی چې څه کوې تو خو محارب بدي داره سړی يې او اهل حرب او بدي داره خلګ خو د شپې چاته نه وروځي. مایني يې ورته وویل چې دا داسي درنه نعره وه چې وینې تر څټېدلې.

دروېش وایي: چې وګورئ فراست ته ددې ښځي. نو مایني يې ورته وویل چې له بامه خبرې ورسره وکړه کعب بن الاشرف ورته وویل چې زما ددوی سره دغه وخت وعده وه او دوی سلاح د ګروی لپاره راوړې ده او د خطر خلګ هم نه دي یو زما د خور زوی دی محمد بن مسلمه او بل زما رضعي وروړ ابو نائله دی. او دا دوه کسان پر ما داسي مشفق دي که زه بیده یم له خوبه څخه مي نه باسي. او ابن اشرف ومایني ته دا هم وویل چې کریم سړي ته که څوک دعوت ورکړي د شپې چې په نېزه دي وهم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لاهم باید ور ووژي، خیر خو ابن الاشرف له کوره را ووتی او پټو یې پر ځان پیچلی و چې د بنو عطرو بوی یې ولاړېدی. نو ابو نائله او محمد بن مسلمه ورته وویل چې یا ابن الاشرف خوښه دي ده چې تر شعب العجوز به سره ولاړ سو هورې به خبرې سره وکړو.

دروېش وایي: چې شعب العجوز د یو ځای نوم دی چې د ابن الاشرف له کور څخه یې یو څه فاصله درلوده، نو به هورې ښه خبرې سره وکړو ابن الاشرف ورته وویل چې ستاسي خوښه ده، نو سره روان سوه، نو یو ګړی چې یې تګ وکړی او ابن الاشرف یې له کوره څخه لېرې کړی. نو ابو نائله ورته وویل چې ستا د څنګو څه ښه خوشبویي ولاړېږي؟ ابن الاشرف ورته وویل چې فلانی زما ماینه خورا ښه عطر جوړوي د ټولو عربو په عطر جوړولو کې اول نمبر ده. نو ابو نائله رضي الله عنه ورته وویل چې ماته اجازه ده چې زه ستا څونې بوی کړم ابن الاشرف ورته وویل بوی یې کړه. نو ابو نائله رضي الله عنه خپل ګوتي په وېښتانو د ابن الاشرف کرار چغ کړې او بیا یې خپلې ګوتي بوی کړې ابو نائله ورته وویل مارئیت کالللیلة طیباً قط او کعب به سر په مشکو سره چې په اوبو کې خشته او عنبر یې هم په ګډ کړه، نو د سر وېښتان به یې په پرېوله چې ودې ته په عربي کې تلبید وایي او د ابن الاشرف وېښتان پیچلي وه او ه پر ښه خوند یې کاوه. وروسته بیا یو ګړی روان وه. بیا ابو نائله ورته وویل چې زه به یوه پلا بیا ستا وېښتان بوی کړم ابن الاشرف ورته وویل بوی یې کړه.

دروېش وایي: چې اول وار چې ابو نائله رضي الله عنه دده څونې بو یې بولې کرار یې ګوتي په وېښتانو کې ننه یستلې چې شک وا نه خلي او ونه ځغلي. دا دوهم وار یې نو ښه ګوتي په وېښتانو ورننه یستلې او ښه یې سر ټینګ کړی، نو ابو نائله وملګرو ته وویل اضربوا عدو الله. نو چې په نورو یې وواهه د مرګ تاثیر یې پر ونه کړی او ابن الاشرف چغې کړې له دې چغو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه دده پر شاوخوا کلاوو پر بامو اور بل کړه سو. نو محمد بن مسلمه ﷺ وایي چې زما پیاد سوه زما یوه نرۍ چاړه لکه خنجر چې تر کالو لاندې مې په ملا کې وهلې وه هغه مې را وکښل او د ابن الاشرف د شا له خوا په خالي ګاه مې ورڅخ کړه حتی چې تر سپو خسه یې ووتل. نو د ابن الاشرف سر یې څندې پرې کړی. او په وچ تاخت مو څغاستل چې یهودان له کلاوو څخه راباندې را ووزي او حارث بن اوس چې سر یې وپر تپي و او وینې څندې روانې وې پر ملګرو یې بوغ وکړی چې پر علیه الصلوة والسلام زما له خوا سلام وایاست ملګري بیرته پر را وګرځېدل او په شا یې کړی، نو دوی چې بقیع الغرقد ته ورسېدل په اخیر کې د شپې نو الله اکبر یې ووایه او علیه الصلوة والسلام د تهجد پر لمانځه ولاړ و، نو چې علیه الصلوة والسلام ددوی الله اکبر واورېدی په دې پوه سو چې لوی دښمن د خدای ﷻ او د رسول په قتل رسېدلی دی یعنې کعب بن الاشرف، نو مجاهدین را څغاستل علیه الصلوة والسلام د مسجد په دروازه کې ورته ولاړ و "قال افلحت الوجوه؟ قالوا ووجهک یا رسول الله" دا دوه لفظه عرب د زهري په وخت کې وایي، لکه په پښتو کې چې مونږ وایو سترګې دي روښانه. او د کعب بن الاشرف سر یې دده په پښو کې کښېښوی فحمد الله علی قتله. بیا هغه تپي حارث ابو نائله او ملګرو و علیه الصلوة والسلام ته راوستی علیه الصلوة والسلام یې پر تپ ورتو کړه وینې یې ودرېدې او درد یې ارام سو. نو باره خلګ وخپلو کورو ته ولاړه چې سحار سو نو علیه الصلوة والسلام امر کړی من ظفرتم به من رجال الیهود قاتلوه. نو محیصه ﷺ وغورځېدی د یهودانو یو تجار چې شغنیه یې نوم و قتل یې کړی. راوي وایي چې د محیصه ورور چې خویصه یې نوم و چې تر محیصه مشر هم و او تر اوسه نه و مسلمان سوی. نو محیصه چې هغه یهودي تاجر مړ کړی. نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خويصه پر محيصه باندي راواچول وهي يې او داسي يې ورته ويل چې دېرې وازګې ددغه تاجر چې موږ به شيان ځندي رانيول ستا په نس کې به پرتې وي، محيصه ورته وويل چې هغه چاچې زه يې په وژلو ددې تاجر امر کړم که يې زه ستا يعنې خويصه په وژلو امر کړی وای ته مې هم قتل کولې، خويصه ورته وويل ستا مراد دادی که محمد زه ستا په وژلو امر کړی وای ما ستا سر هم در پرېکاوه؟ محيصه ورته وويل هو! فقال خويصه ان دينا بلغ بک هذا العجب فاسلم خويصه. راوي وايي چې په قتل د کعب الاشرف رئيسان د يهودو ډېر وبېرېدل چې موږ به هم لکه کعب بن الاشرف داسي قتل کړي. نو رئيسان د کفارو راغله چې نامعلومو خلګو زموږ سردار کعب بن الاشرف د شپې له مخه را مړ کړی، نو عليه الصلوة والسلام د کعب بن الاشرف اعمال ورته بيان کړه چې ده به کفار د قريشو زموږ پر جنګ باعثه کول او زه به يې هم زيرولم يعنې کعب بن الاشرف مستحق د قتل و. نو ځکه ما حکم د قتل دده ورکړی، نو بيا عليه الصلوة والسلام ودوی ته دعوت د صلح ورکړی او صلح نامه علي ﷺ نوشته کړه او همدغه خط د علي ﷺ سره و.

مسئله: امام شافعي رحمه الله پر دې قصه سره دليل وايي چې هر څوک چې له کفارو څخه و عليه الصلوة والسلام ته بنکنځل وکړي او يا يې نواقص بيانوي او يا ازار ورسوي که معاهد وي او که غير معاهد وي قتل يې روا دی، او ابو حنيفه رحمه الله وايي چې قتل د معاهد په بنکنځلو د عليه الصلوة والسلام نه دی روا، ولې چې سب د عليه الصلوة والسلام خو کفر دی والکفر لاينافي العهد، او امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله وايي چې کعب بن الاشرف خو عهد مات کړی او مکې ته ولاړی او قريش يې پر جنګ د عليه الصلوة والسلام باعثه کول کمامر بالتفصيل، او کعب بن الاشرف دمخه د عليه الصلوة والسلام سره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معاهده کړې وه چې زه به کومک نه کوم د چاسره ستا پر قتال وقد اعانه.

فائده: څوک دي دا نه وايي چې محمد بن مسلمه ﷺ او ابو نائله ﷺ خو د کعب بن الاشرف سره غدر وکړی ولا يجوز ذالک في الشرع. غدر خو دادی چې محمد بن مسلمه او ابو نائله وده ته امن ورکړی وای او بيا يې وژلی وای او نومورو کسانو او ملګرو ددوی خو کعب بن الاشرف ته د امن لاس نه و ورغځولی. بلکې دوی خو د بيع الطعام او رهن په باره کې ورغلي وه.

فائده: په حضور کې د امير المؤمنين علي ﷺ دا خبره د غدر يو چا وکړه. علي ﷺ بالفور سر په توره څنډي غوځ کړی.

وَإِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴿١٨٦﴾

او که تاسي صبر وکړئ پر بلا يا او چې د خدای ﷻ له خوا څخه پر تاسي مسلط سي، او له خدای ﷻ څخه وبېرېږئ يعني امتثال د امر د خدای او امتناع له منهياتو څخه د خدای ﷻ وکړئ. نو دغه ظفر او تقوی له عزم کارو څخه دی.

پوه سه: چې عزم مصدر دی په معنا د مفعول دی ای من معزومات الامور يعني بايد سړی عزم پر وکړي يعني ټينګ قصد ورته وکړي، او عزم و کړي په نېز د مصيبت او پر خدای ﷻ اعتراض ونه کړي.

فائده: صبر ددې سره منافي نه دی چې له کافرانو څخه چې دوی ازار ومسلمانانو ته رسوي انتقام نه اخلي كما يدل عليه قصة قتل كعب بن الاشرف كمامر عنقريب.

وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُ ﴿١٨٧﴾

او په ياد کړه هغه وخت چې خدای ﷻ واخستل ټينګه وعده له هغو کسانو څخه چې دوی کتاب ورکړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

له کتاب څخه مراد تورات دی بدلالة سیاق الکلام چې مراد څندې علماء د یهودانو دي، ولې چې بیان د مافي التوراة په دوی پورې اړه لري، وعده په دې سره چې تاسي به مافي التورات بیانوئ وخلګوئ ته، او پټوئ به یې نه یعنې د یو غرض فاسد لپاره لکه حفظ الریاسة علی العوام في علماء الیهود.

فَنَبَذُوهُ وَرَآءَ ظُهُورِهِمْ

نو دوی وغورځاوه کتاب الله د شا وخواته.

پوه سه: چې مراد له غورځولو څخه ددوی کتاب الله وراء الظهور غورځول حسي نه دي لانهم لم یفعلوا ذالک بلکې مراد څندې معنا کنایي ده، ای ترکوا العمل به او دوی پټ کړه نعوت د محمد ﷺ چې په تورات کې موجود وه کما في هذه الآیة من التوارة ینابئ میقربخ کاموغ الی وتسماعون الی اخیر الآیة.

وَاشْتَرَوْا بِهِۦ ثَمَنًا قَلِيلًا ۖ

او دوی یعنې علماؤ ددوی رانیوی یعنې حاصل یې کړی لږ ثمن.

پوه سه: چې د "شرا" د لفظ استعمال په بدو او رشوت اخستلو کې مجاز دی کمامر في سورة البقرة.

پوښتنه: ملایانو د یهودانو څو له عوامو څخه ډیر شی من النقود والصدقات والرشي تر لاسه کولې، نو ولې ثمن قلیل وبلل سو؟

ځواب: په مقابل کې د هغه شي چې دوی له لاسه ورکړی من نعیم الجنة دا چې دوی اخستل اقل قلیل وه او یا په دې سبب چې ما حصل لهم في الدنیا که څه ډیر شی وي خو بیا هم فاني شی دی ولا اعتبار للفاني بمقابلة الباقي.

فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُونَ ۝

او بد دی هغه شی چې دوی رانیوی یعنې مختاره یې کړی د خپلو ځانو لپاره. قتاده رحمه الله علیه وایي چې دا میثاق له هوله اهل علمه څخه اخستل سوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی، نو څوک چې علم پر یو شي لري باید نورو ته یې ور وښیي. او پټول د علم هلاکت دی د عالم لپاره. له ابو هریره ﷺ څخه روایت دی که دغه آیت نه وای ﴿واذ اخذالله میثاق الذین اوتوا الکتاب﴾ ما به تاسي ته هیڅ حدیث نه بیانولای، دا خبره ابو هریره ﷺ په جواب کې د هغو کسانو وکړه چې قد اکثر ابو هریرة ﷺ من التحدیث عن النبي ﷺ.

پوه سه: چې احمد او حاکم له ابو هریره ﷺ څخه په صحیح سند سره روایت کړی دی چې که له چا څخه سوال وکړه سو د یو علم چې دی په خبر و په هغه سره او ده هغه علم پټ کړی، نو دده په خوله کې به د اور واګې واچوي د قیامت په ورځ. او امام بغوي رحمه الله وایي چې حسن بن عماره رحمه الله وایي چې زه ورغلم زهري رحمه الله ته په هغه وخت کې چې زهري حدیث ویل پرې ایښي وه. نو زه دده ملاقي سوم په دروازه کې د کور دده. نو ما ورته وویل که دي خوښه وي ماته یو حدیث ووایه. ده راته وویل چې ته نه یې خبر چې ما خو حدیث پرې ایښي دي. نو ما ورته وویل چې یا به ته حدیث راته وایي یا به یې زه درته وایم، نو زهري راته وویل حدثني یعني ته حدیث راته ووایه. نو ما ورته وویل حدثني الحکم ابن عیینه عن یحی الحیزار قال سمعت علی بن ابي طالب رضي الله عنه ما اخذ الله المیثاق عن اهل الجهل ان یتعلموا حتی اخذ من اهل العلم ان یعلموا"

ژباړه: علي بن ابن طالب رضي الله عنه وویل چې خدای ﷻ له اهل جهل څخه وعده د علم د زدکړي نه ده اخستې تر هغو چې له اهل علم څخه یې میثاق او وعده د تعلیم نه ده اخستې، والمعنی چې جاهلان هلته مکلف په تعلم دي چې علماء تعلیمونه شروع کړي، عماره رحمه الله وایي چې وروسته زما تر حدیث زهري رحمه الله ماته څلویښت حدیثه بیان کړه.

پوه سه: چې مراد له علم څخه علم دین دی چې کتمان یې ګناه ده کالتفاسیر القرآنیة والاحادیث النبویة ﷺ والعقائد السنیة والفقه، وما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يتوقف فهم العلوم المذكورة عليه كاصول الفقه والنحو والصرف وعلم المعاني والبيان والبديع وعند بعضهم العروض وعلم اللغة. وبالجملة لا الحكمة الطبيعة والحكمة الرياضية والمنطق ايضاً عند بعضهم لان كتمانها احب من تعليمها بل واجب.

قال صاحب الكشاف العلامة الزمخشري في تفسيره ما عبارته هذا وكفى به دليلاً على ان الواجب على العلماء ان يبينوا الحق للناس ولا يكتمونه لغرض فاسد من تسهيل على الظلمة وتطييب نفوسهم واستجلاب لمسارهم او لجرم منفعة من حطام الدنيا لنفسه مما لادليل عليه ولامارة او بخل بالعلم لئلا ينسب الى غيره ذالك العلم انتهى بحذف، وغرضه ان هذا الميثاق ماخوذ على علماء المسلمين ايضاً قال الامام الرازي في تفسير الكبير فكل من لم يبين الحق وكتم شيئاً من هذه الامور دخل تحت وعيد الآية، قال السعدي الشيرازي رحمه الله عليه

زيان ميكند مرد تفسير دان كه علم وادب ميفروشد به زبان
بد ين اى فرومايه دنى محز چو خر بانجيل عيسى محز

حكايت: ذو القرنين اكبر چي د تولي مځكي سلطنت پر غاړه درلودى. پر يو قوم باندي ورغلى چي دنيا يې يک لخته پرې اينبې وه او د مځكي په اوښو يې گزاره كول، او د مړو قبرونه يې پر دروازه باندي جوړ وه او شب وروز د خداى جل جلاله په طاعت به اخته وه، نو ذو القرنين ورئيس ته د هغه قوم سړى ور واستاوه چي ته راسه! د هغه وطن رئيس او مشر وقاصد ته وويل چي زما د ذو القرنين وملاقات ته هيڅ ضرورت نسته، نو ذو القرنين پخپله و هغه ځاى ته ورغلى او د هغه ځاى خلگو ته يې وويل چي څه سبب دى چي ستاسي په وطن كي سره او سپين زر ډير لږ دي؟ هغه رئيس ورته وويل چي په موږ كي طالب د دنيا نسته، ولي چي دنيا د هيڅ چا سره وفاء نه ده كړې او نه څوک په موږ سوى دى، بيا ذو القرنين ورته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وويل چي مړي مو ولي د کورو ومخ ته دفن کړي دي؟ هغه ورته وويل چي ددې لپاره چي زمونږ مرګ هېر نه سي، وروسته هغه رئيس د قوم يوه د سر کوپړۍ ورته راواخستل او ورته وه يې ويل چي دا د سر کوپړۍ د يوه ملک عادل وه چي پر رعيتو باندې ډېر مشفق و، او هغه هم اخير الامر وفات سو واسکنه الله الجنة ورفع درجاته. بيا هغه رئيس د ذو القرنين پر سر لاس کښېښو او وه يې ويل چي نه ده معلومه چي ستا سر به له کوم قسم څخه وي، نو ذو القرنين ډېر وژړل او هغه رئيس ته يې وويل چي که ستا زما سره ملګرتيا خوښه وي، نو زه به خپله بادشاهي در سره نيمي کړم او خپل وزير اعظم به دي وګرځوم هغه رئيس ورته وويل هيهات. يعنې دا کار ډېر لېري دی ذو القرنين ورته وويل چي ولي لېري دي. رئيس ورته وويل چي خلګ تولـه ستا دښمنان دي په سبب د مال او ملک او تولـه خلګ زما دوستان دي په سبب د قناعت چي ما کړی دی. سعدي شيرازي وايي.

نير زد عسل جانمن زخم نيش قناعت نکو تر به دو شاب خويش
گدايی که بر خاطرش بند نيست به از بادشاهی که خورسند نيست
اگر بادشاه هست و گر پنبه دوز چو خفتند گردد شب هر دو روز

فائده: حجاج بن يوسف چي د لوی ظالم نوم دی چي پر عراق د والي په توګه د عبد الملک له خوا مقرر سو، نو يې حسن بصري رحمه الله وروغوښتی او ورته وه يې ويل چي دا څه خبري دي چي ته يې زما په باره کي کوې؟ حسن بصري رحمه الله ورته وويل چي داسي خو نه دی چي تاته رسېدلي خبري دي تولې ما کړي وي، او داسي هم نه ده چي تولې خبري چي ما کړي دي ستا په باره کي هغه به تولـه تاته رسېدلې وي حجاج ورته وويل چي دا خبره تا کړې ده چي نفاق په عراق کي مغلوب و او د حجاج په راتلو سره عام سو او توره يې وکښله؟ حسن بصري رحمه الله ورته وويل هو دا خبره ما کړې ده، حجاج ورته وويل چي څه باعث و پر تاباندي چي دا خبره دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کوله، اوزما له داسي ناوړه خبرو څخه خورا بد کېږي. حسن بصري رحمه الله ورته وویل لان الله تعالی اخذ میثاق الذین اوتوا الکتاب لیبیننه للناس ولا تکتمونه. قتاده رحمه الله وایي. مثال د هغه علم چي عالم یې چاته نه ورښیي لکه یوه خزانه چي څوک مصرف نه څندي کوي. او مثال د هغه عالم چي په سینه کي یې حکمت وي لکن چاته یې نه بنکاره کوي لکه بت چي ولاړ وي نه خورک کوي او نه څښل. او قتاده رحمه الله دا هم وویل طوبی لعالم ناطق ولمستمع داعي هذا ای العالم علم علماء ای زده یې کړئ علم او په ښوونه یې پیل وکړئ او مستمع خبري د عالم واورېدې او نوټ یې کړې او عمل یې په وکړی.

لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَفْرَحُونَ بِمَا أَتَوا وَّيُحِبُّونَ أَن يُحْمَدُوا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا

او ته ګمان مه کوه یعني ای هر مخاطبه پر هغو کسانو چې دوی خوشحاله وي په هغه کار سره چې دوی یې کوي. یا اضلال د خلګو یا پټول د حق لکه علماو. د یهودانو چې کول او یا مطلق معاصي او دوی دا خوښه لري چې زموږ دي صفت وکړل سي په هغه شي سره چې دوی نه دی کړی. یعني چې اظهار الحق مورد کړی دی او نه یې وي کړی او وفا. په میثاق مو کړې ده او نه یې وي کړې. او یا د رشتیا خبرونه مو ویلي دي او نه یې وي ویلي وغیر ذالک من الحسنات.

پوه سه: چې مراد په دې آیت کي منافقان دي د عصر نبوي چې دوی به طاعت ریاء کاوه او دا به یې خوښه وه چې زموږ دي حمد او ثناء وویل سي په دې سره چې دا کسان زاهدان دي او صادق مسلمانان دي.

فَلَا تَحْسَبَنَّهُم بِمَفَازَةٍ مِّنَ الْعَذَابِ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝ -

پوه سه: چې "لاتحسبنهم" تاکید دی د "لاتحسبن" الاول. نو فاعل او مخاطب النبي ﷺ دی او مفعول اول د فعل اول هغه موصول دی یعني "الذین یفرحون" او مفعول ثاني یې "مفازة" دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ژباړه: ته ګمان مه کوه چې دوی به متلبس په خلاصون سره سې له عذاب څخه او دوی لره دردناکه عذاب دی.

دروښ وایي: چې د بخاري او مسلم په روایت له علقمه بن ابی وقاص رضي الله عنه څخه چې مروان بن الحکم چې آمر د وخت و وخپل دروازه وان ته یې وویل یا رافع اذهب الی ابن عباس رضي الله عنهما او ورته ووایه چې که هر سړی زموږ معذب وي چې خوشحاله وي په ما، نو را یې وله. او دا یې محبت وي چې زما دي حمد وکړه سې په مالم یفعل سره نو خو موږ ټوله به معذب سو. ولې چې زموږ ټولو داغه کارونه خوښ دي، نو قاصد ته ابن عباس رضي الله عنهما وویل چې تاسې مسلمانان په دې آیت څه کار لرئ، ددې آیت شان نزول خو داسې دی چې علیه الصلوة والسلام یهودان را وغوښتل، نو د یو شي پوښتنه یې ځندي وکړه، نو دوی هغه اصل شی پټ کړی په بل شي سره یې جواب ورکړی یعنې درواغ یې ورته وویل، او بیا دوی ولاړه او دوی د علیه الصلوة والسلام په خیال دا ورکړه چې موږ رشتیا درته وویل او له علیه الصلوة والسلام څخه یې غوښتل چې زموږ دي حمد ووایي او په دې خوشحاله وه چې موږ کتمان الحق له علیه الصلوة والسلام څخه وکړی، ثم قرء ابن عباس رضي الله عنهما "واذ اخذ الله میثاق الذین اوتوا الکتاب الی قوله ویفرحون بما اتو الی اخیره" او بخاري او مسلم له ابي سعید الخدري رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې بعض له منافقانو څخه داسې وه چې علیه الصلوة والسلام به یوې غزاء ته وتی دغو منافقانو به ځانونه پټ کړه او دوی به په دې سره خوشحاله وه چې نه ورسره ولاړو، نو چې علیه الصلوة والسلام به له غزا څخه راغلی منافقین به ورته راغله او خپل عذرونه به یې بیانول. او دوی به قسمونه ورته اخستل او دا به یې هم خوښه وه چې علیه الصلوة والسلام دي زموږ د کاذبانه قسمونو تصدیق وکړي او زموږ صفت دي هم وکړي او شاباسی دي راکړي، فنزلت هذه الآیة في هؤلاء المنافقین.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروبش وايي: چې ددې روايت او شان نزول چې دا آيت د منافقينو په باره کې نازل سوی دی. او ددمخه شان نزول چې دا آيت په باره کې د يهودانو نازل دی منافات نسته، ولې چې امکان لري چې په دواړو کې دې نازل وي، او قتاده او مقاتل ؒ وايي چې يهودان د خيبر و نبي الله ﷺ ته راغله، نو دوی وويل چې موږ تا پيژنو يعنې چې نبي منعوت في التورات يې، او ستا د نبوت تصديق کوو او موږ به ستا پر رايه يو او موږ هر وخت ستا کومکيان يو، وليس ذالک في قلوبهم بلکې خوفاً من السيف يې دا خبرې وکړې، نو مسلمانانو ورته وويل احسنتم هکذا فافعلوا نو مسلمانانو ددوی حمد ووايه او دعاء يې هم ورته وکړه، فنزلت هذه الآية السابقة والله اعلم بالصواب.

دروبش وايي: چې يو احتمال بعيد د تکرار د نزول ددې آيت سته کما قالوا في سورة الفاتحة فحينئذ يصح جميع الاقوال الواردة في شان نزول الآية المذکورة ويرفع التعارض بين الاقوال المذکورة ولا يحتاج الى توجيه الجمع بينها.

وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ۝

او خدای ﷻ لره پادشاهي يعنې التصرف د اسمانو او مځکو سته، نو خدای ﷻ چې له اسمانو څخه اوبه را اوروي او د مځکې ښه نباتات را شنه کوي، والمعنى ان الله تعالى يفعل في السموات والارض مايشاء ويفعل ما يريد. او خدای ﷻ پر هر شي چې اراده يې سي قدرت لري. فيقدر على ثواب المؤمنين بالجنة ونعيمها والعقاب للكفار بالنار واليمها.

پوه سه: چې طبراني او ابن ابي حاتم ؒ له ابن عباس ؓ څخه روايت کړی دی چې قريش د مکې ويهودانو ته ورغله چې د موسى ؑ څرنګه معجزې وې يهودانو ورته وويل چې لکړه به يې مار کېدله او يد بيضا او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نوري ورته معجزې، بيا نصارى وو ته ورغله وهغو ته يې وويل چې د عيسى عليه السلام څرنګه معجزې وې؟ هغو ورته وويل چې مور زاده روند په دعاء دده بينا کېدى. او د پيس مريض به په دعاء دده جوړېدى او مړې به هم ژوندي کولاى سواى وامثال ذالک. نو قريش و عليه الصلوة والسلام ته راغله يعنې حال کونه عليه الصلوة والسلام بمکة او ورته وه يې ويل ادع لنا ربک ان يجعل الصفا ذهباً فدعا ربه فنزلت هذه الآية. يعنې ته خواست وکړه ورب ته ستا چې د صفا غر مور ته سره زر سي يعنې ته هم داسي يوه نادره معجزه مور ته ښکاره کړه او عليه الصلوة والسلام خواست هم وکړى، نو دا آيت نازل سو.

إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيٰتٍ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ ﴿۱۹۰﴾

په تحقيق په پيدائښت کې د اسمانو او مځکې او په اختلاف کې د شپې او ورځې دېر دلائل ستە د قدرت الهي هغه کسانو لره چې خاوند ان د عقل وي يعنې العقول السليمة من آفات تقليد الاباء وعقائد الشرک.

پوه سه: چې مفسران ددې داسي ترجمه کوي چې په تحقيق په خلق کې د اسمانو ومافيها من الشمس والقمر والنجوم، او په خلق کې د مځکې ومافيها من الجبال والبحار والاشجار والوحوش والطيور او په اختلاف کې د شپې او ورځې يعنې چې يو په بل پسې بلا فصل راځي. او بعض وايي په اختلاف د رنګ د شپې او د ورځې په رڼا او تاريکه سره. او بعض مفسران وايي چې مراد په اختلاف سره د شپې او ورځې اختلاف دى د اوږدوالي د هري يوې په سبب د نقصان د هغه بلې باختلاف قرب الشمس وبعدها بالنسبة الينا بحسب الازمنة لکه د پسرلي ورځ او شپه. يا د دوبي شپه او ورځ يا د مني شپه او ورځ يا د ژمي شپه او ورځ کما هو المعلوم لکل احد.

پوښتنه: شپه يې ولې تر ورځې مقدمه راوړه؟

ځواب: له دې سببه چې حساب د قمري مياشتو په نېږ د عربو له شپې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه شروع کړي. وهکذا حساب د ورځو د هفتې له شپو څخه شروع کېږي په نېز د عربو، او بله معقوله وجه يې دا هم ده چې شپه معراج المؤمنين ده او معراج ده د اولياؤ، ولهذا وقع معراج النبي ﷺ ليلاً او په زړه پوري بله وجه يې دا هم ده چې شپه نمونه د جنت ده او اورځ نمونه د دوزخ ده، ولي چې د ورځې هر سړی پخپلو کسبو کې سره سر ګردانه وي لکه په دوزخ کې چې دوزخيان سر ګردانه وي، او په شپه کې هر سړی چې رنځور نه وي په ارام خوب سره بيده وي.

پوه سه: چې "الباب" جمع د لب ده، لب مغز ته وايي مثلاً مغز د بادام او مغز د جوز وغيره ذالک، نو د انسان مغز عقل سليم دی او بدن يې قشر دی يعنې پوست، او کالي يې قشر القشر دی.

دروېش وايي: چې په هغه حديث کې چې روايت يې ابن حبان کړی دی له عائشې رضي الله عنها څخه چې عليه الصلوة والسلام وويل چې ويل يعنې افسوس دي وي هغه چا لره چې دا آيت ووايي او فکر پکښې ونه کړي يعنې په مضمون کې د آيت مذکوره، او مسلم له ابن عباس رضي الله عنهما څخه داسې روايت کړی دی چې زه د عليه الصلوة والسلام په حجره کې بيده وم چې يو وار عليه الصلوة والسلام را وېښ سو او مسواک يې وواهه اودس يې تازه کړی، او داسې يې وويل "ان في خلق السموات والارض" تر اخيره پوري د سورت، او بيا ولاړ سو دوه رکعته نفل يې وکړه په ډېره اوږده ولاړه او رکوع او سجدې سره بيرته راغلی پر خای پرېوتی، او بيده سو چې ما يې خرکی واورېدی. يو ګړی وروسته بيا راويښ سو تر درو وارو پورې شپږ رکعته يې وکړه په هره پلا به يې مسواک واهه او اودس به يې هم تازه کاوه او هغه آيت مذکوره به يې هم وايه.

دروېش وايي چې دا صنيع د عليه الصلوة والسلام پر فضيلت ددې آيت دلالت کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الَّذِيْنَ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ قِيَامًا وَّقُعُوْدًا وَّعَلٰى جُنُوْبِهِمْ

پوه سه: چې "الذين آه" صفت اول د "الو الالباب" يعني الو الباب هغه کسان دي چې ذکر د خدای ﷻ حال کونهم قياماً او قعوداً او چې پر اړخ وي.

پوه سه: چې بغوي رحمه الله وايي چې علي، ابن عباس او قتاده رضي الله عنهم وايي چې له ذکر څخه مراد په دې آيت کې لمونځ دی يصلی قائماً فان لم يستطع فقاعداً فان لم يستطع فعلى اجنب.

دروښ وايي: چې دا حکم دی د فرضي لمونځو او نفلي لمونځونه سره د طاقته د ولاړي په ناسته هم روا دي. لکن ثواب يې على النصف دی، او په حديث کې د عمران بن حصين رضي الله عنه راغلي دي چې ما بواسر درلوده، يعني خوني بواسير، نو ما سوال وکړی له عليه الصلوة والسلام څخه په باره کې د مريض د لمانځه، نو ده مبارک راته وويل "صل قائماً فان لم تستطع فقاعداً فان لم تسطتع فعلى جنب" رواه البخاري واصحاب السنن الاربعة وزاد النسائي فان لم يستطع فمستلقياً. والدليل عليه قوله تعالى "لايكلف الله نفساً الا وسعها" او له علي رضي الله عنه څخه روايت دی عن النبي ﷺ قال يصلی المريض قائماً که يې طاقت و، او که يې د ولاړي طاقت نه وو لمونځ دي په ناستي کوي، او که يې د سجدې کولو طاقت نه درلودی، نو په اشاره دې کوي، او په سجده کې دي سر تر رکوع کښته کوي، او که يې داسې طاقت هم نه درلو دی، نو پر راسته بغل دي پرېوزي مستقبل القبلة، او که پر بغل نه سوای پرې وتلای، نو ستنې ستنې دي پرېوزي پښې دي د قبلې وخواته کړي او اشاره دي کوي بالراس.

پوه سه: چې امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله وايي چې دا آيت او هغه آيت چې په سورت النساء کې دی په باره کې د صلوة المريض نه دی بل المراد بها عند عامة المفسرين المداومة دی پر ذکر د خدای ﷻ. ولې چې د انسان عمومي احوال دغه درې دي کما قال رسول الله ﷺ من احب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ان يرتع في رياض الجنة فليكثر ذكر الله رواه ابن ابي شيبة.

وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ

او فکر وهي په پیدائښت کي د اسمانو او مځکو.

دروښ وايي: وانما قال في خلق السموات لان معرفته تعالى انما هو بالمصنوعات، او اسمانانو او مځکه اعظم د مخلوقاتو دي في الحس الظاهر، او فکر په ذات کي د خدای ﷻ نه دی روا. ولي چي خدای پاک منزه دی له دې څخه چي موصوف په صورت سره سي. ولهذا ورد في الحديث النبوي تفكروا في الا الله ولا تتفكروا في ذاته تعالى.

فائده: د فکر تعریف مظهري ﷺ موافق د مذهبه سره د منطقیانو کړی دی حیث قال الفكر ترتيب امور معلومة لتحصيل مجهول اي سواء كانت تصورية او تصديقية.

دروښ وايي: چي تفکر په خلق کي د اسمانو او مځکي لپاره د عمومي خلګو دی. او اهل الله تر دې په کم شي سره خدای پېژني كما قال الشهرازي ﷺ.

برګ درختان سبز در نظر هوشیار هر ورقی دفتریست معرفت کردګار

په حدیث مبارک کي په روایت د ابوهریره ﷺ راغلي دي "بينما رجل مستلق على فراشه اذ رفع راسه فنظر الى السماء والنجوم فقال اشهد ان رباً وخالقاً اللهم اغفرلي فنظر الله اليه فغفرله يعني په نظر د رحمت ورته ګوري، او ګناه يې وروبخښي، په حدیث صحیح کي راغلي دي چي تفكر ساعة خير من عبادة ستين سنة.

دروښ وايي: چي علماؤ په تفصیل کي د "تفکر" دوې وجهې ویلي دي، اول چي تفکر سړی وخدای ﷻ ته وصل کوي او عبادت سړی وثواب ته د خدای ﷻ رسوي ولا شک ان الاول افضل، او دوهمه وجه يې داده چي تفکر عمل او کار د زړه دی او عبادت عمل د جوارحو دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والقلب رئيس البدن وعمل الرئيس اولى واعلى كما لا يخفى.

رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا سُبْحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۱۹۱﴾

پوه سه: چې "ربنا" منادى ده په حذف د حرف نداء او دا جمله په محل کې د نصب ده، حال ده له فاعل څخه د "يتفكرون" بتاويل قائلين ربنا آه.

فائده: هذا اشاره ده وخلق ته چې مراد ځندې مخلوق دى من السموات والارض ، او يا اشاره ده وه "سموات والارض" ته او افراد او تذكير يې په تاويل د مايتفكر فيه دى.

پوه سه: چې باطل ضد د حق دى، او د حق يوه معنا داده چې موجود بذاته وي او نه په ذات او نه په صفات کې او نه په افعالو کې وچاته محتاجه وي، وهذا المعنى محصور في الخالق ﷻ، نو باطل پر دې تقدير تولـه ماسوى الله دي من المخلوقات لاحتياجها في ذواتها وصفاتها واعمالها اى الخالق ﷻ كما قال لبيد الشاعر الجاهلي:

الا كل شيئ ما خلى الله باطل وكل نعيم الدنيا لامحالة زائل

لكن په دې معنا په آيت کې په اتفاق د مفسرينو نه دى مراد. او بله معنا د باطل داده چې بې فائدې او بې مصلحته او لغوه وه "شيئ" نو حق پر دې تقدير هغه شى دى چې مشتمل پر حكم او مصالح د عباد وى. او دغه هم په آيت کې مراد ده يعني ربنا ما خلقت هذا باطلاً لغواً بلا فائدة ومصلحة بل خلقته لمصالح وفوائد وحكم دينية ودونيوية.

پوه سه: چې نصب د باطلاً بنا پر دې دى چې مفعول مطلق دى د خلقت بحذف الموصوف اى خلقاً باطلاً "سُبحٰنک" پاکي ده تالره. مما لايليق بشانک چې يو له هغو څخه دلته خلق ما لاحكمة فيه.

دروښ وايي: چې د "سبحانک" يا "سبحانه" په زړه پورې تحقيق په شرح کې د سلم للقاضي محمد مبارک او په حواشيو کې د هغه مطالعه کړه.

فائده: وجه د تفريع د "فقنا عذاب النار" پر ماقبل داده چې بندګان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عموماً خدای ﷻ ته وایي چې موږ حق ستا د بندګۍ پر ځای کړی حتی قلنا "ربنا ما خلقت هذا باطلاً سبحانک" نو ته هم حق د معبودیت خپل ادا. کړه چې موږ وساته په ورځ د آخرت کې له اوره. یعني له دوږخ څخه لانک غفور کریم تعطی علی القلیل من العباد الاجر الجزیل وهو الخلاص عن دخول النار والقرار في الجنة مع الابرار.

مسئله: په روح البیان کې وایي چې دا آیت دلالت لري پر جواز د ذکر د خدای ﷻ په ولاړي، نو ځکه مشائخ وایي لاباس ان یقوموا لپاره د ترویح د زړونو ددوی لکن شله یا اتن دې نه کوي. او حال د وجد او بې هوشتیا چې په حقیقت کې دده سره نه وي نه بنکاره کوي. حاصل ددې مسئلې دادی چې ذکر الهي چې ادب پکښې مرعي وي وضع مخصوص نه لري یجوز قائماً وقاعداً ومضطجعاً لکن ورد في الاحادیث النبویة ما یدل علی استیجاب الاخفا، لانه ابعد من السمعة والریاء.

دروښ وایي: چې د انما الاعمال بالنیات آه رواه البخاري حدیث باید په وخت کې د ذکر د خلګو په خیال کې وي تاچې عمل د ذکر الهي لغوه نه سي او شکر حظي یعني حظ النفس پکښې رانسي. والله الموفق للحق والصواب وهو اعلم بمراد العباد، قال الشاعر

بروی وریا خرقه سهلست دوخت وگر باخدا درفروشی نکوست

رَبَّنَآ إِنَّكَ مَن تُدْخِلِ ٱلنَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُۥ ۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ﴿١٩٢﴾

ای زموږ خدایه که ته داخل کړې څوک دوږخ ته په دې معنا چې خالد في النار وي وهم الکفار، نو تا هغه خوار او رسوا کړي. او نسته ظالمانو لره کومکیان.

فائده: د تکرار د نداء یعني "ربنا" لپاره د مزید اظهار العجز والابتهال دی.

بوه سه: چې که څه هم ځای خو د ضمیر و یعني "ومالهم من انصار" لکن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وضع يې کړی اسم ظاهر په ځای کې د مضمر لپاره د دلالت پر دې چې سبب د ادخال ددوی په اور کې ظلم ددوی دی یعنې الظلم الاعظم وهو الکفر. وجه د نفي د انصارو داده چې نصرت خو خلاصول د چا دی په زور سره. ولا یتصور القهر في مقابلة القهار. والا یلزم عجزه تعالی عن ذالک علوا کبیرا.

پوښتنه: بعض عصات المؤمنین په شفاعت سره له اوره خلاصیږي کما في حدیث الشفاعة للرسول ﷺ؟

ځواب: اول خو په شفاعت سره خلاصون د عاصي له اوره ځخه په قهر او په زوره نه دی بلکې په عجز او زاریو دی. دوهم دا چې مورږ وویل چې مراد له دخول ځخه دخول ابدي دی وهو للکفار ومالهم من شافع لان شرط الشفاعة الایمان لیس الا کما ورد في الآیة الاخری چې کفار په ورځ د قیامت وایي "وما لنا من شافعین حین شفاعة المؤمنین"

پوښتنه: مظهري رحمه الله علیه په دې کې دا سوال کړی دی چې بعض عصاة المؤمنین خو دوزخ ته داخلیږي. او خدای ﷻ دلته وایي من تدخل النار فقد اخزیته" او په بل آیت کې راځي "یوم لا یخزی الله النبي والذین آمنوا معه" فکیف التوفیق؟

بیا مظهري له ځانه داسي ځواب ورکړی فقد اخزیته مادام في النار. او بل ځواب یې دا ورکړی دی چې مراد له "الذین آمنوا" ځخه المؤمنون الکاملون دي، او عصات المؤمنین خو د کامل ایمان خاوندان نه دي.

درویش وایي: چې دې ځوابو ته ضرورت نسته علی ماقلنا. او نه د آیتو تر منځ تعارض سته حتی یحتاج الی التوفیق، ویدل علی ماقلنا ما روی عن انس رضي الله عنه معناه من تخلده في النار فقد اخزیته وهم الکافرون. وقال سعید بن منصور رحمه الله علیه هذه خاصة لمن لا یخرج منها یعني الکافرین.

رَبَّنَآ إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا

پوه سه: چې ابن مسعود، ابن عباس او ګڼ شمېر نور صحابه رضي الله عنهم وایي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې مراد له دې منادی څخه محمد مصطفی ﷺ دی.

يُنَادِي لِلْإِيمَانِ أَنْ آمِنُوا بِرَبِّكُمْ

چې نعرې وهلې لپاره د ایمان راوړلو.

پوه سه: چې "ان آمنوا" تفسیر دی د ینادي للایمان.

فَآمَنَّا رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا

نو موږ ایمان راوړی، اې خدایه نو موږ ته را وبخښې ګنهونه زموږ.

پوه سه: چې کلمه د فا لپاره د سببیت ده یعنې ایمان زموږ سبب دی د بخښې د ګنهو اذ لا مغفرة بدون الایمان.

وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّئَاتِنَا

او ورځوې زموږ صغائر ګنهونه.

پوه سه: چې په بخښه کې یې صغائر د تفعیل باب راوړی لان الصغائر کثیرة، نو له فاغفرلنا څخه مراد مغفرة دی د کبیره ګنهو.

وَتَوَفَّنَا مَعَ الْأَبْرَارِ

او موږ وفات کړه سره د نیکانو بنده ګانو.

پوه سه: چې مراد د توفنا مع الابرار معیة معنوي او رتبې دی یعنې د وفات په وخت د ابرارو په ډلو کې یعنې توفیق د نیکو کارو را کړې تر وخت د مرګ، معیة زماني نه دی مراد یعنې موږ او ابرار په یوه زمانه کې وفات سو اول خو داسې وفات ممکن نه دی او بل په معیت زماني کې خو فائده نسته ولې د ابرارو سره په یوه زمانه کې خو کافران مړه کېږي.

سوال: دا خو خواست د مرګ او تمنا د مرګ ده او سره د دې چې علیه الصلوة والسلام نهي کړې دي د تمنی څخه د مرګ او خواست د مرګ؟

ځواب: نهي د تمنی د موت او دعاء د موت په حدیث کې چې راغلې ده که له جهت څخه د یو ضرر وي چې پر سړي نازل سي لکه اوږده ناجوړي او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یا شدت فقر او مسکنت یا کثرة الاعداء و امثالها او مطلقا تمنی د مرګ ممنوع نه ده، بل جواب دا دی چې مقصود د دوی خو تعجیل الموت نه دی بلکه مقصود د دوی دا دی چې بر او احسان زموږ دی خدای ﷻ باقي پرېږدي تر وخت حلول الاجل والموت.

پوه سه: چې ابرار جمع د "بر" ده یاد "بار" چې معنی د بر صادق او کثیر الخیر او فراخي کونکي په احسان کي سره د عباد الله "مثال د دې هغه آیت دی"

"ولا تموتن الا وانتم مسلمون" په دې آیت کي خوهم نهي له موت څخه نه ده فانه غیر مقدور للبشر بل هو من جانب خالق القوي والقدر. بل المقصود من النهي المذکور النهي عن الموت علی غیر حالة الاسلام یعني همېشه توب کوئ پر اسلام تر وخت د اجل رسیده "ولا تر دوا فتنقلبوا خائبین"

مسئله: تمنی د موت او دعاء د موت لپاره د لقاء الله ممنوع نه ده، لانه قد ورد فی الحدیث الصحیح ان من احب لقاء الله احب الله لقائه.

حکایت: یو اهنګر و په یو ځای کي ده به اوسپنه د کورې په اور لکه اور داسي وګرځول یعني چې یو شی بې ځندي جوړ او د نور آهنګران خو دغسي توده اوسپنه په امبر را واخلي او بیا یې تکوي دې آهنګر په لاس هغه ټوده وسپنه را خستل او تکول بې نو چې به چا پوښتنه ځندي وکړه چې اوسپنه ولي ستا لاس نه سوځي ده به وویل چې زموږ په قریه کي د یو مسکین سړي ماینه وه ډېره ښائسته وه، نو ما ودې ښځي ته یوه سپینه سړې د کلي ور واستول چې ته زما سره زنا وکړه زه به تاته دوه روپۍ درکړم، دې وه سپینه سري ته ویلي وه چې زه مېړه لرم هغه نفقه بر ابروي نو نه زه ستا وزنا ته ضرورت لرم او نه ستا ومال ته، خو خیر ددې ښځي مېړه مړ سو او کوچني یتیمان ورپاته سوه بیا ما هغه سپینه سړې ور واستول چې زما سره زنا وکړه زه به مال در کړم هغې ورته ویلي وه چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اوس ماته د وطن والو د فقر کولو دروازې خلاصې دي زه خپل يتيمان په فقر او سوال ساتلای سم اخير الامر هره ورځ سوال قريه وال مجبوره کړه د هر چا کور ته چې به ورغله هغو به ورته وويل خدای دې درکړي يعنې شی به يې نه کړی ور، نو عيال پر سر سره واخستل نو هغه سپين سرې يې ور وغوښتل چې هغه آهنګر ته ووايه چې زما عيال دې پر وړی دی مور ته څه نفقه راواستوه او سبا غرمه په پټه راسه زه به زنا در سره وکړم، سپين سرې چې ماته دا وويل زه دې خوشحاله سوم او د دې عمر انتظار مې پای ته ورسېدی، چابک مې يو څه غوښې او اوړه د سپين سرې په لاس ورکړه او سبا غرمه په دې پټه د هغې کور ته ورغلم، نو چې په خونه کې سره يو ځای سو او د زنا وخت راغلی، نو ما دې ته وويل چې ژر کوه چې کار وکړو نه بايد چې خلګ له کوره د لمانځه لپاره را ووځي، ما چې پر توګانې ته لاس ور وړی، دا ښځه دې پر ما سخته ورپرېدېدل، ما ورته وويل ولې رپرېدې؟ دې راته وويل اخاف الله العليم الخبير، زه له خدايه بېرېږم چې زما په حال هم عالم او خبر دی، ددې ښځې خبره چونکه د واقعې بېرې د خدای ﷻ له خوا صادره وه، نو پر ما يې هم تاثير وکړی، نو مې ښځې ته وويل چې ته پر ما لکه خور داسې يې او د يتيمانو نفقه دې هم پر ما ده تر هغه وخته چې دوی لوېږي، نو زه را ولاړېدم ښځې داسې راته وويل "انجاک الله من النار کما انجيتني من نار الزناء" نو آهينګر په اخير کې وويل چې له هغې ورځې څخه ما ځان تجربه کړی پر اور د دنيا نو دا اور مانه سوځي. وارجوا من الله ان لا تحرقني نار الاخرة انتهى الحکايت.

دروښ وايي: چې حکايت موعظت حسنه دی لپاره د هغې ارادې د ګناه کبيرې چې سړی يې وکړي او دا په زړه کې يقين ولري چې زه دا ګناه په حضور کې د خدای ﷻ کوم لانه تعالى عليم خبير اللهم ارزقنا خشيتک في السر والعلانية.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې علیه الصلوة والسلام وویل "من لزم الاستغفار جعل الله له من کل هم فرجا" که چا همیشه توب وکړی پر استغفار خدای ﷻ به وګرځوي ده لره له هر هم څخه یعنې چې دی یې په غم کې اچولی وي ځای د خلاصون او له هري تنګۍ څخه ځای د وتلو "ورزقه من حیث لایحتسب" او ده ته به رزق ورکړي له داسې ځای څخه چې دده به ګمان نه کېږي. واما الدعاء فقد ورد هو مخ العبادة" یعنې دعاء مغز د عبادت ده، ولې مقصود د تولو عباداتو اظهار د عجز او تذلل دی. والدعاء اصل المقصود فیه التذلل والعجز په دنیا کې هم، ولې چې په حدیث صحیح کې راغلي دي "الدعاء ینفع مما نزل ومما لاینزل" یعنې دعاء نفع کوي په هغه مصیبت کې چې پر سړي نازل سي یعنې خدای ﷻ به صبر ورکړي او د هغه مصیبت دفعه به ځندي کړي چې تر اوسه لا نه دی نازل، او په آخرت کې هم دعاء نفعه لري. ولې چې خدای ﷻ هدایا ورته استوي پر لاس د ملکو، او ملکې د خدای ﷻ له خوا څخه وداعي ته په دنیا کې وایي هذا في مقابلة دعائک في الدنیا حافظ شیرازي رحمه الله وایي

هر که خواهد گو بیا و هر چه خواهد گو بگو
کبر وناز حاجب ودربان درین درگاه نیست

سعدي وایي

از استان حضرت حق سر چرا کشم
دولت درین سر او کشایش درین در است

رَبَّنَا وَاٰتِنَا مَا وَعَدْتَّنَا عَلٰى رُسُلِكَ

اې زمونږ خدایه! موږ ته راکړه هغه شی چې تایې وعده کړې وه.

پوه سه: چې په "علی رسلک" کې څو احتمالات مفسرینو ذکر کړی دی، یو احتمال دادی علی تصدیق رسلک یعنې چې څوک چې تصدیق د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رسولانو وکي نو، زه فلانی شی ورکوم. او بل احتمال دادی ماوعدنا علی السنة رسلک" نو پر دې دوو احتمالاتو مضاف مقدر دی. یعني لفظ "تصدیق" او یا "السنة" او بل احتمال دادی چې "علی" دې متعلق په محذوف پورې وي. والتقدیر ما وعدتنا منزلاً علی رسلک

پوه سه: چې له "ماوعدتنا" څخه مراد ثواب بالجنة و رؤیة الله تعالی فیها والرضاء ومراتب القرب والنصر علی الاعداء في الدنیا.

پوښتنه: خدای پاک خو خلف نه کوي. نو د سوال یې څه فائده ده چې ته مونږ ته هغه شی راکړې چې تا یې وعده کړې ده؟

ځواب: بعض مفسرین وایي چې مراد له ضمیر څخه د متکلم مع الغیر مؤمنین صالحین دي. نو دا سوال مبني پر خلف الوعد د خدای ﷻ نه دی تعالی عن ذالک، بلکې دا سوال بناء پر دې دی چې خدا نخواسته سائل له هغو کسانو څخه نه وي چې پر سوء العاقبة به مري نعوذ بالله من ذالک. او بعض مفسران وایي چې د خدای ﷻ صالح بندګان او اولیاء الله خانونه هر وخت قاصر ښولي په طاعت کي د خدای ﷻ او د خپل ایمان پر ضعف معترف وي، نو له دې سببه یې سوال د "آتنا ما وعدتنا" وکړی، او عین ممکنه ده چې سوال دي مبني پر اظهار د عجز وي. ولې که څه هم خدای ﷻ خلاف د موعود نه کوي لکن بیا هم خدای پاک غالب دی علی امره یفعل مایشاء ویحکم مایرید. وقد قال لایسئل عما یفعل وهم یسئلون. او یو ضعیف تاویل دا هم دی چې بعض مفسرانو اشاره ورته کړې ده چې عبارت "وآتنا ما وعدتنا" لفظ د انشاء دی او په معنا کي اخبار دی، وبین المفسر المذکور التقدیر هکذا "فغفرلنا ذنوبنا وکفرعنا سیئاتنا ولاتخزنا یوم القیامة ولتؤتنا ماوعدتنا علی رسولک" او ته مونږ ته راکوې ماوعدتنا علی رسلک من الفضل والرحمة.

دروښ وایي: چې وجه د ضعف یې داده چې څرنګه په یوه آیت پیلي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عبارتونه چې دهر يې انشاء دي او يو پکښې اخبار دی تولـه دي په معنا د اخبار وي، وليس هذا الا كالتوجيهات العقلية في الكتب المصنفة للعباد ولا يسع في كتاب الله التوجيهات العقلية فافهم واحفظ تعظيم الآيات القرآنية.

وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۗ إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ ۝

ته مه رسوا کوې موږ په ورځ د قيامت بان تدخلنا نار، او بعض مفسراو د يوم القيامة ترجمه په يوم القيام من القبور سره کوي دفعة واحدة په دې معنا چې موږ وساتې في الحيوة الدنيا مما يجب الخزی وتغفرلنا ذنوبنا دتستر ماصدر عن الذنوب بكنف رحمتك، او په تحقيق ته اې خدايه مخالفت له وعدې څخه خپل نه کوې چې ثواب ورکول دي ومؤمن ته او دعاء قبولول دي د داعي اليک.

يوه سه: چې "ميعاد" اسم مصدر دی په په د وعد.

دروښ وايي: چې مؤمن لره پکار ده چې همېشه خپل عمر په طاعتو کې د خداى صرف کړې ليدخل في زمرة من وعدهم من المكرمات. وفي الحديث الصحيح بروايت جابر بن عبدالله رضي الله عنه دی وايي موږ په نېږ د عليه الصلوة والسلام ناست و چې عليه الصلوة والسلام وويل ان في الجنة غرفاً، په جنت کې بالا خانې ستې "يرى ظاهر من باطنها وباطنها من ظاهر" چې معلومېږي ظاهر د هغو غرفو له دننه څخه او معلومېږي دننه به له دباندې څخه، وفيها من اللذات مالاعين رئيت ولا اذن سمعت ولا خطر على قلب بشر" چې په هغو بالا خانو کې داسې نعمتونه ستې. چې نه د چا سترګو ليدلي نه د چا غوږو اورېدلي او نه د چا پر زړه ورګرځېدلي دي. جابر رضي الله عنه وايي ما ورته وويل چې دا عزت به د کومو خلګو وي يا رسول الله ﷺ ده راته وويل لمن افشى السلام واطعم الطعام وادام الصيام وصلى بالليل والناس ينام" دا د هغه چا لپاره دی چې سلام وخلګوته وېر وايي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعنې کبر نه لري، او هر چاته سلام اچوي او دوډۍ ورکوي یعنې فقراء او مساکینو ته یعنې حسب الطاقة. او همېشه روژې نسي یعنې نفلي روژې نسي او لمونځ کوي د شپې چې خلګ بیده وي یعنې صلوة التهجد.

پوه سه: چې مراد له همېشه روژو څخه حقیقةً همېشه توب نه دی، ولې د هغه څخه علیه الصلوة والسلام نهي کړي دي بلکې مراد کثرت د نفلي روژو دی، له ابوبکر وراق رحمه الله څخه روایت دی چې ما څلور شیان طلب کړه او په څلورو شیانو کې مې پیدا کړه.

(۱) موږ طلب د خدای ﷻ د رضې کاوه هغه مو په طاعت کې د خدای ﷻ پیدا کړی.

(۲) د رزق د فراخۍ طلب مو کاوه د څانښت په لمانځ کې مو پیدا کړی.

دروښ وایي: چې مجربه طریقه د څانښت د لمانځه داده چې په اول رکعت کې دي وروسته تر الحمدلله سورة والشمس وضحها تر اخیره ووایي، او په دوهم رکعت کې دي "والليل اذا يغشى" تر اخیره پوري ووایي، او په دریم رکعت کې دي وروسته تر قعدة الاولى تر اخیره پوري لکه چې دغه طریقه د څلور رکعتیز لمانځ ده یعنې قعده اولى یې لکه قعده اخرى داسې ده سورة والضحى دي ووایي، او په څلورم رکعت کې دي سورة الم نشرح ووایي وذالک طريقة العاصي ايضاً.

(۳) وسلامة الدين في حفظ اللسان من الغيبة والبهتان، والنميمة، والكذب والفحش وغير ذالک،

دروښ وایي: چې د ژبې جرم که څه هم کوچنی دی لکن محسنات یې بېخي ډېر دي کالشهادتين والأذان والاقامة وتلاوة القرآن والصدق وغير ذالک من المحاسن او سیئات یې هم تر حد تېر دي كما ذكرنا من الغيبة آه.

(۴) او موږ پیدا کړی نور د قبر في صلوة الليل اى التهجد.

فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ

نو قبلونه وکړه خدای ﷻ ددوی ددغو خواستو، بیضاوي وایي چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

استیجاب او اجاب په یوه معنا دي.

أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنكُم

الباء قبل الهمزة مقدرة ای بانی چي په تحقیق زه نه ضائع کوم عمل د یو عمل کونکي ستاسي ای مؤمنانو والاحباط عدم الثواب.

مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ

که نر وي او که ښځه.

پوه سه: چي ام سلمة رضي الله عنها زوجة النبي ﷺ و علیه الصلوة والسلام ته وویل چي خدای پاک د رجالو په قرآن کي ذکر کړی او د ښځو ذکر یې نه دی کړی فنزلت من ذکر وانثی.

بَعْضُكُم مِّن بَعْضٍ

والمعنی بعضکم متصل من بعض، کلبي رحمه الله وایي چي په دین کي او په نصرت کي او په قرابت کي. او بعض مفسران وایي چي په نسبت کي او په انسانیت کي لان کلکم من آدم وحواء. والذکر من انثی من طلب ذکر فیثاب النساء علی الطاعة کما یثاب الرجال.

پوه سه: چي دا جمله معترضه وه لپاره د شرکت د ښځو سره د نرو په ثواب کي د اعمالو د خیر ای عمل کان، او مابعد آیت تفصیل دی د عمل د عاملانو لپاره د تعظیم ددوی.

فَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَأُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ وَأُوذُوا فِي سَبِيلِي وَقَاتَلُوا وَقُتِلُوا

نو هغه کسان چي هجرت یې کړی دی او ایستل سوي دي له خپلو کورو یعني کفارو دوی مجبوره کړي دي چي له خپلو کورو څخه ووځي، او دوی ته ازار رسېدلی دی زما په لاره کي یعني زما په دین او طاعت کي او بسبب ایمانهم او دوی جنګونه کړي دي یعني في سبیل الله او دوی دلاسه د کفارو وژل سوي دي کما في احد وغیره من الغزوات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَأُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَلَأُدْخِلَنَّهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ثَوَابًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الثَّوَابِ ﴿۱۹۵﴾

زه به ورژوم او پټ به کړم په سبب د ښځې ددوی ګنهونه او زه به خامخا دوی داخل کړم وجنتو او باغو ته چې بهېږي به لاندې تر درختو د هغو جنتو څلور ولې، اوبه، عسل، شیدې او شراب.

پوه سه: چې "ثواباً" حال دی له "جنات" څخه ای حال کون الجنات ثواباً.

پوه سه: چې جمله د "لاکفرن عنهم" سره د ما عطف علیها جواب د قسم محذوف دی، ولې چې لام د لاکفرن په نیز د نحاتو لام موطئه لقسم محذوف دی والقسم مع الجواب خبر دی د موصول، یعنې فالذین هاجروا الخ.

پوه سه: بغوي رحمه الله وایي چې مشرکین د مکې په فراخي کې د رزق وه، او لپاره د تجاراتو به یې سفرونه کول في البلاد فقال بعض المؤمنین ان اعدا، الله في عیش رشد وسعة ونحن في ضیق او سرمایه هم نه لرو چې تجارت په وکړو، نو دا آیت خدای عزوجل نازل کړی.

لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِي الْبِلَادِ ﴿۱۹۶﴾

تا دې خطابه باسي سفر د هغه کسانو چې کافران دي په ښارو یعنې لپاره د تجاراتو وغیره.

پوه سه: مخاطب خو ظاهراً علیه الصلوة والسلام دی والمقصود امته او یا مخاطب هر هغه څوک دی چې د خطاب اهل وي.

پوه سه: چې که څه هم ظاهراً نهي دي د غرور په تقلب د کفار في البلاد لکن اصل مقصود نهي دی له تغرر څخه په سعت العیش والتنعم د کافرانو لان التقلب في البلاد للتجارات سبب لصحة العیش فاقیم السبب مقام المسبب. روی عن ابي هریرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ لاتغبطن ته غبطه مه کوه فاجراً په یوه فاجر بدکار سره چې کافر وي فانک لاتدري ماهو لاق بعد موته. ولې چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته خبر نه يې چې د څه شي سره به ملاقي کېږي دغه فاجر پسله مرګه "له عند الله قاتلاً لايموت" يعنې النار رواه البغوي في شرح السنة. ولي چې دغه فاجر لره په نېږد خدای ﷻ يو وژنونکی شی سته چې هغه نه مري يعنې اور.

مَتَاعٌ قَلِيلٌ

ولي چې دغه سعة العيش چې سبب يې تقلب في البلاد دی يو د منفعت شی دی لږ، يعنې از روی مقدار نظر ونعيم و جنت ته. او دغه رنګه ازروی قلة الزمان بالنسبة الى خلود المؤمنين في نعيم الجنان. نو "متاع قليل" خبر د مبتداء محذوفي دی ای ذالک متاع قليل. روی مسلم عن المستورد بن شداد ﷺ قال قال رسو الله ﷺ ماالدنيا في الآخرة" نه ده دنيا نسبت وآخرت ته يعنې كماً وكيفاً الا كمثل ماجعل احدكم اصبعه في اليم فلينظرهم يرجع. مګر لکه مثال ددې چې يو سړی ګوته په درياب کې چغ کړي. نو دی دا ګوري چې دې ګوتې له دريابه څونده اوبه را واخستې.

ثُمَّ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿١٩٧﴾

ولي چې وروسته تر سعة العيش الدنيوي ځای د بازګشت ددغه الذين كفروا جهنم دوزخ او بد فراش دی يعنې جهنم.

لَٰكِنِ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا

لکن هغو کسانو لره چې له خدايه ويريږي، يعنې مؤمنين مطيعين وی دوی لره جنتونه دي چې بهيږي به لاندې تر درختو ددوی ځلور ولې چې دمخه نژدې ذکر سوې، او همېشه به وي دوی په دغو جنتو کې يعنې بلا موت ولا المرض ولا التكليف بالعبادات.

پوه سه: چې لکن دفع د يوه توهم د سړي چې د ماقبل له خبرو څخه پيدا سي، او هغه توهم دادی چې متاع د کافرانو او تنعم ددوی په دنيا کې چې قليل دی. نو متاع د متقي کسانو چې معرض له لذاتو څخه د دنيا وه هغه په نو اقل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قليل وي. فقال الله تعالى لدفع ذالک التوهم لكن الذين ﷺ نو حاصل د دفع يې دادی چې متقينو د دنيا داسې څه تر لاسه کړه يعنی الايمان والطاعة چې هغه واسطه وگرځېدل وغير متناهي نعمتو ته د آخرت. نو دوی له دنياوي ژوند څخه ډېر شی استفاده کړی.

فائده: په نېز د علماؤ د علم معاني لكن لپاره د رد د اعتقاد د مخاطب دی. ولې چې کافرانو به ويل چې موږ په دنيا کې ډېره تمتع حاصله کړې ده او متقين په خسران عظيم کې دي وجه الرد ظاهر.

نُزُلًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ

هم دغه جنتونه او نعمتونه د جنتو مهماني ده له جانبه څخه د خدای ﷻ.

پوه سه: چې "نزل" هغه ضيافت دی چې لپاره د ضيف نازل يې په کور کې مهيا کړي بقدر الوسع والطاقة. نو په نزل کې بيان دی د رفعت د شان د متقينو حيث جعلهم اضياف الله. او سړي دا قانون دی چې خير د ما عنده وما يقدر عليه ومهلمه ته اراسته کوي. فالله القادر المطلق يعد لاضيافة المتقين ما لاعين رئت ولا اذن سمعت ولا خطر على قلب البشر.

پوه سه: چې لفظ د "نزل" منصوب دی على الحالية من جنات والعامل فيه الظرف او بعض مفسران وايي چې لفظ د "نزلاً" مفعول ثاني د "جعل" محذوف دی. والتقدير جعل الله ذالک نزلاً.

وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّلْأَبْرَارِ

او هغه شی چې په نېز د خدای ﷻ دی من الثواب والجنة ودرجات القرب اليه تعالى والرضاء والرحمة بهتر دی تر نعيمو د دنيا بل من كل شئ لپاره د نېکانو بندګانو.

فائده: ځای خو د ضمير و يعنې خير لهم لكن اسم ظاهر يې په ځای کې د هغه وډراوه للمدح والتعظيم بلفظ الابرار. بخاري او مسلم د عمر بن الخطاب ﷺ څخه روايت کړی دی چې زه يو وخت ورغلم وحضور نبوي ته. نو عليه الصلوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسلام په بالا خانه کې پر یو بوریا باندې پروت و چې د بوریا او ددې د بدن مبارک تر منځ هیڅ شی یعنې کوربچه یا نالي نه وه، او تر سر لاندې یې د څرمنې بالښت و چې په مالیف د خرما و، او د پښو مبارکو سره یې یو څه بارک پراته وه، او د سر مبارک وخواته یې یو څو پوسته څړپدل. او ما ولیدل چې د بوریا تارو ددې په بدن مبارک کې نخښې کړې وې. نو عمر رضي الله عنه وایي چې ما وژړل، نو رسول الله ﷺ راته وویل "مایبکیک یا عمر؟" څه شي ته وژړولې اې عمره، فقلت ان کسری وقیصر فیماهمافیه. ما ورته وویل چې کسری یعنې ملک فارس او قیصر ملک الروم په هغه نعمتو کې چې دوی پکښې دي "وانت رسول الله ﷺ یې یعنې ستا داسې د ضیق ژوند دی. نو علیه الصلوة والسلام وویل چې دوی لره دنیا ده یعنې د دنیا جاه وجلال او نعمتونه دي، او موږ لره اخرت دی یعنې جاه وجلال او نعمتونه د جنت وي.

پوه سه: چې بغوي رحمه الله له عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام وویل چې دنیا بندي خانه او کاختي د مؤمن ده. نو چې دی له دنیا څخه ووزي نو د بندي خانې او قحطه خلاص سو.

پوه سه: چې نسائي له انس رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې څه وخت چې خبره د مرګ د نجاشي صاحب وملک الحبشه مدینې منورې ته را ورسېدی یعنې جبرائیل علیه السلام خبر راوړی، نو علیه الصلوة والسلام وخلګو ته وویل صلوا علیه لمونځ ورکړئ ونجاشي ته ومقصوده علیه الصلوة والسلام صلوة الجنازة، نو خلګو ورته وویل نصلي علی عبد حبشي فانزل الله تعالی هذه الآیة.

وَإِنَّ مِنْ أَهْلِ الْكِتٰبِ لَمَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَمَآ أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ وَمَآ أُنْزِلَ إِلَيْهِمْ خٰشِعِيْنَ لِلّٰهِ لَا يَشْتَرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا أُولٰٓئِكَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ إِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۱۹۹﴾

او په تحقیق بعض له اهل کتابو څخه چې مراد پر مذکوره شان نزول نجاشي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی چې پر دین د نصاری و او بیا مسلمان سو. یعنې په تبلیغ د هغو مسلمانانو چې حبشې ته یې هجرت کړی و، هغه کسان دي چې ایمان یې راوړی دی پر خدای ﷻ یعنې صحیح ایمان چې خدای ﷻ په توحید منې او صفات د جلال او جمال ورته وایي، او عیسی علیه السلام ابن الله نه بولي بلکې عبدالله ورسوله یې بولي، او ایمان لري پر هغه کتاب چې تاسي ته نازل سوی دی یعنې القرآن العزیز او پر هغو کتابو ایمان لري چې دوی ته نازل سوي دي من التوراة والانجیل والزبور، او دوی متواضعین او خاشعین دي وخدای ﷻ ته.

پوه سه: چې خاشعین حال دی له فاعل څخه د "یؤمن"

سوال: فاعل د "یؤمن" خو مفرد دی او "خاشعین" جمع ده؟

ځواب: جمعیت په اعتبار د معنی د من موصوله دی، او دوی نه رانسي په آیاتو سره د خدای ﷻ چې ددوی په کتابو کې وه ثمناً قلیل، لکه احبار او ملایانو د یهودانو د عصر نبوي چې نعوت د علیه الصلوة والسلام چې په تورات کې وه بدل یې کړه او له عوامو څخه یې ثمن قلیل تر لاسه کاوه کمامر مراراً، نو دغو کسانو لره مزدوري ددوی یعنې ثوابونه.

پوه سه: چې اهل کتاب چې ایمان پر علیه الصلوة والسلام راوړي دوی لره اجر مخصوص سته زائد پر هغه اجر چې له شرک څخه توبه وکاږي او ایمان پر علیه الصلوة والسلام راوړي کما اشیر الیه في قوله تعالی ﴿الذي نزل في مؤمني اهل الکتاب اولئک یؤتون اجرهم مرتین﴾ وکما یدل علیه الحدیث المتفق علیه المروي عن ابی موسی الاشعري ﷺ قال قال رسول الله ﷺ ثلاثة لهم اجران رجل من اهل الکتاب آمن بنبیه وآمن بمحمد الی اخیر الحدیث" او په تحقیق سره خدای ﷻ چابک یعنې په ډیره لږه زمانه حساب کونکی د ټولو انسانانو سره، ولې چې خدای ﷻ عالم دی د ټولو بندګانو په اعمالو سره او پر جزاء د عملو د خلګو هم علم لري، یعنې من الجنة ومراتبها والنار ودرکاتها، او خدای ﷻ نه مشغوله کوي یو حساب له بل حسابه، او خدای پاک وفکر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وهلو او تامل ته هم حاجت نه لري، په صحيح حديث کي راغلي دي چي خدای ﷻ په اندازه کي د نصف نهار د دنيا د تولو خلګو حساب ورخلاصوي. او هر سړی و اجر او ثواب ته ژر رسوي او کافران هم وعذاب معين ته ددوی لپاره ژر رسوي ان الله علی کل شیئ قدير.

دروښ وايي: چي د انس ﷺ او د جابر ﷺ رايه خو دا وه چي دا آيات په شان کي د نجاشي نازل سوی دی او په مستدرک کي له عبدالله بن الزبير ﷺ څخه منقول دی چي دا آيات په شان کي نجاشي نازل سوی دی، او بغوي رحمه الله وايي چي نجاشي چي په خپل ملک حبشه کي وفات سو، نو جبرائيل عليه السلام يې د موت خبر په هغه ورځ و عليه الصلوة والسلام ته راورساوه، نو عليه الصلوة والسلام وصحابه وو ﷺ ته وويل در ووزي يعني صحراء ته، نو ستاسي يو ورور يعني په اخوت اسلامي سره لمونځ د جنازې ورکړو، ولي چي دی ستاسي په مځکه کي نه سو مړ يعني په مځکه کي د غربت ستاسي څخه وفات سو، نو عليه الصلوة والسلام وجنت البقيع ته ورغلی او خدای ﷻ و عليه الصلوة والسلام ته دومره کشف ورکړی چي جنازه د اصحمة النجاشي يې په حبشه کي په ستر ګو وليدله، نو لمونځ د جنازې يې په څلور تکبيره ورکړی او بيا يې دعاء د مغفرت ورته وکړه، او منافقانو به ويل وګورئ وده ته يعني عليه الصلوة والسلام ته چي لمونځ د جنازې يې ورکړی يو حبشي نصراني ته چي ده ليدلی هم نه و او نه هم پر دين دده و، فانزل الله تعالی هذه الآية.

پوه سه: چي خصوص د شان نزول ددې آيتو د عموم سره د الفاظو د آيتو منافي نه دی، زما مطلب دادی چي احکام د عباراتو ددې آيتو پر نورو ورته کسانو هم جاري کېدای سي، او عطار رحمه الله وايي چي دا آيتونه په شان کي د اهل نجران نازل سوي دي چي تولـه نصاری وه او څلو پښت کسه وه چي دوو دېرش يې د حبشې وه او اته نفره يې د روم وه، نو تولو په يوه ورځ پر عليه الصلوة والسلام باندي ايمان راوړی، او ابن جرير له ابن جريح څخه روايت کړی دی چي دا آيتونه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په باره کې د ایمان د عبدالله بن سلام واصحابه ﷺ نازل سوي دي. او مجاهد رحمه الله وایي لکه عبارات ددغو آیتو چې عام دي دغسي په عمومي اهل کتابو کې نازل دي چې مشرفه په اسلام وګرځي والله اعلم بالصواب.

پوه سه: چې مور وویل چې علیه الصلوة والسلام جنازه د نجاشي آه. په دې سره هغه سوال دفع سو چې په فقه شریفه کې وایي چې غائب ته لمونځ نه دی روا، وجه الدفع ان جنازة النجاشي ليست بغائبة عن رسول الله ﷺ فتدبر.

دروبش وایي: چې په حدیث شریف کې چې له انس ﷺ څخه مروي دی داسې راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام ویلي دي که چا درې واره وویل چې خدایه ما جنت ته داخل کړې جنت وایي اللهم ادخله الجنة. او که یې درې واره پناه له اوره وغوښتل اور وایي اللهم اجره من النار فنسئل الله ان يجرنا من النار، ويدخلنا الجنة مع الابرار ويوفقنا الله الاعمال الصالحة المنجية. ويجعلنا من الفرقة الناجية آمين برحمتک يا ارحم الراحمين. او له ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې جبرائیل علیه السلام یوه ورځ و علیه الصلوة والسلام ته راغلی وقال ان ربک يقرئک السلام. ستا خدای وتاته سلام وایي ويقول مالي اراک مغموماً محزوناً څه سبب دی چې تا وینم غمناکه او خفه قال علیه الصلوة والسلام طال تفكري في امتي يوم القيامة. له دې زماني څخه زه فکر وهم پر حال د امت خپل په ورځ د قیامت کې، جبرائیل علیه السلام ورته وویل چې په حال کې د اهل کفر یعنې چې امت دعوت دی او که په حال کې د اهل اسلام یعنې چې امت اجابت دی. علیه الصلوة والسلام ورته ووویل في امر اهل لا اله الا الله محمد رسو الله، نو جبرائیل علیه السلام تر لاس ونیوی او مقبرې ته د بني سلمه یې وروستی، وروسته جبرائیل علیه السلام خپل رسته وزر پر یو قبر وواهه او وه یې ویل قم باذن الله. نو له قبره یو سړی را ووتی تک سپین مخ یې ووهو يقول لا اله الا الله محمد رسول الله. فقال جبرائيل يعنې مړه ته یې وویل چې بیرته خپل ځای یعنې قبر ته ولاړ سه، بیا جبرائیل علیه السلام بل قبر په چپه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وزر وواهه او وه يې ويل قم باذن الله، نو له قبر څخه يو سړی را ووتی تک تور مخ يې و او دا ناري يې وهلې وا حسرتاهُ وا ندامتاهُ، جبرائيل عليه السلام ورته وويل عد الی مکانک، نو جبرائيل ورته وويل يا رسول الله ﷺ پر دغه ډول ژوندي کېږي خلګ په ورځ د قيامت، نو ځکه عليه الصلوة والسلام وايي "تموتون کما تعيشون وتبعثون کما تموتون" سعدي شيرازي وايي.

کنون بايد ای خفته بيدار بود — چو مرګ اندر آرد زخوابت چه سود
تو پاک آمدی پر حذر باش وپاک — که ننګست ناپاک رفتن بخاک

حکايت: ابراهيم بن ادهم رحمة الله عليه اراده وکړه چې حمام ته ورسي، نو د حمامي چونکه فقير په خيال ورغلی، نو يې ورته وويل چې بېله اجر ته حمام ته نسې ورتلای، نو ابراهيم بن ادهم رحمة الله عليه وژړل چې حمامي ماته اجازه نه راکوي چې بيت الشياطين ته مفت ورسم، فکيف بالدخول الی بيت النبيين والصديقين والشهداء مجاناً يعنې مفت بېله عمل صالح.

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا

اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی صبر کوئ پر خپل اسلامي دين باندي، او پر سختو کارونو باندي د تکليفات الهيه و لکه لمونځ او روژه وغيرهما، او پر مخالفت د خواهشاتو نفسانيه وو، او پر محبت او طاعت د خدای ﷻ او عبادات د خدای ﷻ مه پرېږدئ په شدت او رخاکي او صبر کوئ پر جهاد د اعداء الله واعدائکم او پر فقر او امراضو او پر بلا ياوو.

پوه سه: چې "صبر" چې متعدي په "علی شيئ" يعني الصبر علی شيئ، نو توله عبادات تر لاندي کېږي او چې متعدي په "عن" سي يعني الصبر عن الشئ توله منهيات تر لاندي کېږي، او چې متعدي په لفظ د "في" يعني الصبر في الشئ، نو توله مصائب غمونه فقر او مسکنت وغيرها تر لاندي کېږي، فالصبر کلمة جامعة للدين کله فتامل في الامثلة التي ذکرناها فبعضها داخلة في الصبر علی الشيئ وبعضها داخلة في الصبر عن الشيئ وبعضها داخلة في الصبر في الشيئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَصَابِرُوْا

پوه سه: چې "صابروا" باب دی د مفاعلة او دلته په معناد مغالبه دی. والمعنى غالبوا اعداء الله في الصبر على شدائد الحرب فانهم يباهلون كما تباهلون وترجون من الله ما لا يرجون.

پوه سه: چې "صابروا" تخصيص دی بعد التعميم في اصبروا كما لا يخفى على من تامل فيما ذكرنا آنفاً.

فائده: مصابره په جهاد اصغر کې چې جنګ د اعداء ظاهري و سره وي لکه چې ضروري دی، دغه رنګه ضروري دی په جهاد اکبر کې جنګ له نفس سره، ولې چې نفس په طلب کې د دنیا وې هر مصائب او شدائد پر ځان وړي او په شهواتو نفسانیه وو کې بې هم، نو باید مسلمان په طلب کې د قرب الی الله د عقل سلیم تر ریاست لاندې تحمل د مشاقو د طاعات چې اعمال صالحه باقیه وي او ثواب په جنت او مرضاتو د الله تعالی سخت کوشش وکړي او پر نفس باندې ځان غالب وګرځوي.

وَرَابِطُوْا

او تاسي باید خپل ځانونه او خپل آسان په سرحدو کې چې ستاسي او د کفارو تر منځ دي ځانونه اماده باش وګرځوئ، دا خو د جهاد اصغر لپاره. او داغه رنګه ځانونه او بدنونه په ذکر کې د خدای ﷻ او په طاعاتو کې او صلوة بعد الصلوة په مساجدو کې لپاره د جهاد اکبر پر هیئت د اماده باش وساتئ تاچې ثغور د جهاد اکبر وساتل سي.

پوه سه: چې "ربط" جمع کول دي د اسانو د سرحد په ساتنه کې، او مرابطة لپاره د مبالغې دی یعنې کافران چې خپل سرحد په خپله او اسانو سره ساتي تاسي باید پر هغو ځانونه غالب کړئ.

پوه سه: چې بغوي رحمه الله له سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام وویل "رباط یوم في سبيل الله خير من الدنيا وما فيها الى اخير الحديث" او له سلمان رضي الله عنه څخه روایت دی چې علیه الصلوة والسلام وویل "من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ربط يوما وليلة في سبيل الله كان له اجر صيام شهر مقيماً ومن مات مرابطا اجرى له مثل ذالک الاجر واجرى له من الرزق واومن الفتان يعني الفتنة رواه البغوي رحمه الله ترمذي او ابو داؤد له فضالة بن عبيد رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چې عليه الصلوة والسلام وويل "كل ميت يختم على عمله" يعني هر سړی چې مړ سي عمل يې ختم کېږي "الا الذي مات مرابطا في سبيل الله فانه يعطى له عمله الى يوم القيامة ويامن من فتنة القبر يعني عذاب" وعن عثمان رضي الله عنه عن رسول الله ﷺ قال رباط يوم في سبيل الله خير من الف يوم فيما سواه من المنازل.

فائده: بغوي رحمه الله وايي چې ابو سلمه بن عبد الرحمن وويل چې د نبي عليه السلام په زمانه کې داسې غزا نه ده پېښه سوې چې په هغې کې دې مرابطه وه، ولکن په آيت کې له "رابطوا" څخه مراد انتظار الصلوة بعد الصلوة دی، ددې تاويل هغه حديث د ابوهريره رضي الله عنه دی چې مسلم او ترمذي يې روايت کړی دی قال رسول الله ﷺ وويل "الا اخبركم بما يمحوا الله به الخطايا ويرفع به الدرجات اسباغ الوضوء على المكاره وكثرة الخطا الى المساجد وانتظار الصلوة بعد الصلوة فذالكم الرباط فذالكم الرباط فذالكم الرباط.

دروښ وايي: چې هغه خبره چې بغوي رحمه الله له ابو سلمه بن عبد الرحمن څخه نقل کړې چې د نبي عليه السلام په زمانه کې الخ. که مقصود څنډې سلب کلي وي يعني هيڅ غزا په عصر نبوي کې نه ده پېښه سوې چې مرابطې ته دې ضرورت پيدا سوی وي، نو دا خبره صحيح نه ده، ولې په غزاء کې د احد کمامر تېره سوه چې عليه الصلوة والسلام پنځوس کسه په مشرۍ د عبد الله بن جبير رضي الله عنه په دره کې د احد کښېنول او ورته وه يې ويل ادفعوا عنا بالنبل آه. خو دا عين مرابطه وه يعني دفع د دښمن کوله، او که رفع د ايجاب کلي وي يعني چې په هره غزاء کې د نبي عليه السلام ومرابطې ته ضرورت نه دی پيدا سوی فهو صحيح.

وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ۝

او له خدايه وېرېږي په هر فعل او ترک کې مثلاً په فعل کې د زنا او په ترک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي د لمانځه مثلاً له خدایه ببر ببرئ ددې لپاره چې تاسي به فلاح پیدا کړئ.

پوه سه: چې د فلاح معنا داده چې سړی پر محبوب شي برئ وروسته تر خلاصېدو له مکروه څخه پیدا کړي، مثلاً سړی په دخول کي د جنت کامیابه سي وروسته تر دې چې د مکروه چې دوزخ دی خلاص هم سي، وعلی هذا فقس.

پوه سه: چې لفظ د "لعل" چې لپاره د ترجي دی پر دې بنا، راوړه سو تاچې خلګو ته تنبیه ورکړي چې سره له تقوی اخیر کار معلوم نه دی صرف ترجي ده د فلاح تاچې مسلمان پر صرف امیدو باندې یعنې له عمل صالح او طاعت تکیه ونه کړي مثلاً په دې امید چې علیه الصلوة والسلام زموږ شفاعت کوي او خدای ﷻ ارحم الراحمین دی، سعدي شیرازي رحمة الله علیه وایي:

بجایکه دهشت خورد انبیاء　　تو عذری گناه را چه داری بیا

فائده: ابراهیم بن ادهم رحمة الله علیه روان و بیت الله شریفې ته پیاده، نو یو اعرابي پر اوښ سپور و په مخه ورغلی نو اعرابي ورته وویل ایې ترید یا شیخ؟ ابراهیم ورته وویل بیت الله ته ان شاء الله تعالی، نو اعرابي ورته وویل چې څرنګه به بیت الله ته ورسېږي او ته پیاده یې، ابراهیم رحمة الله علیه ورته وویل چې زه د پر د سپر تیا مراکب لرم، نو اعرابي ورته وویل چې ستا مراکب نو کومه دي، ابراهیم رحمة الله علیه ورته وویل چې پر ما چې یو مصیبت او تکلیف راسي رکبت مرکب الصبر، او چې ماته خدای ﷻ یو نعمت راکړي رکبت مرکب الشکر. او چې پر ما یو قضاء الهي راسي رکبت مرکب الرضی، او چې ما وبولي نفس ویو بد کار ته علمت ان ما بقی من عمري اقل مما مضی، نو اعرابي ورته وویل چې ته رشتیا سپور یې او زه پیاده یم، سر في بلاد الله علی تلک المراکب ومثل هذه المجاهدة هي المرابطة.

پوه سه: چې له بعضو صالحینو څخه نقل دی چې دوی به په هره شپه او ورځ کي یو قرآن کریم ختم کاوه، نو چا ورته وویل چې دونده تکلیف ولي پر ځان باندې کوې او خپل ځان دي په دونده مشقت کي ولي اچولی دی؟ هغه صالح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورته وویل چې څو دی عمر د دنیا؟ هغه ورته وویل اووه زره کاله، صالح ورته وویل چې څو دی عمر د قیامت د ورځې؟ هغه ورته وویل پنځوس زره کاله. هغه صالح ورته وویل چې که د سړي عمر اووه زره کاله سي فرضاً لکه عمر د دنیا نو پرده دا حق دی چې عمر د دنیا ټوله په عبادت کې د خدای ﷻ تېر کړي لپاره د هغه یوم طویل، ولې دا تکلیف نسبةً و تکلیف ته د یوم طویل اسانه دی.

حکایت: سعادة العدویة یوه صالحه ښځه وه، نو چې پر دې به ورځ راغله دې به ویل چې دا ورځ زما د مرګ ورځ ده، نو به دا په عبادت د خدای ﷻ اخته وه تر مانښامه پورې، او چې مانښام به سو دې به ویل چې ننه شپه زما د مرګ شپه ده، نو اکثره شپه به یې په عبادت تېروله الی ان ماتت علی تلک المرابطة فرحمهما الله. قال السعدي الشیرازي رحمه الله.

نگاه دار فرصت که عالم دمیست دمی پیش دانا به از عالمی است
سر از جیب غفلت برآور کنون که فردا نماند بخجلت نگون

وفي الحدیث الصحیح یو اعرابي راغلی و رسول کریم ﷺ ته او ورته وه یې ویل چې روژه نیسم د میاشتې د روژې او پنځه لمونځونه کوم او تر دې بالا عبادت نه کوم، ولې چې مسکین یم پر ما زکوة او حج نه دي فرض، نو که د قیامت ورځ راغله زه به په کوم ځای کې یم؟ علیه الصلوة والسلام ورته وخندل او ورته وه یې ویل چې ته وساتې ستا دوې سترګې له دوو شیانو څخه، یو نظر ومحرماتو ښځو ته یعنې په شهوت او بل وچاته په حقارت نه ګورې، او زړه دي وساتې له دوو شیانو څخه د غل او حسد څخه. او ژبه دي وساتې له دوو شیانو څخه، یو له درواغو بل له غیبت څخه تکون في الجنة.

پوه شه: چې دارمي رحمه الله له عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه روایت کړی دی "من قرء آل عمران في لیلة کتب له قیام لیلة" وعن مکحول رحمه الله قال من قرء آل عمران یوم الجمعة صلت علیه الملائکة الی اللیل رواه الدارمي.

الحمد لله رب العلمین والصلوة والسلام علی سید المرسلین محمد و علی آله واصحابه واتباعه اجمعین.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ النِّسَاءِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَسِتٌّ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ سَبْعُوْنَ وَأَرْبَعَةٌ عَشَرَ رُكُوْعًا

روی البیهقي في الدلائل عن ابن عباس رضي الله عنه قال نزلت سورة النساء بالمدينة كذا اخرج ابن المنذر عن قتادة رضي الله عنه.

يَاأَيُّهَا النَّاسُ

پوه سه: چې دا خطاب دی و هغو کسانو ته چې موجود په زمانه کې د علیه الصلوة والسلام وه او آینده نسلونه یې تابع دي. لکن د "ناس" لفظ پر بېخي عموم نه دی پاته، ولي چې د "ناس" لفظ خو شامل وهغو خلګو ته هم دی چې تر اسلام دمخه مړه وه، او هغه خو مامور زمونږ په شریعت سره نه دي بلکې د هغو تکلیف زمونږ په شریعت سره محال دی.

اتَّقُوْا رَبَّكُمُ

وبېرېږئ له خدای ﷻ څخه یعنې له عذابه د خدای ﷻ.

پوه سه: چې حکم د تقوی یې مربوط په "ربکم" سره کړی لپاره د تعلیل یعنې چې تربیه د خدای ﷻ تاسي لره علت دی د بېرې ستاسي له هغه مربي اعظم څخه.

دروښ وایي: چې بېره له عذاب څخه د خدای ﷻ مربوط په ایمان او اطاعت سره ده.

الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا

چې تاسي به پیدا کړئ بالذات او بالواسطة د یوه نفس چې مراد څنډي آدم علیه السلام دی، او پیدا کړې یې ده له هغه نفس څخه ماینه دده چې حواء رضي الله عنها ده.

پوه سه: چې "خلق" معطوف دی پر "خلقکم" باندي، په حدیث شریف

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي راغلي دي چي آدم عليه السلام چي خدای جل جلاله خلق کړی او په جنت کي يې ځای ورکړی. نو پر ده يې خوب مسلط کړی چي بيده سو. نو له چپه پښتی څخه يې حواء بالمد پيدا کړه. نو آدم عليه السلام چي راويښ سو د پېره ښائسته ښځه ورته ناسته وه. نو آدم عليه السلام ميل وهغې ته وکړی او الفت يې ورسره پيدا سو لکونها مخلوقة من جزء آدم.

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي عليه الصلوة والسلام وويل "استوصوا بالنساء خيراً" تاسي قبول د وصيت زما وکړئ په باره کي د ماينو د خير، يعني ښه ورسره کوئ او ډېر بوج مه پر راولئ. فانها خلقت من ضلع آدم عليه السلام، يعني پښتی خو کړه ده که ډېر زور ورسره وکړه سي ماته به سي الى اخير الحديث متفق عليه.

وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَّنِسَآءً

او نشر کړي دي خدای جل جلاله يعني پيدا کړي يې دي له آدم او حواء څخه ډېر نر او ښځي.

پوه سه: چي رجال يې په کثرت سره موصوف کړه او ښځي يې نه کړې. ولي چي حکمت الهي دا غواړي چي ښځي به تر نرو ډېري وي. ولهذا خدای جل جلاله ويوه سړي ته څلور ماينې روا کړي دي، يعني في ما عدا الانبياء عليهم السلام حتى چي د عليه الصلوة والسلام نهه (۹) ماينې وې او نورو انبياؤ ته تر نهه بالا ماينې روا وې.

سوال: لفظ د "كثيراً" ولي مفرد کړه سو او سره ددې چي موصوف "رجالاً" يې جمع دی؟

ځواب: افراد د كثيراً په اعتبار د تاويل د رجالاً د لفظ په جمعاً سره.

پوه سه: چي مقصود په قصه کي د خلق د آدم او حواء او بيا ددوی له دوی څخه د نرو او ښځو پيدا کول تمهيد دی و امر بالتقوی ته يعني چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سړی باید له خدایه وبیرېږي. ولي چې په دې قصه کې کمال قدرت د خدای ﷻ مذکور سو او ډېر لوی نعمت د خدای ﷻ دی پر نوع بشر باندې چې دا دواړه مقتضی دي له بېرې ځځه د خدای او اطاعت د خدای ﷻ، او په دې قصه کې چې چونکه ټوله انسانان د یوه مور او پلار اولاد باید یو له بله سره مراعات د حقوقو او صله رحمي سره وکړي، نو ځکه خدای ﷻ دا پر بناء کړه.

وَاتَّقُوا اللَّهَ

پوه سه: چې دا جمله عطف ده پر "اتقوا ربکم" باندې. نو حاصل د دواړو آیتو دادی چې یو خو له خدای ﷻ ځخه وبیرېږي په دې سبب چې ستاسي تربیه کونکی دی، او ستاسي نوع انساني یې پر احسن الصور پیدا کړې ده، او بل به دې خدای جمع کونکی د ټولو صفاتو د جلال او جمال دی کښا هو مدلول لفظ الله العلم للذات المقدسة. او له داسي ځخه هم باید ځوک وبیرېږي او هم یې اطاعت وکړي.

الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ

پوه سه: چې قرائت د اهل کوفه وو په تخفیف د سین دی. یعنې یوه "تا" یې ځندې حذف کړې ده لان الاصل تتسائلون و او باقي قراء یې په تشدید د سین وایي بادغام التاء في السین لقرب المخرج، والمعنی یسئل بعضکم بعضا، یعنې یو وبل ته وایاست د خدای روی مي درورې دی.

وَالْأَرْحَامَ

پوه سه: چې "والارحام" منصوب دی او عطف دی پر الله باندې والتقدیر "اتقو الارحام" یعنې من قطع الرحم والقرابة فیمابینکم. روی البخاري ومسلم عن عائشة ﷺ قالت قال رسول الله ﷺ "الرحم معلقة بالعرش تقول الامن وصلني وصله الله ومن قطعني قطعه الله" وعن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عبد الله بن عمرو ﷺ قال قال رسول الله ﷺ "ليس الواصل بالمكافي" نه دی وصيله کونکی هغه سړی چې د قريب د وصيلې مکافات ورکوي مثلاً يو قريب ستا مهماني وکړي، بله شپه ته هم مکافاتاً مهماني ورته وکړي، وامثال ذالک بل الواصل الذي اذا قطعت رحمه وصلها رواه البخاري بلکې واصل الرحم د قريب هغه دی چې قريب له ده څخه قطع کوي او دی وصل يعنې صله رحمي ورسره کوي، او په حديث متفق عليه کې راغلي دي چې له انس ﷺ مروي دی عليه الصلوة والسلام وايي "من احب ان يبسط له في رزقه وينسئا له في اثره فليصل رحمه" که د چا خوښه وي چې ده ته فراخي په رزق کې جوړه سي، او تاخير وکړي په اثر کې دده نو هغه سړی دي صله رحمي کوي.

او مسلم له ابو هريره ﷺ څخه داسي روايت کړی دی چې يو سړي د عليه الصلوة والسلام ته وويل چې زه قريبان لرم او زه ددوی سره صله رحمي کوم او دوی قطع د صله رحمي کوي او زه ښه ورسره کوم او دوی بد را سره کوي او که حلم ورسره کوم دوی زما سره په جهل خبري کوي. نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل که داغسي لکه ته چې وايي داسي دی لکه ته چې ددوی په خولو کې تودې ايرې ورکوې، او همېشه به ستا سره د خدای ﷻ له خوا کومک کېږي پر دوی باندې، مادمت على ذالک او کما قال رسول الله ﷺ.

فائده: حمزه رحمه الله عليه لفظ د والارحام په جر سره وايي او عطف يې بولي پر ضمير مجرور د "بِه" والتقدير يتسائلون به والارحام.

تفريع: په دې قرائت کې چې د قرآنو متواتره وو څخه دی دليل دی د کوفي نحاتو لپاره چې دوی وايي چې عطف پر ضمير مجرور بېله اعادې د جار روا دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا ۝

په تحقیق خدای ﷻ پر تاسي حافظ د اعمالو ستاسي دی، نو باید له خدای ﷻ څخه څوک غافله نسي، حاصل دا چي مراقب والي د خدای چي سبب دی په تقوی کي، او تقوی هغه عمده سبب دی د کرامت عظمی په دنیا او عقبی کي.

پوه سه: چي تقوی په عرف د شرع شریفي ساتنه د ځان ده له هغو شیانو څخه چي سړي ته ضروري وي په آخرت کي، او تقوی لره درې درجې دي.

(۱) د ځان ساتنه له عذاب مخلد في النار څخه، لکه چي په دې آیت کي مراد ده "والزمهم کلمة التقوی" یعني خدای ﷻ لازمه کړځولې ده د مؤمنانو سره کلمه د تقوی، یعني "لا اله الا الله" چي کلمه د توحید الهي ده چي د شرک په راګرځي چي شرک سبب دی د عذاب مخلد في النار.

(۲) ځان ساتل له هري ګناه کبیرې څخه او دوام پر صغیره باندي، او دا معنا متعارفه او مشهوره ده په خلګو کي چي دوی وایي چي فلانی سړی متقي دی، او دغه معنی مراد ده په دې قول کي د خدای پاک "ولو ان اهل القری آمنوا والتقوا لکفرنا ۝" که چېرې خلګ د وطنو ایمان راوړي او تقوی وکړي موږ به ورځوو یعني ددوی ګنهونه، ولي چي په دې آیت کي یې تر ایمان وروسته تقوی ذکر کړې ده، نو معلومه داده چي تقوی امر زائد پر ایمان ده.

(۳) درجه د تقوی ځان پاک ساتل دي د ټولو هغه شیانو څخه چي سړی له خداي ﷻ څخه مشغوله وي، وهو التقوی الکامل الحاصل للاولیاء الکمل وهو المراد في قوله تعالی "یا ایها الذین آمنوا اتقوا الله حق تقاته ۝" لکه دغه مرتبې ته چي ذی النون المصري اشاره کړې ده چي ده ته بعض وزیران د پادشاه د وخت راغله او له ده څخه یې دعاء وغوښتل چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

له سلطان الوقت څخه زه ډېر برېږدم. دعاء راته وکړه چې سلطان الوقت پر ما مهربان سي، نو ذو النون المصري ورته وویل که زه له خدای ﷻ څخه دومره بېرېدای لکه ته چې له سلطان الوقت څخه بېرېږې زه به له جملې څخه د صدیقینو بنده ګانو وای، ودې ته سعدي رحمه الله اشاره کړې ده

گر نبودی امید راحت ورنج　　پای دروېش بر فلک بودی
ور وزیران خدا بترسیدی　　همچنان کز مَلِک مَلَک بودی

پوه سه: چې اول لفظ د مِلک په کسره د لام دی او دوهم یې په فتحه دی، نو پر سالک د لاري د خدای ﷻ واجبه ده چې همېشه مراقبت د خدای ﷻ په دماغ کې ولري، ولهذا قال الله تعالى "ان الله كان عليكم رقيبا"

فائده: سلیمان بن علي رحمه الله علیه و حمید طویل رحمه الله علیه ته وویل چې ماته نصیحت وکړه، نو حمید رحمه الله علیه ورته وویل که ته په پټه د خلګو ګناه کوې او دا دې یقین وي چې خدای ﷻ په ما خبر دی چې زه دا ګناه کوم. نو دا خو پر خدای ﷻ ډېره لویه دلاوري ده، ولي چې د مخلوقه ځان پټ ساتې سره ددې چې خدای ﷻ په ځان خبر بولې، او که دې دا ګمان وي چې خدای ﷻ په ما نه دی خبر فقد کفرت.

حکایت: یو ولي ډېر مریدان او شاګردان درلوده، او ویوه مرید ته یې توجه ډېره وه او ډېر پر ګران و، نو نورو مریدانو ومرشد ته ګله وکړه چې مونږ دې ټوله مریدان یو او ستا توجه ټوله وفلاني مرید ته ده، نو شیخ ددوی د ګلې د دفع لپاره هر مرید ته یو یو مرغه په لاس ورکړی چې داسې ځای یې ذبح کړئ چې هیڅ څوک مو لاهم وه نه وینې، مریدان ولاړه او هر مرید کوشش کوی چې خپل مرغه په ډېر پټ ځای کې ذبح کړي او شیخ مرشد ته یې راوړي، نو هر یوه ذبح کړی مرغه وشیخ مرشد ته راوړی، مګر هغه ګران شاګرد او مرید مرغه ژوندی ورته راوړی، نو شیخ ورته وویل چې تا ولې مرغه ژوندی راوړی، هغه ورته وویل چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ناسي امر کړی و چې په داسي ځای کې مرغه ذبح کړئ چې څوک مو و نه
وینې، نو ما داسي ځای نه کړی پیدا. ولې چې هر ځای خدای ﷻ زه لیدم
یعنې پر ما یې علم درلودی، نو شیخ مرشد ونورو مریدانو ته وویل چې
له دې سببه دغه مرید ما ځان ته ټهر کړی چې دی خدای ﷻ په هر ځای
کې مراقب بولي. کما قال الله تعالی "وکان الله علیکم رقیبا"

حکایت: په بصره کې یو سړی و چې مشهور په مسکې سره و. په دې
سبب چې همېشه به دده د کالو او بدن د مشکو بوی تلی. نو له ده څخه
چې به چا پوښتنه وکړه چې ددې سبب څه دی؟ نو ده به دا قصه ورته وکړه
چې زه په کوچنیوالي ډېر ښائسته وم. نو زما پلار زه په کور کې لکه
ښځه داسي ساتلم او دباندې یې نه پرېښولم په سبب د خوف د اهل فسق.
نو وروسته زما د پلار قریبان زما پلار ته راغله چې ته مالدار سړی یې او
زوی دې د ښځو سره لوی کړی. نو که ته مړ سوې دا زوی به دې د خلګو
سره لکه ښځه په بیع او شراء نه پوهېږي. او لکه ښځه حیاء به پر غالبه
وي. نو زما پلار خپل عذر ورته ووایه. نو قریبانو ورته وویل چې ته یو
غټ دکان په بازار کې د بزازۍ را وباسه. او زوی دې سهار بیایې او مانبام
یې له ځان سره جوت راوله تاچې دی خرید او فروخت زده کړي. او خلګ
او ترانو وویني. نو د فاسقانو بېره به په کوم ځای کې وي. نو زما پلار هم
دغسه وکړه. نو دکان چې یې را ویستی د دکان داسي سودا کېدله چې په
ګرد ښار کې مشهوره سو. او نر وښځې به راتلې او کالي به یې رانیول زه
په ډول د دکان د شاګرد وم تانونه به مې ورته را اخستل. نو نر او ښځې
زما د ښائست له کبله زمونږ دکان ته راتله. رفته رفته یوه ورځ یوه بغره
والې ښځه او یوه سپینې سرې ورسره وه دکان ته راغلې. بغره والي ښځې
په وینا د سپینې سرې زما وپلار ته ویل فلانی بسته تان ټوکر راکړه او
فلانی تان سربسته راکړه مطلب دا چې د ډېرو پیسو سودا یې وکړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روپۍ. يې ټولې ورکړې يو څه لږ پر پاته سوې، نو زما وپلار ته سپين سرې وويل چې مور خو دا دونده درنه غوټه په شا نه سوو ورلاې. نو ته سنا شاګرد دی که دي زوی دی ورته ووايه چې دا غوټه زمونږ سره يوسي. او باقي مانده پيسې به هم په لاس ورکړو، نو چونکه سودا د ډېرو روپو وه نو پلار زه ورسره کړم او راته وه يې ويل چې ژر نو راځه ما هم غوټه ورسره په شا کړه، دوی دمخه زه په پسې يم اخير يوه کورته ورسېدلو چې دروازه يې د دباندې له خوا قلف وه، ښځو دروازه خلاصه کړه او ماته يې وويل چې ددنه سرای ته غوټه راوړه زه چې ور ننوتلم سپين سرې د دننه له خوا څخه دروازه قلف کړه، او بغره والي چې مخ لځ کړی ډېره ښائسته ښځه وه او ښه زيب او ښائسته زېور يې په ځان پورې ځړولي وه، ما ورته وويل چې دغه مو غوټه ده او زما د پلار باقي مانده روپۍ راکړئ، ښځې راته وويل چې ما چې دا دونده کالي رانيول ستا د راوستولو لپاره که نه نو ما دې کپړو ته څه ضرورت درلودی، وروسته دا ښځه پر يوه پلنګ راته پرېوتل او زه يې وخپلې سينې ته ورکش کړم، ما ورته وويل "الله الله الله" دې وويل هيڅ پروا مه کوه هيڅ څوک نسته بېله زما دې راهبرې سپين سرې، اخير مې ورته وويل چې زه اودس تازه کوم يوه ګډوه اوبه راکړئ چې زه چکر ووهم او استنجاء په ووهم، سپين سرې چابک ګډوه راکړه، او زه په مکان ننوتم، په غولو مې لاسونه ولړل او په مخ پوزې مې ومښورل او په غولو ککړ ورته را ووتلم، ښځې چې زه وليدم نفرت يې راسه وسواو چابک يې زما باقي مانده روپۍ راکړې او راته وه يې ويل چابک وزه او ښکنځل يې هم راته وکړه، زه را ووتلم او په يو نژدې مسجد کې مې مخ له غولو څخه پرېولی او د دکان پر خوا را روان سوم او دکان ته راغلم، مانبام چې بيده سوم يو مبارک سړی مې په خوب وليدی هغه راته ووېل "اين انت من يوسف بن يعقوب" يعنې اشاره يې وکړه وقصې ته د امرئة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العزیز او یوسف عليه السلام، او راته وه یې ویل چې ما پېژنې؟ ما ورته وویل یا، ده راته وویل چې زه جبرائیل یم، بیا دې سړي زما پر مخ او بدن لاس راتېر کړی او وه یې ویل تاچې د خدای ﷻ له بېرې مخ په مرداری ککړ کړی غیرت مند خدای ﷻ تاته د همېشه لپاره د مشکو بوی د بدن او د کالو درکړی په سبب ستا د تقوی د کارنامې.

دروېش وایي: چې ددې ځوان مضمون د "ان الله کان علیکم رقیبا" په زړه کې و، نو په هغه یې له زنا کولو څخه ځان خلاص کړی. اللهم الق مضمون الآیة في قلب العاصي الایوبي وقت المواجهة مع العصیان بفضلک وکرمک یا ارحم الراحمین.

دروېش وایي: چې دا و حاصل د آیت کریمه "ان الله کان علیکم رقیبا"

وَاٰتُوا الْيَتٰمٰٓى اَمْوَالَهُمْ

بوه سه: چې شان نزول ددې آیت مقاتل او کلبيَ داسې بیان کړی دی چې یو سړی د غطفان د قبیلې چې دده د ورور زوی یتیم و چې د هغه یتیم د پلار د پر مال د هغه د اکا سره و، نو دا یتیم چې بالغ سو او له اکا څخه یې خپل د مال مطالبه وکړه، نو کاکا منع ورته وکړه. نو ددې مرافعه و علیه الصلوة والسلام ته وسوه، نو مذکوره آیت نازل سو. نو اکا د یتیم چې دا آیت واورېدی، نو یې وویل اطعنا الله واطعنا رسوله ونعوذ بالله من الحوب الکبیر. نو د یتیم مال یې په لاس ورکړی. نو علیه الصلوة والسلام وویل "من یوق شح نفسه ویطع ربه فانه یحل داره" هغه څوک چې وساتل سي د بخل د نفس او اطاعت وکړي د خدای ﷻ لکه دغه ولي الیتیم چې وکړی نو دی به داخل سي خپل سرای یعنې جنت ته، نو هغه یتیم چې خپل مال له اکا څخه تر لاسه کړی هغه مال یې ټوله في سبیل الله مصرف کړی، فقال علیه الصلوة والسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"ثبت الاجر للغلام وبقي الوزر على والده" رواه الواحدي والثعلبي.

پوه سه: چې خطاب په آیت کې د اولیاؤ او وصیانو ته د یتیم دی.

فائده: یتامی جمع د یتیم ده چې من لا اب له ولا جد من جانب الاب. یتامی مشتق دی له یتیمه څخه چې معنا یې انفراد او یوازې والی دی.

سوال: یتیم خو هغه ته وایي چې بالغ نه وي. نو په هغه کې ورکړه د مال دده وده ته واجب نه ده بلکې ورکړه د مال خو هغه واجب ده چې دی بالغ سي. او هغه وخت خو دی یتیم نه دی؟

ځواب: تسمیه دده بالغ په یتیم سره مجاز دی په اعتبار د ماکان.

پوه سه: چې یتیم په انسانانو کې هغه سړی دی چې اب او جد نه لري کمامر. او په حیواناتو کې بې مورې ته وایي چې صغیر وي. او په جواهراتو کې هغه ته وایي چې مثل نه لري کما یقال درة یتیمة.

پوښتنه: لفظ یتیم خو لویو خلګو ته چې پلار او جد نه لري هم صادق دی؟

ځواب: هو! صادق خو دی لکن عرف او شرع خاص په صغیر پورې ګرځولی دی بدلیل قوله علیه الصلوة والسلام "لا یتمه بعد الاحتلام ولاصمات یوم الی اللیل" نه پته خوله کېدل تولې ورځ تر شپې پورې یعنې په نیت د ثواب، لکه بعض جاهلان صوفیان چې په اعتکاف کې تولې ورځ خبرې نه کوي، نو معنا د آیت بالاجماع داده چې ورکړئ اې اولیاؤ مالونه د یتیمانو ودوی ته اذا بلغوا.

وَلَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيثَ بِالطَّيِّبِ ۖ

تاسي مه بدلوئ ایها الاولیاء والاوصیا، چې مال د یتیم دی چې وتاسي ته حرام او خبیث دی، په حلال مال سره چې ستاسي ځپل مالونه دي.

پوه سه: چې سعید بن جبیر او زهري ؒ وایي چې اولیاء د یتیمانو به داسي کوله چې ښه چاغ پسه به یې د یتیم له مال څخه را واخستی او ځپل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ونګر پسه به يې د يتيم په مال کې ودراوه، او دا به يې ويله شاة بشاة يعنې په عوض کې د يتيم دپسه مې خپل پسه ورکړې، او يو جيد درهم به يې د يتيم له مال څخه واخستی او خپل ردي او ضعيف درهم به يې د يتيم په مال کې کښېښوی او ويل به يې درهم بدرهم. فنهوا عن ذالک بهذه الآية، او مجاهد رحمة الله عليه يې داسې ترجمه کوي چې ولي دې تلوار نه کوي په خورک کې د رزق حرام چې مال د يتيم دی دمخه تر دې چې وده ته مال حلال راځي د خدای جل جلاله له خوا يعنې دده رزق موعود چې دده ملک دی.

وَلَا تَأْكُلُوٓا أَمْوَالَهُمْ إِلَىٰٓ أَمْوَالِكُمْ

او تاسې مه خورئ مالونه د يتيمانو چې ضم يې کړې وخپلو مالوته يعنې د يتيم مال او خپل مال سره ګډ کړې او په دواړو يې خورې په دې سبب چې د يتيم خوراک خو لږ دی او ستا خوراک خو ډېر دی او ته يې علی السواء سره ګډوې. نو "الی" په معنا د مع دی کما روی ابن المنذر عن ابی قتادة رضي الله عنه.

إِنَّهُۥ كَانَ حُوبًا كَبِيرًا ۝٢

په تحقيق دا اکل ګناه ده لويه

ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې عليه الصلوة والسلام د اوو مهلکو ګنهو په جمله کې يو اکل مال اليتيم راوړی دی. بعض عارفان وايي "طوبی لبيت فيه يتيم وويل لبيت فيه يتيم" معنا يې داده چې خوشحالي دي وي هغه کور لره چې په هغه کې يتيم وي چې اهل بيت مراعات د يتيم د حق کوي. او هلاکت دي وي هغه اهل بيت لره چې په هغه کې حقوق د يتيم نه پر ځای کېږي، په صحيح حديث کې راغلي دي چې يو سړی و عليه الصلوة والسلام ته راغلی او ورته وه يې ويل چې زما سره يتيم سته پر کوم کار يې زه ووهم؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې پر هغه کار يې ووه چې پر هغه کار ته خپل زوی وهې. ومعنا الحديث انه لاباس ان تضربه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

للتاديب كما تضرب ابنک، ولذا نقل من فضيل بن عياض انه قال رب لطمة انفع لليتيم من اكلة خميص. فقيه ابو الليث السمرقندي رحمه الله به تنبيه الغافلين كي وايي كه سړی يتيم ته ادب پهله ضربه ورکولای سوای، نو وهي دي يې نه فان ضرب اليتيم شديد. قال عليه الصلوة والسلام "ان اليتيم اذا ضرب اهتز عرش الرحمن ببكائه" يتيم چې ووهل سي يعني بلا موجب التاديب وعدم نفع التاديب بالقول، نو په حرکت او ښورېدو سي عرش د خدای ﷻ په سبب د ژړا د يتيم "فيقول الله تعالى يا ملائكتي من ابكى الذي غيبت اياه في التراب وهو اعلم به" نو خدای ﷻ ووايي چې اې زما ملکو چا په ژړا کړی هغه څوک چې ما يې پلار تر خوارو لاندي کړی دی. يعني القبر او خدای ﷻ په خبر دی چې فلاني وژړاوه "تقول الملائكة ربنا لا علم لنا" ملکي ووايي چې اې زمونږ ربه. مونږ لره علم نسته دا قول د ملکو تادباً مع الله وي. نو خدای ﷻ ووايي ای زما ملکو تاسي شاهدانې اوسئ "ان من ارضاه ارضه من عندي يوم القيامة" سعدي شيرازي رحمه الله وايي

چوبيني يتيمي سرافگنده پيش مده بوسه بر روی فرزند خويش
يتيم ار بگريد که بارش برد وگر خشم گيرد که نازش خرد
الا تانگيرد که عرش عظيم بلرزد همی چون بگريد يتيم
اگر سايه خود برفت از سرش تو در سايه خويشتن پرورش

روی ان قال الله تعالى لداؤد النبي عليه السلام کن لليتيم کالاب الرحيم. واعلم انک کما ترزع کذالک تحصد.

وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَىٰ فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ

او که تاسي ويرېږدلاست چې مونږ به ظلم وکړو په يتيمانو ښځو. نو بيا يې په نکاح کړئ چې ستاسي خوښي وي يعني له بېګانه ښځو څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "قسط" عدل ته وایي او "تقسطوا" چونکه له باب ځخه د افعال دی، نو یې همزه د افعال لپاره د سلب دی وسلب العدل هو الظلم والجور فمعنی لاتقسطوا ان تجوروا.

فائده: لفظ د "یتمی" نر او ښځو دواړو ته ویل کېږي ففي قوله تعالی "وآتو الیتامی اموالهم" په قرار د شان نزول کمامر مراد ځندي نر دی، او په آیت کي "ان لا تقسطوا في الیتامی" مراد ځندي ښځي دي، روح البیان ددې آیت شان نزول داسي بیان کړی دی چې اهل جاهلیت او په ابتداء کي د اسلام هم داسي کوله چې یوه یتیمه نجلی چې ده ته به یې نکاح رواه وه لکه بنت العم، او ولي د نکاح به یې هم دی و په نکاح کوله لا لرغبة فیهن بل في مالهن، او بده ګڈاره به یې ورسره کوله په انتظار ددې چې اخیر چې مړه سي میراث به یې ماته پاته سي، او بعض علماء وایي چې دا آیت په حق کي د هغې یتیمي نجلی دی چې د ولي به یې په نکاح کول خوښ وه لکن پوره ولور به یې نه ورکاوه، په دې سبب چې دا ځو زما ځپله یتیمه ده، نو معنا د آیت داده "ان خفتم" که تاسي ببرېدلاست چې موږ به عدل نه کوو په یتیمانو ښځو یا په سوء العشرة سره لکه په اول صورت کي، او یا په عدم اکمال الصداق لکه په دوهم صورت کي، نو دا یتیماني پرېږدئ او بېګانه ښځي په نکاح کړئ چې ستاسي خوښي وي، او مظهري رحمه الله ددې آیت دونده شان نزول بیان کړی دی چې سړی ورته حیران سي چې خدایه په آیت کي به کوم شان نزول مراد وي، او دا وایي دا قول د فلاني دی او دا قول د فلاني دی وهکذا. او ډېر بې ځایه شان زول یې هم بیان کړی دی کما في اخیر ص۵. نعم، ماذکر المظهري في اول شان نزول الآیة المذکورة صحیح چې پښتو ژباړه یې داده بخاري رحمه الله په خپل صحیح کي د زهري رحمه الله چې هغه وایي چې عروة بن زبیر رضي الله عنه ده ته وویل چې ما پوښتنه وکړه له عائشې رضي الله عنها ځخه ددغه آیت په باره کي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دې ﷺ راته وویل چې دا آیت په باب کې د یتیمې نجلۍ نازل سوی دی چې په تربیه کې د ولي وي، نو رغبت کوي ولي چې په نکاح یې کړي یعنې چې ولي یې محرم نه وي لکه د اکا زوی، د رغبت سبب یې جمال او مال د یتمی وي، لکن د ولي دا اراده وي چې دا په نکاح کړي په کم تر مهر مثل د یتیمې، نو دوی یعنې اولیاء نهې سول له نکاح څخه د یتیمانو نجونو مگر چې پوره ولور ور نه کړي او دوی یعنې اولیاء په نکاح سره د نورو ښځو بېگانه وو مامور سوه، عائشې ﷺ وویل چې بیا خلگو فتوی د رسول الله ﷺ وغوښتل، نو خدای ﷻ دغه آیت نازل کړی "ویستفتونک في النساء قل الله یفتیکم الی قوله وترغبون ان تنکحوهن ؕ" نو خدای ﷻ په دې آیت کې دا بیان وکړی چې یتیمه ذات الجمال او مال وي دوی رغبت لري یعنې په نکاح یې کړي لکن پوره مهر المثل نه ورکوي، او که یتیمه نه ذات المال او ذات الجمال وه، نو دوی هغه پرېږدي یعنې نه یې په نکاح کوي بلکې په نورو ښځو پسې گرځي. عائشې ﷺ وویل لکه چې دوی یعنې اولیاء دغه یتامی نه په نکاح کوي چې دا یتیمان مرغوب عنها ددوی په سبب د قلة المال او جمال، نو دوی لرد نسته چې دغه یتامی دې په نکاح کړي چې دوی رغبت ورته لري یعنې په سبب مذکوره سره، مگر هغه چې ادنی د مهر مثل ور نه کړي وتعطوها حقها. او له حسن بصري ﷺ څخه منقول دي، دی وایي چې په مدینه منوره کې داسې کسان وه چې یتیمانې نجونې به یې درلودې او د دوی به طبعاً د هغو سره نکاح خوښه نه وه په سبب د عدم جمال لکن بیا به یې هم په نکاح کولې په سبب د مال تاچه بېگانه سړی په میراث راگډ نه سي.

دروښ وایي: چې هغه شان نزول چې مظهري ﷺ په اول کې راوړی په روایت د بخاري هغه شان نزول د نور گډوډ شان نزولونه چې ده رانقل کړي دي تهوله له منځه وړي، او د عدم صحة په داغ یې دا عذر کوي والله اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: کلمه د "ما" څو د غیر ذوی العقول لپاره ده. او په قرآن مبارک کې "ماطاب لکم من النساء" راغلی دی، او سره ددې چې ښځه څو د ذوی العقول څخه ده؟

ځواب: "ماطاب" په تاویل د صفت دی ای الطیبات. او نحات وایي چې کلمه د "ما" په صفاتو کې د عقلاؤ هم را تلای سي. او بل ځواب دادی چې ښځې نازل کړې پر منزله د غیر عقلا لنقصان عقولهن. کما جاء في الحدیث النبوي ﷺ لکه په مامملکت ایمانکم کې هم تعبیر ددوی په ما کړی دی.

دروښ وایي: چې دې توجیهاتو ته ضرورت نسته، ولې چې په شرح جامي کې وایي "من" لپاره د ذوی العقول رائي او کلمه د "ما" عامه ده.

دروښ وایي: چې د "ماطاب لکم" څخه مراد بالغات دي کما في قولهم طابت الثمرة اذا ادرکت چې په خه به سوه، لکن ددې تفسیر څخه اباء کوي کلمه د لکم، ولې چې که بالغات وای، نو مناسبه به دا وای فانکحوا ماطاب من النساء یعنې بالغه د ښځو بیله لفظه د "لکم" او بعض وایي چې معنا د ماطاب ماحل لکم من النساء اذ البعض منهن محرمات لکم کما في آیة التحریم، یعنې حرمت علیکم امهاتکم الی اخیر الآیة. دا تفسیر هم ضعیف دی ولې چې محرمات ښځې خو مسلمانانو ته معلومې دي. نو د هغو قصد د نکاح خو څوک نه کوي. الا ان یقال ان بعض المحرمات لا یعلمون اکثر العوام بحرمتهن حتی یسئلون في تحریم البعض عن العلماء، نو دې پر په زړه پورې او صحیح تفسیر یې دادی چې ماطاب لکم چې ستاسي نفس مهلا ن ورته کوي په سبب د حسن.

سوال: د سړي خوښه ښځه خو فرع ددې ده چې سړی یې پخپله وویني. نو بېګانه ښځې ته کتل خصوصاً چې پېغله وي څرنګه روا دی؟

ځواب: چې د سړي نیت د نکاح وي د بېګانه ښځې ومخ او لاسونه کتل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روا دی په نېز د فقهاؤ قبل النکاح دا کتل خو اجماعاً روا دی. او داؤد ظاهري وايي چي وتېوله بدن ته مخطوبي نظر روا دی ماسوی له فرجينو څخه.

دروېش وايي: چي کتل وښځي ته په مکتبيانو يا اسکوليانو ښځو کي ممکن دی ولي چي هغه د ستر پابنده نه دي. اما په پرده نشينانو خصوصاً د قری په ښځو کي خو دا کتل امکان نه لري. نو ځکه ددغو ښځو کتل په ذريعه د قريبانو ښځو د نر کړل کېږي. په حديث کي د جابر ﷺ راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام وويل اذا خطب احدكم المرئة فان استطاع ان ينظر الى ما يدعوه الى نكاحها اعني الوجه والكفين فليفعل. رواه ابو داؤد.

دروېش وايي: چي په عبارت د "ان استطاع" اشاره ودې ته ده چي په بعضو ښځو کي دا قدرت د خاطب نه وي چي مخطوبي ته دي پخپله وګوري كما ذكرنا في المخطوبات المستورات، وعن المغيرة بن شعبة ﷺ خطبت امرئة" ما مركه وکړه ويوې ښځي ته. نو عليه الصلوة والسلام راته وويل هل نظرت اليها" آيا تا دې ښځي ته کتلي دي ما ورته وويل لا قال عليه الصلوة والسلام فانظر اليها ته ورته وګوره. فانه احرى ان ان يود بينكما رواه احمد والترمذي والنسائي وابن ماجه والدارمي.

مَثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ

دوې دوې يا دري دري يا څلور څلور. او معنا يې داده چي هر سړي ته چي هر عدد مختاره کوي هغه دي مختاره کړي لان بعض تلك الاعداد لبعض وبعضها لبعض آخر.

پوه سه: چي دا دري لفظه معدول د متكررو اعدادو څخه دي. ثنتين ثنتين. ثلاث وثلاث. واربع اربع. نو په اتفاق د مفسرينو دا دري لفظه غير منصرف دي په سبب د عدل او د صفت. ولي ددوی اصول که اسماء عدد دي او صفات نه دي. لکن دا دري لفظه صفات واقع سوي دي ای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

موصوفة بكذا وكذا، آلوسي رحمه الله په روح المعاني کې پر دې داسې سوال کړی دی چې وصفیت د اسماء العدد څو عارضیه دی والوصفیة العارضیة لاتوثر في منع الصرف كما عرف في النحو. او بیا یې ځواب ورکړی دی چې وصفیت که څه عارضي دی په اصول کې ددوی لکن ثلاث وغیره د هغې معنا ځخه نقل سوه و وصفیت ته ففیها وضع ثاني. نو په دې اعتبار سره وصفیت اصلي وګرځېدی، او بعض مفسران لکه روح المعاني او بیضاوي په وجه د عدم انصراف دا وایي چې دوی مثلاً مثنى معدول د لفظ د ثنتین او له معنا ځخه د هغه اعني ثنتین مرةً بعد اخرى. وقد يبين علامة بغداد في روح المعاني تحقيقات اخر لو لا غرابة المقام وملاحظة حال المتعلمين لهذا التفسير لآتيت بها. او دا درې لفظه منصوب دي على الحالية من ماطاب چې مفعول د فانكحوا دی. دا څو مظهري رحمه الله وایي، او آلوسي رحمه الله وایي چې حال دی له فاعل ځخه د "طاب" چې مستتر ضمیر دی والاول هو الظاهر.

فائده: چې دا درې لفظه حال بولي نو دا درې لفظه نکره بولي وهذا مذهب البصريين، او کوفیان وایي چې دا درې لفظه معرفه دي بدليل عدم جواز دخول حرف التعريف عليها واضافتها، نو پر دې مذهب دا درې سره لفظه منصوب دي على البدلية من ماطاب.

فائده: روافض وایي چې ددغه آیت له مخې نهه[9] ماینې روا دي، دوی وایي چې عطف ددې درو الفاظو په واو سره سوی دی، والواو للجمع نو دوی یې معنا داسې کوي دوې ودرې وځلور والمجموع تسع، او خوارجو په دغه آیت استدلال پر دوی کړی دی چې اته لس ماینې روا دي دوی وتکرار ته د معنا ګوري، نو دوی وایي دوې ودوې دا یې ځلور او درې ودرې دا یې شپږ او ځلور وځلور دا یې اته چې جمع یې اتلس کېږي. او دا دواړه قوله باطل دي په نېز د اهل حق. اما قول الروافض وان كان ذهب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اليه النخعي و ابن ابي ليلى من اهل السنة والجماعة وهو جواز التسع. دليل د بطلان يې دادی فلانه خلاف عرف البليغ فلانه لايؤدي معنى التسع بلفظ ثنتين وثلاث ورباع كما لايخفى. بلكې معنا يې داده چې روا دي هر سړي ته دوې مايني او روا دي هر سړي ته درې مايني وهكذا څلور مايني. واما بطلان قول الخوارج فلان معنى مثنى وثلاث ورباع انه معدول عن عدد مكرر لايقف الى حد لا لمكرر مرتين او ثلث مرات او اربع مرات فمن قال لجماعة خذوا من هذه الدراهم مثنى معناه لياخذ كل واحد منها درهمين درهمين وليس المعنى لياخذ منها كل واحد اربعة اربعة كذا في المظهري وروح المعاني.

حكايت: په گرم سهر کې يو ځان وچې ډېر مور و حتى چې يوه لويه واله يوازې دده د مخكو لپاره وه. او اوس مړ دی دده اتلس مايني وې او دی زما ډېر شناخته و. نو زه يو وخت گرم سهر ته ورغلی وم او دده مېلمه وم. نو ما ده ته يوازې وويل "ما اوربدلي دي چې ته اتلس مايني لرې؟" ده راته وويل هو لرم يې. ما ورته وويل چې تر څلور بالا مايني ځو نه دي روا په اسلام کې د عليه الصلوة والسلام وامتيانو ته. نو ده که څه هم آنپر او سوچ امي و راته وې ويل چې په قرآن شريف کې داسي نه دي راغلي چې ﴿فانكحوا ماطاب لكم من النساء مثنى﴾ ما ورته وويل چې راغلي دي. ده راته وويل چې معنا يې څه ده؟ ما ورته وويل دوې دوې. ده راته وويل چې داخو يې څلور. او بيا ده وويل چې په قرآن مجيد کې "ثلاث" نه دي راغلي؟ ما ورته وويل راغلي دي. ده راته وويل چې معنا يې څه ده؟ ما ورته ووې درې درې. ده وويل دا يې شپږ. بيا يې راته وويل چې "رباع" نه دي راغلي ما ورته وويل چې راغلي دي ده وويل معنا يې څه ده ما ورته وويل څلور څلور. ده وويل دا يې اته. نو ده وويل چې څلور او شپږ او اته داخو اتلس کېږي. نو زه هم تر اته بالا مايني نه لرم. نو زه پوه سوم چې دا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خبري دده ملا خبيث په زده کړي دي لپاره د غورمالي دده.

مسئله: نه دی روا په نکاح کول تر څلورو پښځو بالا په نېز د څلورو امامانو د مذهب یعنی الامام الاعظم ابو حنیفه، احمد بن حنبل، محمد بن ادریس الشافعي او مالک بن انس رحمهم الله تعالی اجمعین، او په نېز د جمهورو مسلمانانو که څه هم مقلد د یو مذهب نه وي لکه اهل حدیث سلفیه وغیرهم، او بعض خلګ چې ځانونه له علماؤ څخه بولي دوی وایي چې هر څو پښځي سړي ته روا دي، دوی وایي چې دا قول د خدای تعالی ﴿فانکحوا ماطاب لکم من النساء﴾ دلالت پر عموم کوي یعنې هر څو پښځي چې وي.

پوښتنه: د لفظ "مثنی، وثلاث ورباع" څخه څو دا معلومېږي چې تر څلورو پښځو پورې نکاح روا ده، نو ولې دوی وایي چې هر څو روا دي؟

ځواب: دوی وایي چې دا تعداد پر عرف عام بنا، دی قید نه دی، لکه یو سړی چې بل ته وایي "خذ من هذا البحر قربة او قربتین او ثلثاً" نو په دې محاوره کې هم عرف کار فرمادی او قید نه دی، او دوی وایي چې که مونږ ومنو چې اعداد مذکوره قید دی، نو دوی وایي چې معنا د آیت داده اباحة النکاح للنساء وحال کونهم مثنی وثلث ورباع، وذا لایدل علی عدم حکم الجواز فیما زاد علی الاعداد الثلثة بمفهوم العدد ولا اعتبار لمفهوم العدد الا تری الی قوله تعالی ﴿جاعل الملائکة رسلاً اولی اجنحة مثنی وثلاث ورباع﴾ وهذا لایدل علی حصر اجنحة الملائکة علی الاعداد المذکورة، ولې چې په صحیح حدیث کې راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام جبرائیل علیه السلام ولیدی چې شپږ سوه وزرونه یې درلوده والاصل في النکاح العموم لقوله تعالی حین ذکر المحرمات من النساء واحل ما وراء، وذالکم، او شک نسته چې لفظ د ماوراء عام دی هر عدد ته شامل دی، او بل دغه بې دینه خلګ وایي چې د علیه الصلوة والسلام نهه ماینې وي، که ته ووایه چې دا خو خصوصیت د علیه الصلوة والسلام و، دوی وایي چې دلیل د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خصوصیت یې نو کوم دی، والاصل عدم الخصوصیة الا بدلیل.

دروښ وایي: چې ځواب د ائمة اربعة دادی چې دا آیت یعنې فانکحوا ماطاب لکم من النساء مثنی وثلث ورباع په باره کې د قیس بن حارث رضی الله عنه نازل سوی دی باجماع اهل الحدیث، بغوي رحمه الله علیه وایي چې قیس بن حاریث اته ماینې درلودې، نو چې دا آیت نازل سو نو علیه الصلوة والسلام قیس ته وویل طلق اربعاً وامسک اربعاً څلور ماینې دي طلاقې کړه او څلور پرېږده، نو قیس رضی الله عنه وایي چې ما به هغه ماینه چې زما څخه به لنګه سوې وه پرېښول او چې نه به وه لنګه سوې هغه په مې طلاقه کړه، نو مونږ وایو چې دا حدیث د قیس بیان د جانب د علیه الصلوة والسلام مراد د هغه آیت "فانکحوا ماطاب لکم" چې خصم استدلال په وایي کمامر، او شک نسته چې علیه الصلوة والسلام په مراد د خدای پاک په آیاتو منزله وو کې ښه خبر دی تر ټولو علماؤ د امت. نو اصل په نکاح کې تضیق او حرمت دی، ولې چې نکاح په حکم کې د رقیت د حره دی والمشروعیة لاجل بقاء النوع الانساني.

پوه سه: چې پر عدم حل د ما فوق الاربع هغه حدیث د ابن عمر رضی الله عنه هم دلالت کوي چې غیلان بن سلمه الثقفي رضی الله عنه اسلام راوړی او دده لس ماینې وې په جاهلیت کې، نو ټولو ماینو یې اسلام ورسره راوړی، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل امسک اربعاً وفارق سائرهن رواه الشافعي واحمد والترمذي وابن ماجه. او بل دلیل یې حدیث د نوفل بن معاویه رضی الله عنه دی، دی وایي چې ما ایمان راوړی زما پنځه ماینې وې فسئالت النبي صلی الله علیه وسلم فقال فارق واحدة وامسک اربعاً. نو ما هغه تر ټولو قدیمه ماینه چې د شپېتو کالو وه او وچه هم وه هغه مې طلاقه کړه رواه الشافعي او بغوي یې هم په شرح السنة کې روایت کړی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې دا و حاصل د ما في التفاسير المعتبرة المقبولة كروح المعاني والمظهري وروح البيان والتفسير الكبير وغيرها. مظهري رحمه الله وايي چې پر عدم جواز مافوق الاربع اجماع د امت سوې ده او په مقابل د اجماع قول د بعضو باطل دی.

مسئله: که یو سړی مسلمان سي او ماینې یې تر څلورو بالا وي او یا یې دوې خوندي په نکاح کي وي، او یا یې یوه ښځه او د هغې مور په نکاح کي وي كما هو المعتاد في زمن الجاهلية، او ټوله ماینې یې دده سره ایمان راوړي نو امام مالک، شافعي، احمد او محمد بن الحسن الشيباني رحمهم الله وایي که تر څلورو بالا وي، نو څلوري دي څندي مختاره کړي هري څلور چې وي او په دوو خوندو او یوې مور کي دي یوه مختاره کړي هغه بل دي پرېږدي. او امام اعظم رحمه الله وایي که په دغو صورتو کي ده دغه ماینې په یوه عقیده سره کړي وي، نو ټولې ورته حرامي دي. او که یې په تعاقب سره کړي وي، نو نکاح د مخکنی ماینې خو یې روا ده او د وروستنی ماینو چې په هغو سره جمع د اختین لازمېږي او یا زیادت پر څلورو راځي هغه نکاح وي یې ټولې باطلې دي، او که مور او لور وي او د دواړو سره یې وطي کړي وي د دواړو نکاح باطله ده لحرمة المصاحرة.

او د مریانو مسئلې چې بعض مفسرانو تر تحقیق لاندې نیولي دي په اوسنی زمانه کي یې په علم تفسیر کي ضرورت نسته. ولي چې مریان اوس نسته البته په کتابو کي د علم فقه ضرورت ورته سته لان الفقه مروي عن الفقهاء الاقدمين ولم يغيره المتاخرون منهم رحمهم الله تعالى الاقدمين والمتاخرين منهم. فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا

که تاسي ببرېدا ست ای هغه کسانو چې اراده د نکاح لري. پر دې چې مور په عدالت شرعي ونه کړو په منځ کي د دې پرو ماینو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَوَاحِدَةً

یعني فانکحوا واحدة، نو یوه ماینه وکړئ او دېرې ماینې مه کوئ. ولې په سبب د نه عدالت په عذاب کې د خدای ﷻ واقع نه سئ.

په صحیح حدیث کې راغلي دي چې که چا متعددې ماینې درلودې او دی د یوې وخواته مائل و، نو په ورځ د قیامت به په داسې حالت کې راسي چې یو طرف به یې مائل وي، نو دا علامه ده اهل محشر ته چې دې سړي متعددې ماینې درلودې او د یوې وخواته مائل و.

أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ

او یا په "ما ملکت" ایمان سره اکتفاء وکړې چې سرارې جمع د سریه یې بولي، ولې چې په سریه وو کې دونده حقوق نسته لکه په منکوحاتو کې او نه قسم حق لري او عدد یې هم محصور نه دی.

فائده: خدای ﷻ چې حصر پر یوه ښځه او یا په سریتو سره اکتفا. کول مربوط کړه په خوف سره د جور دلالت کوي پر دې چې که د یو سړي قدرت و پر مراعات د حقوق د زوجاتو متعدده وو او په ځان یې باور و چې زه به عدل وکړم، نو ماینې دې ډېرې وکړي یعنې الافضل الاکثار في النکاح، ولې اکثرو انبیاء کرامو علیهم السلام ډېرې زوجاتې درلودې.

مسئله: عدالت په متعددو ماینو کې صرف شپه تېرول دي د هرې یوې په خونه کې، او په محبت قلبي سره ګناه کار نه دی، لعدم الاختیار فیه، او نه دا شرط دی چې د یوې سره جماع وکړي د هغې په نوبت کې نو د هغې بلې سره به هم جماع کوي د هغې په نوبت کې لان الجماع مبني علی النشاط والنشاط خارج عن الاختیار کما لایخفی، نو ځکه په صحیح حدیث کې راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام به خدای ﷻ ته دا خواست کاوه چې دا قسم هغه دی چې زما په اختیار کې یعنې یوه شپه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یوې زوجې په خونه کې او بله شپه د بلې په خونه کې وهکذا. نو خدایه ته ما مه نسي په هغه شي سره چې هغه زما په اختیار کې نه دی یعنې المحبة القلبیة، ولې چې د علیه الصلوة والسلام د سیدتنا عائشة رضی الله عنها سره محبت ډېر و تر نورو ازواجو مطهراتو کما یدل علیه مطالعة الاحادیث الشریفة.

دروېش وایي: چې دلیل پر ما قلت هغه حدیث دی چې بخاري، مسلم او نورو محدثینو یې روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام په مرض الموت کې هم مراعات د قسط او نوبت د ازواجو مطهراتو کاوه حتی چې تر دا اندازې پورې و چې پر بل چا به یې تکیه کوله لکن دا به یې ویله "این انا غداً" یعنې زه سبا د چا په خونه کې یم حباً لبیت عائشة رضی الله عنها نو ازواج مطهرات چې په دې پوه سوې چې د علیه الصلوة والسلام سودا د عائشې رضی الله عنها په خونه کې ده نو ټولو په اتفاق وده ته اجازه ورکړه چې د مریضې شپې او ورځې دي د عائشې رضی الله عنها په خونه کې تېرې کړي، نو علیه الصلوة والسلام د عائشې رضی الله عنها په خونه کې باقیماند د شپې تر اجل موعود پورې تېرې کړې او په هغه خونه کې وفات سو او په هغه خونه کې دفن سو صلی الله تعالی علیه وعلی آله وصحبه وازواجه اجمعین آمین.

مسئله: پر هغه سړي چې شهوت یې ډېر وي او پر فتنه بېرېدې نکاح فرض عین ده په اجماع سره که یې قدرت پر مهر او نفقه باندې درلودی. او د هغه سړي لپاره چې له فتنې څخه نه بېرېدې نکاح مستحب ده عند القدرة پر مهر او نفقه ویدل علیه الحدیث الذي رواه البخاري ومسلم عن ابن مسعود رضی الله عنه قال قال علیه الصلوة والسلام چې اې ډلې د ځوانانو که د چا طاقت وي د نکاح فلیتزوج، نو هغه دي نکاح وکړي او که د چا طاقت د کوزدې نه وي یعنې په سبب د مسکنت وعدم القدرة علی المهر والنفقة فعلیه بالصوم نو هغه دي نفلي روژې ونسي ولې چې دا روژې لپاره د خصي والي دي یعنې شهوت او فتنه د شهوت ځندي دفعه کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې په يو طويل حديث کې چې بخاري او مسلم يې روايت کړی دی له انس رضي الله عنه څخه دا عبارت پکښې راغلی دی "لکني اصوم و افطر" زه نفلي روژې ګاهي نسم او ګاهي فطر کوم يعنې نه يې نسم واتزوج النسا. فمن رغب عن سنتي فليس مني. يعنې زما له تابعانو څخه نه دی.

دروښ وايي: چې معنا د رغبت داده چې يا همېشه نفلي روژې نه نسي يا مع القدرة نکاح نه کوي، او له ابی ذر رضي الله عنه څخه روايت دی چې عليه الصلوة والسلام عکاف بن خالد ته وويل هل لک من زوجة يعنې ته ماينه لرې؟ عکاف ورته وويل يا. عليه الصلوة والسلام ورته وويل منځه هم نه لرې چې قضاء شهوت په وکړې؟ عکاف ورته وويل يا. نو بيا عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې ته غنې يې په مال سره هغه ورته وويل هو زه غنې يم، نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل انت اذاً من اخوان الشياطين. ان سنتنا النکاح زمونږ سنت نکاح ده، او عليه الصلوة والسلام ورته زياته کړه شرارکم عزابکم وارازل موتاکم عزابکم آباء الشياطين. نو علماء وايي چې نکاح فرض عين ده پر قادر على الوطي والمهر والنفقة مع خوف من الفتنة.

مسئله: که سړي قدرت د نکاح درلودی من المهر والنفقة والوطي لکن که ده نکاح کړې وای دی به مشغوله وای په نفقه د زوجه او عيال په مزدوری او په يو کسب سره د کسبو، يعنې نفلي عباداتو ته من الصلوة والصيام والاذکار به نه فارغ کېدای، او که يې تبتل کړی وايي يعنې ترک د نکاح او خوف د فتنې هم نه درلودی او نوافل عبادات من الصلوة والاذکار والصيام والاعتکاف يې کولای سوای، نو کومه خوا افضله او بهتره ده؟ امام شافعي رحمه الله وايي چې په صورت مذکوره کې تبتل افضل دی تر نکاح. او امام اعظم رحمه الله وايي چې نکاح يې افضله ده لانه سنة جميع الانبياء عليهم السلام سوی يحيى بن زکريا عليه السلام ولانه عليه الصلوة والسلام قال تناکحوا وتناسلوا فاني اباهي بکم الامم يوم القيامة ولو بالسقط والحديث صحيح.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذٰلِكَ اَدْنٰٓى اَلَّا تَعُوْلُوْا ۝

"ذالک" ای الاکتفاء بالزوجة الواحدة او التسری، یعنې نږدې ده ودوی نه چې ستاسې ځخه به ظلم او میل نه صادرېږي، ولې په یوه ماینه کې خو ځای د ظلم نسته، او په سریه وو کې حق نسته ددوی چې جور پکښې متصور سي، او امام شافعي رحمه الله د "لاتعولوا" ترجمه په دې کړې ده چې عیال به مو ډېر نسي چې په نفقه یې نه رسېږي اما في الواحدة فظاهر بالنسبة الى الزوجات المتعددة، واما في السراري المتعددة فلجواز العزل منهن بدون اجازتهن یعنې په وخت کې د انزال ذکر له فرجه خارج کړئ او دباتدي ځان انزال کړئ تاچه حامله نسي پهله اجازې د سریه بخلاف الحرة فان العذل منها غیر جائزة بدون اجازتها.

پوه سه: چې بغوي رحمه الله پر امام شافعي رحمه الله باندې سوال کړی دی په تفسیر کې د "لاتعولوا" په کثرة العیال سره. بغوي وایي چې د کثرة العیال په باره کې خو اعال یعیل په باب د افعال ویل کیږي او په آیت کې خو لا تعولوا له بابه د مجرد دی. ابو حاتم په ځواب کې د بغوي رحمه الله داسې وایي چې امام شافعي رحمه الله په ژبه د عربو تر موږ ښه خبر دی، نو ښایي چې مجرد دي هم په معنا د کثرة العیال یو لغت وي د عربو. او بعض ځلګ وایي چې لغت د حمیر د قبیلې دی. او بیضاوي چې شافعي المذهب دی داسې وایي من عال الرجل عیاله یعولهم اذا مانهم ویعبر عن کثرة العیال بکثرة المون.

دروښ وایي: چې قول د بیضاوي هم جواب دی د سوال د بغوي فتدبر هداک الله لفهم مرام العلماء المتبحرین.

وَاٰتُوا النِّسَآءَ صَدُقٰتِهِنَّ

او ورکوئ اې ازواجو وماینو ته مهرونه ددوی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې مهر ته صدقه او صداق دواړه وايي.

پوه سه: چې د عاصي تفسير بناء دی پر مذهب د اکثرو مفسرينو يعنې چې خطاب وازواجو ته دی، او کلبي رحمه الله وايي چې دا خطاب دی واقرباؤ ته د ښځو من الاب والجد والاخ مثلاً. ولې چې ابن ابي حاتم له ابي صالح څخه روايت کړی دی چې يو سړي لور مثلاً ورکړه او ولور به يې پلار واخستی او لور ته به يې نه ورکاوه فنهوا عن ذالک بهذه الآية.

دروښ وايي: چې د ربيع الثاني په مياشت کې سنه ۱۴۲۷ هجري قمري يو ملا ډوله سړی چې د ښځو له خوا زما لپاره قرابت ورسره و خپل ماينه چې د اعصابو مريضي ورته پېښه سوې وه د ډاکټري علاج لپاره يې د کوټې ښار ته راوستلې وه، چې ماينه يې هم د يو لوړ عالم مدرس لور وه او دا عالم فعلاً په قندهار افغانستان کې مدرس دی او د ښځې مېړه هم د قندهار اوسېدونکی دی، نو شپې او ورځې ددغه مېړه او ماينې زمونږ پر کور وې، خير د ډاکټر علاج چې يې پای ته ورساوه او سبا کور ته روانېدله، نو هغه سړی سره د خپلې ښځې ماته راغله او دوی وويل چې ماته يو د صبر تعويذ را وکړه ماورته ووېل چې د څه شي د صبر تعويذ. دې ښځې راته ووېل چې زما مېړه زما څورلس کلنه لور پر دوو ښځو يو چاته چې هغه عمر رسيده سړی و په دوه لکهه روپۍ ورکړه، روپۍ يې ټولې وجېب ته واچولې او زما لور ته يې صرف شپږ چوړې کالي ورکړه چې هغه يو څو مياشتې وروسته زما لور ودوې، نو دې وويل چې ما ته ضعف د اعصابو هم زما د مېړه چې زما او د لور سره يې دېر ظلم وکړی راپېښ سو او مېړه د کوټې ښار ته د علاج لپاره راوستلم، نو دې وويل چې زما لور ته د صبر يو تعويذ راکړه چې دا صبر وکړي پر دوو ښځو او پر عمر رسيده مېړه باندې، نو دا حکايت چې ما وکړی د ابن حاتم د روايت تائيد دی چې ورته ظلمونه پر ښځو د پلار او د اقرباو له خوا اوس هم روان دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې زما د حکایت ظلم د جاهلیت د زمانې تر ظلم بد تر دی، او بغوي رحمه الله ددې آیت په شان نزول کې داسې وایي چې ولي د نکاح د ښځې چې دا یې په نکاح ورکړه چې دا ښځه به په قبیله او قوم کې شریکه وه، نو ددې له ولور څخه به یې دې ته نه قلیل ورکوی نه کثیر. او که به یې میړه بیګانه یعنې ددوی له قبیلې نه و. نو دا ښځه به یې پر وښې ورسپره کړه میړه ته به یې په لاس ورکړه. نور یې ددې د ولور هیڅ شی نه ورکاوه. فنهوا عن ذالک ونزلت هذه الآیة.

او بعض مفسرین وایي چې دا آیت په دې باره کې نازل سوی دی چې یو سړی وښل ته ووایي چې ته ستا خور مثلاً ماته په نکاح راکړه زه به خپله خور تاته په نکاح درکړم او ولور تر منځ نسته چې دې ته په عربي شغار وایي او په پښتو یې مخی بولي.

پوه سه: چې په نېږ د امامانو رح که یې په وخت کې د عقد داسې سره وویل چې بضع د هغې یوې مهر دی د بضع د هغې بلې. نو دا داسې نکاح باطله ده په نېږ د مالک. احمد وکذا الشافعي رحمهم الله تعالی.

دروښ وایي: چې زموږ د ټول صبا موخی داسې نه دي بلکې د هرې یوې لپاره لس لس درهمه مثلاً ولور وټاکي په وخت کې د عقد. او که یې داسې په وخت کې د عقد وویل چې زه خپله لور درکوم تاته په نکاح او ته به خپله لور راکوې ماته بې ولوره، نو دا نکاح صحیح ده په نېږ د شافعي رحمه الله او په دواړو کې مهر لازم دی خلافاً لمالک واحمد. او امام الاعظم رحمه الله وایي چې نکاح خو صحیح ده په دواړو صورتو کې او په دواړو صورتو کې مهر مثل لازم دی.

دروښ وایي: چې نور تفصیل د مسائلو د شغار واختلاف المذهب والدلائل في کتب الفقه. ماتولي مسئلې د شغار ذکر نه کړې لان کتابي هذا من کتب التفاسیر لا الفقه لکن په طور د مشت نمونه خروار بعض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسائل مي ذکر کړي لانهم قالوا مالا یدرک کله لا یترک کله.

نِحْلَةً

پوه سه: چې ابو عبیده رحمه الله تفسیر د "نحلة" داسې کړی دی ای عطا. من طیب نفس، نو پر دې تقدیر "نحلة" منصوب دی مفعول مطلق دی د "آتو اتیاء نحلة" او روح البیان یې تفسیر داسې کړی دی فریضة من الله تعالی لانها انما فرضه الله تعالی في النحلة ای الملة والشریعة والدیانة. نو نحلة منصوب دی حال دی له صدقاتو څخه ای اعطوهن مهورهن حال کونها فریضة من الله تعالی.

فَإِنْ طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَيْءٍ مِّنْهُ

که دې ماینو په خپله خوښه وتاسي ازواجو ته درکړي یو شی قلیل یا کثیر د خپلو ولورو څخه یا وروسته تر قبض یا دمخه.

پوښتنه: صدقاتهن" خو دمخه په صغیه د جمع راغلې و. نو منه مفرد ضمیر څرنګه ورته راجع سو؟

ځواب: د ضمیر د تذکیر وجه یې داده چې ضمیر وصداق ته راجع دی. چې مذکور په ضمن کې د جمع دی. او یا په هغه آیت کې چې "واتوا النساء صدقاتهن" معنی داده آتوا کل واحدة منهن صداقها یعنې هرې ښځې ته خپل صداق ورکړئ. نو ضمیر مفرد د "منه" راجع دی وصداق مفرد ته چې مفهوم د هغه آیت له معنی څخه دی.

نَفْسًا

پوه سه: چې "نفسا" تمیز دی له اسناد څخه د طبن وښځو ته او دا تمیز محول له فاعل څخه دی یعنې نفساً په معنی کې فاعل د طبن دی. فالمعنی ان طابت انفسهن في ذالک الایتاء. والحاصل ان وهبن لکم من الصداق شیئاً عن طیب نفس. یعنې هبه د شي د ولور په جبر او اکراه سره نه وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې خدای ﷻ شیئاً چې قلیل او کثیر او کل ګردو ته شامل دی ددې لپاره ذکر کړی چې مېړه دې ټوله ولوړ د هېچ او یاد اکثره د ولوړ طمع نه کوي که یې ماینې لږ څه ولوړ ور وبخښی نو دی به یې قبلوي ناراضه کېږي دي نه.

فَكُلُوهُ هَنِيٓـًٔا مَّرِيٓـًٔا ۝

نو تاسي مړونه به خوړئ یعنې اخلئ چې تاسي ته حلال دي شرعاً.

پوه سه: چې "هنيء" هغه مالوته وایي چې د سړي نفرت نه خندي کېږي، او بعض وایي چې "هنيء" وهغه مطعوم ته وایي چې سړی خوند پرې واخلي، او د مرئ معنی محمود العاقبة التام في الهضم الذي لايضره، چې په پښتو کې وایي دارو دي سه. نوشجان دي سه.

فائده: نصب د "هنيئاً مريئاً" پر دې بناء دی چې دوی صفت د مصدر محذوف دي ای اکلاً هنيئاً مريئاً او په ځای کې د موصوف ولاړ دي یعنې دواړه په ځای کې د مفعول ولاړ دي. داسي روایت راغلی دی چې بعض کسانو به ځان ګنهګار باله چې د ورکړي ولوره او یا موعود ولوړ څخه یو شی له ماینې څخه قبول کړي فنزلت هذه الآية.

پوه سه: چې په دې آیت کې دلیل دی پر دې چې مړونه دي په پر احتیاط کوي په قبلولو کې د هېچ د ماینې د ولوړ له مال څخه. نو که مېړه ماینې ته چم کړی و او یو څه ولوړ یې په بخښلی و. نو مایئه یې بیرته رجوع في الهبة کولای سي.

یو سړی و علیه الصلوة والسلام ته وویل چې زه چې کور ته ورسم مایئه مې مخ ته را ولاړه سي او داسي راته ووایي مرحباً یا سیدي وسید اهل بیتي، او که زما پټو پر اوږو وي هغه را څخه واخلي او زما اوږې را سپکې کړي، او زما له پښو څخه چوتي راکاږي، او که اثر د غم پر ما وویني نو دا وایي مایحزنک ان کان حزنک لاخرتک فزادک الله حزناً وان کان حزنک في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

امور الدنيا فكفاك الله، نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل يا فلان اقرئها مني السلام واخبرها ان لها نصف اجر الشهيد، وفي حديث صحيح ان جهاد المرئة حسن التبعل، جهاد د بنځي دادی چې د مېړه سره دي ښه ګزاره کوي، او بعض تجربه کاره خلګ وايي که مېړه حسن الاخلاق او تقوی داره سړی و، نو مايئه پر غالبه کېږي او که بې باکه او بد سړی و هغه پر مايئو غالبه وي، شيخ سعدي په بوستان کي داسي وايي.

چه نغزه آمد اين يک سخن از دوتن که سر گشته بودند از دست زن
يکی گفت کسی را زن بد مباد دگر گفت زن درجهان خود مباد
زن نوکن ای دوست هر نوبهار که تقويم پارين نيايد به کار

او مراد د سعدي دادی چې مايئه لکه جنتري داسي ده چې په هر اول حمل نوې کېده غواړي، ولي د تېر کار جنتري سړ کال په کار نه ده، نو مايئه هم په مثال د جنتري ده نوې کېده غواړي.

وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ

او تاسي مه ورکوئ وېې عقلانو ته که ستاسي ښځي وي او ستاسي کوچني زامن لانهم لخفة عقولهم يصرفون في غير وجهها او دوی دغه مالونه بې ځايه صرفوي.

أَمْوَالَكُمُ الَّتِي جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ قِيَامًا

هغه مالونه چې ګرځولي دي خدای ﷻ تاسي لره ستاسي سبب د معاش او تاسي روزانه چاري په هغو پر مخ بيا ياست، او ضحاک وايي چې تاسي په هغو مالو سره حج کوئ او جهاد په کوئ او نور اعمال د بر او نېکی لپاره ددې چې تاسي د هغو افعال البر په سبب ځان له اوره څخه په خلاص کړئ، او ابن عباس رضي الله عنه يې داسي تفسير کوئ چې تاسي مه ورکوئ هغه مالونه چې خدای ﷻ سبب د معيشت ګرځولي دي مايئې ته او يا زامنو ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعنې تصرفات د خپلو مالو د مایني یا د زامنو په لاس په مه ورکوئ.
یعنې مشرتوب د کور او د صرف الاموال د مایني او زامنو په لاس مه ورکوئ چې تاسي ددوی ولاس ته ګورئ بلکې پخپله یې صرفوئ او مشرتوب او انفاق د کور ته خپله په غاړه اخله او ته پخپله پر مایند او زامنو انفاق کوه او ددوی تربیه په کوه.

دروښ وایي: چې د ابن عباس رضي الله عنه د تفسیر سره دا قول د خدای ﷻ موافق دی.

وَارْزُقُوهُمْ فِيهَا وَاكْسُوهُمْ وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ۝

پوه سه: چې کلمه د "فې" په معنی د "من" ده، والمعنی چې تاسي رزق ورکوئ یعنې خوراکي مواد دوی ته له هغه مال څخه. او تاسي ودوی ته یعنې مایني او زامنو ته وایاست قول معروف په شرع کې یعنې زه ستاسي څخه خپل مال نه ګرځوم او پر تاسي یې صرفوم. لکن دادی چې ما د مال د صرفولو تناو پخپل لاس کې نیولی دی له دې سببه چې زه تر تاسي په کار ښه پوهیږم، نو په دې معروفه خبره به ددوی زړه ښه خوشحاله سي چې مېړه یا بابا خو بخیل نه دی بلکې په کار پوهیږي.

دروښ وایي: چې په اوسنۍ زمانه کې که څوک د دنیا کار وبار یعنې بیع او شرا او مشرتوب د مایني پر غاړه واچوي لکه بعض خلګ د پنجاب او یا د پښتنو بعض ازاد خیاله خلګ. نو مایند چې یې څه وخت بازار ته ولاړه سي که څه هم په بغره کې وي نو دا یو داسي دکان ته ورځي چې یو غوړ ځوان پر ناست وي او دکان ته ور ننوځي مخ لخ کړي او دکاندار ته ووایي چې زما فلانی او فلانی کپړه پکار ده او که ښځه ښځي سپین سرې نه وه، نو دکاندار چې ودې ته وګوري او دا دکاندار ته وګوري، نو لکه ترافک د ستر ګو په اشاره سره پوه سي، دکاندار ورته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ووایي چې په پس خانه کې د دکان ښې ښې کپړې پرتې دي، نو دکاندار خپل کوچنې وروړ یا شاګرد ته ووایي چې چاته سودا مه ورکوه زه صرف د پس خانې ښې کپړې وحاجاتی ته ورښکاره کوم، نو چې سره ښوزي نو چې زړه یې غواړي هغه به سره وکړي، او که څوک وزامنو ته د دنیا چاري پر غاړه ورکړي، نو بعض داسي زامنان سته چې د پلار په روپو زناء هم وکړي، او سینما خو یو عادي کار دی، او بعض زامنان به مال د بابا ذریعه د لواطت وګرځوي ولي چې په روپو هر کار کیږي، البته پلار دي و زامنو ته روزانه د جیب خرڅ ورکوي.

مسئله: که د یو سړي خوانان زامنان ډېر صالحان وه او د بدو کارو شوقیان نه وه بلکې د شریعت پابنده وه، او یا یې پلار ډېر سپین ږیری و چې د کار وبار د بیع او شراء طاقت یې نه درلودی، نو له جهته د مجبورۍ دي کار وزامنو ته وسپاري او همیشه دي وعظ او نصیحت ورته کوي.

پوه سه: چې عکرمه رضي الله عنه او سعید بن جبیر رحمه الله وایي چې دا آیت په باره کې د یتیمانو نازل سوی دی چې ددوی مال په لاس کې د ولي وي، نو خدای پاک و اولیاؤ ته د یتیمانو وایي چې ترڅه وخته دا یتیم صغیر وي او یا بالغ وي لکن سفیه، نو تاسي اولیاء ددوی مال په لاس مه ورکوئ او نفقه او کالي وغیره لکه دوا چې یتیم ناجوړ سي ورکوي.

سوال: په دې صورت کې خو اموال د یتیمانو دي، نو خدای جل جلاله څرنګه اضافت د اموالو و اولیاوته د یتیمانو وکړی حیث قال واموالکم؟

ځواب: اضافت د اموالو و اولیاؤ ته لپاره د ادنی ملابست دی، یعنې چې اولیاء یې مدبرون د اموالو د یتامی وو.

فائده: دا شان نزول موافق دی د دمخه آیتو او د وروسته آیتو سره چې تولې د یتیمانو په باره کې وه کذا قال الامام المظهري في تفسیره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې پر تقدير د عموم د شان نزول خو يتيمان پکښې داخل دي يعنې قوله تعالى ﴿ولا تؤتوا السفهاء﴾ فالعموم افيد.

پوښتنه: آيت چې په باره کې د يتيمانو سي او خطاب و اولياؤ ته د دوی سي، نو ولې خداى ﷻ داسې وويل ﴿وارزقوهم فيها﴾ او داسې يې نه وويل "وارزقوهم منها" لکه ظاهر چې د منها تقاضا کوي؟

ځواب: په "فيها" کې اشاره ودې ته ده چې اموال د يتيمانو دي ځای وگرځوي ددوی د رزق، او کسوة په دې معنا چې اولياء دي د يتيمانو په مال تجارت کوي او گټه پکښې کوي تاچې رزق او کسوة ددوی له گټې څخه سي او راس المال يې ددوی تر بلوغه پورې سالم پاته سي. او داسې دي نه کوي چې له راس المال څخه د يتيمانو څه څه را اخلي او پر دوی يې نفقه کوي لکه د لفظ "منها" چې دغه تقاضا وه فافهم هداک الله تعالى.

وَابْتَلُوا الْيَتٰمٰى

او تاسې امتحان وکړئ په يتيمانو يعنې په وخت کې د يتيم والي قبل البلوغ چې عقل ولري يعنې لږ لږ روپۍ ده ته په لاس ورکړئ ورته واياست چې ولاړ سه په بازار کې تجارت په وکړه تاچې حال يې معلوم سي چې رشيد دی که سفيه، نو په دې دول يې حال معلومېږي.

فائده: دا آيت دليل دی د ابو حنيفه رحمه الله د مذهب چې روا دی اذن د تجارت وصبي عاقل ته، خلافاً للشافعي رحمه الله دی وايي چې اذن د تجارت وصبي ته که څه هم عاقل وي روانه دی، او ده تاويل د آيت په خلاف الظاهر تاويل سره کړی دی فارجع الى كتب الفقه خصوصاً كتاب الفقه على المذاهب الاربعة.

حَتّٰى إِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ

تر هغه وخته پورې چې دوی صالح د نکاح گرځي، د نر د نکاح صلاحيت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په احتلام سره دی یعنې چې اودس پر واوړي. او بل په دې سره چې ماینه لرې هغه امیدواره سي. او یا د ماینې سره وطي وکړي او انزال سي. او د ښځې بلوغ یا په حیض معلومیږي او یا چې یې شیطان خطاباسي چې احتلام ورته وایي او یا امیدواره سي.

پوښتنه: ښځه هم احتلام لري؟

ځواب: هو! و علیه الصلوة والسلام ته یوه ښځه د انصارو راغله اول دې ښځې وویل ان الله لایستحي من الحق یعنې ان الله لایامر بالحیاء من سوال الحق دا دي تمهید وکړي د سوال د حیاء. نو دې وروسته ورته وویل چې یا رسول الله ﷺ پر ښځې غسل سته چې شیطان یې خطاباسي په خوب کې؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل نعم! له ازاجو مطهراتو څخه یوه ناسته وه هغې ورته وویل لقد فضحت النساء. یعنې ښځې دې رسوا کړې. آیا ښځه هم شیطان خطاباسي؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل هو فبم یشبها الولد. نو ولې ګاهې عیال د مور وخوا ته ګیږي. د علیه الصلوة والسلام مطلب داو چې د عیال شبه د نطفې تابع ده. نو معلوم داده چې ښځه هم نطفه لري. نو لکه په وخت کې د وطي چې دا انزالیږي یعنې کما هو معلوم لجمیع النساء. نو دغه رنګه په خوب کې هم احتلام ورپېښیږي نو غسل پر واجب دی.

پوه سه: چې نر خو ویلای سي چې ماته شیطان بازي راکړې ده او ښځې شرمیږي دا نه سي ویلای. نو په هغه شپه یا ورځ چې یې شیطان خطاباسي دا په کور کې وایي چې سر او بدن مي وهر خیرن دی کشکي مي سر او ځان پرپولی وای. نو ورسي وغسل خانې ته د احتلام غسل په پته وکړي.

دروښ وایي: چې دا حدیث طویل دی چې بخاري او نورو اهل حدیثو په طول سره روایت کړی دی واکتفینا بالقدر المذکور في جواب السوال المذکور

حکایت: د امام رازي رحمه الله علیه په زمانه کې یوه ښځه لنګه سوې وه چې نیم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بدن د مولود يې د انسان او نيم بدن يې د مار و. ځلګ ورته حيران وه چې دا څرنګه مولود دی، نو امام رازي رحمه الله هغې ښځې ته ورغلی او هغې ښځې پرده وکړه. نو امام رازي ورته وويل چې ښځې ته حيا، منه کوه ماته رشتيا ووايه چې اخيري جماع د مېړه چې وروسته تر هغه ته ميندواري سوې پر څرنګه حالت وې؟ ښځې ورته وويل چې څرنګه ته امام مسلمين يې نو به رشتيا درته ووايم. اخيري وطي زما د مېړه زما سره په وخت کې د غرمې وې او زمونږ خونه د لرګو وه مېړه چې زه پرې ايستلم ما چې لوړ کتله په لرګو کې د بام مار ګرځېدی، نو مېړه مې د ځپله شوقه نه ايستی لکن زما تېوله فکر تر اخيره د جماعو په مار کې و چې را باندې را شوه نه سې. امام ورته وويل چې همدغه سبب دی چې ستا د مولود نيم جسد د مار سو، ولې چې د مېړه فکر خو په مار کې نه هغه خو کښتل کتل. والله اعلم بحقيقة الحال كذا في بعض كتب التواريخ. ولنرجع الى بعض تفصيل الآية المذكورة.

دروښ وايي: چې کله هغه علامې چې په بلوغ کې د نر او ښځې نه سوې معلومې، نو د سِن په اعتبار اخيري نېټه د بلوغ د نر او ښځې پنځلس کاله دی په نېز د امام مالک، امام احمد، امام شافعي او ابو يوسف رحمهم الله تعالى وهو رواية عن ابي حنيفة رحمه الله وعليه الفتوى.

پوه سه: چې ددې معنا داده چې اخيري مده په اعتبار د سن پنځلس کاله دی، او مشهور قول د امام اعظم رحمه الله دادی چې په ښځه کې سن د بلوغ اوولس کاله او په نر کې اتلس کاله دی. په بخاري او مسلم کې د ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې زه و عليه الصلوة والسلام ته پېش کړه سوم په غزاء کې د احد او زه د څورلسو کالو وم، نو په فوج کې يې نه کړم قبول. او په غزاء کې د خندق يې ورپېش کړم او زما عمر پنځلس کال و، نو يې قبول کړم.

پوه سه: چې د سپو خځې د وېښتانو شنه کېدل هم علامه د بلوغ ده لکن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په کافرانو کي، او امام اعظم وايي چي هغه ته اعتبار نسته، ابو قريظه وايي چي هغه وخت چي عليه الصلوة والسلام بني قريظه فتح کړه او امر يې وکړی چي بالغان نران دي ووژل سي او نابالغه نر او ښځي دي مريان او منځيانې سي، نو ابو قريظه وايي چي په ماکي شک و چي بالغ يم چي مړ به مي کړي او که به نابالغ يم چي سبي مي کړي يعنې مريی، نو زما سپوخسه يې وکتل وښتان نه وه باندې، نو قتل يې نه کړم بلکې سبي يې کړم.

دروښ وايي: چي ما په بعضو شرحو کي د کتابود فقهي شريفي داسي ليکلي دي چي ادنی موده د بلوغ د ښځي نهه کاله ده بالاجماع. ددې معنا دا نه ده چي ښځه چي د نهو کالو سي نو په فرائضو د اسلام دا مکلفه ده، بلکې معنا يې دا ده چي په عمر د نهه کاله ښځه حمل اخستلای سي ويوړيده ما روی بعض العلماء چي اني وجدت يعنې دی وايي ما وليدله يوه ښځه چي پر يوويشت کاله انا يعنې حده گرځېدلي وه، نو د هغه صورت دادی چي يوه نجلی چي د نهو کالو سوه ښله دې چي دې دې حيض ليدلی و پلار مثلاً په نکاح يو چاته ورکړه او مېړه يې ورسره يو ځای کړی، نو مېړه چي جماع ورسره وکړې او دا په اوله جماع سره حمل اړه سوه، وروسته تر نهه مياشتي يې لور راوړه. نو هغه لور چي يې د نهه کالو کېدله مېړه ته يې ورکړه او هغه جماع ورسره وکړه او پر نهه مياشتي لنگه سوه. نو هغه اوله ښځه انا سوه پر يوشت کاله. وهذا من النوادر الصحيحة والله على كل شيئ قدير.

فَإِنْ آنَسْتُمْ مِّنْهُمْ رُشْدًا

نو تاسي وليدی په دې يتيم کي هدايت في تصرفات الاموال بالبيع والشراء او هدايت په معاملاتو کي كذا قال ابو حنيفة ومالک واحمد رحمهم الله وقال الشافعي رحمه الله المراد صلاح في الدين والمعاملات جميعا فالبالغ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الفاسق غير رشيد عند الشافعي رحمه الله.

دروښ وايي: چې روح البيان پر مذهب د شافعي رحمه الله تفسير کړی دی حيث قال ای صلاحاً في دينهم واهتداء الى وجوه التصرفات المالية بالبيع والشراء، او روح المعاني يې تفسير په دا ډول کړی دی ای اهتداء الى ضبط الاموال وحسن التصرف فيها، او صلاح في الدين و التصرف في الاموال يې په قيل سره راوړی دی.

دروښ وايي: چې مقصود دلته په آيت کې خو دفع د اموالو ده کما سيئاتي في القرآن، نو صلاح د دين په دفع سره د اموالو څه اړه لري لان الفاسق اهل للتصرف في الاموال بالبيع والشراء والهبة بلکې مقصود په آيت کې دادی چې دغه يتيم خپل مال ساتلای سي چې ولي يې په لاس ورکړي، نو مراد له رشيد څخه هدايت د تصرفاتو د حفظ المال دی وعدم التبذير فيه نو مذهب د ائمة ثلاثه وو اعني ابو حنيفه ومالک واحمد رحمهم الله قابل د اعتبار دی فقط، او بيضاوي چې شافعي مذهب دی رشيد د دين يې نه دی معتبر کړی او يو مجمل تفسير يې کړی دی. واما الحديث الذي اورده المظهري رحمه الله حيث قال روى البيهقي من طريق علي بن طلحة عن ابن عباس رضي الله عنهما في قوله تعالى "آنستم منه رشداً" معناه علمتم منهم صلاحاً في دينهم وحفظا لاموالهم، فلعل الائمة الثلاثة ظهر لهم الانقطاع في السند الى ابن عباس رضي الله عنهما ولهذا لم يعملوا به والله اعلم.

فَادْفَعُوٓا إِلَيْهِمْ أَمْوَٰلَهُمْ ۖ

نو ورکړئ ويتيمانو ته ددوی مالونه من غير تاخير عن البلوغ.

پوه سه: چې "فادفعوا" جزاء ده د "ان" شرطي "واذا بلغوا" ظرف دی متضمن معنا لره د شرط دی متعلق دی په "ادفعوا" پورې او مجموع شرطيه ده "ان آنستم آه" جزاء ده د "اذا" چې متضمن معنا لره د شرط و، او "حتى" لپاره د ابتداء دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې دفع د اموالو د يتامى مشروطه په دوه شرطه سره ده البلوغ واينـاس الرشد. نو له دې کبله امام شافعي، امام مالک، امام احمد، امام ابو يوسف او امام محمد رحمهم الله تعالى وايي چې ابدا دې اموال د يتامى ودوى ته نه ورکوي چې اينـاس الرشد په دوى کې نه وي پيدا سوى. او د امام ابو حنيفه رحمه الله مذهب دادى چې يتيم چې د پنځه ويشتو کالو سو مال دې په لاس ورکوي که څه هم رشد د تصرف في الاموال په ده کې نه وي. امام رحمه الله وايي چې منع د مال د يتيم څو له سبب د بقاء ده اثارو د صغر وه په ده کې په اول کې د بلوغ. نو په مرور د زمانې څو هغه اثار د صبي دفع کېږي فلا يبقى لمنع المال من اليتيم سبباً. او د امام اعظم رحمه الله دليل دادى چې که چېرې دا صبي يتيم چې بالغ سو رشيد و. نو مال وده نه ورکړه سو وروسته سفيه سو نو مال بيرته نه ځندي اخستل کېږي بالاجماع لانه ليس باثر الصبى بل هو مرض لحقه بعد زمان. او امام اعظم رحمه الله وايي چې "رشداً" چې يې نکره راوړې لپاره د تقليل دى. يعنې چې په ده کې يوه نوع د رشد پيدا سوه مال دې په لاس ورکړي او تر تمام د رشد دې نه ځنډوي. نو امام اعظم رحمه الله وايي چې که په يتيم کې رشد نه و حتى تر پنځه ويشت کاله پورې. نو مال دې حتماً په لاس ورکړي. ولې چې ګاهې نر پر پنځه ويشت کاله نيکه ګرځېدای سي. نو خامخا پر پنځه ويشت کاله په ده کې يوه نوعه د رشد پيدا کېږي البته تام رشد به نه وي او تام والى د رشد څو نه دى شرط كما يدل عليه التنكير في رشد كما سبق آنفاً او منع د مال له سفيه څخه څو په سبب د تاديب وه ولاتاديب بعد هذا السن ظاهراً او غالباً. نو منع يې فائده نه لري.

فائده: عاقل سړي لره پکار دى چې د چا حق ونه خوري خصوصاً مال د يتيم فان اكله من الكبائر.

مسئله: که يو سړي په يو حق د حقوقو د بندګانو سوا، كان من قسم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الاموال بالغصب والسرقة او الخيانة في الامانة او غير الاموال كالغيبة والبهتان والنميمة والشتم والضرب وغير ذالک نو پر هغه لازم ده چې دمخه تر تلو ودار السوال ته يعني اخرت ته له هغه سړي څخه عفوه او بخښنه وغواړي، وفي الحديث الصحيح "من كانت عنده مظلمة لاخيه او شيئ" که دي د سړي سره يعني دده په ذمه کې ظلم پر ورور مسلمان. او يا بل شی لکه غيبت مثلاً "فليتحلله منه اليوم" نو د هغه حق د ورور نن يعني په ژوند کې دي ځان خلاص کړي "من قبل ان يكون دينار ولادرهم" يعني دمخه تر ورځې د قيامت چې په هغه ورځ به نه دينار او نه درهم وي يعني چې دی ځان په خلاص کړي "ان كان له عمل صالح اخذ منه بقدر مظلمة" نو که دې سړي يعني ظالم لره عمل صالح و نو په قدر د ظلم دده هغه عمل صالح ومظلوم ته نقل کېږي "وان لم يكن حسنات اخذ من سيئات صاحبه فحمل عليه" او که ده لره حسنات نه وي. نو د ګنهو د صاحب دده يعني المظلوم اخستل کېږي پر ده غورځول کېږي "ومن اجتمعت عليه مظالم وقد تاب وعسر عليه استحلال ارباب المظالم" او که د ظالمه سره جمع سوه دې هر ظلمونه يعني پر خلګو او ده توبه وکښل له آينده ظلمه او ده ته ګرانه وه چې د ټولو مظلمو مانو څخه ځان ته عفوه او بخښنه وغواړي يا په سبب د عدم حضور د هغو او يا بعض د هغو مړه وه او يا دی ځندي بېرېدی په عفوه غوښتلو کې "فليكثر من حسناته ليوم القصاص" نو هغه سړی دی په ژوند کې دې هېڅ نېکی کوي لپاره د ورځې د کسات اخستلو "وليكثر ببعض الحسنات بينه وبين الله تعالى بكمال الاخلاص حتى لا يطلع عليه الا الله" او دی پټ کوي بعض حسنات په منځ کې دده او د خدای پاک په دې اخلاص سره حتی چې علم ونه لري پر دغو حسناتو بېله خدايه يعني هيڅ له بندګانو او انسانانو څخه يعني که څه هم کرام کاتبين دي په خبري وي "فعساه يقربه الى الله" نو شايد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دغه بعض حسنات به دی نژدې کي وخدای ﷻ ته "فینال به لطفه الذي ادخره لارباب الایمان" نو دی به پیدا کړي په دغو بعضو حسناتو سره مهرباني د خدای ﷻ چي خدای پاک ذخیره کړي لپاره د اصحابو د ایمان یعني الایمان الکامل المرتب علیه الاخلاص التام. في دفع مظالم العباد عنه بارضائهم عنه تعالی ایاهم" په دفع کي د مظالمو د بندګانو دده په سبب د رضا کولو د خدای ﷻ دغه دده مظلومان له ده څخه یعني په ورکړه کي د عوض له جانبه څخه د خدای ﷻ انتهی الحدیث مع ترجمة الفقیر لعبارات الحدیث المذکور.

مسئله: که چا د داسي ښځي سره په پټه زنا، وکړه چي مېړه یې نه درلودی که پېغله وي او که کونډه یعني چي حد زنا، نه سوه پر جاري، نو دا یوازي حق الله دی په توبه سره عفوه کېږي. او که یې د مړونښي سره زنا، وکړه په دې کي حق العبد هم سته چي تر څو مېړه راضي نه کړي یوازي په توبه یې چاره نه کېږي. بلکې توبه به هم کارږي او مېړه به هم راضي کوي او هغه به عفوه ورته کوي.

پوښتنه: زاني به د ښځي مېړه څرنګه راضي کوي. ولي که زاني ورته ووایي چي ما ستا د مایني سره زنا کړې ده ته بخښنه راته وکړه. نو د ښځي په مېړه کي خو طاقت سته هم دی وژني او هم پرېښله مایني وژني. نو د ارضاء صورت یې څه دی؟

خواب: داسې یعني زاني دي زنا، نه ورته یادوي بلکې داسي دي ورته ووایي یعني وروسته تر کاملې توبې "کل حق لک علي اجعلني في حل منه" یعني هر حق چي ستا پر ماباندي سته ما ته یې راوبخښه "وکل خصومة بیني وبینک اجعلني في حل منها" او هر خصومت او بدي چي زما وستا تر منځ سته ماته یې راوبخښه "ویقال هذا صلح بالمعلوم عن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المجهول" او داسي صلح له خواصو څخه د امت مرحومه د علیه الصلوة والسلام کرامةً لهم. واکلها وضربهم وشتموهم وقتلهم کلها من الحقوق التي یلزمها ارضاء الخصماء یغفر بهذا العفو الیهم.

دروبش وایي: چي هم دا سبب دی چي یو مسلمان ناجوړی وي او قریب الموت وي حاضرین اقربا، یې ورته وایي چي فلانیه و تولو مسلمانانو ته حق ورپل یعنې خپل حقوق وربخښه. نو مریض داغسي ووایي. نو د تولو خصماً حق اداء سو ومن الله التوفیق. لکن بیا هم تینګه توبه په کار ده، او مبادرت و اعمال صالحه او افعال حسنه وو ته لازم دی. او که پر هغه خره سپور وي دا عفوه مبهم به فائده نه ورته وکړي، شیخ سعدي شیرازي رحمه الله علیه وایي.

نماند ستمگار بد روزگار بماند برو لعنت پایدار
چنان زی که ذکرت بتحسین کنند چو مردی نه نفرین بر گور کنند

یو محقق شاعر وایي

یاد داری زروز زادن تو خلق خندان بودند وتو گریان
همچنان زی که روز مردن تو خلق گریان باشند وتو خندان

دروبش وایي: چي خدایه د دواړو ورځو له ژړا څخه نجات راکړې آمین، که ظالم له مظلم څخه تحلل نه سوای اخستلای مثلاً مظلوم مړ و او یا غائب و بغیبت غیر معلوم. نو ظالم دي و مظلوم ته په هر صورت کي و مظلوم ته دعاوي ډیري کوي امکان قوي ستة چي په سبب د دعا وو به ظالم ته تحلل حاصل سي، لکن زمونږ د زمانې ظالمان کله داسي کوي بلکې وروسته تر مرګ د مظلوم هم حسد، غیبت او بهتان ورسره ساتي کما هو المعلوم بالتجربة الا من شاء الله تعالی. د فضیل بن عیاض رحمه الله علیه څخه روایت دی چي وایي یو آیت د قرآن مجید ویل او عمل په کول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ماته محبوب دی تر یو لک واړه ټوله قرآن ختمولو. او د مسلمان وروړ خوشحاله کول او دده حاجت ور دسره کول زما خوښ دی تر نفلي عبادت د ټوله عمر، او یو د انق یعني شپږمه د درهم د حرام مال پرپښول زما خوښ دی تر دوه سوه حجه له حلال مال څخه.

دروښ وایي: چې په اوسنۍ زمانه کې بعض داسې حاجیان سته چې د حج ټوله مصارف یې له حرام مال څخه وي او دده په زړه کې دا هم وي چې زما ټوله ګناهونه په دې حج خدای ﷻ ماته رابخښي هیهات هیهات.

وَلَا تَأْكُلُوهَا إِسْرَافًا

او تاسي مه خورئ اې اولیاؤ د یتیم مالونه د یتیمانو په اسراف سره.

پوه سه: چې "اسرافاً" حال دی له فاعل څخه د "تاکلوا" او مصدر په معنا د فاعل دی ای حال کونکم مسرفین في ذالک الاکل.

فیروز آبادي په قاموس کې وایي چې اسراف ضد د قصد دی. د قصد معنا میانه روي ده په منځ کې د افراط او تفریط. او صاحب د صحاح وایي چې اسراف تجاوز تر حد دی په هر فعل کې چې انسان یې کوي کما قال الله تعالی ﴿ولاتسرفوا في القتل﴾ یعنې په قتل کې د کافر اسراف مه کوئ چې مثلة ورسره وکړئ. وقال ایضاً ﴿یاعبادي الذین اسرفوا علی انفسهم﴾ یعنې بالمعاصي، لکن اسراف په انفاق سره ډېر مشهور دی. نو اسراف په انفاق ګاهي په مقدار کې وي چې معنا یې کثرت دی لکه په دې قول کې د خدای ﷻ ﴿کلوا واشربوا ولاتسرفوا﴾ او ګاهي په اعتبار د کیفیت وي، نو ځکه سفیان ثوري رحمه الله وایي "ما انفقت في غیر طاعة الله یعنې في المعاصي فهو سرف وان کان قلیلاً" قال الله تعالی ﴿ان المسرفین هم اصحاب النار﴾ نو خورل د یتیم د مال که څه هم لږ وي اسراف دی، که چېرې ولي د یتیم غني و او که فقیر و. نو تجاوز تر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معروف یعنې اجر مثل اسراف دی.

پوه سه: چې "سرف" مجرد دی او "اسراف" مزید دی لکن ترجمه یې یوه ده.

وَّبِدَارًا اَنْ يَّكْبَرُوْا ؕ

چې والي الیتیم اسراف کوي په اکل کې د مال د یتیم له جهته د تلوار او مبادرت تر دې چې یتیم به لوی سي بیا خو نو زموږ څخه مال اخلي.

پوه سه: چې "سرافاً و بداراً" دواړه حال دی ای مسرفین مبادرین. او "ان یکبروا" بتاویل المصدر منصوب المحل دی په "بداراً" سره ای لاتاکلوا اموال الیتامی مسرفین مبادرین کبرهم.

پوه سه: چې روح البیان وایي چې د "اسرافاً" معنا دلته داده چې په ناحقه سره. او دا معنا نه ده چې په اکل کې د مال الیتیم اسراف په معنا متعارفه سره حرام دی، او اکل د قلیل یې روا دی، بلکې اکل د مال د یتیم په ناحقه سره قلیلاً کان او کثیراً فهو اسراف.

وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ ۚ

نو که څوک له اولیاؤ څخه د یتیم غني وي یعنې په خپل مال یې ګذاره کېږي، نو دی دي منع وکړي او ځان دي وساتي له اکل څخه د مال د یتیم او قناعت دي وکړي په ما اتاه الله من رزق، او د خورک د مال د یتیم ولوکان قلیلاً پرهېز دي وکړي ولنعم ماقیل ... چون صدف قانع نشد پردرنشد

پوه سه: چې "استعفف" ابلغ دی تر "عف" کانه یطلب زیادظ العفة من نفسه.

وَمَنْ كَانَ فَقِيْرًا فَلْيَاْكُلْ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ

او که ولي د یتیم فقیر و یعنې چې په اجرت او مزدوری به یې د کور خرڅ برابراوه، نو دی چې په تصرف د مال د یتیم اخته سو او خپله مزدوري ځندي پاته سوه، نو خوراک دي کوي یعنې اخلي دي د یتیم له مال څخه په معروفه طریقه سره یعني لکه څرنګه چې عرف په اجرت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اخستلو کي وي مثلاً يتيم باغ درلودی او روزنه د باغ د يو چا په پنځمه حصه د حاصل وه نو دا فقير والي د يتيم دي هم له باغ څخه د يتيم پنځمه حصه اخلي وهکذا که يتيم د کښت مځکه درلوده، نو چې په بزګرانو کي رواج وي والي فقير د يتيم دي هم هغوندې بزګري څنډي اخلي وعلي هذا فقس الاموال الاخر لليتيم.

دروېش وايي: چې ابوداؤد، نسائي او ابن ماجه له عمر بن شعيب عن ابيه عن جده څخه داسي روايت کړی دی چې يو سړی د عليه الصلوة والسلام ته راغلی او وه يې ويل ان في حجري يتيماً، زما په غېږ کي يعني په تصرف کي يتيم ستة نو زه له ماله د هغه يتيم خوراک کوم، نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل هو! خوراک کوه په معروف سره غير متاثل مالاً منه او مه ساته خپل مال د يتيم په مال سره. والمراد بهذه الحديث اجرة علمه وقيامه بمال اليتيم وهو قول عائشة رضي الله عنها وبه ناخذ قاله المظهري رحمه الله.

دروېش وايي: چې په معروف کي اقوال مختلفه راغلي دي، عطاء او عکرمه رحمه الله وايي چې د يتيم بنوروا دي مثلاً د ګوتو په سرو خوري او غټي غټي ګولې دي نه په خوله کوي، او د يتيم له ماله دي کالي نه کوي. او نخعي رحمه الله وايي چې ولي دي د يتيم په مال کتان کالي يا ټور د زينت شيان دي نه کوي لکن دومره قدر دي خوري چې سد له لوږې څخه په راځي. او د يتيم په مال دي دومره کالي کوي چې ستر د عورت په راځي ولا قضاء في هذا الاقوال کلها يعني پر ولي يې بيرته ورکه نه دی لازم. او حسن بصري رحمه الله او يو جماعت نور داسي وايي چې د يتيم د خورما له باغه دي ولي خورما خوري او د يتيم د مواشيو شيدې او مستي دي خوري بالمعروف او بيرته قضا. نسته باندي. او د يتيم له مال څخه دي ذهب او فضه نه اخلي او که يې واخستل رد د مثل يې پر واجب دی. او شعبي رحمه الله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي چې په داسې حال کې به والي اليتيم مال د يتيم خوري چې دومره مجبور سي چې اکل د ميتة و ده روا وي. وقال قوم المعروف القرض يعني که ولي د يتيم محتاجه سي د يتيم له مال څخه دي قرض واخلي چې بيا قدرت پيدا کړي قرض دي بيرته رد کړي وهو قول مجاهد وسعيد بن جبير.

دروېش وايي: چې دا ټوله اقوال مظهري رحمه الله نقل کړي دي. لکن فتوی پر دې ده چې ولي د يتيم چې فقير وي په قدر د اجر مثل دده دي له مال څخه د يتيم اخلي که خورما وي که غنم وي که انګور وي. بيا نو د ولي دي يتيم چې په هغه مال هر څه کوي هغه ورته روا دی وبه افتی الفقهاء ايضاً والعلم عند الله.

فَإِذَا دَفَعْتُمْ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ فَأَشْهِدُوا عَلَيْهِمْ ۖ

نو چې تاسې اولياء د يتيمانو وروسته له بلوغ او رشده د يتيمانو اموال ددوی ودوی ته ورکړه. نو شاهدان پر يتيمانو ودروئ چې بيا يتيمان دعوه ونه کړي.

پوه سه: چې امر د استشهاد که څه هم لپاره د وجوب نه دی لکن بيا هم اولی اشهاد دی چې په دې سره به تهمت د خلګو له ولي څخه دفعه سي. او بل آينده خصومت او دعوی د يتيمانو به قطعه سي.

پوه سه: چې امام شافعي او امام مالک رحمهما الله په دې آيت سره دليل وايي چې ولي د يتيم په دعوی د دفع د مال ويتيم ته بيله شاهدانو يې تصديق نه کول کېږي. وفيه بحث. ولي که د ولي دعوی د دفع د مال بيله شاهدانو نه اورېدل کېږي. نو بايد امر د اشهاد د وجوب لپاره واى. ولم يقل به احد. او امام اعظم رحمه الله وايي که عند الخصومة ولي لره شاهدان نه وه يصدق مع اليمين، ولي چې دی خو امين دی او دی منکر دی له ضمانه څخه پر ده باندي. واليمين على من انكر حديث مشهور بالاتفاق دی، او د امام اعظم رحمه الله پر مذهب دا قول د خداى جل جلاله هم دلالت کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَكَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيْبًا ۝

پوه سه: چې کلمه د "با" زائده ده په فاعل کې. والمعنى کافي دی خدای ﷻ حساب کونکی او جزاء ورکونکی او شاهد دی. فلاحاجة للولي الی شاهد غیره تعالی، نو چې ولي د خدای ﷻ په نامه قسم واخستی نو په دغه قسم سره د ولي تصدیق کېږي یعنې چې مال د یتیم ده ویتیم ته ورکړی دی، او تفویض د امر د ولي وخدای ﷻ ته دی.

دروښ وایي: چې ابو القاسم حکیم ﷺ وایي چې درې شیان دي چې ایمان د نزع د هغو کارو په کولو کې خطر ستە. اول ترک الشکر علی الاسلام، والثاني ترک الخوف علی زوال الایمان منه، والثالث الظلم علی اهل الاسلام، نو چې پر عمومي اهل اسلام چې ظلم روا نه دی فماظنک بالظلم علی الیتیم.

پوه سه: چې اولیاء الله الکبائر خانونه ساتي له مشتبه شیانو څخه یعنې چې د حل او حرمت درک یې نه معلومېږي فضلاً عن الحرام المعلوم، فان اللقمة الحلال لها اثر عظیم في اجابة الدعاء اصلاح د باطن ده په لقمه حلال سره، او اخیر د شرطو یې اخلاص دی او حضور القلب یعنې التوجه الی الذات الاحدي اذ القلب الحاضر في الحضرة الالهي شفیع له قال الله تعالی ﴿وادعوا الله مخلصین له الدین﴾ والدین ههنا بمعنی الدعاء.

نتیجه: ښورول د ژبې او بوغاري وهل په وخت کې د دعا، بېله حضور قلبي داسې دی لکه اواز د پیره دار پر بام، او یا ناري دي د هغه چا چې په دروازه کې ولاړ وي ومن الله التوفیق.

شان نزول: پوه سه اوس بن صامت یا بن ثابت ﷺ چې له انصارو څخه و چې وفات سو نو یوه ماینه یې پاته سوه چې ام کحة یې نوم و او درې یې لونې وې، نو د اوس متوفي ﷺ د اکا زامن چې د یوه نوم سوید و او د بل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نوم عرفطة و د اوس میراث یې ټوله یو وړی لکه طریقه د اهل جاهلیت چې وه یعنې چې ښځو ته یې میراث نه ورکاوه.

دروښ وایي: چې اوس هم داغه طریقه د جاهلیت په بعض پښتنو کې پاته ده، او اهل جاهلیت به دا ویل چې میراث و هغه چاته ورکول کېږي چې په میدان کې د جنګ درېږي، خیر ام کحة چې زوجه د متوفي اوس وه د رسول الله ﷺ ته ورغله چې علیه الصلوة والسلام په مسجد فضیح کې وه، او دا شکایت یې ورته وکړی، نو علیه الصلوة والسلام وام کحة ته وویل چې ته اوس ولاړه سه حتی چې خدای ﷻ به په دې باندې څه نازل کړي. نو دا آیت نازل سوز

لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْأَقْرَبُونَ ۪ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ ۚ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ﴿٧﴾

نو علیه الصلوة والسلام سړی ورواستاوه د اکا زامنو ته د اوس ﷻ تو داسې امر یې ورته وکړی "لاتفرقا من میراث اوس فان الله قد جعل لهن" یعنې ښځو ته نصیباً برخه ولم یبین او خدای ﷻ هغه برخه د ښځو نه ده بیان کړې حتی چې یبین فنزل" یوصیکم الله آه" نو علیه الصلوة والسلام و ام کحة ته ورکړی ثمن د میراث او لونږو ته یې دوه ثلثه ورکړه، او باقي یې وابنی العم ته ورکړه.

دروښ وایي: چې مظهري له ابي صالح هغه له ابن عباس ﷺ څخه داسې روایت کړی دی چې اهل جاهلیت میراث ولونږو او نورو کوچنیانو ته نه ورکاوه، نو په دې کې د ماینې ذکر نسته، نو اول روایت چې موږ وکړی په دې باره کې اشمل دی او په مخنې روایت د نرو صغارو ذکر نسته، نو بیا دا روایت اشمل دی، او د مظهري په دې روایت کې داسې هم راغلي وه چې مابقی یې وابنی العم ته ورکړی، نو که میت اوس ﷺ لره ابن وای نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بیا خو میراث ټوله دده ولهو او یوه زوی ته رسیدی او ابن العم ته هیڅ شی نه پاتیدی لانها عصبة وللعصبة مابقی اصحاب الفرائض. او د مظهري پر روایت خو ټوله میراث ذوی الفروض دی یعنې یو ورور او دوې خوندې او یوې مایني ته او عصبه ته هیڅ نه پاتیږي.

دروېش وایي: چې زما په عقیده دواړه روایته راغلي دي علامه بغداد په روح المعاني ص ۲۱۰ کې وایي چې اوس بن ثابت یا صامت رضي الله عنه. لکن دی وایي چې اوس بن صامت لکه روح البیان چې ویلي دي خطا دی، ولې چې اوس بن صامت رضي الله عنه په زمانه کې د خلافت د عثمان رضي الله عنه وفات سوی دی، او علامه بغداد اول ویلي دي چې ورثه د اوس مذکور یو کوچنی زوی و او دوې لونې وې لکه مظهري چې وویل. او یو د یې مایني وه ام کحة چې روح البیان ذکر کړې ده او مظهري نه ده ذکر کړې. نو علیه الصلوة والسلام میراث داسې ور وویشی چې مایني ته یې اتمه حصه ورکړه او پاته یې و اولاد ته د اوس چې یو زوی دوې لونې وې للذکر مثل حظ الانثیین ورکړې او د اکا زامنو ته یې هیڅ شی ورنه کړی.

وهذا یخالف ما رواه روح البیان لان فیه انه رضي الله عنه ورکړی مابقی و ابني العم ته، او علامه بغداد رحمه الله وایي چې په بعض طرقو کې د حدیث داسې راغلي دي چې د میت یعنې اوس یوه مایني یعنې ام کحة او دوې لونې وې او دوه د اکا زامن یې وه لکه روح البیان چې وویل نو علیه الصلوة والسلام میراث داسې وویشی چې مایني ته یې ثمن ورکړی او دوو لونو ته یې ثلثین ورکړه او باقي یې وابنی العم ته ورکړه کما في روایت روح البیان. او مظهري رحمه الله په روایت د بغوي داسې ویلي دي چې ثابت انصاري چې مړ سو یوه مایني یې وه ام کحة او درې یې لونې وې او ابن یې نه دی ذکر کړی، او حدیث یې اوږد کړی دی په اخیر کې داسې راغلي دي چې آیت المواریث چې نازل سوه نو علیه الصلوة والسلام و سویه او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عرفجه ته وويل چې مايني ته د اوس ائمه حصه ورکړئ او لونو ته يې دوه ثلثه ورکړئ او مابقی ستاسي دي کما في روح البيان.

دروښ وايي: چې ددې روایاتو تر منځ دغه تفاوت موجود دي.

(۱) عمومي روایات پر دې خبره دي چې د ثابت دوې لونې وې او بغوي وايي درې لونې يې وې.

(۲) په بعض روایاتو کې نر زوی ذکر دی او په اکثرو روایاتو کې نر زوی نسته.

(۳) په بعض روایاتو کې ابن العم محروم پاته سوه. او په بعضو روایاتو کې دوی ته مابقی ورکړه سوه، والعلم عند الله العلام للغيوب.

پوه سه: چې روح المعاني وويل کما نقلنا عنه چې اوس بن صامت خطا. دی بلکې اوس بن ثابت صحیح دی لکن دا خطاء وبیضاوي ته هم پېښه ده چې هغه هم اوس بن صامت ویلی دی. او بیضاوي لکه بغوي درې لونې د اوس ذکر کړي دي او نر اولاد يې نه دی راوړی. او بیضاوي هم لکه روح البیان داسي وايي چې مايني ته د اوس يې ثمن ورکړی او درو لونو ته د اوس يې ثلثین ورکړه او باقي يې وابنی العم ته ورکړی.

دروښ وايي: چې ما حتی الوسع کوشش وکړی چې ټوله روایتونه او طرق د حدیث مې سره جمع کړه او اختلافات د تفاسیرو مې هم تاسي ته بیان کړی داسي مفصل بیان به په هیڅ تفسیر کې څوک وه نه وینې. لکن بیا هم حاسدان وايي چې عبید الله ناقل دی زه منم چې مجتهد نه یم بلکې ناقل یم لکن نقل خو عیب نه دی بلکې مدار د دین پر نقل دی له وخته څخه د علیه الصلوة والسلام تر نني ورځې پورې.

ع وتلک شکاة زائل عنک عارها

زه حاسد ته وایم چې ته هم پهلوان سه له عربي کتابو څخه نقل وکړی او بیا يې پښتو وطني ژبې ته واړوه لکن ههیات ذالک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې اوس به رجوع وکړو وبيان ته د اعراب د اېت مذکور فاسمع هداک الله تعالى.

پوه سه: چې "نصيب" مبتداء ده او "للرجال" يې خبر دی او له جهته د تنکير د مبتداء خبر پر مقدم سوی دی کما هو القانون النحوي. او جار ومجرور په "مما" کې چې اصل يې "من ما" و متعلق دی په "ثابت" پورې چې د "للرجال" سره مقدر و او "الولدان" فاعل د ترک او "اقربون" پر عطف دی.

پوه سه: چې مراد له "اقربون" څخه هغه قريبان د ميت دي چې په هر صورت کې د ميت ميراث څه ناڅه دوی ته رسېږي دون المحجوب من الارث في حال هغه قريبان چې هرو مرو ميراث ور رسېږي مور او پلار دي مېړه او مامنه دي او زوی ولور دي. اما پرته له دوی څخه ګاهي وارث وي او ګاهي نه وي او "للنساء" عطف دی پر "وللرجال" باندې باعادة الجار او اعراب د مابعد لکه اعراب د "وللرجال" آه دی. او حرف جر په "مما" کې بيان دی د ماترک په دواړه ځايه کې "نصباً مفروضاً" يې صفت منصوب على الاختصاص دی بحذف اعني او اخص.

ترجمه: نرو لره برخه سته په هغه مال کې چې مور او پلار يې پرېږدي يعنې وروسته تر مرګ او قريبان يې پرېږدي وروسته تر مرګ او ښځو لره هم برخه سته په هغه مال کې چې ددوی مور او پلار او نور قريبان يې پرېږدي تر مرګ وروسته. نو که مال متروک لږ وي او که ډېر وي. دا يوه برخه ده چې خداى ﷻ تاکلې ده. په "مفروضاً" کې اشاره ودې ته ده که يو وارث له خپله حقه اعراض وکړي حق يې نه ساقطېږي. مثلاً که يو سړی مړ سي او يو زوی او يوه لور يې پاته سي او نور وروڼه يې پاته سي. نو ددې مړي ميراث خو د زوی او د لور دی "للذكر مثل حظ الانثيين" نو وروڼه يې محجوب دي نو که چېرې زوی له خپلې برخې څخه اعراض وکړي حق يې نه ساقطېږي او وروڼه ته يې ميراث نه ور رسېږي. ولې چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د زوی دغه خپله برخه خدای ﷻ تاکلې ده نو دده په رد نه رد پرې فاقبهم.

وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ أُولُوا الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينُ فَارْزُقُوهُم مِّنْهُ

او که حاضر سوه وقسمت ته د ترکې د میت خاوندان د قرابت یعنې هغه قریبان چې په میراث د میت یې برخه نه درلوده. نو یو څې مما ترک المیت او مما یقسم ورکړي تصدقاً علیهم لکن له منقولي مال څخه. ولي خو دوی هم د میت قریبان دي. حسن بصري رحمه الله وایي چې زاړه صندقان دي ورکړي یا زاړه لوښي او یا زاړه کالي د میت یا نور ورته شیان په قسمت د هغو ورثه شرمېږي.

پوه سه: چې سعید بن جبیر او ضحاک وایي چې دا آیت منسوخ دی په هغه آیت سره "یوصیکم الله ﷻ" لکن ابن عباس رضي الله عنه او نور ګڼ شمېر صحابه رضي الله عنهم وایي چې منسوخ نه دی لکن تهاون بها الناس بلکې محکم دی او دا امر لپاره د ندب دی. قال قتاده ویحی ثلث آیات محکمات مدنیات ترک العمل بهن الناس هذه الآیة وآیة الاستیذان یعنې "یا ایها الذین آمنوا لیستاذنکم الذین ملکت ایمانکم ﷻ" وهذه الآیة "یا ایها الناس انا خلقناکم من ذکر و انثی ﷻ"

پوه سه: چې ددې آیت حکم صغارو او کبارو ته شامل دی د ورثه وو کبار خو به یې په خپله ورکوي او د صغارو له خوا دې ولي ددوی ورکوي او که صغار او کبار دواړه وه، نو کبار اولیاء د صغارو دي. او محمد بن سیرین رحمه الله وایي ان عبیدة السلماني قسم اموال الیتامی فامر بشاة فذبحت وضع طعاماً لاهل هذه الآیة یعنې الاقرباء غیر الوارثین والیتامی والمساکین. وقال لو لا هذه الآیة لکان هذا من مالي یعنې دون المال الوارث. او ابن عباس رضي الله عنه وایي که ورثه د میت ټوله لویان وه نو څه څه شی دي ودغو مذکوره دواړو دلو ته ورکړي او لږ لږ شی دي ورکړي او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

احسان دي نه پر اچوي لانهم مامورون بامره تعالى وان كانوا صغاراً. نو عذر دي وكړي ولي د صغارو او يا وصي ددوى ودغو حاضرو سوو دروغلو ته چې په دې آيت كې ذكر سوي دي. نو داسې دي ورته ووايي چې زه خو اختيار ددې مال نه لرم. ولي چې دا مال د صغارو دي او كه مالرد دا مال واى ما به تاسي ته دركړى واى. او كه خداى ﷻ دا صغار لوى كړه نو ستاسي حقوق به وپېژني او څه به دركړي او دغه عذر كول معنا ددې آيت ده.

وَقُولُوا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ۝

او روح البيان وايي چې قول معروف دادى چې دعاء دي ورته وكړي او دا دي ورته ووايي چې دا لږ شى خو در واخلئ يعنې په هغه صورت كې چې ورثه كبار وي بارك الله عليكم او دا وركړى شى دي لږ وبولي او احسان دي هم نه پر اچوي.

پوه سه: چې هر قول يا عمل چې سړي ته بنه خوند وركوي له دې سببه چې عقلاً يا شرعاً بنه وي هغه ته معروف وايي. او هر هغه قول يا فعل چې شرعه يا عقل سليم يې بد بولي هغه ته منكر وايي.

فائده: صدقه او كلمه طيبه او شفاعت حسنه د يوچا او د چا سره كومك كول په يوه كار كې او پر مريض پوښتنه كول او د مړې د جنازې سره تګ او خوشحاله كول د مسلمان د زړه تږلې له معروف څخه دي. لكن اهل زمان اوس داسې دي چې له معروفه يې خلګ بېزاره دي او وايي چې منكر مه راسره كوه.

وَلْيَخْشَ الَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَافًا خَافُوا عَلَيْهِمْ

او و دې بېرېدي هغه كسان كه دوى پرېږدي تر شا يعنې وروسته تر مرګ ددوى اولادونه ضعيفه، بې ماله او بې نفقې يعنې په سبب د صغر او عدم المال، او دوى يعنې په وخت كې د قرب الموت بېرېدي پر دغو اولادو د ضائع والي يعنې چې څوک په نفقه وركوي او څوک به پر دوى رحم كوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې ظاهره داده چې امر د ولیځش لاقارب الورثة او دا آیت متصل دی د هغه آیت سره "للرجال نصیب مماترک الوالدین" او بل د هغه آیت سره "واذا حضر القسمة آه" نو معنا د آیت داده چې قوي خلګ له ورثه وو څخه د میت دي برخي د ښځو او د ضعیفو خلګو د ورثه وو ورکوي او په وخت کې د قسمت د ترکې د میت هغو درو ډلو چې اولو القربی او یتیمانو او مساکینو ته دي څه څه ورکړي له ترکې څخه د میت کمامر او دوی دي وبېرېږي پر خپلو اولادو چې ضعفا پاته سي چې هغو ته به نفقه څوک ورکوي. یوه مقوله ده چې بنده راسه د خدای خپل سه لکه پر ځان داسي پر بل سه. او په عربي کې هم دا مقوله سته کما تدین تدان.

فَلْيَتَّقُوا اللّٰهَ

نو دوی دي له خدای ﷻ څخه وبېرېږي او ظلم دي پر ښځو او پر ضعیفه د ورثه وو نه کوي چې نباید د دوی د ښځني ورثه وو او د ضعیفه اولاد سره داغسي ونه کړل سي.

پوه سه: چې امر او نهي د خدای ﷻ او د رسول الله ﷺ پر ځای کول سبب دی د فوز او فلاح في الدارین. او یو شاعر فارسي چې مخاطب یې غالباً آنحضرت ﷺ دی وایي

ذو المنتی ومنت تو میکشم بجان نزد عشاق منت شرین زبان لذیذ

پوه سه: چې معرفه د منت په معنا د احسان دی او دوهم او دریم منت په معنا د امر او نهي دی، نو ترجمه د بیت مذکور داده چې ای علیه الصلوة والسلام ته خاوند احسان یې پر موږ امتیانو باندي چې نعمت عظیم د اسلام او پیغام حق له جانبه څخه د خدای ﷻ دي موږ ته راوړی دی او موږ په اثر ستا د پیغام مشرف بالایمان والاسلام ګرځېدلي یو. نو ستا امر او نهي د روح په اخلاص کشوو یعني عمل په کوو. ولي په نېز د عاشقانو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې مور. امتیان یو امر او نهي د شرین زبان چې ته یې د پر خوندور او په زړه پوري دی، والله اعلم بمراد عباده.

او بعض مفسران وایي چې دا آیت په شان کې د هغه سړي نازل سوی دی چې دی قریب الموت سي او علامات د مرګ پر ښکاره سي، نو وده ته ناست خلګ چې دی وصیت ورته کوي ورته وه دي وایي چې ستاد ورثه وو وتاته هیڅ فائده نسته اوس پخپله خپله برخه د آخرت درسره یوسه، هغه دا چې مریی آزاد کړه او فلاني مسکین ته د دوندې ورپو وصیت وکړه او فلاني ته د زرو روپو وصیت وکړه وهکذا حتی یشمل هذه الوصیة اکثر اموال المحتضر. فعلی هذا دا آیت نهي د حاضرینو د دغه مریض قریب الموت له داسي لاربښوونې څخه، او دوی باید شفقت وکړي پر اولاد د مریض مذکور داسي شفقت لکه دوی چې یې پر خپل اولاد کوي. نو حاضرین دي اولاد د مریض ته ضرر نه رسوي چې خالي لاس یې پریږدي. او یا امر دی و وصیت کونکي ته چې خپل پر ورثه ضعیفانو باندې شفقت وکړه او اسراف په وصیت کې مه کوه او زیاتوب مه کوه په وصیت کې تر ثلث.

وَلْيَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا ﴿٩﴾

هذا معطوف علی قوله "فلیتقوا الله" او اقویا د ورثه وو دي له ضعافو سره د ورثه وو په شفقت او ښه آدب سره خبري کوي. او یا دي اولیا. د یتیمانو له یتیمانو سره قولاً حسناً ووایي چې شفقت آمیزه وي کما یقولون لاولادهم بالشفقة. او یا حاضرین د وصیت ومړي ته چې اوس وصیت قول صحیح دی ورته ووایي یعني په وصیت بالاښود تر ثلث مه کوه او مراعات د خپلو ورثه وو وکړه.

پوه سه: چې بغوي رحمه الله وایي چې مقاتل بن حبان وایي چې څه وخت چې مرثد بن زید چې د غطفان د قبیلې یو سړی و د خپل وراره یتیم ټوله مال یې څندي وخوړی، نو دا آیت نازل سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَىٰ ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا

په تحقيق هغه کسان چې خوري مالونه د يتيمانو په ظلم سره نو دوی نه خوري مګر اور خوري پخلو نسوکي.

پوه سه: چې "ظلما" يا مفعول مطلق دی ای اکلاً ظلماً او يا حال دی ای ظالمين. ددې قيد فائده دمخه تېره سوه چې ولي د يتيم چې فقير وي د مال د يتيم په قدر د اجر مثل خوراک ورته روا دی.

فائده: خدای ﷻ خوراک د مال د يتيم خوراک د اور وباله لانه يؤل في الآخيرة الى اكل النار في بطنه، د "في بطونهم" معنا داده ملئ بطونهم يقال فلان اكل في بطنه اذا ملئه و اسرف في الاكل. و فلان اكل في بعض بطنه اذا لم يسرف في الاكل وملا بعض بطنه دا محاوره په عربو کې مشروع ده او هر عرب په پوهېږي والقرآن نزل بلغة العرب، روى ابن جرير وابن ابي حاتم من حديث ابي سعيد الخدري ﷺ چې عليه الصلوة والسلام وايي ماوليدل په هغه شپه چې ژه معراج ته بيول سوی وم يو قوم چې شونډان يې لکه د اوښ غوندې وه يوه شنډه يې پر ژړه پرته وه او بله شنډه يې پر نس پرته وه. او ملکو د دوزخ ددوی په خلو سکروتي د دوزخ ورچځلي، ما جبرئيل عليه السلام ته وويل چې دا خلګ څوک دي جبرائيل راته وويل چې دا هغه کسان دي چې مال د يتيمانو يې په ظلم سره خوړلی و. كذا رواه صاحب روح البيان وروح المعاني والمظهري وغيرهم.

پوه سه: چې خدای ﷻ امر کړی دی چې يتيم ته به سړی قول سديد يعنې نرم قول کوي فکيف حال من آذاه او نور د يتيم ما سوی خلګ په خوړلو د اموالو ددوی په ظلم او په غصب سره، نو مسلمان بايد پرهېز وکړي له ازاره او د چا له ضرر څخه، ولې چې بېړا د مظلومانو يقبل البتة، قال الشيرازي رحمه الله عليه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خو ا بی کند مرد شمشیر زن نه چندانکه دود دل طفل وزن
ریاست بدست کسانی خطاست که از دست شان دستها بر خدا است
مکافات موذی بمالش مکن که بیخش بر آورده باید زبن
سر گرگ هم باید اول برید نه چون گو سفند ان مردم درید

لکن په اوسنی زمانه کي گرگان ولاة الامر دي،

بیت: چو بینم دین احمد درغریبی دلم سوزان زچشم خون جاری

وفي الحدیث الصحیح: قال رسول الله ﷺ تقبلوا لي ستاً اتقبل لکم الجنة" تاسي قبول کړئ زما څخه شپږ کاره زه به قبول کړم ستاسي لپاره جنت "اذا حدثتم فلا تکذبوا" چي خبري کوئ درواغ مه وایاست یعني بلا ضرورت شرعي "واذا وعدتم فلا تخلفوا" چي وعده مو د چا سره وکړه. نو د وعدې خلاف مه کوئ یعني بېله اجازې د شرعي شریفي "واذا اتمنتم فلا تخونوا" چي یو چا ته امین وګڼلې خیانت مه کوه "واغضوا ابصارکم" او سترګي کښته اچوه یعني چې نامحرمه ښځه وویني "واحفظوا فروجکم" او ساتئ خپل فرجونه د زنا. او لواطت څخه "وکفوا ایدیکم عن الحرام" او خپل لاسونه منع کوئ له اخستلو څخه د حرام "وادخلوا الجنة" یعني بسلام. له عبدالله بن المبارک رحمه الله څخه روایت دی چې پرېښول د یوه فلس د حرام بهتر دی تر دې چې یو فلس د حرام وخوري او بیا یې په خای کي زر فلسه خیرات کړي.

وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا ﴿١٠﴾

او ژر دی چې داخل به سي آکل د اموالو د یتیمانو اورته یعني دوزخ ته.

پوه سه: چې شپږو امامانو د صحاح سته وو له جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې زه زمونږ په کلي کي مریض وم، نو علیه الصلوة والسلام د پوښتنې لپاره راغلی. نو زه علیه الصلوة والسلام بېهوشه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولیدم نو علیه الصلوة والسلام اوبه راوغوښتلې او اودس یې په تازه کړی او پر ما یې اوپاشلې زه پډ هوش کې راغلم، نو ما و علیه الصلوة والسلام ته وویل کیف اصنع في مالي زه د مال په باره کې څرنګه وکړم فنزلت هذه الآیة ﴿یوصیکم الله في اولادکم﴾ او په بل حدیث کې د جابر ﷺ چې روایت یې احمد، ابوداؤد، ترمذي او ابن ماجه کړی دی چې د سعد بن ربیع ﷺ مامنه وروسته تر وفات د سعد و علیه الصلوة والسلام ته راغله او وه یې ویل یا رسول الله ﷺ دغه دوې لونې دي د سعد بن الربیع ﷺ چې پلار یې ستاسره په جنګ کې د احد شهید سو، نو ددې نجونو اکا چې د سعد ورور دی ټوله مال یې یووړی او دې نجونو ته یې هیڅ شی ورپرې نه ښو او دا نجونې ځوک نه په نکاح کوي چې مال نه لري، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې خدای ﷻ به حکم وکړي په دې موضوع کې فنزلت آیة المیراث، نو علیه الصلوة والسلام وه اکا ته د نجونو سړی ور واستاوه چې ورکړه د سعد ﷺ وه دوو لونو ته دوه ثلثه، او وه مامنې ته د سعد شهید ﷺ اتمه حصه ومابقی فهو لک.

پوه سه: حافظ ابن حجر رحمه الله وایي چې بعض مفسرین وایي چې دا آیت په قصه کې د اینتی سعد نازل سوی دی او په قصه کې د جابر نه دی، ولې چې جابر ﷺ په وخت کې د نزول ددې آیت اولاد نه درلودی که څه هم وروسته یې اولاد پیدا سو، واجاب الحافظ انها نزلت في الامرین معاً ولې چې جابر ﷺ چې وروسته عیال پیدا کړی او قصه د اینتی د سعد هم منځ ته راغله، نو دا آیت المواریث نازل سو.

دروښ وایي: ویدل علیه ما وقع في بعض طرق الحدیث ای حدیث جابر ﷺ چې دی مریض و آه، ده چې و علیه الصلوة والسلام ته وویل ما اصنع في مالي دا عبارت زائد سته وانما یرثني ابنة واحدة، نو له دې ځخه دا معلومیږي چې په وخت کې د نزول د آیت جابر ﷺ عیال دارې سوی و. او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قصه د ابنتی د سعد بن الربیع رضی الله عنه هم په دغه وخت کې منځ ته راغله فنزلت آیت المواریث فیهما جمیعاً.

دروښ وایي: چې دا وجه حسن ده په جمع کې د حدیثینو د جابر رضی الله عنه هدیت الیه بنور التوفیق.

دروښ وایي: چې وما قال المظهري رحمه الله ویحتمل ان یکون نزول اول هذه الآیة في قصة ابنتی سعد رضی الله عنه وآخرها وهو قوله تعالی «وان رجل یورث کلالة آه» المتصل بهذه الآیة في قصة جابر، ویکون مراد جابر رضی الله عنه بقوله فنزلت "یوصیکم الله یعني الی الآیة المتصلة بها وهي وان کان رجل یورث کلالة آه" فبعید غایة البعد وتکلف ظاهر وینافي الزیادة المذکورة في بعض طرق الحدیث التي ذکرتها آنفاً.

يُوصِيكُمُ اللهُ

پوه سه: چې معنا د وصیت د خدای جل جلاله امر دی په شي سره.

فِيٓ أَوۡلَٰدِكُمۡ

بحذف المضافین ای في شان میراث الاولاد.

پوه سه: چې اولاد ذکور او اناثو دواړو ته وایي. او دا خو اجمال و تفصیل یې دادی. لِلذَّكَرِ مِثۡلُ حَظِّ ٱلۡأُنثَيَيۡنِ

نر لره دوې برخې د ښځو دي، یعنې که اولاد د میت نر او ښځې دواړه وه نو حصه د نر مضاعفه د لور ده یعنې د دوو لونو برخه وړې.

پوه سه: چې ادنی د اختلاط دادی چې یو ځوی او یوه لور وي. نو ټوله مال د مړي درې حصې کېږي دوې حصې یې د زوی دي او یوه حصه یې د لور ده. او پر دې قیاس دی چې زامن متعدد وي او لور یوه وي او یا زوی یو وي او لونې ډېرې وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې په دې آیت کې خدای ﷻ تفصیل د نر یعنې زوی پر نسخه یعنې لور ثابت کړی، او په عین حال کې یې تنبیه پر دې هم وکړه چې لور محرومه بالکلیه نه ده کما في زمن الجاهلیة. دا وو بیان د اختلاط د زامنو او لونیو د میت.

فَإِنْ كُنَّ نِسَاءً

پوه سه: چې ضمیر مؤنث د "کن" راجع و اولاد ته دی او تانیث یې په اعتبار د خبر دی ای نساء، او یا ضمیر مؤنث راجع دی وینا تو ته چې په ضمن کې د اولادو داخلي وي.

فَوْقَ اثْنَتَيْنِ

یعنې تر دوو بالا هر څو چې وي "نساء" خبر اول د "کان" دی او "فوق اثنین" یې خبر ثاني دی. **فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ**

نو دوی لره دوه ثلث دي د ما ترک المیت من المال.

پوښتنه: د دوو لونو دوه ثلث دي، نو د فوق اثنین په ویلو کې څه حکمت دی؟

ځواب: وروسته به متصل راسي چې د یوې لور نصف دی او نصف پر ثلث یو سدس بالا دی، ولې چې د شپږ نیمی درې دي او ثلث یې دوه دی چې نصف یو پر بالا دی، نو که خدای ﷻ ویلي وای اثنین بدون لفظ الفوق نو دا توهم به کېدای چې په ډېر والي سره لونو ته یو یو سدس بالا کیږي حتی یستغرق کل المال، ولیس کذالک. نو چې خدای ﷻ د فوق اثنین میراث دوه ثلث ذکر کړی نو د دوو لونو حق دوه ثلث په طریق اولی معلوم سو. وهذا هو السر في ایراد لفظ فوق فتدبر هداک الله لفهم دقائق الکلام المجید.

وَإِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ

او که وه المولودة (چې په ضمن کې د اثنتین ګویا ذکر ده. وهذا هو وجه التانیث الضمیر في کانت) یوه، نو دې لره نصف د مال د میت دی.

پوه سه: چې ابن عباس رضی الله عنه وایي چې د دوو لونو حق دیوې لور حق دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لکن الصحیح ماقلنا چې د دوو لونو حق دوه ثلث دی و علیه انعقد الاجماع. او څوک وایي چې لفظ فوق زائد دی ولیس بوجه. او بعض وایي چې حکم د دوو بنتینو قیاس دی پر دوو اختینو. ولي خدای پاک یوه خور ته نصف ټاکلی دی لکه یوې لورته چې نصف دی او خوندې او ورونه چې سره ګډ سي حکم یې للذکر مثل حظ الانثیین دی کمامر. او خدای ﷻ ګرځولې ده برخه د دوو خوندو دوه ثلث فکذا للبنتین فثبت بالسنة والاجماع ان حکم مافوق الاختین کحکم الثنتین من الاخوات الثابت بالنص فحکم البنتین کحکم مافوقهما ثابت بالنص ولاوجه لالحاق الثنتین من البنات بالواحدة کما روی عن ابن عباس ﷺ.

دروښ وایي: چې هذا ماذکره المظهري رحمه الله والاولی ماقلنا سابقا في ذکر لفظ فوق فتذکره.

تنبیه: پوه سه چې علماء د امت مرحومه پر دې اجماع کړې ده چې اولاد د ابن عند عدم الاولاد الصلبیة کاولاد الصلب فالواحد الذکر من اولاد الابن او الکثیر من الواحد تولې میراث د هغه یوه اویا د اکثر دی او که اولاد الابن مختلط وه یعنې نر او ښځې وې فللذکر مثل حظ الانثیین کما في اولاد الصلب. او که یو بنت صلبیه ورسره وه هغې ته دې نصف ورکړې والباقي لاولاد الابن للذکر مثل حظ الانثیین وعند وجود الابن الصلبي یحرمون اولاد الابن کلهم ذکورهم واناثهم.

وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ

او مور او پلار د میت هر یوه لره سدس دی کائناً مماترک المتوفی. والمراد چې په دې صورت کې نر یعنې پلار او ښځه یعنې مور تفضیل نه لري.

إِن كَانَ لَهُ وَلَدٌ

که چېرې مړي عیال او یا ولد الابن درلوده دا ولد د میت یا د ابن میت که نر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وي او که ښځي، يو وي او که متعدد وي لکن دا قدر فرق د پلار او مور سته چې په صورت د ښځني عيال د ميت دي هغو ته خپله حصه ورکړي او پلار ته دي سدس ورکړي هغه ما بقی من الفروض د پلار ده له جهته د عصوبة، يعني پلار هم ذی فرض دی او هم عصبه نو ترمور يې برخه بالا کېږي، ولي چې ښځه عصبه بنفسها نه سي کېدای کما تقرر في علم الميراث.

فَإِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهُ وَلَدٌ وَّوَرِثَهُ أَبَوٰهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ

که چېرې نه و ميت لره هيڅ ولد او يا ولد الابن، او ميراث خواره صرف مور او پلار وه نو د مور يې دريمه د مال د متوفي ده يعني والباقي للاب بالعصوبة لکن دا تقسيم هغه وخت دی چې متوفی که نر وي ماينه نه لري او که ښځه وي مېړه نه لري، او که متوفی احد الزوجين درلودی نو د هغه حصه دي ورکړي کما سيأتي في القرآن او مور ته دي ثلث د باقي مال ورکړي او نور يې د پلار دی، مور ته دي ثلث د ټولې مال نه ورکوي کما قاله ابن عباس رضي الله عنه ولي که مور ته په صورت کي د احد الزوجين ثلث د ټولې مال ورکړي ددې حصه تر پلار بالا کېږي او سره ددې چې پلار تر مور قوي دی په ميراث کي په دليل ددې آيت چې احد الزوجين نه وي د پلار برخه ضعف ده تر برخي د مور، او هم پلار عصبه دی او ذی فرض هم دی، نو تفضيل د مور چې ثلث کل المال ورکړي پر پلار خلاف دی له وضع څخه د شرع شريفي فتامل هداک الله تعالى.

فَإِنْ كَانَ لَهُ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ السُّدُسُ

او که چېرې وه ميت لره وروڼه نو د مور يې شپږمه حصه د ميراث ده.

پوه سه: چې اخوة عام دی که لاب وام وي، او يا يوازي د پلار د خوا وروڼه او يا يوازي د مور له خوا وي او مراد له اخوة څخه چې جمع د مافوق الواحد دی يعني دوو وروڼو ته هم شامل دی، او دا دوه وروڼه که

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فقط ذکور وي او که فقط اناث وي او یا مختلط وي.

پوښتنه: اخوة جمع د اخ ده چې مذکر دی او چې فقط اناث او یا مختلط وي. نو څرنګه اطلاق د اخوة پر روا دی. ولې خور ته خو اخت وایي او مختلط ته خو اخ و اخت وایي؟

ځواب: اطلاق د اخوت پر اخواتو باندې مجازاً دی او پر مختلط تغلیباً دی.

قانون: هر ځای چې صیغه د جمع راسي په فرائضو کې او یا په وصایاو کې مراد ځندې مافوق الواحد دی اجماعاً. او ابن عباس ﷺ وایي چې مور له ثلث څخه وسدس ته نه سي ردېدلای په مادون الثلاثة سره.

پوه سه: چې حاکم روایت کړی دی چې ابن عباس ﷺ وه عثمان ﷺ ته ورغلی چې ته څرنګه ردوې مور له ثلث څخه وسدس ته په دوو وروڼو سره وقد قال الله تعالی اخوة یعني چې صیغه د جمع ده. نو عثمان ﷺ ورته وویل چې زه ددې طاقت نه لرم چې زه دې رد کړم هغه څه چې تر ما دمخه عمل په سوی دی یعني دوه وروڼه هم مور له ثلث څخه وسدس ته نقل کوي او په ښارو کې د مسلمانانو هم عمل په دغه جاري دی وتوارث علیه الناس. نو عثمان ﷺ د ابن عباس ﷺ خبره په اجماع د امت رد کړه. او زید بن ثابت ﷺ بل جواب ابن عباس ﷺ ته ووایه چې عرب دوو وروڼو ته هم اخوة وایي یعني د ابن عباس ﷺ خبره یې په عرف د عربو قدیماً وحدیثاً رد کړه.

فائده: چونکه په دې آیت کې اخوة لفظ راغلی دی او په معنا د مافوق الواحد هم دی کمامر دا معلومه سوه چې د مور سره که یو اخ یا اخت وه نو مور لره ثلث دی. ولې مور لره سره د اب د میت ثلث و سره ددې چې اب اقوی حالاً دی تر اخ یا اخت. نو مور لره سره د ورور د میت یا خور د میت ثلث دی بالطریق الاولی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: د امت مرحومه اجماع پر دې ده چې اخوة او اخواة خو مور له ثلث څخه وسدس ته نقل کوي که څه هم اخوة او اخوات محجوب دي په اب الميت سره نو باقي من سدس الام تولـه د اب الميت دي لانه عصبة د وروڼو او خوندو ته ميت هيڅ شی نه ورکول کېږي فقط دوی مور ته تاوان ورساوه او نقل يې کړه له ثلث څخه وسدس ته وبس.

مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ يُوصِي بِهَآ أَوۡ دَيۡنٍ

پوه سه: چې حرف متعلق دی په جهت د لفظ په نږدې ظرف مستقر سره يعني فلامه السدس ای کائن لامه اسدس او په اعتبار د معنی متعلق دی په تولـو ظروفـو مستقره وو علی سبيل التنازع من قوله تعالی للذکر مثل حظ الانثيين" فلهن ثلثا ما ترک فلها النصف لکل واحد منها السدس فلامه الثلث. نو معنا داده چې دا توله برخې دي چې وهر چاته ورکول کېږي من بعد آه.

پوه سه: چې مضاف و وصيت ته محذوف دی بعد انفاذ وصية چې وصيت کړه سوی په هغه سره يعني د مړه له خوا اويا پور وي پر ميت باندې.

پوه سه: چې کلمه د "او" خدای پاک راوړه او واو عطف يې نه راوړی لپاره د دلالت پر دې باندې چې هر يو له وصيت او دين څخه مقدم دی پر ميراث باندې که دواړه وي او که يو وي.

فائده: وصيت يې تر پور دمخه کړی او سره ددې چې دين تر وصيت دمخه دی. که ترکه د ميت توله په پورو کې ولاړه وصيت يې نه چلېږي له دې سببه چې وصيت چونکه طلبونکی د بندګانو له خوا نه لرې نوشايد ورثه په تنفيذ کې د وصيت تکاسل وکړي بخلاف الدين لان له مطالب من جهة العباد. وفي الحديث قال رجل يا رسول الله ﷺ ته راته ووايه که چېرې زه په لاره کې د خدای پاک ووژل سم او صبر مې هم په جنګ کې کړی وي او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وخدای ﷻ ته امید د ثواب هم لرم او مخامخ ووژل سم نه تر شا یعنې د فرار په وخت کې، خدای ﷻ به زما ټوله ګناهونه را وبخښي؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل نعم! مګر نه پور کذالک اخبرني جبرائیل علیه السلام رواه مسلم عن ابي قتاده ﷺ. او له عبدالله بن عمر ﷺ څخه روایت دی ان رسول الله ﷺ قال یغفر للشهید کل ذنب الا الدین رواه مسلم.

مسئله: په اجماع د امت دا ثابته ده چې دا مسئله په سراجي کې هم راغلې ده چې اول حق چې په ترکه پورې د میت تعلق لري تجهیز او تکفین دی یعنې د مړي کار سازي مثلاً که غسل د میت په روپو و او قبر کن هم په روپو کار کاوه الی غیر ذالک دا ټولو ته تجهیز وایي او کفن خودی په روپو، او دوهم حق اداء کول دي د پورو د میت له ټوله ماله څخه دده که څه هم وصیت ته څه نه سي پاته. او دریم حق وصیت پر ځای کول دي د میت لکن له درې یمي حصې څخه د ترکې، او څلورم حق تقسیم دی د مابقی بین الورثة علی مابین في القرآن العزیز او الاحادیث النبویة. له حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چې تاسي خو دا آیت دغسي وایاست ﴿من بعد وصیة یوصی بها او دین﴾ یعنې په مقتضی د آیت مذکوره خو وصیت دمخه دی تر پور لکن رسول الله ﷺ حکم وکړی په قضاء د دین دمخه تر وصیت رواه الترمذي وابن ماجه.

دروښ وایي: چې مور تفصیل آنفاً ددې خبرې بیان کړی فتدبر.

پوه سه: چې دلیل د تنفیذ د وصیت له ثلث څخه د ترکې هغه حدیث دی چې بخاري او مسلم راوړی دی چې سعد بن ابي وقاص ﷺ وایي چې زه ناجوړی سوم په کال کې د فتح مکې او داسي سخته مریضي مي وه چې زه یې مرګ ته نژدې کړم، او علیه الصلوة والسلام په طور د اعادة المریض پوښتنې ته راغلی، نو ما ورته وویل چې زه د هر مال لرم او میراث مي یوه لور وړې آیا زه وصیت وکړم په ټوله مال سره یعنې صدقه یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړم؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل لا. سعد ﷺ وایي چې ماورته وویل په دوه ثلث وصیت وکړم؟ علیه الصلوة والسلام راته وویل لا. ما ورته وویل په نیمی د مال وصیت وکړم علیه الصلوة والسلام راته وویل لا. ما ورته وویل په یوه ثلث وصیت وکړم؟ علیه الصلوة والسلام راته وویل الثلث یعني الزم الثلث والثلث کثیر انک ان تذر ذریتک اغنیاء خیر من ان تذرهم عالة یتکففون الناس. ولي چې ته پریږدې اولاد خپل یعني الاقرباء غنیان ښه ده تر دې چې پرې یې بدي فقراء چې لاسونه یې وخلګو ته نیولي وي لپاره د سوال الی اخیر الحدیث.

اٰبَآؤُكُمْ وَاَبْنَآؤُكُمْ لَا تَدْرُوْنَ اَيُّهُمْ اَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا ؕ

پلرونه ستاسي او زامن ستاسي تاسي نه پوهیږئ چې کوم یو به نژدې وي وتاسي ته په نفع کي یعني په ورځ کي د آخرت. له ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې دېر فرمانبرداره د خدای ﷻ ارفع درجةً یوم القیامة. نو که پلار ارفع درجةً و تر زوی نو په شفاعت د پلار زوی دده درجې ته رسوي او که زوی ارفع درجةً وي تر پلار نو په شفاعت د زوی پلار دده ومرتبې ته رسوي.

دروښ وایي: چې داغه مراد دی په دې آیت کي او دا رښتیا ده چې لاتدرون ایهم آه. ولي دا به په ورځ د آخرت معلومیږي، وقد غلط من فسره بالنفع في الامور الدنیاویة لان النفع في الامور الدنیاویة من ای جانب کان لایعبابه کما لایخفی. قال علیه الصلوة والسلام لایجوز الوصیة لوارث الا ان یشاء الورثة رواه الدار قطني.

فَرِيْضَةً مِّنَ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝

دا تقسیم له هغه ځایه څخه یوصی کم الله تر دې ځایه پورې فریضه ده له جانبه څخه د خدای ﷻ او په تحقیق خدای د لوی علم او حکمت څښتن دی.

پوه سه: چې فریضةً منصوب دی په فعل محذوف واجب الحذف سره ای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فرض الله فريضة چي نحات وداسي مصدر ته تاكيد لنفسه وايي لان فريضة تاكيد لجمل سابقة لا محتمل لها غيرها كما في قولهم جا. ابوک عطوفاً او د مخه جملې د بل شي احتمال درلودی نحويان هغه مصدر ته تاكيد لغيره وايي كما في قولهم جائني زيداً راكباً. فراجع الى كتب النحو في ذالک.

فائده: په دنيا كي د پلار او مور تر منځ د عيال دوه طرفه حقوق ستة اما حقوق الوالدين على الاولاد په حديث شريف كي راغلي دي چي په ورځ د قيامت اول له سړي څخه د لمانځه پوښتنه كېږي او بيا د حق د والدينو. او له بنځي څخه اول د لمانځه پوښتنه كېږي او بيا د مېړه د حق پوښتنه. او له مريي څخه اول د لمانځه پوښتنه كېږي او بيا د مولى د حق.

پوه سه: چي حق د مور پرزوی ډېر دی تر حق د پلار. ولي چي مور تر پلار بالا ده په مهرباني كي او پر مور ډېر زحمتونه تېر سوي دي په وخت كي د حمل او په وخت كي د لنګول او وروسته په تربيه كي د ولد تر ډېرو كلو پوري قال الله تعالى "حملته كرهاً ووضعته كرهاً" او مور شپې شپې په بيداری تېري كړي دي. او نجاسات د عيال يې په كلو كلو ورپاک كړي دي الى غير ذالک من التكاليف. په صحيح حديث كي راغلي دي چي يو سړی و عليه الصلوة والسلام ته راغلی و ده وويل "من ابر" زه د چا سره احسان وكړم "قال امک" يعني د مور سره احسان كوه "قال ثم من" هغه سړي ورته وويل چي بيا نو د چا سره. عليه الصلوة والسلام ورته وويل "امک" د مور سره هغه سړي درېيم وار بيا ورته وويل عليه الصلوة والسلام ورته وويل "امک" څلورم وار چي هغه سړي ورته وويل "ثم من" قال عليه الصلوة والسلام "ثم اباک" او كما قال، په صحيح حديث كي راغلي دي چي يو سړی و عليه الصلوة والسلام ته راغلی او ورته وه يې ويل، زما مور دومره سپين سرې او ضعيفه ده زه په خوله دوديږ ورګوم او زه پخپل لاس اوبه ورګوم او اودس زه ور تازه كوم او تر حاجت خايه پوري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یې په ثنا وړم، نو ما ددې حق ور پرځای کړی دی که نه؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل "لا ولا واحدة من مائة" یعنې یا حق دې نه دی ورپر ځای کړی بلکې یو له سلو حقوقو څخه دې هم نه دی پر ځای کړی، هغه سړي ورته وویل "ولم یا رسول الله" ولې مې نه دی پر ځای کړی یو له سلو حقوقو څخه ددې؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل دې چې ستا خدمت ګاوه په کوچنې والي چې ته ضعیفه وې په دې نیت چې دی به خدای ﷻ را لوی کړي، او ته چې یې خدمت کوې ددې لپاره یې کوې چې ښه ځوره سې سبا به ځوره سې علیه الصلوة والسلام ورته وویل "لکن احسنت والله یثیبک علی القلیل کثیراً" یعنې ښه کار کوې چې د مور دومره خدمت کوې او خدای ﷻ به تاته پر دغه لږ خدمت د مور چې تر وخت د مرګه یې ددې کوې دپر ثوابونه در کړي.

پوه سه: چې یو سړی و علیه الصلوة والسلام ته راغلی د جهاد او غزا. په باره کې یې مشوره ورسره کوله، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل "الک والدة" ته مور لرې هغه ورته وویل نعم. نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل "فالزمها فان الجنة تحت رجلها" ته د مور خدمت کوه ولې چې جنت ددې تر پښو لاندې دی، المقصود چې مور راضي وي خدای ﷻ تاته جنت درکوي، ولنعم ماقیل فیه

جنت که سرای مادر آنست　　زیر قدمات مادر آنست
روزی بکن ای خدای مارا　　چیزی که رضا مادر آنست

والحدیث ذکره ابو حامد محمد الغزالي رحمه الله في احیاء العلوم.

مسئله: زوی دې اطاعت کوي د مور او پلار که څه هم مشرکان وي په هغه شي کې چې په دین کې د اسلام مباح مثلاً ډوډۍ او کالي دې ورکوي او خدمت دې کوي، او که مشرک مور او پلار زوی امر کوی په شرک سره او یا په یوه ګناه کبیره سره نو بیا دې په خوله نه کوي، قال الله تعالی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

﴿وان جاهداک علی ان یشرک بي مالیس لک به علم، فلا تطعهما﴾ وایضا قیل لا طاعة للمخلوق في معصیة الخالق.

پوه سه: چي بعض علماء وایي چي هغه افعال چي په هغو کي بهیره د هلاک اخروي وي پر سري باندي. نو طلب د علم پر هغو فرض عین دی. که امور اعتقادیه وه لکه معرفت د خدای ﷻ په وحدانیت او په ټولو صفتو که څه هم اجمالاً او تصدیق د نبي علیه السلام في اقواله وافعاله.

دروښ وایي: چي د مذکوره امورو د معرفت لپاره چي سري آمنت بالله وملائکته تر پایه پوري په ترجمه زده کړي کافي ده، او که معرفت وي د اعمال حسنه وو چي متعلق په ظاهر سره وي لکه لمونځ، روژه وغیرهما. او که په باطن پور وي له حسن نیت او اخلاص او توکل علی الله في جمیع الامور وغیرها، او یا ګنهونه وي چي متعلق په ظاهر پوري وي ګشرب الخمر والزناء واللواطة او بیګانه ښځي ته په شهوت کتل. او یا ګنهونه د باطن وي لکه کبر او حسد او نور افعال سیئه چي په قلب پوري مربوط دي لکه ریاء وغیره، نو ددې کارو پېژندل فرض عین دي یجب علی المکلف طلبها وان لم یاذن ابواه، في فتاوٰی قاضیخان رجل طلب العلم بغیر اذن والدیه فلا باس به ولا یکون عقوقاً لکن دا هلته چي په زړه سري وي. او که چېرې بې زیري و او ښائسته و نو مور او پلار یې له طلب څخه منع کولای سي یعني بل وطن یا بل مسجد ته لخوف الفتنة.

دروښ وایي: چي دا و حق د والدینو پر والد باندي، او حق د ولد پر والد باندي په دې قرار دی چي اول خو دي پر زوی ښه نوم ایږدي په حدیث شریف کي راغلي دي "انکم تدعون یوم القیامة باسمائکم فاحسنوا اسمائکم.

پوه سه: چي حسن نومان دادي چي په هغه کي اضافت د عبد وي و یوه نامه ته د خدای ﷻ لکه عبدالله، عبدالغفور، عبدالرحمن الی غیر ذالک من اسمائه تعالی، او یا د علیه الصلوة والسلام او یا د یو بل نبي نوم لکه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محمد، احمد، محمود وغیرها من اسماء النبي ﷺ او یا ابراهیم، موسی، عیسی، داؤد وغیر ذالک من اسماء الانبیاء علیهم السلام. او که مکروه نوم و هغه به هرو مرو بدلوي په ښه نامه ولي چې د یو سړي نوم عاصي و نو علیه الصلوة والسلام په مطیع ور بدل کړی او بل سړی و نوم یې لمضطجع و علیه الصلوة والسلام په منبعث ور بدل کړی.

پوه سه: چې مکروه نومان دادي چې په هغه کې اضافت د عبد وغیر ته د خدای ﷻ د نامه سوی وي لکه عبدالمحمد، عبدالرسول، عبدالنبي عبدالحسین والاکره من ذالک کله ما فیه اضافة عبد الی الصنم لکه عبدالمناف، عبدالعزی الی غیر ذالک، او هغه نومان مکروه دي چې په هغه کې د علیه الصلوة والسلام د نامه سره وصف خاص د علیه الصلوة والسلام جمع وي لکه محمد نبي، محمد رسول الی غیر ذالک، او داغه رنګه بې معنا نومان مکروه دي لکه خر، خټک، شین ګل، الی غیر ذالک، او داغه رنګ مکروه دي نومان د ملائکه وو لکه جبرائیل، میکائیل الی غیر ذالک.

سوال: د جبر معنا په عبرانۍ ژبه عبد دی او ایل په معنا د الله دی. نو خو معنا د جبرئیل عبدالله سوه، نو ولي مکروه دی؟

ځواب: د معنا په لحاظ نه دي مکروه لکن فقهاؤ تسمیه باسما. الملائکة مکروه بللي دي.

او بل حق د زوی ختان دی د زوی چې په پښتو یې سنتي بولي او دا سنت دی، واختلف العلماء في وقت الختان، بعض وایي چې بلوغ ته ورسیږي نو دې سنت کړي لپاره د طهارت ولا طهارة علی المرء قبل البلوغ وهذا القول ضعیف، او بعض وایي چې د لسو کالو سي، او بعض وایي چې د نهو کالو سي، او بعض وایي چې د اوو کالو سي وهو الاعدل، لکن تر دې دمخه دې نه سنتوي چې غابنونه یې نه وي راغلي مخالفةً لليهود ولي چې یهود یې په اوومه ورځ د ولادت سنتوي کل ذالک منقول من روح البیان في باب الختان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او بل حق د ولد پر والد دادی چې حلال رزق یا لږ یا ډیر به وزله برابروي. او بل به علم دین په زده کوي سپیاره او قرآن کریم به لفظاً صحیح په زده کوي. او د علم دین کتابونه به په دیني مدرسو کې په زده کوي. او د صالحانو خلګو عادات به ورښیي. سعدي شیرازي رحمه الله وایي:

بخردی درش زجر وتعلیم کن — به نیک وبدش وعده وبیم کن
بیا موز پر ورده را دست رنج — وګردست داری چو قارون ګنج
بپایان رسد کیسه سیم وزر — نه ګردد تهی کیسه پیشه در

یعنې که ته طاقت لرې چې د قارون ګنج ورپیدا کړې خو تر هغه دا ښه ده چې یو کسب په زده کړې لکه نجاري. بنایي. خیاطي وغیرهما. او دا بیت بپایان آه دلیل د دمخه بیت دی فتامل.

او په حدیث شریف کې چې روایت یې انس رضي الله عنه کړی دی عن النبي ﷺ قال "یعقُّ عنه" عقیقه دي وکړي له مولود څخه په اوومه ورځ. او نوم دي پر کښیږدي او وښتان دې ور وخروي. او چې د شپږو کالو سي ادب دي ورکوي یعنې د طفولیت له لهو ولعب څخه دې راګرځوي. او چې د اوو کالو سو ځای دې ور جلا کړي یعنې د نورو ګوڅیانو سره دې په یوه ځای کې نه بیدوي. او چې د لسو کالو سي پر لمانځه دې وهي یعنې که یې لمونځ نه کاوه. او چې د شپاړسو کالو سي کوزده او واده دي ور وکړي یعنې ان استطاع. بیادې نو تر لاس ونسي او ورته وه دي وایي قد ادبتک وعلمتک وانکحتک اعوذ من فتنک في الدنیا وعذابک في الآخرة.

وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِن لَّمْ يَكُن لَّهُنَّ وَلَدٌ

او تاسي لره نیم مال دی د مایتو یعنې چې دوی مړې سي او تاسي ژوندي یاست که چېرې نه و دغو مایتو لره ولد که نر وي او که ښځه او دا والد ددې له نسه څخه وي. او که یې د زامنو له ملا یا د زامنو د زامنو له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ملا ځخه وي که يو ولد وي او که د هېر وي د زوج له ملا ځخه چې اوس زوندی وي او ددې وارث وي او که يې له بل مېړه ځخه وي. او باقي نيمه حصه د نورو ورثه وو ده من ذوی الفروض والعصبات.

فَإِنْ كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ

او که چېرې ماينو ولد درلودی علی التفصيل المذکور آنفاً. نو تاسي لره د مال د زوجاتو يعنې که مرې ماينې درلودی، او دې باقي حصې يې د نورو ورثه وو دي من ذوی الفروض والعصبات.

مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِينَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ

وروسته تر وصيت ددوی او يا پور پر دوی.

پوه سه: چې دا قيد د دواړو صورتو دی يعنې چې ولد نه لري او يا يې لري.

وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ

او ماينو لره ځلورمه د هغه مال ده چې تاسي پرېښوی يعنې چې تاسي مړه سئ او ماينې مو پاته سي.

إِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّكُمْ وَلَدٌ

که تاسي نه درلودی ولد.

دروښ وايي: چې هغه دمخه ذکر سوی تفصيل په ولد کې مه هېروه. والباقي من مالکم لباقي ورثتکم من ذوی الفروض والعصبات.

فَإِنْ كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُمْ

او که تاسي لره ولد و علی التفصيل المذکور نو ماينو لره مو اتمه حصه ده ما ترکتم من المال والباقي من اموالکم لباقي ورثتکم من ذوی الفروض والعصبات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مِّنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ يُوصِينَ بِهَآ أَوۡ دَيۡنٍ

وروسته تر هغه چې تاسي وصیت کړی وی او یا پور دربانديوي.

مسئله: که میړه مابنه په طلاق رجعي طلاقه کړي وه خواه په وخت کې د صحت یې طلاقه کړې وه او یا یې په مرض موت کې او هنوز دا په عده کې وه چې میړه یې مړ سو. نو هغې ته هم میراث رسیږي. او که میړه په حال کې د صحت مابنه په طلاق بائن طلاقه کړې وه د میراث حق نه لري که څه هم په عده کې وه چې میړه یې مړ سو. او که یې په طلاق بائن په مرض الموت کې طلاقه کړې وه او دا په عده کې وه میراث ورلای سي لانها امرئة الفار فاحفظ.

دروښ وایي: چې دلیل د فوق الذکر مسئلې یعنې چې سړی مابنه په مرض موت کې طلاقه کړي په بائن طلاق سره او میړه یې مړ سي او دا په عده کې وي میراث ورای سي. حضرت عثمان ﷺ پخپل زمانه خلافت کې ورکړی وه تماضر بنت اصبغ ته له میراث څخه د عبد الرحمن بن عوف ﷺ چې ده دغه ښځه یعنې تماضره په طلاق بائن سره په مرض موت کې طلاقه کړې وه، او دی چې وفات سو دا مابنه یې په عده کې وه په حضور کې د صحابه کرامو ﷺ چا انکار پرونه کړی فکان اجماعاً. والی هذا ذهب عمر وابنه عبد الله وعثمان وابن مسعود والمغيرة وعلي وابي بن كعب وعبد الرحمن بن عوف وعائشة وزيد بن ثابت رضوان الله تعالى عليهم اجمعين او د هیڅ صحابي څخه خلاف دده غې مسئلې نه دی نقل سوی، وهو مذهب النخعي والشعبي وسعيد بن المسيب وابن سيرين وعروة وشريح وربيعة بن عبد الرحمن وطاؤس بن شبرمه والثوري وحماد والحارث رحمهم الله تعالى اجمعين قاله المظهري رحمه الله عليه.

مسئله: قال الامام الاعظم رحمه الله عليه که مابنې په مرض موت کې له میړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه طلب د طلاق وکړی، او هغه طلاقه کړه بیا میراث نه لري. ولي چې دا پخپله په ابطال د خپل حق راضي سوه.

وَإِنْ كَانَ رَجُلٌ يُّوْرَثُ كَلٰلَةً أَوِ امْرَأَةٌ وَّلَهٗ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ ۚ فَإِنْ كَانُوْٓا أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَآءُ فِي الثُّلُثِ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُّوْصٰى بِهَآ أَوْ دَيْنٍ ۙ غَيْرَ مُضَآرٍّ

که یو نر میت چې له ده څخه میراث ورځ کېدی هر څوک چې یې څنګه وي "کلالة" دا خبر د "کان" دی، والکلالة من لا ولد له ولا ولد الولد وهلم جراً او نه یې والد درلودی ولا والد الوالد وهلم جراً. او یا ښځه وه کلالةً، او دې میت کلاله لره ورور یا خور وه یعنې د مور له خوا څخه باجماع الامة چې اخیافي یې بولي، نو هر یوه لره د اخت او اخ سدس د میراث دی لاتفضیل المذکر علی الانثی. او که اخ و اخت تر یوه بالا وه. نو دوی شریکان دي په یوه ثلث یقسمون بینهم بالسویة لاتفضیل للذکر علی الانثی وروسته تر وصیت د میت او یا پور پر میت.

فائده: مراد له اصول او فروع څخه په تفسیر کې کلاله نر دی حتی که میت لره مور وه یا لور وه هغه هم کلاله دي او د ښځې کلالةً هم دغه معنا ده.

فائده: د کلاله معنا ضعف دی لکه په دې محاوره کې کل فلان في نسبه کلالة ای ضعف وکل اللسان في نطقه کلالة ای ضعف. نو دغه سړی چې اصول نر او فروع نر نه لري ضعیفه دی.

فائده: ضمیر في ته راجع دی ورجل ته او ښځه کلاله پر قیاس دد. او یا ضمیر نر او ښځې دواړو ته راجع دی په تاویل د میت یا په تاویل د مورث او یا د مذکور.

فائده: مور، وویل چې مراد له اخ او خت څخه هغه دی چې فقط د مور له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خوا وي، يو خو په دليل د اجماع چې دمخه مور ووېل، او بل دليل د قرائت د ابي وسعد بن ابي وقاص رضي الله عنه وله اخ او اخت من ام وهذه الاقرائة وان لم يكن متواترة، قال ابو حنيفه رحمه الله يعمل بالقرائة الغير المتواترة اذا صح اسناده خلافاً للشافعي رحمه الله.

فائده: ورونه او خوندي درې قسمه دي (۱) اعياني چې په مور او پلار دواړو کې شريک وي (۲) علاتي چې په پلار کې سره شريک وي او مېندي يې سره جلا وي (۳) اخيافي چې په مور کې شريک وي او پلرونه يې سره جلا وي.

پوه سه: چې يوه مسئله چې په حمارېه سره مشهوره ده په هغه کې د امامانو اختلاف دی، هغه داده چې يوه ښځه کلاله مړه شوې وه او يو يې مېړه پاته و او بل يې مور او دوه ورونه د مور له خوا او دوه ورونه لابويين. د امام اعظم رحمه الله مذهب دادی چې مېړه ته دي نصف المال ورکړي لعدم الولد للمتوفات، او مور ته دي سدس ورکړي او د مور له خوا ورونو ته دي ثلث ورکړي، واذا اتم المسئلة بذوی الفروض فليس للاخوة لام واب شيئ لانهم من العصبات ولم يبق لهم شيئ. والى هذا ذهب احمد و داؤد. او امام شافعي رحمه الله وايي چې مورنۍ ورونه او اعياني ورونه په ثلث سره شريکان دي. ويرد عليه انه كيف اشرک العصبات مع ذوی الفروض.

مسئله: اولاد الام په ولد د ميت او په ولد الابن د ميت او په اب او جد سره ساقطېږي بالاجماع، قوله "غير مضار" او ميت به په وخت کې د وصيت ضرر نه رسوي و ورثه وو ته يعنې چې تر ثلث المال بالا وصيت کوي، او يا اقرار بالدين كاذباً وکړي د يو چا لپاره اضراراً بالورثة.

پوښتنه: قيد د عدم الاضرار خو په دمخه تقسيماتو کې هم ضروري دی، نو هوړې يې ولې قيد د مضار نه کړی ذکر او په "اخوة ولام" کې يې دا قيد ذکر کړی؟

ځواب: نعم! قيد د عدم اضرار خو هوړې هم مراد دی لکن چونکه قرابة الولاد وحسن معاشرة الزواج مانع و له ضرر څخه غالباً نو هوړې يې نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړی ذکر. او په بني الاخياف کي يعني چي فقط په مور کي شريکان وي احتمال د ضرر ډېر و. ولي چي عموم خلګ اولاد الام فقط ګرسره ورورونه نه پولي، نو ځکه يې قيد د عدم د عدم الاضرار ذکر کړی فتدبر.

دروښ وايي: چي باقي مسائل د وصيت مذکوره في کتب الفقه والميراث لکن مع ذالک ملا يدرک کله لايترک کله، نو بعض له مسائل ضروريه څخه دادي که پر سړي پور باندي و او يا زکوة پر پاته و او يا نذر او يا حج فرضي او يا قضايي لمونځونه او يا روژې پر باندي وي. نو پر ده واجبه ده چي دی به وصيت کوي په اداء د ما وجب عليه او په فديه د لمونځو او روژو دده له مال څخه. نو د پور ورکول خو يې ورورسته تر تجهيز او تکفين له مال څخه کېږي. نو که يې پورونه ټوله اداء سوه خو ډېره ښه، او که دده په پورو کي ټوله ميراث خلاص سو او هنوز پورونه پاته سوه، نو د پورورو خوښه ده که يې وربخښي او کې دار الآخرت ته پرېږدي. يعنې پر اولاد او اقربا ؤ يې ورکړه د پورونه ده لازمه الا ان يتبرعوا باداثها. او ماسوی له پورو څخه هغه نور فرائض چي دمخه تېر سوه له درې يمي څخه د مال ورکړه کېږي او پر ورثه وو يې قضاء او فديه لازمه نه ده الا ان يتبرعوا ولم يکن في الورثة صغير.

پوه سه: چي داسي وصيت بايد سړی مهمل پرې نږدي او تر مرض الموت يې ونه ځندوي. ولي چي دا نه ده معلومه چي سړی په څرنګه مرګ مري، آيا د وصيت فرصت به وموهي او که نه، ويدل عليه الحديث المروي عن ابن عمر رضي الله عنه ده وويل چي رسول الله ﷺ وويل "ماحق امرء مسلم له شئ يوصى فيه يبيت ليلتين الا ووصية مكتوبة عنده" رواه البخاري ومسلم چي داسي حديث ته متفق عليه وايي.

مسئله: که سړی مال لري او واجب پر ذمه نه لري نو که يې ورثه غنيان وه نو دی وصيت د خيرات وکړي تر ثلث څه کم يا عشر ياخمس يا ربع او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تر ثلث پورې دي اختيار لري، او که چېرې ورثه فقراء وه نو وصيت د خيرات مکروه تنزيهي دی بلکې مسکينانو ته دې پرېږدي. ولې صدقه پر قريب ډېر ثواب لري. قال رسول الله ﷺ الصدقة على المسكين يعني الاجنبي صدقة يعني فقط و على ذى الرحم صدقة وصلة رحم" رواه احمد والترمذي وابن ماجه والدارمي.

وَصِيَّةً مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَلِيْمٌ ﴿۱۲﴾

پوه سه: چې وصيت منصوب دی په فعل مقدر سره ای يوصيكم الله وصية، او خدای ﷻ په حال د بندګانو خبر دی خصوصاً په ضرر ددې په وصيت او حليم دی مضارته ژر عذاب نه ورکوي، نو دوی دې پوه سي چې تاخير د عذاب اهمال نه دی بلکې امهال دی تر توبې پورې.

تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ؕ

يعني دغه احکام د ميراث او حقوق د يتيمانو او د وصيتو. يعني شرائع د خدای ﷻ دي چې مسلمان بايد هغه پوره کړي او تجاوز تر ونه کړي.

وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ وَذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۱۳﴾

او که څوک فرمانبرداري وکړي د خدای ﷻ او د هغه د رسول ﷺ يعني په ټولو اوامرو کې له ايمانه رانيولې تر مستحب پورې او ځان منع کړي له منهياتو څخه د خدای ﷻ او د رسول دده له کفره څخه رانيولې بيا تر مکروه تنزيهي پورې، نو خدای به داخل کړي دغه سړی بوعده تعالى وجرى عاته تعالى وان لم يكن ذالك واجباً عليه تعالى كما هو راى المعتزلة، وجنتو ته په ورځ د آخرت هغه جنتونه چې بهېږي به لاندې تر درختو او تر قصورو د هغو جنتو څلور ولې "اوبه، شيدې، شراب او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عمل" والمراد والله اعلم الدخول بلا عذاب ولاعتاب. او دخول د جنت على الوجه المذكور كامیابي ده لویه. اللهم ارزقنا میادي واسباب هذا الفوز العظیم بفضلک العمیم.

وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَتَعَدَّ حُدُوْدَهٗ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيْهَا ۪ وَلَهٗ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۱۴﴾

او که څوک عصیان وکړي د خدای ﷻ او د رسول د خدای یعنې په امتثال کې د اوامرو په اجتناب د منهیاتو او تجاوزو کې تر ټولو حدود ده. وذالک لایتصور الا في الکافر ولهذا قال چې دی به داخل کړي اورته چې همېشه به وي په دغه اور کې یعنې ابد الآباد. او ده لره دی په دوزخ کې عذاب د سپکاوي، بخلاف المؤمن العاصي ان دخل النار لان النار له تصفیة لدنس المعاصي لکه سره زر چې خیرن سي نو زرګر یې پرې ګڼه د اور دي لپاره د صفایي، او د کافر حال په اور کې داسي دی لکه سړی چې بوتي پر اور کښېږدي لپاره د کتوي د غوښو پخولو الی غیر ذالک. اللهم نجنا من عذاب النار بفضلک وکرمک.

فائده: جمع راوړل د "خالدین" په اعتبار د معنی د "من" ده.

پوه سه: چې اطاعت د خدای ﷻ او د رسول دده سبب دی د خیراتو د دنیا او اخرت. او عصیان د خدای او د رسول دده سبب دی د عذابو د دنیا او اخرت کما قال الشاعر.

پسر نوح بابدان بنشست — خاندان نبوتش گم شد
سگ اصحاب روزی چند — پی مردم گرفت مردم شد

حاتم اصم رحمه الله وایي الزم خدمة مولاک یاتیک الدنیا راغمةً والآخرة راغبة.

حکایت: یوه ځوان له بني اسرائیلو څخه و دنیا ته شا کړې وه او په یوه ناحیه کې په عبادت د خدای ﷻ د شپې او ورځې اخته و، نو یو ډوه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کسه سپین ږیري دده د قوم ورغله او دې ځوان ته یې وویل چې راځه خپل کورته "یا من اخذت امراً شدیداً لاصبر علیه" اې ځوانه تا یوه ډېر سخت بار پر اوږو اخستی دی چې د همېشه لپاره صبر پر دې کار ګران دی، ځوان ورته وویل "قیامي بین یدي الله اشد من هذا" زما درېدل په حضور کې یعنې په ورځ د قیامت تر دې کار چې زه یې کوم ډېر سخت دی، او هغه دوو سپین ږیرو ورته وویل چې ستا قربان ټوله ستا د ملاقات په ارمان دي، نو ته چې پر کور دا عبادت کوې دا به افضل کار وي قربان به دي هم در ځخه راضي وي، ځوان ورته وویل چې خدای ﷻ زما ځخه راضي سي خدای ﷻ هر قریب لما ځخه راضي کړی، هغه دوو سپین ږیرو ورته وویل ځوانه ته بې تجربې یې موږ تجربه کاره یو له داسي کار ځخه چې ته یې اوس کوې اخیر الامر عجز پیدا کېږي، ځوان ورته وویل من عرف نفسه لم یضره العجب، نو باره دې دوو کسانو یوه و هغه بل ته وویل درځه چې ځندي ولاړ سو دې ځوان ریح الجنة پیدا کړی دی زما او ستا قول نه منې،

دروېش وایي: چې مولانا جلال الدین رومي قدس سره په مثنوي کې وایي:

بندبگسل باش آزاد ای پسر — چند باشی بند سیم و بندزر
هرکه از دیدار برخور دارشد — این جهان در چشم او مردار شد

الله ارزقنا حبک وحب من یحبک وحب عمل یقربنا الیک

وَالّٰتِیْ یَاْتِیْنَ الْفَاحِشَةَ

او هغه ښځي چې فعل کوي د زنی،

پوه سه: چې فاحشة په لغت کې فعل قبیح ته وایي او مراد دلته ځندي زنی ده، ولي تر ټولو افعالو قبیحه وو زنی بد کار دی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مِنْ نِّسَآئِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوْا عَلَيْهِنَّ

ای کائنات ستاسي له ښځو څخه. تاسي طلب وکړئ اي ايها الحکام پر دې ښځو يعني پر زنی ددوئ او هغه به داسي شاهدي ورکوي چې موږ داسي ولیدی ذکر د نر په فرج کي د ښځي لکه سلايي په رنجينونې کي.

اَرْبَعَةً مِّنْكُمْ

يعني نران څلور کسه له تاسي مسلمانانو څخه چې احرار هم وي. نو په زنی کي شاهدي د ښځو منظوره نه ده اجماعاً او د مريانو شاهدي هم مقبوله نه ده.

پوه سه: چې مظهري رحمه الله وايي چې من المؤمنين العدول.

ن وايي: چې د فاسقانو شاهدي عموما مردوده ده لاخصوصاً في الزنی.

فَاِنْ شَهِدُوْا فَاَمْسِكُوْهُنَّ فِى الْبُيُوْتِ

نو که دغه څلورو کسو شاهدي اداء کړه على النهج المذکور. نو تاسي دا زانيات بندي کړئ په خپلو کورو کي او خونې ددوی لپاره بندي خانې وګرځوئ

حَتّٰى يَتَوَفّٰىهُنَّ الْمَوْتُ اَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيْلًا ﴿۱۵﴾

تر هغه وخته پورې چې دده روح قبض کوي ملائکة الموت. او يا خدای ﷻ ګرځوي ددوی لپاره يوه بله شرعي لار.

دروښ وايي: چې مسلم د عبادة بن الصامت رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چې رسول الله ﷺ وويل "خذوا عني خذوا عني قد جعل لهن سبيلاً" له ما څخه زده کړئ له ما څخه زده کړئ خدای ﷻ دوی يعني زانيانو ته لار پيدا کړه "البكر بالبكر جلد مائة وتغريب عام، والثيب بالثيب جلد مائة والرجم"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "جلد مائة في البكر بالبكر" حد د زنی دی او په ثیز د امام ابو حنیفه رحمه الله تغریب عام سیاسةً دی موکول ورایي نه د امام دی. او د زنی د ثیب بالثیب حد خو رجم او جلد مائة په حد کې داخل نه دی للزوم اجتماع الحدین وسیئاتي الجواب عن الحدیث المذکور في سورة النور ان شاء الله تعالی.

پوه سه: چې د احنافو د علماؤ په دې کې اختلاف دی چې امساک في البیوت آیا حدود په ابتداء کې د اسلام، او بیا منسوخ سوه یا حد نه و بلکې ددوی لپاره حبس و چې حد نازلېږي نو به حد پر جاري سي. مظهري رحمه الله وایي چې صحیح زما په نېز دادی چې دا حبس في البیوت حد نه و او نه منسوخ دی بل الله سبحانه وتعالی امر بالحبس الی ان ینزل الحد وبعد نزول الحد دا حکم د حبس باقي دی تر څو چې حد پر جاري کېږي. په هدایه کې وایي "یحبسه الحاکم" قال في الاصل یعني المبسوط تر هغو پورې چې د عدالت د شهودو درک معلومېږي.

وَالَّذٰنِ یَاْتِیٰنِهَا مِنْكُمْ فَاٰذُوْهُمَا ۚ فَاِنْ تَابَا وَاَصْلَحَا فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ تَوَّابًا رَّحِیْمًا ﴿۱۶﴾

او هغه دوه کسه چې مراد څندې زاني او زانیه دي وتذکیر اللذان علی التغلیب چې دوی فاحشې ته ورتګ وکړي یعني زنا وکړي. نو تاسي دوی دوه په خوله ملامت کړئ مثلاً ورته ووایاست چې له خدایه او له مخلوقه نه شرمېداست چې زنا مو کوله، نو که دوی دوو توبه وکښل او آینده عمل یې صالح کوی نو تاسي بیا مخ څندې وارړوئ یعنې نوره ملامتیا مه پر کوئ. ولې چې خدای ﷻ د دې پرې توبې قبلوي او د دې پرو بندګانو توبې قبلوي او پر بندګانو مهربان دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروېش وايي: چې نزول ددې آیت په زنی کې رایه ده د اکثر مفسرینو. لکن روح البیان چې دهر قدیم تفسیر دی چې د مصنف نوم یې مع القابه شیخ اسماعیل حقي البرسوي رحمه الله دی چې په سنه ۱۱۲۷ھ وفات سوی دی د آیت په تفسیر کې داسې وایي چې تثنیه د "اللذان" مینې پر تغلیب ده، او مراد له فاحشة" څخه چې ضمیر د مؤنث ورته راجع دی مطلق زنی مراد نه ده، او له سدي رحمه الله څخه یې نقل کړی دی چې مراد په دې آیت کې زنی د بکرینو ده ولې عقوبت چې اذی باللسان یې سپک دی تر حبس مخلد کمامر او په دې سره به تکرار ددې آیت دفع سي، نوره ترجمه یې د آیت داسې کړې ده لکه دروېش چې وکړه، وروسته تر واعلم یې داسې ویلي دي که زانیه او زاني دواړه محصن وه یعنې نکاح شده فحدهما الرجم لاغیره، او که دواړه غیر محصن وه نو حد یې په درو وهل دي لاغیره، او که یو له دوی څخه یعنې زاني او زانیه محصن او بل غیر محصن و، نو حد د محصن رجم دی او د غیر محصن حد دُرې دي. ثم قال چې حد د زنی چې رجم او جلد دی په تورات کې و ثم نسخ بآیة الایذاء من القرآن وهي الآیة المتلوة ثم صار الایذاء منسوخاً بآیة الحبس کمامر. او ده ویلي دي چې آیت د ایذاء که څه هم په ترتیب او تنظیم کې وروسته دی لکن په نزول کې تر آیت الحبس دمخه دی.

دروېش وايي: چې په دې خبره برسوي رحمه الله هغه سوال دفع کړی چې منسوخ خو لازماً دمخه وي تر ناسخ، او بیا ده ویلي دي چې حبس منسوخ سو په حدیث د عبادة بن صامت رضي الله عنه کما ذکرنا من قبل. وثم هذا بآیة الجلد ﴿الزانیة والزاني فاجلدوا کل واحدة منهما مائة جلدة﴾ نو حد د زنی یوازې جلد و که زاني او زانیه محصن وي او که غیر محصن. ثم صار هذا منسوخاً في حق المحصن یعنې په ځای کې یې رجم ودریدی په حدیث د ماعز الاسلمي رضي الله عنه چې دی محصن و او زنی یې کړې وه، نو علیه الصلوة والسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

امر د رجم پر وکړی او غیر محصن په حکم کي د جلد پاته سو. په اخیر کي دی وایي وهو الترتیب في الآیات والاحادیث و علیه استقر الحکم عندنا. او برسوي رضی الله عنه حواله د ټوله مذکوره بیان وتفسیر تیسیر ته کړیده.

دروېش وایي: چي په دې ترتیب او نسخ ومنسوخ کي په دېرو خایو کي مظهري مخالف دی کمامر منا قبیل هذا والله اعلم بالصواب والیه الرجع والمآب.

پوه سه: چي د محصن تفسیر دادی چي سړی عاقل وي نو مجنون محصن نه دی، بالغ وي نو کوچنی محصن نه دی، مسلمان وي نو کافر محصن نه دی، او حر وي نو مریی مصحن نه دی. چي جماع یې کړې وي د یو ښځي سره یعنې ماینې سره بالغه وي. او که یې د نابالغه ماینې سره جماع کړې وي هغه محصن نه دی، او ماینه به یې هم عاقله وي، که یې د لېونی ماینې سره جماع وکړه نو هغه محصن نه دی. او ماینه به یې حره وي او که یې ماینه د بل چا مینځه وه ده جماع ورسره وکړې دی محصن نه دی، او داغه رنګه چي د خپلي مینځي سره په ملک الیمین وطي وکړي هغه محصن نه دی. او ماینه به یې مسلمانه وي. که د سړي کتابیه ښځه په نکاح کي وه او وطي یې ورسره وکړې هغه هم محصن نه دی. ماینه به یې هم په نکاح صحیح سره غوښتې وي نو که یې نکاح د ماینې سره فاسده وه کالنکاح بغیر شهود هغه هم محصن نه دی فاحفظ هذا التفسیر المحصن. وفي الحدیث الصحیح الذي رواه مسلم عن ابن مسعود رضی الله عنه دی وایي ما پوښتنه وکړه له علیه الصلوة والسلام څخه "ای ذنب اعظم عند الله" کومه ګناه ده دېره لویه په نېز د خدای جل جلاله علیه الصلوة والسلام راته وویل "ان تجعل لله نداً وهو خلقک" چي ته خدای جل جلاله مثل ووایه یعنې شریک او حال دا دی چي ته خدای پیدا کړی یې "قلت ثم ای قال ان تقتل اولادک خشیة ان یاکل معک" چي ته عیال وژنې له ببرې ددې چي ستا څخه به دوډی غواړي "قلت ثم ای قال تزاني حلیلة جارک" ما ورته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وویل چې بیا کومه ګناه لویه ده علیه الصلوة والسلام وویل چې نه زنی وکړي د همسایه د مایني سره. دا خو هم زنی ده بل د مراعات نه کول دي د همسایه توب. ابن مسعود ﷺ وایي نو استزده لزادني که ما بالابود پوښتنې له علیه الصلوة والسلام ځخه کړي وای نو علیه الصلوة والسلام به نور زیاتوب راته کړی وای یعنې که ما ویلي وای ثم ای ثم ای. نو علیه الصلوة والسلام په جوابو کې زیاتوب راته کړی وای نو ما شفقةً علیه ثم ای ثم ای بس کړه چې جوابونه پر علیه الصلوة والسلام تکلیف نه سي.

دروښ وایي: چې سختریښه زنی د هغه چا ده چې مایښه خو په ثلاثاً پر طلاقه سوې وي لکن ده ته هغه د عالم د شرمه ناسته وي او حرامي جماعي هم ورسره کوي.

دروښ وایي: چې ما په یو حدیث صحیح کې لیدلي وه چې اولاد الزنی د پر سي نو پر خلګو به طاعون او فقر مسلط سي. نو زه ودې ته حیران وم چې ولد الزنی خو د رنډیو زامن بولي، نو دا څرنګه دوندې د پر پیدا ای سي. اوس مي دا څلور کاله دمخه دې ته فکر سو چې اولاد الزنی خو یوازي د رنډیو زامن نه دي بلکې د دغو کسانو چې مایني یې په دې طلاقه پر طلاقي سوې وي ولو متفرقاً او هنوز ودوی ته ناستي وي او مایني یې بولي او عیالونه ځندي راوړي نو دا خو هم اولاد الزنی دي.

حکایت: زما په محل کې یو سړی و چې د مایني سره یې جنګ سوی و. ده ورته ویلي وه چې پر ما طلاقه یې پر ما طلاقه یې پر ما طلاقه یې خو واړه، نو د هغه سړي مور ماته راغله او قصه یې راته وکړه ما ورته وویل چې دا مایښه بېله بلې میړه وده ته نه روا کېږي، مور چې یې زوی ته ویلي وه زوی یې ورته ویلي وه چې ته د مولوي صاحب خبرې ایله کړه هم تر دا اوسه ورته ناسته ده. نو دا اولاد خو هم اولاد الزنی دی.

حکایت: یو شناخته ماته راغلی چې زما ورور وخپلي مایښې ته تر لس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

واړه زيات پر يوه ځای طلاقونه ورکړي، نو ما هغه ته هم وويل چې بل ميړه غواړي. نو دی بيا په کوټه کې يو بارسوغ او په دنيا پېډاله ملا ته ورغلی و هغه ورته ويلي وه چې دا ټوله يو طلاق رجعي دی مانبام ډوډی وکړه زه به يې احتياطاً نکاح ور وتړم، نو هغه ډوډی وکړه نبې ورځې او غوښتې يې پاخه کړه او پېډاله ملا ورغلی ډوډی يې مظبوطه وخوړل نکاح يې وتړل په قول د هغه سړي چې دوه درې زره روپۍ مو هم ورکړې، زمخشري وايي.

علماء زماننا صاروا لصوماً عموماً في القضايا لاخصوصاً

لکن دروېش وايي چې باز هم دروازه توبه قبل الموت باز است. چناچه در اين آيت آمده "ان الله كان تواباً رحيماً" ودر قرآن كريم در بسيار جاء دروازه باز تصريح نموده شد عاصي بسبب گناه بسيار نا اميد رحمت الهي نبايد شد لكن بشرطيكه به صابون الاوزار غسل نمايد. مولنا جلال الدين رومي قدس سره درمثنوي چنين ميفرمايد درمواضع مختلف.

مركب تو به عجائب مركبی است بر فلک تاز وبيک لحظه زيست
چو ن بر آرند از پشيمانی انين عرش لرزد از انين المذنبين
عمر اگر بگذشت بيخش اين دم است آب تو به ده اگر اوبی نمش
بيخ عمرت رابده آب حيا ت تا درخت عمر گردد باثبات

اللهم ارزقني التوبة النصوح في اواخر عمري آمين.

دروېش وايي: چې سره ددې چې اکثره مفسرين خو پر دې خبره دي چې په آيت د "واللذان آه" خو مراد زاني او زانيه دي او تذکير د "اللذان" بنا، دی پر تغليب د مذکر پر مؤنث کمامر، سره د هغه مظهري رحمه الله وايي چې ظاهره زما په نبز له فاحشه څخه په آيت مذکور لواطت دی صرف د "اللذان" د تذکير مراعات کړی دی چې دا لواطت اولاً فعل د قوم لوط و دی وايي وهو قول مجاهد رحمه الله ده ويلي دي وحينئذ لا اشکال يعني في تذکير اللذان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: لواطت خو د هر قبیح فعل دی نو صرف "فاذاهما" څرنګه ددې غایة قبیح فعل جزاء کېدای سي؟

جواب: مظهري رحمه الله څواب ورکړی دی چې ایذاء خو په شرع کې حد محدود نه لري بلکې مفوض و رایې ته د امام وي کما هو مذهب ابو حنیفه رحمه الله من ان فاعل اللواطة لاحد علیه وانما یعزره علی حسب مایری، او که فاعل د لواطت وروسته تر تعزیر دا فعل مکرر وکړی، نو د امام اعظم رحمه الله څخه روایت دی چې قتل دې کړي که محصن وي او که غیر محصن لکن سیاسةً لا حداً. وقال ابن الهمام صاحب فتح القدیر لاحد علیه عند ابي حنیفه رحمه الله لکنه یعذره ویسجن حتی یموت ولو اعتاد اللواطة قتله الامام. او امام مالک، امام شافعي، امام احمد، امام ابو یوسف او امام محمد رحمهم الله تعالی وایي چې لواطت حد واجبه وي، نو امام مالک او احمد في اظهر الروایتین او په راجح قول کي د امام شافعي رحمه الله حده الرجم بکل حال یعني محصن کان او غیر محصن، وفي احد قولي الشافعي وحده القتل والسیف، او په قول د احمد او د ابو یوسف او محمد حده الزناء یعني یجلد البکر ویرجم المحصن لانها في معنی الزناء لان اللواطة قضاء الشهوة في محل مشتهي علی وجه الکمال لان محل الجماع متی کان اضیق کان اشهی وقضاء الشهوة فیه اوفر ولاشک ان الدبر اضیق من الفرج فیثبت له حکم الزنی بدلالة النص وقد طول الکلام فیه المظهري حسب عادته.

إِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللَّهِ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السُّوءَ بِجَهَالَةٍ

پوه سه: چې "انما" په معنی د ماوالا دی، والمعنی نسته قبول د توبې مګر د هغو کسانو لپاره پر خدای جل جلاله باندې چې عمل وکړي د سوء یعنې ګناه او په جهالت سره.

فائده: د توبې نسبت چې وخدای جل جلاله ته وکړه سي معنا یې رجوع ده له ارادې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه د عذاب و مغفر ته چې مختصر تفسیر یې قبول التوبة ده. او د توبې نسبت چې وبنده ته وکړل سې معنا یې رجوع ده له معصیت څخه وطاعت ته.

پوښتنه: کلمه د "علی" خو لپاره د وجوب ده نو آیا قبول د توبې پر خدای ﷻ واجب دی؟

ځواب: لا وجوب علی الله بشیئ لکن معنی الآیة الوجوب باعتبار وعده تعالی.

پوه سه: چې کلمه د "باء" في "بجهالة" کې لپاره د ملابست ده ای متلبسین بجهالة. معنی د جهالت دانه ده چې عاصي په ګناه والي نه وي خبر، بلکې معنا یې هغه ده چې بغوي رحمه الله وایي چې د صحابه وو پر دې اتفاق دی چې هر معصیت جهالت دی او هر عاصي جاهل دی عمداً کان اولا. او کلبي وایي چې په ګناه والي خو جاهل نه دی. لکن په عذاب د هغې ګناه جاهل دی یعنې کماً وکیفاً. او بعض مفسران وایي چې معنی د جهالت ذهول او غفلت دی په نېږد غلبې د شهوت لکه په وخت کې د زنی او اللواطة او یا د غضب لکه په وخت کې د قتل یا جرح یا د شتم.

دروښ وایي: چې هذا التفسیر في غایة القبول.

ثُمَّ يَتُوبُونَ مِنْ قَرِيبٍ

او بیا توبه وکاږي په یو جز. قریب کې د زمانې. نو کلمه "من" لپاره د تبعیض ده.

پوه سه: چې په قرب کې د زمانې د توبې اختلاف دی. بعض مفسران وایي چې معنی د قریب داده چې سیئات یې تر حسناتو ډېر سوي نه وي او بعض قریب معنی داده چې حب د ګناه پر زړه احاطه نه وي کړې چې دې ته رین وایي کما في قوله تعالی "کلاً بل ران علی قلوبهم" او سدي او کلبي وایي چې توبه په صحت کې وکاږي تر مرض الموت دمخه نو دا اقرب بولي. او عکرمه او ضحاک وایي چې قریب دادی چې په وخت د زکندن چې ملائکه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عذاب لا نه وي ورته راغلې دی توبه وکاږي کما في الحديث الصحيح ان الله يقبل التوبة من العبد مالم يغرغر رواه احمد والترمذي وابن ماجه وغيرهم كما قال المظهري، وری ابو سعيد الخدري رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ قال چې شيطان خدای ته وويل چې زما دي سترا په عزت او جلال قسم وي چې زه په همېشه گمراه کوم اولاد د آدم تر هغو چې روحان پکښې وي، نو خدای عزوجل وشيطان ته وويل چې زما دي پخپل عزت او جلال سره قسم وي چې زه به دوی ته بخښنه کوم چې دوی زما څخه بخښنه وغواړي رواه احمد.

فَأُولَٰئِكَ يَتُوبُ اللَّهُ عَلَيْهِمْ ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١٧﴾

نو ددغو کسانو خدای عزوجل توبه قبلوي او دی خدای په هر څه خبر او د حکمت څښتن يعني في كل ما فعل الله.

پوه سه: چې توبه څلور شرطه لري (۱) پښېماني ده په زړه کې (۲) ترک د گناه دی في الحاله (۳) تينګ قصد کول چې زه بيا دا گناه نه کوم (۴) دا ټوله دي حياء من الله وي وخوفاً من عذابه لا خوفاً من غيره. قال السعدي الشيرازي رحمة الله عليه

طريق بدست آر وصلحی بجوی — شفيعی بر انگيز وعذری بگوی
که يک لحظه صورت بتند وآمان — چو پيمانه پر شد بدور زمان

وما قال جلال الدين الرومي رحمة الله عليه

از پی هر گريه آخير خنده ايست — مرد اخير بين مبارک بنده ايست
هر کجا آب روان سبزه بود — هر کجا اشک دوان رحمت شود
تانه گريد ابر کی خندد چمن — تانگريد طفل کی جوشد لبن

په حديث شريف کې راغلي دي چې کراماً کاتبين چې د بعض گناه کارانو گناه وي و اسمان ته پورته کړي او پر لوح محفوظ يې عرض کړي.

پوه سه: چې د لوح محفوظ څخه مراد کتاب المحو الاثبات دی کما اشير

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الیه بقوله تعالی یمحوا الله مایشاء ویثبت وعنده ام الکتاب. له ام الکتاب څخه مراد لوح محفوظ دی بالمعنی المشهور. نو دغه ملکي په لوح محفوظ بالمعنی المذکور په ځای کي د هغو سیئاتو حسنات وویني. نو خدای ﷻ ته پر سجده سي او ووایي "ربنا انک تعلم انا ماکتبنا الا ما امرتنا" ای خدایه ته خبر یې چي مونږ نه دي نوشته کړي مگر هغه شی چي تا مونږ ته امر کړی و یعني من الحسنات والسیئات، غرض ددوی دا وي چي مونږ خو ددې بنده سیئات نوشته کړي وه او دلته په لوح محفوظ کي حسنات نوشته دي، نو خدای پاک ورته ووایي صدقتم تاسي رښتیا وایاست لکن دغه بنده پښیمانه دی پر خپلو گنهو او ما ته یې شفیع وگرځولې د سترگو اوښکي یعني راته وه یې ژړل، نو ما یې گنهونه ور عفوه کړه او په ځای کي مې حسنات نوشته کړه وانا اکرم الاکرمین.

پوه سه: چي زمونږ د زمانې استغفار و استغفار ته ضرورت لري ولي چي سړه ددې چي پر گناه قائم یو او ندم قلبي مو نسته او په خوله وایو استغفرالله فهذا شبیه بالاستهزاء بالله اعاذنا الله منه. قال القرطبي رحمه الله في تذکرته.

بیت

بر زبانت یا صمد پیدا و در دل یا صنم
ای بباطن کافر ظاهر مسلمانی چه سود

دروېش وایي: چي بعض مدرس ملایان چي پخپله د استاذ عاق شده وي لکن دی ومقتدیانو ته او یا خپلو شاگردانو ته وایي چي د استاذ دونده حقوق دي یعني ځان ساتئ زما له عقوق څخه او دی مقروي پر عقوق د خپل استاذ.

واعظان کین جلوه در محراب و منبر میکنند
چون بخلوت می روند آن کاری دیگران میکنند
دست حیرت میگرم از وعظ اینچنین واعظ
توبه فرمایان وخود توبه نمی دارند

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په يوه روايت کي راغلي دي چي جبرائيل عليه السلام و آنحضرت ﷺ په وخت کي د قرب وفات دده راغلی، او ورته وه يې ويل چي رب ﷻ پر تا سلام وايه چي کوم څوک چي ستا له امت څخه يوه هفته دمخه توبه وکاږي زه يې توبه قبلوم، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي هفته خو دهر وخت دي، نو جبرائيل عليه السلام بيرته ولاړی او بيا راغلی او پيشوا عليه السلام ته يې وويل چي خدای پاک وايي چي هر څوک ستا له امت څخه چي يو ساعت ترمخه توبه وکاږي زه يې توبه قبلوم، والمراد الساعة الزمانية دون الساعة اللغوية فافهم، جبرائيل عليه السلام ولاړی او بيرته راغلی چي خدای پاک تاته سلام وايه او دا وايي ان كان هذا كثيراً فلو بلغ روحه الحلق ولم يمكنه الاعتذار بلسانه واستحي مني وندم بقلبه غفرت له ولا ابالي.

دروښ وايي: چي دا قسم توبه هغه وخت مقبوله ده چي مريض ته په وخت کي د زکندن ملائکه د عذاب نه وي راغلي، ولي که عذاب نازل شو بيا توبه فائده نه کوي، ولي فرعون چي په درياب کي غرق سواو اوبه يې پر سر راپورته سوې داسي يې وويل "لا اله الا الله الذي آمنت به بنوا اسرائيل" لکن فائده يې ونه کړه جبرائيل عليه السلام يې په خوله کي ختمي ور واچولې او ورته وه يې ويل "الآن قد عصيت من قبل"

دروښ وايي: چي دا قسم احاديث مبارکه که څه هم صحيح دي لکن شيطان بايد دا آحاديث سبب د غولېدو د مؤمن نه وګرځوي، ولي چي علماء او صلحا ټوله وايي چي تعجيل د توبې عند صدور المعصية واجب دی،

بيت

توبه بکن امروز تو هرگز مگو فردا کنم
شايد بميری صبحدم فردا نيابی در شمر

پند: هيڅ يو انسان داسي نه کوي چي نن وړی وي او قدرت پر ډوډی هم لري او د نن ډوډی وصبا ته صرف معطله کړي فضلاً الی الشهور والسنين:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو توبه د ګنهونو ولي مؤمن تر میاشتو او تر کلو بلکې د مرګ تر رسېدو پورې معطله کوي وان هذا الا غرور الشیطان للعبد المؤمن اعاذنا من جمیع انواع غروره اللهم آمین.

وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ ۚ حَتّٰٓى اِذَا حَضَرَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ اِنِّيْ تُبْتُ الْـٰٔنَ وَلَا الَّذِيْنَ يَمُوْتُوْنَ وَهُمْ كُفَّارٌ ؕ اُولٰٓئِكَ اَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۸﴾

او نسته د توبې قبلیده یعنې په نېز د خدای ﷻ د هغو کسانو لپاره چې عملونه د بدو کوي که کفر وي او که معاصي وي تر هغه وخته پورې چې وه یوه ته ددوی حاضر سي مرګ، یعنې وخت د نزع الروح ورته راورسېږي او ملائکه د عذاب وویني. نو دی وایي چې زما توبه هم دا اوس ده یعنې په دې وخت کې نه توبه د کافر قبلېږي او نه توبه د عاصي او نه د هغو کسانو لپاره توبه سته چې دوی مړه سي او دوی کفار وي.

پوه سه: چې "وهم کفار" یعنې لاتوبة لهم في الآخرة لان الکفار یومئذ کلهم مؤمنون مصدقون کما حکی الله تعالی عنهم ربنا ابصرنا وسمعنا فارجعنا لعمل صالحاً انا موقنون. او هم دغو کسانو ته ما اراسته کړی دی عذاب درد ورکونکی چې دوزخ دی.

ابوبکر واسطي رحمه الله وایي چې تاخیر په هر کار کې نبه کار دی الا في ثلث عند وقت الصلوة ای الوقت المختار وعند دفن المیت، والتوبة عند المعصیة، او په لعل او عسی سره باید سړی توبه ونه ځنډوي.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ كَرْهًا ؕ

اې هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی نه ده روا وتاسي ته چې تاسي به په میراث وړئ ښځې په زور او جبر سره یعنې لکه میراث چې وارث په زوره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غواړي، محي السنة بغوي رحمه الله وايي چې په جاهليت کې د ازواجو چې يو سړی به مړ سو او ددې مړه به ماينه وه نو ددغه سړي د بلې ماينې زوی او يا يو بل قريب د مړي د عصباتو لکه اکا وغيره نو پټو به يې پر هغه کونډه واچاوه او يا د هغې پر خپمه باندې، نو بيا دی مخير و که يې پخپله په نکاح کولای بهله ولوره، ولي چې دې ته ميت ولور ورکړی دی او که به يې خوښه وه بل چاته به يې په نکاح ورکړه او ولور به يې ده واخستی، او يا به يې نه پخپله په نکاح کول او نه به يې بل سړي ته په نکاح ورکول، تاچې دغه کونډه ودې ته مجبوره کړي چې هغه ميراث چې له ميت څخه دې ته په برخه سوی و بيرته وداغه سړي ته مسترد کړي، قال ابن عباس رضي الله عنهما فنهوا عن ذالک بهذه الآية تر پايه پورې، او که به چېرې کونډه دمخه تر دې چې قريب الميت به کالی پر اچاوه خپل د اقرباوو کره تللې وای بيا چا له اقرباوو څخه د ميت کار نه په درلودی که يې نکاح کولای د خپله سره او که داغسې له خپلو قريبانو سره کښېنستای هم ددې خوښه وه.

دروښ وايي: چې د کونډې يانو مسئله په پښتنو کې که څه هم تولـه پر رونق د جاهليت نه ده لکن دا قدر ميراث د جاهليت په دوی کې پاتـه دی چې کونډې که مېړه کاوه حتماً به يې په قريبانو کې د ميت کوي او هغه هم بهله ولوره، حتی چې بعض اغلظ جاهلانو د صحرايانو په پښتنو کې داسې سته چې د شپې د کونډې په ځای ور ننوزي او بهله نکاح زناء ورسره وکړي وای اوس نو زما ماينه سوه، او هم داغه د شپې زنا يې بس نکاح وي يعنې وروسته تر زنی نوې نکاح نه ورسره تړي وهذا غاية الجهالة في بعض الافاغنة من اهل البوادي.

دروښ وايي: چې دا خو هر پخوانی رواج و، لکن اوس بهله نکاح زناء نه ورسره کوي که څه هم کونډه له قريبانو څخه د ميت دباندې مېړه ته نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پرېږدي. لکن د ښارو خلګ د پښتنو د ملايانو په تبليغاتو کې او په مواعظو کې دا مسئله اوږدل په بار بار چې ګونډه د خپل سر ده. نو د ښارو خلګ وګونډي ته پوره اختيار ورکوي ګه د خپلو يتيمانو سره بيله نکاح کښېنې نفقه قربان د ميت ورکوي او ګه په قربيانو کې د يوه سره نکاح کوي او ګه بل ځای مېړه کوي لکن يتيمان چې حق د ورثه وو دي هغه خندي ګرځوي ګه دې دباندي مېړه وکړي.

وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوهُنَّ

پوه سه: چې کلمه د "لا" زائده ده لپاره د تاکيد او "تعضلوا" عطف دی پر "ترثوا" منصوب په سابق "ان" دی.

فائده: اصل العضل معنا يې تنګول دي. والمعنى هَ لا تمنعوهن من التزويج ددې لپاره چې تاسي ځندي واخلئ بعض هغه ولور چې ستاسي قريب ميت ودوی ته ورکړی و.

پوه سه: چې خطاب ګه څه هم عام دی وتولو مؤمنانو ته په قرينه د صدر د آيت يعني "يا ايها الذين آمنوا لايحل" لکن ضمير د "لتذهبوا" راجع دی و اولياؤ ته د ميت. او ضمير د "ما اتيتموهن" راجع دی وبل بعض ته يعني الازواج الاموات. وحاصل المعنى ولا تعضلوهن ايها الاولياء للميت دغه ګونډه يانې تاچې تاسي له دوی څخه واخلئ بعض د هغه ولور چې دې ګونډه يانو ته هغه مېړه ددوی ورکړی و او هغه اوس مړ دي او تاسي يې قربان ياست.

دروښ وايي: چې پر دې تفسير چې مظهري کړی دی په اول کې ربط د وروسته آيتو ډېر مشکل دی ولې چې وروسته آيتونه هم په احکامو کې د زوج او زوجې په منځ کې دي، او بنه زېبا او ښائسته تفسير هغه دی چې صاحب د روح البيان کړی دی چې د هغه تفسير بنا، پر دې ده چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"لاتعضلوهن" خطاب دی وازواجو ته یعني ان الکلام په باره کې د ګونډو یانو پر هغه آیت ختم سو "یاایها الذین آمنوا لایحل لکم ان ترثوا النساء کرها" او لاتعضلوهن آه خطاب مستانف دی سره د ازواجو، چنانچه بغوي رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت کوي چې دا آیت په باره کې د هغه میړه دی چې ماینه لري او بد یې ګڼي رائي، نو دی یې طلاقه وي هم نه او سو، عشرة ورسره کوي او همېشه په قهر او غضب خبري ورسره کوي ددې لپاره چې دده څې ولور پر تللی دی ماینه مجبوره سي چې پر بعض د هغه ولور خلع ورسره وکړي، نو پر دې تقدیر "لاتعضلوهن" معطوف دی پر "لایحل لکم" په قول د مظهري له قبیلې څخه د عطف د جملې پر جملې.

سوال: لاتعضلوهن" خو نهي ده او انشاء ده او "لایحل لکم آه" خو اخبار دی نو خو عطف د انشاء پر اخبار لازمېږي؟

ځواب: لایحل لکم آه" که څه هم خبریه ده لفظا لکن په معنا د انشاء ده یعني النهي عن میراثهن، او مظهري رحمه الله د تعجب ور بلل ځواب دا سي ورکړی دی وعطف الجملة علی الجملة فیما لامحل له من الاعراب مع اختلافهما خبراً وانشاءً جائز انتهی، وجه التعجب ان النحاة اجمعوا ان الجمل المعطوفة اذا کانت لها محل من الاعراب یجوز عطف بعضها علی بعض وان اختلف اخباراً وانشاءً لانها بسبب محل الاعراب في حکم المفردات وعطف المفردات بعضها علی بعض جائز اتفاقاً، او روح البیان وایي چې "لاتعضلوهن" عطف دی پر "ترثوا" باندې او لا زائده لپاره د تاکید د نفي دی، نو پر دې تقدیر "تعضلوا او ترثوا" دواړه داخل دي تحت ان مصدریه، نو پر دې تقدیر دا عطف د مفرد پر مفرد دی، والمعنی والتقدیر لایحل لکم ایراث النساء کرها وعضلهن.

فائده: علامه مظهري د خپل مخکنې تفسیر څخه چې دروېش ذکر کړی په اخیر کې یې رجوع کړې ده او تفسیر ته د روح البیان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: قاضي بيضاوي هم وايي چې "لاتعضلوهن" عطف دی پر "ترثوا" يعنې تر ان مصدريه لاندې دی کما قال روح البيان.

دروېش وايي: چې دا و تحقيق ددې آيت مع اختلاف المفسرين في تفسيرها والله اعلم. لکن دروېش وايي چې دا سوال پر اخير صحيح تقدير پاتې دی چې خطاب "لاتعضلوهن" او ضمير د "هن" و ازواج او زوجاتو ته دی او ازواج او زوجات په دې آيت کې نه دي ذکر سوي، نو اضمار قبل الذکر به نه وي؟

ځواب: له سياق څخه د آيت المواريث ازواج او زوجات فهمېږي وهذا القدر من الذکر يکفی في ارجاع الضمير کما لايخفی.

إِلَّآ أَن يَأْتِينَ بِفَٰحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ

مګر نه زوجات راتګ وکړي په خصلت بد سره چې ښکاره وي.

پوه سه: چې دا استثناء په محل کې د نصب ده على الظرفية، والتقدير لاتعضلوهن للافتداء في وقت من الاوقات الا وقت ان ياتين بفاحشة. او يا استثناء منصوب ده بناء پر دې چې مفعول له. والتقدير لا تعضلوهن لا افتداء بسبب الا لان ياتين بفاحشة.

پوه سه: چې ابن مسعود رضي الله عنه او قتاده رحمه الله وايي چې مراد له "فاحشة" څخه نشوذ او نافرمانې ده د مايې له مېړه څخه، او حسن بصري رحمه الله وايي چې مراد له "فاحشة" څخه زنی ده يعنې مايې نشوذ له مېړه څخه کاوه او يا يې زنی وکړه چې ده له دغې مايې څخه د خلع طلب وکړي.

وَعَاشِرُوهُنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ

او تاسي ژوند کوئ له مايې سره په معرف في الشرع سره ای بالانصاف واداء حقوقهن والاحسان في القول.

پوه سه: چې دا جمله عطف ده پر "لاتعضلوهن" باندې من عطف الانشاء على طريق الامر على الانشاء على طريق النهي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ

که ستاسي بد راځي له ماینو څخه.

پوه سه: چې جواب د شرط محذوف او علت د جواب یې په ځای کې ور درولی دی، والتقدیر که ستاسو له ماینو څخه بد راځي په سبب د عدم الحسن او یا په سبب د سوء الاخلاق، نو صبر پر وکړئ او طلاقوئ یې مه. دا جواب د شرط دی ولي ددې سببه.

فَعَسَىٰ أَن تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا ﴿١٩﴾

ولي شاید چې ستاسي دي بد راځي له یو شي څخه لکه په دې ځای کې بدرنګه بد اخلاقه ماینه او خدای پاک به وګرځوي په هغه کې خیر کثیر. یعني یا به پر صبر ثواب جزیل درکړي او یا له دغې ماینې څخه به خدای صالحان عالمان زامن درکړي.

پوه سه: چې فاعل د عسى هو المعطوف والمعطوف علیه یعني ان تکرهوا شیئا ویجعل الله آه، والاصل هو المعطوف ای ویجعل الله آه والمعنی الخیر الکثیر مرجو عند الکراهة.

پوه سه: چې صبر پر ماینه سره له کراهته مندوب دی چې مخالف د رضا الهي سره نه وي والا فالرد عن مواضع التهمة واجب، ولي چې غیرت د خدای ﷻ او د انبیاء کرامو علیهم السلام عادت دی او د صلحاؤ د امت عادت دی، وقد جاء في الحدیث الصحیح الذي رواه البخاري وغیره قال علیه الصلوة والسلام اتعجبون من غیرت سعد وانا اغیر منه والله اغیر مني ومن غیرت الله حرم الله الفواحش ماظهر منها ومابطن.

دروښ وایي: چې اول غیرت د مېړه دادی چې دده کورته به نا محرمه سړی لپاره د ملاقات دده د ماینې نه ورځي لکه د اکا زوی د ماینې د ماما زوی د ماینې د خور مېړه چې په اصطلاح یې اخښی بولي، ولي چې اخښی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

که څه هم محرم دی بالفعل لکن محرم ابدي خو نه دی، او دوهم غیرت د مېړه دادی چي ماینه به يې په بازارو کي د بیعه او شراء لپاره نه ګرځي، او د ماینې وحمام ته په تګ کي اختلاف دی. والصحیح في هذا المنع لیشوع الفساد ولوجود الحمامات في کثیر من الدور.

مسئله: دخول و حمام ته د نرو په اتفاق روا دی که چېرې په حمام کي کشف العورة نه و، لکن په اوسنۍ زمانه کي حمام د کشف العورة څخه خالي نه دی البته که حمام نمرې درلودې یعنې جلا جلا خونې چي جلا جلا دروازې يې درلودې کما في زماننا فلا باس به اتفاقاً لان کل حمامي في بیت علیحدة.

والحاصل: که ښځه عفیفه یعنې پرهېزګاره وه، نو پر مېړه واجبه ده چي ښه معاشرت دي ورسره کوي او ددې پر بد رنګ او بدو اخلاقو دي صبر وکړي او وخلعي ته دې نه مجبوره کوي، شیخ سعدي رحمه الله وایي:

چو مستور باشد زن خوب روی — بدیدار او دربهشت است شوی
چو زن راه بازار گیرد بزن — وگرنه تو بخانه بنشین چو زن
زبیگانه گان چشم زن کور باد — چو بیرون شد از خانه در گور باد

فائده: د نرو سره ژوند کول ډېر آسانه دی خو د ښځو سره ژوند کول ډېر ګران دی، ولي چي ښځه ضعیف الدین، ضیعف العقل او ضیعف الاخلاقه ده، نو ځکه حسن معاشرت د ماینو او صبر کول د دوی پر بدو اخلاقو کول ثواب د جهاد في سبیل الله لري او د رسول کریم ﷺ اخلاق د ازواجو مطهراتو په کتابو کي د حدیث مبارکه وو اظهر من الشمس دي.

فائده: کثرت د ماینو له دنیایي چارو څخه نه دی، ولي چي زاهدان او عابدان به درې یا څلور ماینې درلودې، او انبیاء علیهم السلام ته تر څلورو ماینو بلا هم روا وې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِنْ أَرَدْتُمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ

او که تاسي غوښته چي زه يوه ماينه موجوده طلاقه کړم. بيله دي چي په هغې ماينې کي نه نشوز وه او نه زنی وه او نه سوء خلق و او په خای کي د هغې ماينې بله ماينه وکړم هر باعث چي وي.

وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ

پوه سه: چي ضمير د "آتيتم" و "زوج" ته راجع دی ولي چي زوج اسم جنس دی پر يوه او پر ډيرو يې اطلاق روا دی، ولي که له زوج څخه جمع وانه خلې بيا نو تقسيم د احادو د رجالو پر احادو د نساؤ امکان پذير نه دی فافهم.

قِنطَارًا

او تاسي ورکړی وو دغې مطلقې ته په وخت کي د نکاح مال کثير يعنې په ولور کي.

پوه سه: چي عليه الصلوة والسلام د قنطار تفسير په يو زر اوقيه سوه درهمه سره کړی دی کما روی ابن جرير عن انس ﷺ عن النبي ﷺ.

پوه سه: چي اقل د مهر که څه هم محدود وي يعنې چي تر لس درهمه به کم نه وي لکن اکثر د مهر لره تعيين نسته په دليل د دغه آيت وعلى هذا انعقد الاجماع، قاله المظهري والامام الرازي وغيرهما.

پوه سه: چي يوه ورځ عمر ﷺ وويل په يوه خطبه کي "الا لاتغالوا في مهور النساء" الى اخير الحديث، آگاه اوسئ چي تاسي گراني مه کوئ په مهرو کي د ښځو، يوه ښځه چي په موعظت کي د عمر ﷺ حاضره وه هغې ورته وويل ليس لک ذالک يا عمر والله يقول و آتيتم احداهن قنطارا" نو عمر ﷺ وويل کل الناس افقه من عمر حتى المخدرات.

پوه سه: چي مغالات په ولور کي که څه هم روا دی بدليل هذه الآية. لکن بيا هم مستحب تخفيف د مهر دی لقول عمر ﷺ في الحديث المذکور "انها ای المغالات لو کانت مکرمة في الدنيا وتقوى عند الله لکان اولاکم بها ای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المغالات نبي ﷺ وما علمت شيئاً من نسائه ولا انكح الشئ من بناته اكثر من اثنى عشرة اوقية رواه احمد واصحاب السنن الاربعة.

پوه سه: چې يوه اوقيه څلوېښت درهمه ده، او په حديث کې د ابن عباس ﷺ راغلي دي چې خير د بنځو هغه سپکه ده بنځو دده په ولور کې، او په بل حديث کې چې ابن حبان يې روايت کړی دی له عائشې ﷺ څخه چې رسول الله ﷺ وويل چې له برکت څخه د بنځې دادی چې کار يې اسانه وي او ولور يې لږ وي، له آسانۍ څخه د کار کالي او خوښۍ د بنځې مراد دی.

فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا ۚ أَتَأْخُذُونَهُ بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُّبِينًا ﴿٢٠﴾

نو تاسي مه اخلئ له قنطار څخه هيڅ شی، آيا تاسي اخلئ له هغه قنطار څخه يو څه.

پوه سه: چې استفهام لپاره د انکار او توبيخ دی، او لفظ د بهتاناً واثماً مبيناً منصوب دی على الحالية من ضمير تاخذون، والمعنى اتاء خذونه باهتين واثمين، او يا منصوب دی على انهما مفعول له د فعل مذکور، والمعنى اتاء خذونه بسبب ارتكابكم الاثم والبهتان.

پوه سه: چې لفظ د اثم که څه هم عام دی يعنې قولي او فعلي گناه دواړو ته شامل دی لکن لفظ د بهتان اکثر استعمال يې په قول باطل کې دی لکن گاهي په فعل باطل کې مستعملېږي وهو المراد هٰهنا، ولهذا فسر بعض المفسرين الاثم والبهتان بالظلم كان البهتان عطف تفسير للاثم، او بعض مفسران وايي چې مراد له بهتان څخه دلته هغه معنى قولي ده چې اکثر استعمالاً وه نو عطف د بهتان پر اثم باندي عطف د خاص دی پر عام باندي، هغه مفسر وايي چې د يو سړي چې به خيال سو ونکاح ته د نوې مايني نو زړه ماينه به يې متهمه کړه په فاحشه سره بهتاناً، فاحشه په معنا عامه يعنې زنى او بده گزاره او يا عدم اطاعت د مېړه تاچې زړه ماينه مجبوره سي و افتداء ته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَكَيْفَ تَأْخُذُونَهُۥ وَقَدْ أَفْضَىٰ بَعْضُكُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ

او څرنګه اخلئ تاسي يعنې له ماينو څخه دا قنطار يعنې ولور، او حال دادی چې تاسي يعنې مېړه او ماينه يو وبل ته رسېدلي ياست. يعنې مېړه و ماينې ته رسېدلی دی، امام شافعي رحمه الله وايي چې افضاء کنايه ده له جماعو څخه نو ځکه شافعي جماع په تقرر کي د ولور شرط بولي او په نفس خلوت ببله وطي مهر واجب الاداء نه دی، او امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله وايي چې تقرر او وجوب الاداء لکه په جماعو سره چې رائي په خلوت صحيحه سره هم رائي، يعنې چې مانع د وطي نه وي نه طبعاً لکه چې مېړه سخت ناجوړی وي او قدرت د جماعو نه لري او يا شرعاً مانع نه وي لکه فرضي روژه د مېړه يا د ماينې که څه هم وطي ورسره ونه کړي، او اصل معنی د "افضاء" دخول دی په فضاء کي، والمراد هو المكان الخالي.

پوه سه: چې نفس وجوب د ولور په عقد د نکاح دی او وجوب الاداء يې په جماعو سره او مافي حکمه من الخلوة الصحيحة.

دروښ وايي: چې استفهام د کيف انکاري دی يعنې انکار دی پر مېړه چې ته څرنګه طلب د رد د ولور کوې او سره ددې چې ولور خو پر تا واجب ګرځېدلی و په سبب د وطي او مافي معناه.

فائده: که مېړه په خونه کي و او ماينه په ورتنو تله او ادنی وخت د جماع يې نه کړی پيدا ييرته راووتل، نو ودې ته خلوة صحيحه نه وايي کما اشار اليه مالک رحمه الله، د احنافو دليل دادی چې خلوة صحيحه هم موجب د پوره ولور دی اجماع د صدر اول ده، صحابه کرام رضي الله عنهم پر دې دي چې خلوة صحيحه لکه جماع موجب د کمال مهر دی او فقيه ابو جعفر الطحاوي رحمه الله دعوه د اجماع د صحابه کړې ده چې خلوت صحيحه واجبونکی دی د کمال مهر، او ابن المنذر وايي وهو قول عمر و علي وزيد بن ثابت و عبدالله بن عمر وجابر و معاذ بن جبل وابي هريره رضي الله عنهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَّاَخَذْنَ مِنْكُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ﴿۲۱﴾

او مانيو اخستې ده له تاسي مړو څخه وعده محکمه.

پوه سه: چې دا جمله عطف ده پر افضى آه باندې. قال الحسن وابن سرين وقتاده رحمهم الله چې مراد له ميثاق غليظه څخه دا قول د ولي د نکاح دی په وخت کې د عقد زوجتکها على ما اخذ الله للنساء للرجال من امساک بمعروف او تسريح باحسان.

دروښ وايي: چې دا اصطلاح خو د عربو ده، د پښتنو په نکاح بندي کې به ميثاق غليظه څه شی وي، او شعبي ؒ او عکرمه ؓ وايي چې عهد وثيق هغه دی چې په حديث شريف کې چې روايت يې مسلم کړی دی له حديث څخه د جابر ؓ چې انه ﷺ قال "اتقوا في النساء فانکم اخذتموهن بامانة الله واستحللتم فروجهن بکلمة الله.

دروښ وايي: چې دا تفسير د ميثاق غليظ صحيح دی، ولې چې دا خو خدای ﷻ اخستې په قول د عليه الصلوة والسلام، نو دا شرعي ميثاق دی و ذکر ته يې عند عقد النکاح ضرورت نسته، فمعنى الآية او ثق الله عليکم لهن، نو گويا ښځو له تاسي څخه دا ميثاق اخستی دی، روی عن محمد بن کعب القرضي دی وايي چې يو سړی چې به وفات سو او ماينه به يې پاته سوه، نو زوی د ميت حقداره و چې په نکاح يې کړي که به يې خوښه وه يعنې د زوی مور نه وي بلکې ميره به يې وي، او يا دغه زوی خپله ميره چې چاته يې خوښه وي په نکاح ورکړي، نو څه وخت چې ابو قيس وفات سو نو دده زوی محصن نکاح د مېرې په خپل لاس کې واخسته چې يا به دی په نکاح کوي دغه مېره او يا به يې بل چا ته په نکاح ورکوي او مهر به يې دی اخلي، او هغو ته يې هيڅ شی ورنه کړی د مال څخه د مېړه، نو هغه ميره يې و عليه الصلوة والسلام ته ورغله او د خپل بوڼځي حال يې ټوله ورته بيان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړی، نو علیه الصلوة والسلام وړته وویل چې ته اوس ولاړه سه شاید ستا په باره کې به خدای ﷻ یو حکم نازل کړي، نو دا آیت نازل سو.

وَلَا تَنْكِحُوا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُمْ مِّنَ النِّسَاءِ

او تاسي مه په نکاح کوئ هغه ښځي چې ستاسي پلرونو په نکاح کړي وي له ښځو څخه.

سوال: منکوحه خو وي ښځه نو د من النساء څه فائده ده؟

ځواب: دا لفظ لپاره د مزید تعمیم دی.

پوښتنه: کلمه د "ما" ځو په غیر ذوی العقولو کې مستعملېږي او ښځي ځو ذوی العقول دي؟

ځواب: مظهري رحمه الله داسي ځواب ورکړی دی چې دا استعمال په تاویل د صفت دی ای منکوحات ابائکم، او کلمه د "ما" په صفاتو کې د عقلاؤ مستعملېږي، او بل ځواب یې دا ورکړی دی چې ما مصدري ده او مصدر په معنی د مفعول دی ای المنکوحة، او بعض مفسرانو داسي ځواب ورکړی دی چې ښځه په سبب د نقصان عقل نازل منزلة غیر ذوی العقول ده، نو ځکه یې ما پکښې استعمال کړه.

دروښ وایي: چې دا ټوله جوابونه خلاف التحقیق دي، ولي چې محققین د نحاتو وایي چې کلمه د "من" ځو په ذوی العقول پورې خاصه ده او کلمه د "ما" عامه ده، قال الله تعالی ﴿والسماء وما بناها والارض وما طحاها﴾

إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ

پوه سه: چې "الا" په معنا د لکن دی او دا استثناء منقطع ده یعنې لکن چې تاسي دمخه کړي وي یعنې په وخت کې د شرک پر هغه مواخذه نسته لان الاسلام یجب جمیع ماقبله من المعاصي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَّمَقْتًا ط

په تحقیق ده نکاح د زوجة الاب یعنې میرې تر حد متجاوزه ګناه چې ددې میرې نکاح په هیڅ دین کې د ادیانو خدای ﷻ نه ده روا کړې.

پوه سه: چې "مقت" اصلاً مصدر دی دلته په معنی د ممقوت دی په نېز د خدای ﷻ او په نېز د صاحب المروت او غیرت، او عربو به وزوی ته د سړي د پلار له ماینې سره به یې نکاح کړې وه مقیت وایه وکان منهم اشعث بن قیس وعمرو بن امیه والمقت اشد البعض.

وَسَآءَ سَبِيْلًا ﴿۲۲﴾

او بده لار ده دا نکاح، له براء بن عازب رضی الله عنه څخه روایت دی چې زه ناست وم زما ماما تېرېدی او بیرغ نبوي ورسره و، ما ورته وویل چې چېرې ځې؟ ماما راته وویل چې زه نبي علیه السلام استولی یم یو سړي ته چې هغه زوجة الاب یعنې میره په نکاح کړې ده چې د هغه سر پرېکړه او رایې ورې. رواه الترمذي وابو داؤد.

مسئله: مراد له آباو څخه نفس اصول د سړي بعموم المجاز اجماعاً. نو سړي ته منکوحة الجد وان علا الی آدم علیه السلام سواء کان الجد من قبیل الاب او من قبیل الام نه ده رواء.

فائده: زنی نه ثابتوي حرمت د مصاهرت یعنې مور د مزنیه او یا لور د مزنیه وغیر همادي وزاني ته حرام نه وي کما في النکاح په نېز د امام شافعي او مالک، او په نېز د امام ابو حنیفه او احمد حرمت د مصاهرت زنی هم واجبوي لکه نکاح.

مسئله: که سړی مسه کړي یوه ښځه په شهوت سره، او یا ښځه مسه کړي نر په شهوت سره او یا یې وفرج داخل ته وګوري او یا ښځه و ذکر ته د نر وګوري په شهوت سره په نېز د امام اعظم رحمة الله علیه حرمت د مصاهرت واجبوي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: که یو سړي پنځه په دبره کي وطي کړه او انزال سو. نو صحیح په نېږ د امام ابو حنیفه رحمه الله دادی چي حرمت د مصاهرت نه واجبوي.

پوه سه: چي مس بالشهوة یا قبله بالشهوة داده چي ذکر د سړي لک سي او که دمخه لک و نېه نور پسي کلک سي. یعني صرف په شوق د زړه مسه کول بدون الانتشار او ازدیاد مس بالشهوة نه بولي وهو الصحیح.

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ

حرامي کړه سوي دي یعني له جانبه څخه د خدای جل جلاله پر تاسي باندي مندي ستاسي یعني نکاح د مور.

پوه سه: چي عمومي مفسران وایي چي په لفظ کي د امهاتکم عموم مجاز دی نو معنا یې اصولکم ده. نو جدات ثم وثم که دغه جده چي د مور مور ده په پلار او مور دواړو کي د مور سړی شریکي او که یوازي په پلار یا په مور کي شریکه وي. او بعض مفسران وایي چي لفظ د ام دلته په معنی لغوي دی. ولي چي ام په لغت کي اصل ته وایي چي په قاموس کي وایي ام کل شیئ اصله. نو ددې سببه مکه مکرمه ام القری بولي او فاتحه شریفه ام الکتاب بولي، نو پر دې تقدیر ټولو جداتو ته که له طرف څخه د پلار وي او که له طرفه څخه د مور وي دا لفظ شامل دی.

وَبَنَاتُكُمْ

پوه سه: چي دا لفظ هم پر طریقه د عموم مجاز بنات الابن او بنات البنت وان سفلن شامل دی باجماع الامة من عصر النبي ﷺ الی یومنا هذا.

أَخَوَاتُكُمْ

او ستاسي خوندي نو که د مور او پلار دواړو له خوا څخه خور وي او که د پلار د خوا یوازي او یا د مور له خوا یوازي خور وي اجماعاً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَعَمّٰتُكُمْ وَخٰلٰتُكُمْ

او امه ګانې ستاسي او خاله ګانې ستاسي.

پوه سه: چې امه عامه ده که د پلار خور په مور او پلار کې او یا یوازې په پلار کې او یا په یوازې مور کې، او خاله ګانې هم عامې دي که یې د مور خور وي سکه یا ناسکه.

پوه سه: چې په عماتو کې عمات الاب وعمات الام هم داخلېږي اجماعاً. او داغه رنګه په خالاتو کې خالات الاب د خالات الام داخلي دي اجماعاً. او داغه رنګه پکښې داخلي دي عمه ګاني او خاله ګانې د جد او د جدې وان علون سواء کن من قبل الاب او الام وسواء کن اخت ابیه او ام اوجده او جدته لاحد الابوین او لکلها اجماعاً وکلا اللفظین علی عموم المجاز.

وَبَنٰتُ الْاَخِ وَبَنٰتُ الْاُخْتِ

پوه سه: چې له بنات الاخ او له بنات الاخت څخه هم علی طریق عموم المجاز فروع د ورور دي او فروع د خور دي. یعنې بناتهما وبنات ابنائهما وبنات بناتهما وان سفلن سواء کان الاخ والاخت لاب وام او لاب فقط او لام فقط.

وَاُمَّهٰتُكُمُ الّٰتِيْٓ اَرْضَعْنَكُمْ وَاَخَوٰتُكُمْ مِّنَ الرَّضَاعَةِ

او داغه رنګه وتاسي ته حرامي کړل سوي دي هغه ستاسي مندې چې وتاسي ته یې شیدې درکړي وي او داغه رنګه حرامي کړه سوي دي وتاسي ته ستاسي خوندي چې د رضاع له لاري مو خور وي. وکذا العمات والخالات بنات الاخ وبنات الاخت من الرضاعة اجماعاً لقوله علیه الصلوة والسلام "یحرم من الرضاع ما یحرم من النسب" لکن پوه سه چې دا حدیث مبارک قضیه مهمله ده په قوت کې د جزئیه کما في الهدایة ویجوز اخت اخیه رضاعاً مع انه لا یجوز اخت اخیه نسباً فتدبر. او له حضرت علي رضي الله عنه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه روایت دی چې مسلم یې روایت کړی دی چې ما و علیه الصلوة والسلام ته وویل "هل لک في بنت عمک حمزة فانها اجمل فتاة في قریش" نو علیه الصلوة والسلام راته وویل چې ته له یې خبر چې حمزه رضي الله عنه زما رضعي وروړ دی او خدای ﷻ حرامي کړي دي د رضاع هغه ښځي چې حرامي وي له نسب څخه، قوله هل لک معنی هلک رغبة یعني في نکاح بنت حمزه رضي الله عنه. قوله اجمل فتاة یعني ډیره ښائسته پېغله ده په قریشو کې.

پوه سه: چې امام اعظم او امام مالک په اطلاق د دغه آیت او په اطلاق د هغه حدیث چې تېر سو عنقریب، چې د رضاع قلیل او کثیر سره برابر دی چې په مده کې د رضاع وي چې یا دوه کاله دي یا د هرش میاشتې علی اختلاف بین ابی حنیفه رحمه الله وصاحبیه کما في الهدایة.

مسئله: د فقهاؤ او مذاهبو ټولو پر دې اتفاق دی چې رضاع وروسته تر مدې د رضاع حرمت نه واجبوي لانه لا یحصل النمو للطفل الا بالرضاع في مدته. نو وروسته تر مدې د رضاع که څوک د ښځي تی وروي هغه یې مور نه ګڼل کېږي.

أُمَّهَٰتُ نِسَآئِكُمْ

او تاسي ته حرامې کړل سوي دي میندې د ماینو ستاسي یعني خوانبیاتې ستاسي.

پوه سه: چې لفظ د "امهات" په عموم مجاز سره شامل دی و جداتو ته د ماینو سوا. کن من جانب الاب او الام قریبة کان او بعیدة. او په حدیث شریف کې میندې د ماینو او جداتې د ماینو من الرضاع او ملحق په نسائکم پورې هغه ښځه یعني مینځه چې وطي سوې وي په ملک الیمین سره نو د هغې مینځې مور او انا هم و واطي ته ناروا دي. او یا یوه ښځه په شبه سره سړی وطي کړي لکه د سړي د ماینې په ځای کې چې بېګانه ښځي بیله وي. د سړي دا خیال سي چې دا زما ماینه ده نو وطي ورسره وکړي. او هغه هیڅ نه وایي وروسته ور معلومه سي چې دا خو زما ماینه نه وه. نو د دغې ښځي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مور او جدات و واطي ته ناروا دي، دا خو اجماعاً ټولې مسئلې دي.

او چې سړي د يوې ښځې سره زنا کړې وي د هغې مور او ټوله جدات يې و زاني ته ناروا دي عند ابي حنيفه رحمه الله. او يوه ښځه چې سړی يې په شهوت سره مسه کړي او يا مچه ځندي واخلي په شهوت سره او يا يې وفرج داخل ته وګوري په شهوت سره، د هغې ښځې مور او جدات ټوله دې سړي ته حرامي دي په نېز د ابي حنيفه رحمه الله.

دروښ وايي: چې اندازه د شهوت دمخه ټېره سوه فتذکر.

وَرَبَآئِبُكُمُ

او ستاسي د مايئې له بل مېړه څخه لونې و تاسي ته ناروا دي.

پوه سه: چې "ربائب" جمع د "ربيبة" ده ولد المرئة من غيره چې په پښتو يې پرکتې بولي وجه التسميه چې مېړه د ښځې يعني د مايئې هغه نجلی چې له بل مېړه څخه ددې لور ده اوسنی مېړه ددې تربيه کوي لکه د خپل عيال، نو ربيب فعيل دی په معنی د مفعول. او د تا کلمه يې لپاره د نقل د وصفيت او اسميت ده لکن ربيبه په شرع کې نر ته وايي.

پوه سه: چې ربائب يا په عموم مجاز او يا په قياس سره بنات ابناء الزوجات وبنات بناتهن وان سفلن او بناتو د موطوئات په ملک يمين سره اويا په شبه سره اجماعاً وبنات المزنياتو وان سفلن عند ابي حنيفة رحمه الله شامل دی.

اللَّاتِي فِي حُجُورِكُم

يعنې هغه ربائب چې ستاسي په تربيه کې وي.

پوه سه: چې دا قيد خارج مخرج العادة دی. ولي چې د مايئې له بل مېړه څخه لور غالباً د مور د مېړه په تربيه کې وي او مفهوم مخالف نه لري حتی که ربيبه د سړي دده په تربيه کې نه وي هم دته ناروا ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مِّن نِّسَآئِكُمُ ٱلَّٰتِى دَخَلْتُم بِهِنَّ

چې دا متاسي ربيبې وي له هغو ماينو څخه چې تاسي يې په مور دخول کړي وي يعنې جماع مو ورسره کړې وي نو ددغې ماينې چې تاسي جماع ورسره کړي وي د هغې لور د بل مېړه څخه چې ربيبه ده تاسي ته نه ده روا.

فَإِن لَّمْ تَكُونُوا۟ دَخَلْتُم بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ

او که په مور د ربيبې مو دخول نه وي کړی يعنې صرف دا مور د ربيبې مو په نکاح کړې وه او طلاقه کړې مو وه، نو بيا ګناه نسته پر تاسي په نکاح کې د ربيبې. يعنې نکاح د ربيبې تاسي ته روا ده بالشرط المذکور.

وَحَلَٰٓئِلُ أَبْنَآئِكُمُ

پوه سه: چې "حلائل" د حليلة جمع ده مراد څنډي ماينه ده، ولي دا مېړه ته وطي روا دي نو ځکه يې حليله بولي نو معنی د آيت داده چې دغه رنګه وتاسي ته حرامي سوي دي ماينې د زامنو ستاسي. او هغه مينځيانې چې زامنو ستاسي په ملک يمين سره وطي کړي وي، او هغه ښځې چې زوی يې په شبه سره وطي کړي وي هم وپلار ته ناروا دي اجماعاً. او د امام اعظم رحمه الله په نيز ښځې چې زوی يې په زنی سره وطي کړي وي هم وپلار ته نا روا دي.

پوه سه: چې دا قيد لپاره د ايستولو د متبنی دی يعنې مثلاً څوک زوی نه لري بېګانه کوچنی يا لوی په زوی ګلوي ونسي، ولي چې متبنی ته هم عربو

مِنْ أَصْلَٰبِكُمْ

هغه زامن چې ستاسي له ملاوو څخه پيدا سوي وي.

پوه سه: چې دا قيد لپاره د ايستولو د متبنی دی يعنې مثلاً څوک زوی نه لري بېګانه کوچنی يا لوی په زوی ګلوي ونسي، ولي چې متبنی ته هم عربو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زوی وایه ولو مجازاً نو د متبنی ماینه و سړي ته روا ده. او له دې څخه دا مراد نه دی چې که ابن له ملا څخه د سړي نه وي بلکې د زوی یا د زوی د زوی وهلم جرا یا د لور د خوازامن د هغو د ماینو نکاح نو نیکه ته روا ده کعامر آنفاً چې د هغو نکاح نه ده روا. ابن جریر له ابن جریج څخه روایت کړی دی چې ما عطاء رحمه الله ته وویل چې "الذین من اصلابکم" د چا په باره کې نازل سوی دی؟ ده راته وویل چې دا آیت په باره کې د محمد ﷺ نازل سوی دی چې زید بن حارثه رضي الله عنه چې د علیه الصلوة والسلام متبنی و. او زید چې خپله ماینه طلاقه کړه. نو هغه ښځه علیه الصلوة والسلام په نکاح کړه، نو مشریکانو او یهودانو به ویل چې محمد د زوی ماینه په نکاح کړه نو په دغه قید د "الذین آه" دغه متبنی خارج کړی یعنې د متبنی چې د زید بن حارثه رضي الله عنه ماینه و علیه الصلوة والسلام ته یې نکاح چې مطلقه ښځه وه روا وه. او په قرآن مجید کې هم راغلي دي ﴿وماجعل الله ادعیائکم ابنائکم﴾ یعنې نه دي ګرځولي خدای جل جلاله ستاسي ادعیا یعنې چې تاسي یې په نامه د زوی دعوه کوئ چې متبنی دی ستاسي حقیقي زامن نه دي. او په بل آیت کې په باره کې د متبنی دا آیت هم نازل سوی دی ﴿ماکان محمد ابا احد من رجالکم﴾

وَأَنْ تَجْمَعُوا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ

او داغه رنګه حرام کړه سوی دی جمع کول د دوو خوندو په نکاح کې. نو پر دې تقدیر "ان" مصدري دی. او په اجماع هم دا ناروا ده چې جمع د دوو خوندو کوي په وطي سره د ملک یمن.

دروښ وایي: چې قید د جمع ددې لپاره دی که یو ه ښځه د سړي په نکاح وي او یا یې مېړه طلاقه کړي او عده یې تېره سي. نو د بلي خور نکاح یې ورته روا ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یوه سه: چې "الا ماقد سلف" استثناء منقطع ده په معنی د لکن. والمعنی الا ماسلف من الجمع بین الاختین في وقت الشرک فانه معفو في الاسلام لانه یجب ماقبله.

إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٢٣﴾

په تحقیق خدای ﷻ بخښونکی د کفر او معاصیو او مهربان دی.

فروع: (۱) په جمع کولو کې د دوو خندو په نسب کې چې جمع یې په نص د قرآن ثابته سوه. حرمت د دوو خندو په رضاع کې جمع کول په نص د حدیث ثابت دی سوا. کانتا لاب فقط او لام فقط او لاب وام کلها في النسب والرضاع

(۲) یو سړی چې زنی وکړي د یوې بښځې سره د هغې خور په نکاح ورته حرامه نه ده. کما لا یحرم نکاح الاخری بعد موت احدهما.

(۳) په حدیث نبوي سره ثابت دی حرمت د جمع په منځ کې د بښځې او د هغې د عمه په نکاح سره او یا جمع په منځ کې د بښځې او د هغې د خاله چې دا جمع هم حرامه ده.

(۴) یحرم الجمع بین المرئة وعمة ابیها او عمة امها او خالة احداهما.

(۵) نا رواه ده جمع کول د بښځې او د هغې د عمه ګانو د نیکه ګانو او د انا ګانو او کډه څه لپرې وي من ای جهة کن ای من الابوین او من اب او من ام. روی عن ابي هریرة ﷺ قال قال رسول الله "لا یجمع بین المرئة وعمتها. ولا بین المرئة وخالتها" متفق علیه. و روی ابو داؤد والترمذي هذا الحدیث بهذه العبارة لاتنکح المرئة علی عمتها ولا العمة علی بنت اختها ولا المرئة علی خالتها ولا الخالة علی بنت اختها لا الکبری علی الصغری ولا الصغری علی الکبری.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حاصل دا چي احاديث شريفه په عدم جواز الجمع بين ما ذكرت من النساء كثيرة في كتب الصحاح الستة وغيرها.

دروښ وايي: چي سبب د عدم اجتماع د نسبي بنځو په نكاح كي لكه مخكي چي ذكر سوې دادی چي عداوت او بغض په منځ كي د ښو طبعي شی دی، نو كه جمع د مذكوره نسبي بنځو روا سي نو سبب د قطعي د صله رحمي به وگرځي چي هغه واجب ده، او سبب د مذكوره بنځو د جمع كولو د رضاع له سببه دادی چي مراعات د رضاع واجب دی لكه د نسب. نو قطع د صله رحمي د رضاع هم نا روا ده نو په جمع مذكوره كي رضعي خوندي مثلاً قطع د صله رحمي د رضاع لازمېږي.

دروښ وايي: ودليل مراعات وصلة الرضاع ما روى عن ابى الطفيل الغنوي رضی اللہ عنہ دی وايي چي زه يوه ورځ ناست وم يعني په مجلس كي د نبي عليه السلام چي يوه بنځه راغله نو عليه الصلوة والسلام خپل پټو ورته اوار كړی او هغه بنځه پر كښېنستل يو گړی ناسته وه بيا ولاړه بعض خلگو چي نه يې پېژنده تعجب وكړی ودې ته چي عليه الصلوة والسلام ددې بنځې څونده احترام وكړی، نو چي دا ولاړه خلگو وويل چي دا مرضعه د رسول كريم صلی اللہ علیہ وسلم وه يعني حليمه السعدية رضی اللہ عنہا رواه ابو داؤد.

دروېش عاصي بانواع معاصي محمد عبيد الله الايوبي القندهاري غفرله الباري ذنبه الخفي والجلي چي په ورځ د چار شنبې د ماښښين پنځه بجې جمادي الاول سنه (١٤٢٧) هـ تفسير د پاري د "لن تنالوا البر" وپای ته په توفيق د خدای عزوجل، ورېسي ان شاء الله العزيز تفسير د پاري د "والمحصنٰت" شروع كېږي وارجو من رحمة الله وحسن توفيقه ان يوفقني تفسير ذالک الجزء ايضاً بل ادعوا الى الله عزوجل ان يوفقني لتفسير جميع اجزاء القرآن العزيز بالخير والعافية والصحة والسلامة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې زما عاصي ټوله تمنيات او اميدونه خدای ﷻ پوره کړي دي، اوس دا يو ارمان چې تکميل دی د تفسير د اجزا. د قرآن عزيز، نو په دې عجز او نياز او فقر له خدای ﷻ څخه دا خواست کوم چې دا ارمان مي هم خدای ﷻ را پوره کړي او زما تفسير دي يتيم نه پريږدي.

دروښ وايي: چې ددې تفسير پوره کېدل که څه هم زما د عمر په مقتضی چې د نيوي (۹۰) کلو په شا وخوا کې دی دې ډېره نادره موضوع ده لکن د خدای ﷻ وقدرت ته نادره نه ده، بلکې خدای ﷻ تر دې د عجب تر کارو وبندګانو ته توفيق ورکړی دی وما ذالک علی الله العزيز وارجو من الله الکريم ان يجعل هذا التفسير لوجهه الکريم وخيراً باقياً من هذا العبد العاصي الی يوم نفخة الصور.

ع ما نېز حاضر ميشوم تفسير قرآن دربغل

دروښ وايي: چې دا حصه د تفسير شريف په يوه مکتوب مختصر د کتاب قدسي آيات مکتوبات مجدد الف ثاني تبرکاً ختم کوم دا مکتوب و چاته امام رباني نوشته کړی دی.

اولاً الله تعالی ته وايي ايديکم الله ونصرکم. وروسته عبارت دادی "شکر منعم بر منعم عليه واجب است عقلاً وشرعاً. ومعلوم است که وجوب شکر باندازه وصول نعمت است پس هر چند وصولی نعمت بيشتر وجوب شکر آن زياده تر، پس بر اغنياء علی تفاوت درجاتهم نسبت به فقراء اضعاف مضاعفه شکر واجب آمد. لهذا فقراء اين امت پيش از اغنياء پنج صد سال دربهشت خواهند در آمد. وشکر منعم تعالی اولاً بتصحيح عقائد است بمقتضی آرای فرقه ناجيه که اهل سنت و جماعت اند.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وثانیاً باتیان احکام شرعیه عملیه است بروفق آرای مجتهدین این فرقه علیه.

وثالثاً بتصفیه وتزکیه برطبق سلوک صوفیه علیه این فرقه سنیه.

ووجوب این رکن اخیر استحسانی است بخلاف رکنین سابقین که اصل اسلام مربوط باین دو رکن است وکمال اسلام مربوط به آن یک اخیر است، وعملی که مخالف این ارکان ثلثه باشد اگرچه از جنس ریاضات شاقه ومجاهدات شدیده باشد داخل معصیت است، ونافرمانی وناسپاسی منعم ﷻ، براهمه هند وفلاسفه یونان در ریاضات ومجاهدات خود را معاف نداشته اند، اما آن ریاضت چون بر وفق شرائع انبیاء صلوات الله وتسلیماته علی اجمعهم عموماً وعلی افضلهم خصوصاً واقع شده اند مردود اند، و از نجات اخروی بی نصیب فعلیکم بمتابعة سیدنا ومولنا وشفیع ذنوبنا وطبیب قلوبنا محمد رسول الله ﷺ ومتابعة خلفائه الراشدین الهادیین رضوان الله تعالی اجمعین.

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا
سکین او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ
۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فهرست تفسير ايوبي پنجم جلد

شمبر	مضمون	صفحه
۱	د "لن تنالوا البر" تفسير	۹
۲	د "كل الطعام كان حلاً لبني اسرائيل" تفسير	۱۶
۳	د "فمن افترى على الله الكذب" تفسير	۲۰
۴	د "فاتبعوا ملة ابراهيم" تفسير	۲۱
۵	د "ان اول بيت وضع للناس" تفسير	۲۳
۶	تتمه لبحث بكة	۲۵
۷	د "فيه آيات بينت" تفسير	۲۷
۸	د قل يآهل الكتاب لم تكفرون" تفسير	۳۹
۹	د "قل يآهل الكتب لم تصدون" تفسير	۴۰
۱۰	د "يايها الذين آمنوا" تفسير	۴۳
۱۱	د "وكيف تكفرون وانتم تتلى" تفسير	۴۴
۱۲	د "يايها الذين آمنوا اتقوا الله حق تقاته" تفسير	۴۶
۱۳	تنبيه	۴۷
۱۴	پنهانه فائده	۵۱
۱۵	د "واعتصموا بحبل الله جميعاً" تفسير	۵۲
۱۶	د "ولتكن منكم امة يدعون الى الخير" تفسير	۵۷
۱۷	د "يوم تبيض وجوه وتسود وجوه" تفسير	۶۱
۱۸	د "واما الذين ابيضت وجوههم" تفسير	۶۳
۱۹	د "ولله مافي السموات وما في الارض" تفسير	۶۵
۲۰	فائده مهمه	۷۱
۲۱	پوښتنه او ځواب	۷۸
۲۲	مسئله	۸۲

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شمیر	مضمون	صفحه
۲۳	د "ان الله بما یعملون محیط" تفسیر	۸۷
۲۴	د غزوة احد بحث	۸۹
۲۵	د "اذ همت طائفتن" تفسیر	۹۷
۲۶	حکایت	۹۸
۲۷	د "اذ تقول للمؤمنین" تفسیر	۱۰۱
۲۸	پوښتنه ځواب	۱۰۴
۲۹	دروښ وایي	۱۱۰
۳۰	د "یایها الذین آمنوا لاتاکلوا الربوا" تفسیر	۱۱۲
۳۱	د "واتقوا النار التي اعدت للکفرین" تفسیر	۱۱۳
۳۲	د "واطیعوا الله والرسول لعلکم ترحمون" تفسیر	۱۱۴
۳۳	تبصره	۱۱۵
۳۴	د "الذین ینفقون في السراء والضراء" تفسیر	۱۱۸
۳۵	حکایت	۱۲۰
۳۶	دعاء	۱۲۲
۳۷	پوښتنه او ځواب	۱۲۵
۳۸	د "اولئک جزاؤهم مغفرة من ربهم" تفسیر	۱۲۷
۳۹	د "قد خلت من قبلکم سنن" تفسیر	۱۲۹
۴۰	پوښه سه	۱۳۰
۴۱	د "ان یمسسکم قرح فقد مس القوم قرح مثله" تفسیر	۱۳۲
۴۲	د "ام حسبتم ان تدخلوا الجنة" تفسیر	۱۳۶
۴۳	د "ولقد کنتم تمنون الموت" تفسیر	۱۳۷
۴۴	د "وما محمد الا رسول" تفسیر	۱۳۹
۴۵	فائده	۱۴۱
۴۶	دروښ وایي	۱۴۲

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شمیر	مضمون	صفحه
۴۷	تتمه	۱۴۴
۴۸	دروښ وایي	۱۴۷
۴۹	حکایت	۱۴۸
۵۰	د "فآتهم الله ثواب الدنیا" تفسیر	۱۵۱
۵۱	پوښتنه او ځواب	۱۵۴
۵۲	د "اذ تصعدون" تفسیر	۱۵۸
۵۳	دروښ وایي	۱۶۱
۵۴	د "یوم التقی الجمعن" تفسیر	۱۶۷
۵۵	تتمه	۱۶۸
۵۶	د "ولئن قتلتم في سبیل الله" تفسیر	۱۷۲
۵۷	پوه شه	۱۷۵
۵۸	د "ان ینصرکم الله فلا غالب لکم" تفسیر	۱۷۸
۵۹	د "وماکان لنبي ان یغل" تفسیر	۱۷۹
۶۰	فائده	۱۸۴
۶۱	پوه شه	۱۸۶
۶۲	حکایت	۱۸۷
۶۳	د "الذین قالوا لاخوانهم" تفسیر	۱۹۲
۶۴	پوه شه	۱۹۸
۶۵	دروښ وایي	۲۰۰
۶۶	مسئله	۲۰۵
۶۷	د بدر الصغری تفصیل	۲۰۹
۶۸	د "انما ذالکم الشیطن" تفسیر	۲۱۵
۶۹	د "ولا یحسبن الذین کفروا" تفسیر	۲۱۸
۷۰	فوائد شتی	۲۲۱

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شمبر	مضمون	صفحه
۷۱	فائده	۲۲۳
۷۲	پوه سه	۲۲۶
۷۳	حکایت	۲۳۳
۷۴	د "کل نفس ذائقة الموت" تفسیر	۲۳۴
۷۵	دروېش وایي	۲۳۸
۷۶	مسئله	۲۴۵
۷۷	حکایت	۲۴۹
۷۸	دروېش وایي	۲۵۲
۷۹	د "ان في خلق السمٰوات والارض" تفسیر	۲۵۴
۸۰	د "ربنا ماخلقت هذا باطلاً" تفسیر	۲۵۸
۸۱	حکایت	۲۶۲
۸۲	د "فاستجاب لهم ربهم" تفسیر	۲۶۷
۸۳	پوه سه	۲۷۳
۸۴	حکایت	۲۷۶
۸۵	حکایت	۲۸۰
۸۶	سورة النساء	۲۸۱
۸۷	تفریع	۲۸۴
۸۸	حکایت	۲۸۶
۸۹	فائده	۲۹۳
۹۰	حکایت	۲۹۸
۹۱	مسئله	۳۰۱
۹۲	دروېش وایي	۳۰۴
۹۳	سوال او ځواب	۳۱۲
۹۴	حکایت	۳۱۴

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شمیر	مضمون	صفحه
۹۵	د "للرجال نصیب مما ترک الوالدان" تفسیر	۳۲۷
۹۶	دروښ وایي	۳۴۸
۹۷	فوائد	۳۵۳
۹۸	پوه سه	۳۶۲
۹۹	حکایت	۳۶۳
۱۰۰	پوښتنه او ځواب	۳۶۶
۱۰۱	پند	۳۶۹
۱۰۲	د "یایها الذین آمنوا لایحل لکم" تفسیر	۳۷۰
۱۰۳	د "وان ارتم استبدال زوج مکان زوج" تفسیر	۳۷۷
۱۰۴	د "وکیف تاخذونه" تفسیر	۳۷۹
۱۰۵	مسئله	۳۸۳
۱۰۶	فروع	۳۸۹
۱۰۷	دروښ وایي	۳۹۱





د چاپ کمپوز، زیاړي (ترجمي) او سمون (تصحیح) لپاره!

حقاني کمپیوټر:- ستاسو کتابونه، مجلي، خبري پاڼي او نور طباعتي توکي په ښه څرنګوالي او معیار کمپوزوي. که غواړئ چې پښتو، پارسي، اردو، عربي او انګریزي لیکنې مو په خلو خپلو معیاري تورو او پروګرامو کمپوز شي، که غواړئ چې خپل کتابونه په ښه ستینډرډ چاپ کړئ! نو حقاني کمپیوټر ته مراجعه وکړئ. په کوټه کې د ښه کمپوز او چاپ یوازینی مرکز.

مکتبه القرآنه والتجوید

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د حضرت مولانا محمد زکریاء علیه الرحمه یو

مشهور او ګټور کتاب یعني

فضائل اعمال

چې د وعظ او تقریر لپاره د هر پیش امام لپاره ضروري دی ولي چې په دې کتاب کې پر مختلفو اعمالو باندې بنه او په زړه پورې بحثونه سته چې د قرآن او احادیثو په رڼا کې وربانديې روښنايي اچول سوې ده .

له اردو څخه په خوږه پښتو د وخت د تکړه او ځوان عالم قاري محمد فضل حق حقاني په خوږې او روانې ژبارې ژباړل سوی دی او ډېر ژر به مینه والو ته وړاندې سي ان شاء الله

خپرونکې اداره

مکتبة القرآة والتجوید

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د اسلامي تاريخ يو مشهور او مستند کتاب په کوم کي چي د انبياء عليهم السلام قصص له آدم ﷺ څخه بيا تر نبي آخر زمان ﷺ پوري ډېري باسنده قصې له قرآن او احاديثو څخه رانقل سوي دي په نه خوږه پښتو يې زمور اداره وړاندي کوي

قَصَصُ الْأَنْبِيَاءِ

نه رنګ، نه کاغذ، نه چاپ او د کمپيوټر په ښائسته ليکنې سره ليکل سوی، دا به هم ډېر ژر ومينه والو ته وړاندي سي

خپرونکي اداره

مَكْتَبَةُ الْقِرَاءَةِ وَالتَّجْوِيد

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د آخر الزمان فخر موجودات سردار کل عالم د تر
ټولې غټې او ژوندۍ معجزې یعنې قرآن مجید په
زړه پورې تاریخ په کتابي شکل کې په معیاري پښتو
سره لیکل سوی یعنې

قصص القرآن

چې د پېښ امامانو لپاره د نصیحت یوه غټه ذریعه ده، همدارنګه د
مطالعې او په ژوند کې د سفر لپاره د هر ښه ملګری دی

خپرونکې اداره

مکتبة القراة والتجوید

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او
pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

تفسير ايوبي حنفي 5 ټوک

د نصيراحمد احمدي لـخوا

سکين او pdf سـو.

تاريخ. ۱۳۹۹-۳-۲۴

واتساپ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

د دعـا محـتـاج احـمـدي!

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner